د افغانستان اسلامی جمهوریت
د لورو زده کړو وزارت
علمـــــی معینیت

سلام پوهنتون
د شرعیاتواوقانون پوهنځی
د فقه اوقانون ماستر پروګرام

د سولې له لارې د مدني شخړو حل د اسلامي فقهې او قانون له نظره

(د ماستری رساله)

محصل : محمد خالد (محمدي)

لارښود استاد : دوکتور محمد سليم(مدني)

کال : ۱۳۹۹ هـ ل

د افغانستان اسلامی جمهوریت
د لوړو زده کړو وزارت
علمـــــــی معینیت

سلام پوهنتون
دشرعیـاتواو قانون پوهنځی
دفقه اوقانون ماستری پرګرام

د سولې له لارې د مدني شخړو حل د اسلامي فقهې او قانون له نظره

(د ماستری رساله)

محصل: محمد خالد (محمدي)

لارښود استاد : دوکتور محمد سلیم(مدني)

کال : ۱۳۹۹

بسم الله الرحمن الرحيم

پوهنتون سلام

پوهنځی شرعیات وقانون

دیپارتمنت فقه وقانون

بورد ماستری

تصدیق نامه

محترم محمد خالد ولد شیراغا ID: Sh-msf-97 492 نمبر لرونکی (د فقه اوقانون شپږمی دوری څخه) د ماستری دوری پا یلیک چی عنوان یی :د سولې له لارې دمدنی شخړو حل داسلامی فقه او قانون له نظره دی د چهار شنبی ورځ په ۱۹ / ۳ /۱۴۰۰ هـ ل نیټه یې په بریالیتوب سره دفاع کړه ، او د حکم پلاوي له نظره د ۹۰ نمرو (نمری په عدد) نوی نمرو (نمری په حروف) مستحق وګرځید ، له الله تعالی څخه ورته دلازیاتی بریا غو بنتونکي یو .

حکم پلاوي اعضاؤ لاسلیکونه :

شمره	داستاد نوم	عضو یت	لاسلیک
۱	دکتور نجیب الله (صالح)	عضو هیأت	
۲	دکتورمحمد ابراهیم(صافی)	عضو هیأت	
۳	دکتور محمد سلیم (المدني)	رهنما ورئیس جلسه دفاعیه	

د ماستری بورډ آمر ..... علمی مرستیال .....

ډالۍ

زه "**د سولې له لارې د مدني شخړو حل: د اسلامي فقهې او قانون له نظره**" تر عنوان لاندې خپله د ماسترۍ رساله خپلې خوږې مور او قدرمن پلار ته په مینه او اخلاص ډالۍ کوم. الله رب العزت دې د دوی هغه زیار او زحمتونه قبول کړي چې زه یې د دیني علومو زده کړې ته وهڅولم؛ د علم په ترلاسه کولو کې یې راسره هر راز مرسته وکړه او ما ته یې نهایت زیاته مینه راکړه او په اخلاص یې راته دعاوې وکړې. الله عزوجل دې راته دا د خیر او برکت څلي ژوندي لري. الله رب العزت دې ورته د دنیا او اخرت عزت په برخه کړي.

او همدا شان دا کوچنۍ هڅه په خورا مینه او درنښت خپلې مېرمن او اولاد ته ډالۍ کوم چې زما هر راز ناز یې منلی او په ځانونو یې سختۍ او تکلیفونه ګالي او له ما سره یې د علم په زدکړه کې، په ځانګړې ډول د دې رسالې په لیکلو کې، هر ډول کومک کړی دی. همدا ډول دا رساله خپلو وروڼو او خویندو ته هم ډالۍ کوم چې له ما څخه یې په دې علمي ډګر کې هیڅ قسمه مرسته سپمولې نه ده. په پای کې،له خپل مشر ورور محترم عبدالوارث خان څخه ځانګړې مننه کوم او دا رساله ورته ډالۍ کوم چې له ما سره یې په دې علمي سفر کې هر ډول کومک کړی دی. زه خپل ځان د دوي تو لو د مینې او اخلاص پوروړی بولم.

محمد خالد محمدي صافی

مننليک

زه لومړی د خپل خالق عليم بذات الصدور او مربي ذات شکر ادا کوم چې زه يې د ديني علومو د زد کړې د لارې لاروی کړم او ما ته يې د دې علومو د زد کړې توفيق راکړ. دا د ستر رحيم او کريم ذات مهرباني او مرسته وه چې ما ته يې د خپل علمي سفر په ترڅ کې د ماسټرۍ دورې د زده کړو سر ته رسولو او د تحصيلي دورې د پايليک (تيزس) ليکلو وياړه را په برخه کړ.

اودخپل مور اوپلارشکريه ادا کوم چی زما تربيه وکړه اوزما په وړاندې خپل مسؤليت په پوره امانتداري سره اداکړه چې داقتصادې ستونزوسره سره يې زه زدکړې ته کينولم اوماستري ترکچې زدکړې را باندې وکړې . فجزاهما الله خيرا وارحمهما.

او د لوړو زدکړو له محترم وزارت څخه هم منه کوم چې هيواد والو ته يې په هيواد کې دننه د ماسټرۍ تر کچې زده کړو امکانات برابر کړي. همدا ډول، د سلام پوهنتون له علمي او اکاډميکي اداري څخه په خورا درنښت منه کوم چې په علمي چاپيريال کې يې د هيواد علمي کادرونه سره راټول کړي او هيواد والو ته يې علمي چوپړتيا برابر کړې ده. سربيره پر دې، دخپل قدرمن او عزتمند، مخلص استاذ دکتور محمد سليم مدني (حفظه الله) څخه نړۍ نړۍ منه کوم چې ما سره يې د دې رسالې په ليکلو کې د زړه له تله مرسته کړې او هر وخت يې په پراخه سينه ښه راغلاست راته ويلی دی. فجزاه الله خيرا الجزاء. همدا شان له مناقشه کوونکو استادانو هر يو قدر وړدکتورنجيب الله (صالح) دکتور محمد ابراهيم (صافی) څخه منه کوم. د ټولو استاذانو څخه نړۍ نړۍ منه کوم چې په پوره اخلاص يې مور ته خپل علمي خدمات وړاندې کړي او وړاندې کوي يې. سربيره پر دې، په پای کې له اينجينر سيد وفي الله (مسلم) څخه هم منه کوم چی د رسالې په تعديل او جوړښت کې يې راسره ډېر کومک کړی. فجزاهم الله خيرا.

په درنښت

محمدخالد محمدي صافی

لنډیز (د څېړنې نچوړ)

سوله هغه موضوع ده چې په اوسني وخت کې يې په اړه پراخه څېړنې ته زياته اړتيا ليد ل کيږي. ځکه، له يوې خوا د شخړو او ناخوالو فضا خوره ده، او له بلې خوا پخلاينې کډه کړې ده. ځکه، چې لامل يې د اسلامي اصولو نه مراعت کېدل بللی شو. نو په داسې حسا سو حالاتو کې زمونږ په ټولنه کې شته ستونزو ته په کتو په دې څېړنه کې هغه موضوعات ځای پرځای شوي دي چې زمونږ د ټولنې د هر وکړې لپاره نه يوائې دا چې کټور دي بلکې د خوراک او څښاک څخه هم زياته اړتيا ورته لري.

مونږ چې خپلې ټولنې ته ګورو، داسې يو څو څيزونه به، چې لاندې يې يادونه شوې، په نظر راشي چې خپلې لوړې کچې ته رسيدلې او زمونږ ټولنه يې له ننګونو سره مخ کړې ده.

1. ناپوهي: ناپوهي د دې لامل شوې ده چې نه خپل حق پېژنو،نه د بل حق پېژنو چې له امله يې يو بل باندې ظلم او زياتی صورت نيسي په نتيجه کې شخړو او ناخوالو سره لاس او ګريوان يو؛
2. شخړې: هره ورځ کور په کور، کوڅه په کوڅه، کلي په کلي او قوم په قوم حتی کله هم د ولايتو په کچه رامنځ ته کېږي او يا هم د رامنځته کېدو په درشل کې وي؛ او
3. د اسلامي شريعت او ټولنو سالم دودونه نه مراعت کېدل: د شخړو د ناورين د حل او فصل لپاره مهمې لارې چارې د اسلامي شريعت او ټولنو سالم دودونه مراعت کول دي. دا هغه موارد دي چې مونږ ورڅخه يا ناخبره يو او يا په قصدي ډول د هغې څخه استفاده نه کوو او شخړې په خپل حال پاتې کېږي او يا لا ډيره ناوړه بڼه خپلوي.

نو ما هم د سولې په برخه کې خپله څېړنه په لاندی ډ ول راخُلاصه کړه:

اوله برخه: ما په دې برخه کې د سولې پېژندنه، د سولې ارکان او شرائط، د سولې اهميت، د سولې فضايل، د سولې فوائد، د سولې ډولونه، د سولې حکم، او د سولې ځانګړنې او داسې نور موارد ځای پرځای کړي دي.

دوهمه برخه: ما په دې برخه کې د کورنۍ جوړښت اصول ځای پر ځای کړي او بيا مې په کورنۍ کې د شخړو صورتونه راوړي؛ ورپسې مې هغه شخړو ته د اسلامي شريعت او قانون له اړخه حل لارو باندې رڼا اچولې؛ بيا په دوهم مبحث کې مې د مدني قضاياوو پېژندنه او د هغې ډولونه راوستي دي؛

دريمه برخه: په دې برخه کې مې د سوداګريزې ساحې اړونده معلومات مختصر او لنډ ځای پر ځای کړي دي.

څلورمه برخه: په دې برخه کې مې د څېړنې پايلې د شمېرو په ترتيب سره ذکر کړي دي.

پينځمه برخه: دا برخه مې په سوله کې ښکېلو ټولو لوريو، لکه د سولې محترم وزارت، د پوهنتون محترمه اداره، سوله کوونکو يا مصلحينو، او په شخړه کې ښکېلو لوريو، لپاره خپلو وړانديزونو ته ځانګړې کړې ده؛

شپږمه برخه: دې برخه کې مې د اياتونو، احاديثو، او اعلامو لړ ليکونه او مصادر (سرچينې) ذکر کړي دي .

د موضوعاتو لړلیک

پیلیزه 1

د موضوع څېړنې لاملونه : 2

د موضوع اهمیت : 3

د سولې په اړه مخکینۍ لیکنې :..... 4

د څېړنې کړنلاره : 5

د څېړنې اهداف :..... 6

د موضوع د جوړښت پلان : 7

تمهید 10

لومړی فصل: د سولې پېژندنه او اړونده موضوعات 11

لومړی مبحث: د سولې پېژندنه: په دې مبحث کې درې مطالب دي 11

لومړی مطلب: د اسلامي فقهې له نظره د سولې پېژندنه 11

د سولې اصطلاحي تعریف: 12

دوهم تعریف د مالکي فقهې په اساس: 12

دریم تعریف د شافعي فقهې په اساس: 13

څلورم تعریف د حنبلي فقهې په اساس:..... 13

دوهم مطلب: د قانون له نظره د سولې معنا او پېژندنه 15

میانجیګرۍ (یا مصالحه) :..... 15

دریم مطلب د صلح (سولې) سره نږدې اصطلاحاتو وضاحت کول : 16

لکه التحکیم، العفو، الابراء..... 16

التحکیم: 17

العفو والصفح: 18

دعفوې صفحې ترمنځ توپیر:..... 19

الابراء: 19

دوهم مبحث: د سولې مشروعیت او ثبوت: 20

لومړی مطلب: مشروعیت د اسلامي فقهې له نظره: 20
دریم: د سولې ثبوت او مشروعیت له اجماع او د صحابه کرامو(رضی الله عنهم) له اقوالو څخه: 25
دوهم مطلب: د سولې مشروعیت د قانون له نظره: 26
دریم مبحث د سولې شرطونه او ارکان: 28
لومړي مطلب د سولې شرطونه: 28
لومړی: د سوله کوونکو شرطونه: 28
دویم : د صیغې اړونده شرائط: 29
دریم : د (عاقدینو) ترون کونکوشرطونه: 29
څلورم: د مصالح علیه شرطونه: 30
پنځم شرط د مصالح عنهُ شرطونه : 31
دوهم مطلب د صلح رکن یا رکنونه: 32
څلورم مبحث: د سولې اهمیت او کټې: 33
لومړی مطلب: د سولې اهمیت. 33
دوهم مطلب د سولې کټې. 33
لومړی مطلب: د سولې اهمیت: 33
دوهم مطلب د سولې کټې: 38
پنځم مبحث د سولې وسائل: 42
لومړی مطلب مادي وسائل. 42
دوهم مطلب د روغې جوړې لپاره معنوي وسائل. 42
لومړی مطلب مادي وسائل: 42
د حکمیت او مصالحې اهمیت په څه کې دی؟ 45
د حکم فیصله به کوم مقام لري؟ 46
دوهم مطلب د روغې جوړې لپاره معنوي وسائل: 47
شپږم مبحث:د سولې ډولونه: 53
لومړی مطلب سوله د مسلمانانو او کفارو تر منځ: 53
دوهم فرعه د محاربینو سره د سولې شرطونه: 59
دوهم مطلب سوله د باغیانو او نظام ترمنځ (د اهل عدل او باغیانو ترمنځ): 64

دریم مطلب سوله د متخاصمینو ترمنځ په جنایاتو کې : 68
لمړي فرعه په قصدي وژنه (قتل عمد) کې سوله: 72
دویمه فرعه په خطأ اوشبه عمد قتل کې سوله : 76
دریمه فرعه په مادون النفس او په زخمونو کې سوله کول 78
څلورم مطلب په مالي معاملات کې سوله: 80
پنځم مطلب سوله په کورنیو شخړو کې: 84
اووم مبحث د سولې ځانګړتیاوې 85
لومړی مطلب د سولې عقدمعاوضه دی او که غیرمعاوضه؟ 85
دوهم مطلب سوله په خوښه عقد دی: 85
دریم مطلب سوله یوه لازمي عقد دی: 87
څلورم مطلب د سولې عقد منجز دی او که غیرمنجز: 88
دوهم فصل 89
په مدني او کورني حقوقو کې شخړې او د هغې حل لارې چارې: 89
لومړی مبحث په ټولنیزو حقوقو پېژندنه کې : 89
لومړی مطلب مدني حقوق او دولونه : 89
دوهم مطلب: دبیوعو پېژندنه: 90
دریم مطلب: په بیعو کې د شخړو اسباب اوله منځه وړلو وسائل اولارې چارې 93
څلورم مطلب په قرضونو کې شخړې او د هغو له منځه وړلو وسائل 105
پنځم مطلب په أعیانو کې سوله: 108
شپږم مطلب کروي پېژندنه: 111
اووم مطلب په کروي کې شخړې او د هغو د حل لارې چارې: 112
اتم مطلب د شفعې پېژندنه : 114
نهم مطلب په شفعه کې د شخړو صورتونه او د حل لارې چارې 116
لسم مطلب مشترکه حقوق اوشخړې او د هغو د حل لارې چارې: 118
یولسم مطلب د اجار ی پېژندنه او په اجاره کې شخړې او د شخړو حل لارې چارې: 120
دولسم مطلب ودیعت پېژنده او د شخړو له منځه وړلو صورتونه 123

دوهم مبحث د کورنۍ جوړښت اوحقوق په کورنۍ کې شخړې او د شخړو حل لارې چارې په دې مبحث کې شپږمطلبونه دي: 125
لومړی مطلب د کورنۍ جوړښت اساسي اصول: 125
دوهم مطلب د کورنۍ مقام او منزلت ساتنه: 131
دریم مطلب: د کورنۍ ځانګړتیاو ی په اسلامي شریعت کې: 132
څلورم مطلب:د شخړو رامنځته کېدو اسباب: 133
پنځم مطلب د شخړو رامنځته کېدوصورتونه: 135
شپږم مطلب د سولې لارې د شخړو حل لارې چارې: 137
دریم فصل 151
معاصرې سوداګریزې معاملې او په هغې کې د راپیدا شویو شخړو د حل لارې چارې په دې فصل کې درې مبحثونه دي: . 151
لومړی مبحث د معاصرو سوداګریزو معاملو پېژندنه او ډولونه 151
لومړی مطلب سوداګرۍ پېژندنه 151
دوهم مطلب کورنۍ سوداګری: 155
دریم مطلب بین المللي سوداګرۍ یا نړیوال تجارت: 157
څلورم مطلب الکترونیکي سوداګري: 157
دوهم مبحث په سوداګریزو معاملو کې د شخړو منځته راتللو حالات: 158
دشخړې صورتونه: 158
سوداګریزو شخړو حل: 159
قضایي حل لارې: 159
د حکم په وسیله د شخړو حل : 159
د حکمونو(منځګړو) شرطونه: 160
د حکم له خوا د حکم صادرېدل : 161
حکم د افغانستان په قانون کې: 161
د حکمیت د حُکم د نه اعتبار حالتونه: 161
منځګړیتوب: 162
وړاندیزونه 164

پایله 165
د احادیثو لړلیک 168
د اعلامو لړلیک 172
د منابعو لړ لیک 174

پیلیزه

الحمد لله الذي تفرد بالربوبية والالوهية كمالا واختص بأسماء الحسنى والصفات العلى جلالا وجمالا، وشرع لعباده مايؤلف بين قلوبهم ، ويصلح ذات بينهم وحرم عليهم مايوقع الشحناء والفرقة بينهم فله المنة والحمد والصلاة والسلام على المبعوث رحمة للعالمين وامام المصلحين الذى اجتمع على دعوته المؤمنين فاصبحوا اخوة متحابين فصل اللهم وسلم وبارك عليه ماتعاقب الليل والنهار.

وبعد:

له آدم (على نبينا و عليه السلام) څخه تر دې دمه كه تېر تاريخ ته كتنه او پلټنه وكړو داسې مرحله به و نه مومو چې ټول خلک به ناخوالو او شخړو ته لمن وهي؛ نه به داسې مرحله پيدا كړو چې ټول خلک دې د سولې او پخلاينې غوښتونكي وي؛ او نه به داسې مرحله راغلې وي چې په كې شخړه نه وي. بلكې بشري طبيعت ته په كتو ويلای شو چې ځينې خلک شر خوښوي او د خپل ژوند خير په شخړو كې وينې. ظاهره ده چې دا شان وګړي كم وي. ځني بيا داسې با احساسه وګړي او اشخاص شتون لري چې تل د شخړو او ناخوالو په بل اور باندې د سولې او پخلاينې اوبه تويوي.

د سولې او جګړې، د شخړې او پخلاينې او د حق او باطل دا مقابله پخوانۍ ده او ادامه به ولري. نو الله تبارک و تعالى خپلو بنده ګانو ته په اسلامي ټولنه كې د شخړو د هواري او د سولې لاره غوره كړې ده كه چېرې پوره عمل ورباندې وشي، نه به شخړې وګورو او نه جګړه. په نتيجه كې به د ارامه ژوند څخه برخمن شو.

د شخړو منفي تاثير له استثناء پرته په ټولنې باندې عام دى او هغه يې خپلې اغيزې لاندې نيولې ده. نو دا رساله د شخړو او د ورځنې ژوند ناخوالو څخه د خلاصې لپاره تياره شوې ده. نو هر وګړى، ډله ، او اداره كولاى شي له دې رسالې څخه ګټه پورته كړي.

ما په دې څېړنه كې د الله تعالى په مرسته او د قدرمن استاد په هڅونه او كومك او د خپل توان تر كچې هڅه كړې چې د سولې او پخلاينې په اړه يو علمي اثر خپل هېواد او ولس ته وړاندې كړم ترڅو زمونږ افغاني ټولنه د مصالحې او پخلاينې په ارزښت او اهميت او همدارنكه د سولې په ډولونو او شرعي احكامو پوهه شي.

په دې څېړنه كې هڅه شوې تر څو د كورني، مدني، سياسي اوسوداګريزو شخړو لپاره د حل لارې چارې په كوته شي. له دې رسالې څخه په ګټه پورته كولو سره كولاى شو چې شخړې له منځه يوسو او د مسلمانانو ترمنځ د ورورګلوى، مينې او محبت، د امن او سوكالۍ هيلې رازرغونې او ناخوالې له منځه يوسو او ټول سره د يووالي او اتفاق په ټغر راټول شو. د همدې ورځې په هيله.

د موضوع څېړنې لاملونه :

دلته د اړونده موضوع د انتخاب لاملونه په مختصر ډول شماره وار ذکر کوم:

1. په هیواد کې د شخړو زیات والی او دسولې څخه دخلکو لری والې او سولې ته جدي اړتیا دې ته وهڅولم چې ذکر شوې موضوع وڅېړم.
2. د روغې او جوړې په ټرا و داسې یو کتاب زما د معلومات او پلټنې مطابق نه ؤ چې د هغې څخه دې په اسانه ګټه پورته شوې وای. نو اړینه مې وګڼله چې په دي هکله د بشري توان په اندازه یوه علمي لیکنه خپلې ټولنې ته وړاندې کړم.
3. له ډیر پخوا څخه مې علاقه وه چې په یاده موضوع به څېړنه کوم، نو دا ښه چانس ؤ چې دې خپلې هیلې ته ورسیدم.
4. داموضوع دخیر نه برخمنه ده. الله تعالی ورته خیر ویلي دي. الله تعالی فرمائي: "والصلح خیر"[1]
5. په سولې سره فساد او نفاق او شخړې لمنځه ځي. نفاق د بزدلۍ سبب کیږي ، د مسلمانانو دبدبه او برم لمنځه وړي. خو، په سولې سره دا عزت او برم لاس ته راځي. نو سوله د عزت او برم وسیله ده. له دې کبله، ما هم دا موضوع انتخا ب کړه ترڅو د عزت او برم وسیله باندې چې سوله ده، سم پوهه شو.
6. یو محصل د درس منهج پوره سره مکلف دی چی باید یوعلمي څیړنه وکړې، نو ما هم د پوهنتون د اړونده څانګې د اداري په موافقې سره د خپلې خوښې موضوع د څیړنې لپاره غوره او دا رساله مې ترتیب کړه .

[1] سورة النساء اية ۱۳

د موضوع اهمیت :

د سولې یا پخلاینې موضوع له څو اړخونو څخه مهمه ده. اړینه اوحتمي وه چې په دې هکله بحث اوخبرنه وشي باید هر افغان د سولې عظیمې موخې ته د رسیدو په خاطر هیڅ راز هڅې او زیار و نه سپموي.

مورږ په داسې هیواد کې ژوند کوو چې د ژوند ټوله یا ډېره برخه مو په ناخوالو، بدبختیو او جګړو کې تېره شوه او لا تېرېږي. نو، په داسې حالاتو کې چې د ژوند یوه برخه اختلافات دی، نو اړینه ده چې دې اختلافاتو او شخړو، خصوصاً مدني شخړو، چې د ژوند یوه لویه برخه ده، د لمنځه وړلو لپاره د اسلام مبارک دین او د مدني قوانینو په چوکاټ کې د حل یوه لاره شتون ولري چې د شخړو د حل په وخت کې تر ې استفاده وشي، او دا ناخوالې پای وموم ي.

سوله یاپخلاینه عبارت له هغه موخې څخه ده چې د پورته یاد شویو اصولو او مقرراتو د پلې کېدو په پایله کې لاسته راځي. له لومړنیو خبرنو وروسته جوته شوه چې په ملي ژبو کې، په ځانګړې توګه پښتو ژبه کې، داسې یوه د حساب وړ مرجع شتون نه لري چې د شخړو د هواري په ټولو برخو کې ورځنیو غوښتنو ته ځواب ویونکې واوسي. نو ضروري او لازمي مو وګڼله چې باید یو داسې ټولګه چمتو کړل شي چې د مدني شخړو ټولو ډولونو د حل لپاره یو معتبره سرچینه، چې پکې له اسلامي مصادرو او قانونې مراجعو څخه دمنازعات لپاره د حل لارې چارې ښودل شوې وي، وګرځي.

د څېړنې اصلي پوښتنې :

1. سوله څه شی دی او ولې اهمیت لري؟
2. د اسلامي شریعت په رڼا کې د مصالحې اصول او ضوابط او احکام کوم کوم دي؟
3. سوله په څو ډوله ده؟
4. آیا هر څوک سوله کوونکي کیدای شي؟
5. آیا سولې ته رسیدو په لاره کې خنډونه شته؟
6. آیا سوله (پخلاینه) کې کوم فواید شتون لري؟

د سولې په اړه مخکینۍ لیکنې :

څرنګه چې پورته ورته اشاره شوې، له مطالعې وروسته دې پایلې ته ورسیدو چې یاده موضوع باندې د هیواد په ملي ژبو، خصوصا پښتو ژبه کې، یا د نشت برابر مقالې او رسالې لیکل شوي دي او یا هم هراړخیزه نه دي. په دغو مقالو او رسالو کې احکام یا نه تر سترګو کېږي، او یا هم یوازې په یو یو اړخ باندې څرخي چې ګټه یې تر یوې ساحې پورې محدوده ده او یا هم یوازې د تدریسي لیکچر په موخه چمتو شوې دي. دا خو په ملي کچه انځور دی. له بلې خوا د *فقه ټراث* کتابونو کې هم د سولې په ټرو کوم مستقل کتاب نشته. البته پخپله د کتابونو په داخل کې ځینې ځانګړي برخې لري: لکه *باب الصلح، کتاب الصلح، فصل فی االصلح* او داسې نور چې له هغې څخه عامو خلکو ته ګټه اخیستل یو ستونزمن کار دی. همدارنګه لکه څرنګه چې مخکې مو یادونه وکړه، په نړیواله کچه په عربي ژبه کې چې کوم اثار شتون لري، له هغې څخه استفاده عامه او اسانه نه ده.

غواړو ځنې هغو کتابونو او رسالو ته اشاره وکړو چې په دې اړه لیکل شویدي:

1. په اسلام کې د سولې اوجنګ نظام، مؤلف: دکتور مصطفی سباعي.
2. تعلیمات صلح، مؤلف: عبدالبصیر حکمت.
3. صلح و آشتي، مؤلف: پوهنمل امان الله لودین.
4. مهارتهای حل منازعات اجتماعي، مؤلف: پوهنمل امان الله لودین.
5. السلام العالمي والاسلام، مؤلف: شهید سید قطب.
6. حکم الصلح مع الیهود في ضوء الشریعة الاسلامیة، مؤلف: تالیف عبدالعزیز بن عبد الله بن باز.
7. أحکام الصلح في الدماء بین الناس فی الفقه الاسلامي . مؤلف: تالیف عیسی عایش الدا لي
8. الصلح في ضوء الکتاب والسنة، مؤلف: الدکتور یسري عبدالعلیم،العجوز.

دا هغه کتابونه او رسالې دي چې په اړونده موضوع باندې ليکل شوی دي. خو يادولو وړ ده چې دغه ټول آثار زما څېړنې سره په ډيرو برخو کې توپير لري چې يو څو ته يې په لاندې ډول اشاره کوم:

1. ځنې يوازې په سياسي اړخ پورې محدود دي .
2. ځنو د فضيلت اړخ په بر کې نيولی .
3. ځنې بيا نړيوال اړخ لري او زمونږ د کورنيو ستونزو حل لارې په کې نه تر سترګو کېږي .
4. ځينې بيا جنايي اړخ باندې څرخي .
5. په ډيرو کې د سولې اړونده احکام نه تر سترګو کېږي .
6. ځنې بيا زمونږ په ملي ژبه نه دي.

دې توپيرونو ته په کتو ما وغوښتل چې د سولې په موضوع يوه ممتازه او متمايزه څېړنه خپلې ټولنې ته وړاندې کړم.

د څېړنې کړنلاره :

داچې زما د پايليک (تيزس) موضوع دپلټنې او تحقيق پورې تړلې او په ځنې مواردو کې ميداني او همدا شان دټولنو سالم اوصحيح عرفونوپورې تړاو لري، نو ما له لاندينيو تګلارو څخه ګټه پورته کړې ده:

1. د موضوع اړونده اصطلاحات مې له موثقو او معتمدو سرچينو څخه تعريف کړي، او د سرچينو احاله مې د ټوک، مخ او چاپ سره دقيق ذکر کړې تر څو زما رساله له علمي اعتماد څخه برخمنه شي
2. چېرته چې په موضوع کې ګڼو تعريفونو ته اړتيا وه نو هڅه مې کړې چې اړونده موضوع باندې ګڼ تعريفونه ذکر کړم.
3. په کومو ځايونو کې چې ترجيح ته ضرورت او اړتيا وه، هلته مې ترجيح هم ذکر کړې ده.
4. په ليکنه کې چې کوم ځای کې قرآني آيتونه راغلي د هغې ژباړه مې له عزيزالتفاسير څخه رانقل کړې ده. او چېرته چې د تفسير اړتيا ليدل کيده، بيا مې له معتمدو تفاسيرو څخه تفسيري ويناوې رانقل کړې دي .
5. د احاديثو په تړاو له صحيحينو پرته د نورو کتابونو په هکله مې د صحت او ضعف حکم د معتمدو سرچينو څخه رانقل کړي دي.
6. د اعلامو پېژنګلوي مې د معتمدو سرچينو څخه کړې ده. د مشهورو اعلام پېژندنې څخه مې ډډه کړې ده.

د څېړنې اهداف :

د دې څېړنې د ترسره کولو اهدف په لاندې ډول دي:

1. سوله او پخلاینه په پوره معنا سره پېژندل.
2. کورنۍ او مدني او تجارتي شخړو ته د اسلامي شریعت په رنا کې د حل لارې چارې پیدا کول
3. شخړې د سولې له لارې حل او فصل کول تر څو په محاکمو او قضاة باندې کاري تراکم کم او شخړو ته په لږ وخت کې د پای ټکی کېښودل شي
4. د سولې،اهمیت، فضیلت، مؤثریت، او احکامو څخه خبرېدل.
5. خپل ځان لپاره یوه علمي پانګه پریښودل، چې ما لپاره جاریه صدقه شي.
6. خپلو هیوادوالو لپاره د شخړو او ناخوالو څخه د خلاصون یوه اسانه وسیله برابرول.

د موضوع د جوړښت پلان :

دا بحث یوه پیلیزه (مقدمه) چې پورته وربانديې مفصل بحث شوی، تمهید، درې فصلونه او یوه خاتمه لري چې ترتیب یې په لاندې ډول دی:

تمهید

لومړی فصل: د سولې پېژندنه او اړونده موضوعات

په دې فصل کې اوه مباحث دي چې هر مبحث ځانګړي مطالب لري چې تفصیل یې په لاندې ډول دی:

لومړی مبحث: د سولې پېژندنه،په دې مبحث کی درې مطلبونه دي

لومړی مطلب: د اسلامی فقهې له نظره د سولې تعریف.

دوهم مطلب: د قانون له نظره د سولې معنی.

دریم مطلب: د سولې د هم معنا اصطلاحاتو وضاحت: التحکیم، العفو، الابراء.

دوهم مبحث: د سولې شرطونه او ارکان،په دی مبحث کې دوه مطلبونه دي

لومړی مطلب: د سولې شرائط.

دوهم مطلب: د سولې ارکان .

دریم مبحث: د سولې مشروعیت او ثبوت. په دی مبحث کی دوه مطلبونه دي

لومړی مطلب: د سولې مشروعیت د اسلامي فقهې له نظره.

دوهم مطلب: د سولی مشروعیت د قانون له نظره .

څلورم مبحث: د سولې اهمیت او کټې. په دې مبحث کې دوه مطالب دي

لومړی مطلب: د سولې اهمیت

دوهم مطلب: د سولې کټې

پنځم مبحث: د سولې ډولونه د موضوع او حکم په اعتبار سر. په دې مبحث کې پنځه مطالب دي

لومړی مطلب: سوله د مسلمانان او کفارو ترمنځ.

دوهم مطلب: سوله د نظام او باغیانو ترمنځ.

دریم مطلب: سوله دښکیلو خواو ترمنځ په جنایاتو کې.

څلورم مطلب: سوله دښکیلو خواو ترمنځ په مالي چارو کې.

پنځم مطلب: سوله په کورني احوال او مدني قضایاو کې.

شپږم مبحث: د سولې وسائل. په دې مبحث کې دوه مطالب دي

لومړی مطلب: مادي وسائل .

دوهم مطلب: معنوي وسائل

اووم مبحث: د سولې ځانګړتیا وې. په دې مبحث کې څلور مطالب دي

لومړی مطلب: سوله عقد کله معاوضه وي او کله غیر معاوضه.

دوهم مطلب: سوله رضائي عقد دی .

دریم مطلب: سوله لازمي عقد دی .

څلورم مطلب: سوله عقد کله مُنجز وی او کله غیر مُنجز.

دوهم فصل: په مدني او کورني حقوقو کې شخړې او د حل لارې چارې یې. په دی فصل کې دوه مبحثونه دي

لومړی مبحث: په مدني او اجتماعي حقوقو کې شخړې، او د حل لارې چارې یې د اسلامي فقهې او قانون له نظره. په دې مبحث کی دولس مطلبونه دي.

لومړی مطلب: د مدني حقوقو پېژندنه او ډولونه .

دوهم مطلب: بیوع پېژندنه .

دریم مطلب: په بیوع کې د شخړو اسباب، او د شخړو د له منځه وړلو وسائل

څلورم مطلب: په قرضونو کې نزاع او شخړې، او د شخړو د له منځه وړلو وسائل

پنځم مطلب: په عین ذوات کې شخړې، او د شخړو د له منځه وړلو وسائل.

شپږم مطلب: کروي پېژندنه .

اووم مطلب: په کروی کې د شخړو اسباب او د له منځه وړلو لارې چارې.

اتم مطلب: شفعه پېژندنه، او په شفعه کې شخړې.

نهم مطلب: په شفعه کې د شخړو رامنځته کیدو اسباب او د شخړو لمنځه وړلو لارې چارې.

لسم مطلب: په مشترک حقونو کې شخړې او د شخړو د له منځه وړلو لارې چارې.

یولسم مطلب: په اجاره کې شخړې او د شخړو د له منځه وړلو لارې چارې.

دولسم مطلب: ودیعت او عاریت پېژندنه، او د شخړو د له منځه وړلو لارې چارې

دوهم مبحث: د کورنۍ حقوق او د شخړو د حل لارې چارې،په دې مبحث کې شپږ مطلبونه دي

لومړی مطلب: د کورنۍ جوړیدو اساسي اصول.

دوهم مطلب: د کورنۍ د مقام او منزلت ساتنه.

دریم مطلب: د کورني نظام ځانګړنې .

څلورم مطلب: د شخړو رامنځ ته کېدو اسباب:

پنځم مطلب: د شخړو د رامنځته کیدو صورتونه

شپږم مطلب: د سولې د لارې د شخړو حل

دریم فصل: معاصر تجارتي معاملات او په هغې کې د راپیدا شویو شخړو د حل لارې چارې،په دې فصل کې درې مبحثونه دي :

لومړی مبحث: معاصر تجارتي معاملات پېژندنه او ډولونه. په دې مبحث کې څلور مطالب دي.

لومړی مطلب: تجارت پېژندنه:

دوهم مطلب: داخلي تجارت :

دریم مطلب: خارجي تجارت:

څلورم مطلب: الکترونیکي تجارت:

دوهم مبحث: په تجارتي معاملاتو کې د شخړو د رامنځ ته کیدو حالات.

دریم مبحث: د تجارتي شخړو د حل او فصل لارې چارې.

تمهيد

څرنګه چې د رسالې له عنوان يعنې **"د سولې له لارې د مدني شخړو حل: د اسلامي فقهې او قانون له نظره"** څخه په څرګند ډول معلومېږي، چې موخه دسولې پېژندنه او **د سولې له لارې د مدني شخړو حل** ده نو مخکې له دې چې سوله وپېژنو، اړينه بولم چې شخړه (منازعه) وپېژنو. ځکه چې مصالحه خو له منازعې څخه وروسته رامنځته کېږي.

المنازعة (شخړه): د عربي ګرامر په اساس دمفاعلې باب دی، چې جګړې او شخړې ته ويل کېږي. ځينې وخت ورته د مجادلې اصطلاح هم کارول کېږي. دا منازعه هغه وخت رامنځ ته کېږي، چې کله يو لوری د مطلوبه حق څخه انکار وکړي،[1].

او په اصطلاح کې، «المنازعة :هی اقامة کل طرف من اطراف الخصومة الحجة علی دعواه ومجادلته بتلك الحجة لیثبت ما ادعاه».[2]

ژباړه: منازعه عبارت دی له هغه څخه چې دواړه لوري په خپله دعوا باندې دليل راوړي، او د همدې دليلونو پر بنسټ خپله مدعا (غوښتنه) ثابته کړي.

کله هم چې شخړې او ناخوالې رامنځ ته شي ، ځکه بشري ټولنې له دې څخه خالي نه وي، نو له شخړو او ناخوالو څخه د خلاصې لپارې مور په انساني تاريخ کې ډېرې لرو، چې له هغې څخه د محکمې او د جرګو اومصالحو (سوله) يادونه کولی شو، چې زمور دبحث اوڅېړنې موضوع ده.

---

[1] - لسان العرب،الناشر: دارالمعارف .بيروت ، لمړي طبعه .کال ۱۴۰۷ ، ج ص ۴۷۹ ماده نزع: دمولف نوم محمد ديلاردنيکه نوم علي ، ابوالفضل جمال الدين ابن منظور الانصاري الرويفعي الافريقي درويفع الانصاري له کورني ځحه دی په مصر کی پداشوی دی ، دوهم قول (طرابلس) کی پيداشوی دی ډيرتاليفات لري چې مشهور په علم اللغة کی د لسان العرب په نوم دې په کال ۷۱۱ هجري وفات شوی دی

[2].وسائل انهاء المنازعات بين الافراد فی الشريعة الاسلامية دازهر درسائلو په سلسله نهم نمبر چاپ : دارالمحدثين ، فرع الازهر دريم سرک الدرديري مقام درب الاتراک دالازهر جامع شاته ، لمړي طبعه : ۱۴۲۹ کال ، ج، ۱ ص: ۳۳، ۳۴.
مولف: دکتورعبدالباسط دمحمدخلف ځوی ، په الازهر جامعه کې دفقه اوقانون مقارنې څانګې کی استاد.

لومړی فصل: د سولې پېژندنه او اړونده موضوعات

په دې فصل کې اوه مباحث دي چې هر مبحث ځانګړي مطالب لري چې تفصیل یې په لاندې ډول دی:

لومړی مبحث: د سولې پېژندنه: په دې مبحث کې درې مطالب دي

لومړی مطلب: د اسلامي فقهې له نظره د سولې پېژندنه

زمونږ اسلامي فقه د معلوماتو له اړخه یوه بډایه (غني) سرچینه ده. د هرې کلمې لپاره ډېر زیات اصطلاحات او تعریفونه لري. نو، همدا شان د سولې لپاره هم ډېر تعریفونه راغلي دي، چې له هغې ډلې څخه به دلته یو څو تعریفونه ذکر کړو.

دسولې لغوي معنا:

الصلح: لسان العرب کتاب کې دي، چې صلح د *نَصَرَ* او *مَنَعَ* باب څخه ده چې د فساد ضد ته سوله وایي،[1] لکه چې ویلی شي والصلح السلم، ژباړه: سوله سلامتیا ته وایي. اوزبیدی [2]وایي چې "د یوې ځانګړې ډلې اتفاق په یوه ځانګړې موضوع باندې، دې ته سوله وایي."[3]

امام جرجاني [4] وایي: "صلح هغه جوړ جاړي ته وایي، چې دمنازعې څخه وروسته وي."[5]

په لغوي تعریفونو کې دا ټول تعریفونه یو بل ته ورته دي. زمونږ په عرف کې هم سوله عبارت له هغه حالت څخه ده چې په ترڅ کې یې یوه باصلاحیته ډله د دوو خواوو ترمنځ رامنځته شوې شخړې ته د پای ټکی ږدي. دغه وضعیت د سولې په نوم یادېږي. دغه سوله ځینې وختونه عوض لري او کله کله بلاعوضه وي.

---

[1] - لسان العرب، ابن منظور، ج، ۴ ص: ۴۸۹.

[2]. الزبیدي : نوم یې محمد دی دمحمد ځوې دمحمد لمسې ، ابو الفیض کنیة ده په کال ۱۱۴۵هـ ق کې پیداشو دې د لغت امام دې ډېر کتابونه لرې مشهورکتاب یې (تاج العروس في شرح القاموس)دی په لس جلدونو کې په کال۱۲۰۵ هـ ق وفات شوې دې. الاعلام للزرکلي ج ۷ ص ۷۰

[3] - تاج العروس من جواهر القاموس، دکتاب تحقیق. مجموعة من المحققین کړی دی ، الناشر:دار الهدایة. بیروت لبنان ، لمړي طبعه ۱۳۸۶ هجری ، ج، ۲ ، ص: ۱۸۲ .

[4]. الجرجاني ،نوم عبد القاهر دپلار نوم عبدالرحمن دنیکه نوم یې عبدالرحمن کنیه ابوبکر ، په الجرجاني سره مشهور، په کال (۴۰۰ کې په جرجان کې زیږ یدلی دی په فارسی ، ترکی ، هندي ژبو باندی خبرې کولې شوی ، ډېر تالیفات لرل چې دهغې له جملې څخه معجم العربیه دی بلا خره په کال ۴۷۱ هـ کې وفات شو. توفي سنة إحدى وسبعين وأربع مئة . سير أعلام النبلاء، ج 18 ص 422

[5]. کتاب ، معجم العربیه ، نشرکونکی: مکتبة ناشرون. بیروت،دریمه طبعه ۱۴۰۳،ج ۲ ص ۹۸۹،

د سولې اصطلاحي تعریف:

د سولې په اصطلاحي تعریف کې مې د څلور مشهورو امامانو د مذهبونو څخه تعریفونه ذکر کړي دي.

لمړی تعریف دحنفي فقهی په اساس:

۱ –د حنفي مذهب پر بنسټ د سولې تعریف : د علامه ابن عابدین [1]داسې وایي، «**الصلح : وهواستقامة الحال على مايدعوا اليه العقل ومعناه دال على حسن الذات، وشرعا عقد يرفع النزاع ويقطع الخصومة**».[2]

ژباړه: سوله درست کول دحال دې هغه څه ته چې غوښتنه دعقل ده اومعنا یې دلالت کوې په ذاتې (حسن) اوښکلا باندې . اوپه شریعت کې هغه ټرون دې چې شخړه او نزاع وربانديې ختمیږي.

دوهم تعریف د مالکي فقهې په اساس:

د مالکي مذهب له مشهور کتاب المدونة څخه د سولې لپاره یو جامع تعریف ذکر کوم.

الصلح: «**هوانتقال عن حق، او د عو ی بعوض لرفع نزاع اوخوف وقوعه** »[3]

ژباړه: اوړیدل دحق څخه او یا دغوښتنې څخه په بدل سره ، لپاره د لرې کولود شخړې او یا ډار وي دپیښیدو دهغې.

وضاحت: دوی وایي چې په سوله کې به یا له هغه حق څخه تېرېږي دکوم په سبب سره چې دا ناخواله رامنځ ته شوې ده، او یا دې هم د هغې په مقابل کې د یو بل عوض غوښتونکي شي. د دې کار موخه دا ده چې منځته راغلې شخړه هواره او/یا د راتګ احتمال یې له منځه ولاړ شي. نو، د شخړې د هواري یا یې د منځته راتګ د احتمال د مخنیوي لپاره چې مخکې له مخکې چې کوم جوړجاړی کېږي، هغه ته سوله ویل کېږي.

---

[1].شامی ،نوم یی محمد امین دپلار نوم عمر دعبدالعزیزعابدین الدمشقی لمسی ، په حنفی مذهب کی مشهور فقهی امام دی ، په کال ۱۱۹۸ کی په دمشق کی زیږدلی دی ، ډیر تالیفات لري چی مشهور اومعروف کتاب یی همدا حاشیة رد المحتار على الدر المختار دی چی به شامی سره مشهور دی ، چی په محتلفو جلدونو کی شتون لري، په کال ۱۳۰۷ و دمشق کې وفات شو . (الاعلام للزرکلی ج ۶ ص ۲۷۰

[2].دکتاب نوم : حاشية رد المحتار على الدر المختار شرح تنوير الأبصار ، نشرونکی : حاجی مولوی محمد هاشم نقشبندی ، مکتبة علوم الاسلامیه ، تاج میرخان رود چمن ، بلوجستان ، پاکستان ، په یولس جلدونو کی ، ج ۵ ص ۶۲۸

[3].المدونة الكبرى: نشرونکي اداره : دار الكتب العلمية بيروت .لبنان دوهمه طبعه کال ۱۳۲۶ ، تحقیق یی عامرالجزار کړی دي.
ج ۴ ص ۳۶۷ مؤلف : امام مالك بن أنس بن مالك بن عامر الأصبحي المدني (المتوفى : 179هـ)

دريم تعريف د شافعي فقهې په اساس:

ابوالحسن الرملی [1] چې د شوافعو د مذهب یو مشهور عالم دی، د سولې تعریف داسې کوي

«**الصلح: شرعا عقد ينقطع به خصومة المخاصمين**»[2]

ژباړه: "سوله: په اصطلاح کې هغه شرعي عقد او تړون دی، چې پر مټ یې په شخړه کې د ښکېلو لوریو ترمنځ خصومة یا شخړه قطع او له منځه ځي."

څلورم تعريف د حنبلي فقهې په اساس:

دحنبلي مذهب کې یو پیاوړی عالم علامه بهوتي [3] د سولې لپاره په خپل عبارت یو ښکلی تعریف کوي. هغه داسې وایي: «**الصلح : شرعا معاقدة يتوصل بها الى موافقة بين مختلفين**».[4]

ژباړه: ، سوله: په شریعت کې هغه تړون دی چې په هغې سره د مخالیفنو ترمنځ هوکړې او جوړجاړي ته رسېدنه کېږي.

د څېړونکي نظر: پورته لیکلي ټول تعریفونه جامع او مانع دي چې په نني پېر (عصر) کې په مصالحو او سولو باندې صدق کوي. هر تعریف په خپل ځای غوره او مناسب تعریف دی یعنې شخړه ختمول اوسوله او ډاډینه منځته راتلل په ټولو کې تر سترګو کېږي. خو، د یادولو وړ بولم چې د مالکي فقهې تعریف کې چې کوم خصوصیات اوځانګړنې ترسترګو کېږي، هغه بیا په دې نورو کې نه لېدل کېږي. هغه خصوصیات په لاندې ډول دي:

۱ –سولې ته تحقق ورکول د نزاع او شخړې څخه وړاندې یعنې په دې معنا چې بدبیني راغلې خو شخړه نه ده راغلې په دې صورت کې د سولې خیال پکې ساتل شوی دی.

۲ – مدعي ته د عوض او بدل ذکر پکې دی یعنې یو ډول لالچ پکې دی چې سوله کې دې مادي خیر هم شته دی نو ډېره ممکنه ده، چې همدې مادیاتو لپاره هم سوله وکړي.

---

[1]. الرملي ، نوم یې محمد داحمد الرملي ځوی ، په ۹۱۹ کال کې زیږدلی دې ، نوموړې ډیر کتابونه تالیف کړي ، غاية البيان شرح زبد ابن رسلان چې په شافعي فقه کې دمعتمد کتاب ګڼل کېږي ، په کال ۱۰۰۴ کې له دی نړۍ سترګې پټې کړې. سير أعلام النبلاء ج ۱۲ ص ۳۶۳

[2]. غاية البيان شرح زبد ابن رسلان ، نشرکونکي دارالمعرفة ، دنشر ځای بیروت لبنان ، طبعه دوهمه ، ج ۱ ص ۲۴۱

[3]. البهوتي ، نوم یې منصور د یونس ځوی د إدریس البهوتي لمسې ، دولادت نیټه نه ده معلومه ، دوفات نیټه ۱۰۵۱ هـ ، معجم المؤلفين ج ۱۳ ص ۲۲

[4]. كشاف القناع عن متن الإقناع، تحقيق : هلال مصيلحي او مصطفى هلال کړي ، نشرکونکي : دار الفكر – بيروت، دوهمه الطبعة: 1402هـ ج ۸ ص ۲۷۶

۳ – سوله په دې تعریف سره ټولو ډولونو ته شامله ده، معاملات، جنایات، قصاص ... نو ویلی شو، چې ټولو تعریفونو سره مقصود لاس ته راځي، چې هغه د شخړو له منځته وړل او پخلاینه منځ ته راوستل دی خوهغه کومې ځانګړنې چې مالیکه (رحمهم الله) په تعریف کې ترسترګو کېږي، هغه په دې نورو کې نه لېدل کېږي، نو د مالکیه رحمهم الله) تعریف غوره او ښه تعریف دې د سولې لپاره. والله اعلم

بله داخبره هم ده چې هغه نورو تعریفونو کې چې د منازعې او شخړې د رفعې او قطعې ذکر کېږي هغه خو په قضا او محکمې سره هم کېږي، نو د مصالحې څه امتیاز پاتې نه شو بلکې په سوله کې تنازل وي له حق څخه یوڅه تېریدل وي، مراعت کول وي چې هغه مالکیه رحمهم الله) ؤ په تعریف کې په سترګو کېږي .

نو په نتیجه کې ویلای شو چې سوله عبارت له هغه حالت څخه ده چې کوم فساد او ګډوډي رامنځته شوی و د هغې لمنځه وړل او جوړ جاړی او پخلاینه اتفاق او خوشحالي خیر او فلاح پس د نفرت نه او شر او فساد نه راوړلو ته وایي.

یادونه : دفقها په نسبت بیا د محدثین علماء څخه د سولې دپاره ډیرې معناګانې رانقل شوی دي. دیو څو یادونه په لنډ شکل دلته کوو

۱.طلب التراضي . ژباړه: دخوښې غوښتنه

۲.طلب التنازل عن بعض الدین . ژباړه: غوښتنه دکموالې دبعضی حصی د پور

۳.بمعنی ازالة الخلاف . . ژباړه: په معنا داختلاف لری کول .

۴ .بمعنی المعروف . . ژباړه: په معنا دنیکې سره .

۵.بمعنی التحکیم . . ژباړه: په معنا دفیصله کونکې جوړلو سره .

۶.بمعنی العفو عن القصاص . . ژباړه: په معنا دبښنې سره دقصاص نه .

۷.بمعنی السلم والموادعة والمهادنة والمعاهدة. . ژباړه: په معنا د سلامتیا، په معنا دوستي اوخپلوي ، سازش اوسوله کول ، ترون کول .[1]

[1].يسري الدكتور عبدالعليم عجور استاد په الازهر جامعه اصول الدين دحديث څانكه، الصلح في ضوء الكتاب والسنه ، ط الاولى ،١٤٣٣هـ ، الناشر مؤسسة العلياء القاهرة ج ١ ص ٣٣-٤٧

دوهم مطلب: د قانون له نظره د سولې معنا او پېژندنه

په دې مطلب کې د سولې پېژندنه د قوانینو په رڼا کې واضح کېږي او هغه عبارتونه مې رانقل کړي چې هغې سره د سولې موضوع لا روښانه کېږي .

لومړی دکران هیواد په مدني قانون کې سوله څنګه تعریف شوې ده؟

دافغانستان مدني قانون پنځم فصل لمړی قسمت عمومي حکمونه په ۱۲۹۷ ماده کې سوله (صلحه) داسې تعریفوي. «صلحه یوعقد دی چې جګړه لرې کوي او د واړوخواو رضایت په اساس خصومت پرې کوي »[1] او د همدې فصل۱۳۱۶ ماده کې دا شان وضاحت کوي « صلحه چې کومو منازعات ته شامله وي هغه پرې (قطعه)کوي او دواړو خواوو څخه یو یې هم حق نلري چې ورڅخه رجوع وکړي » دې لپاره چې سوله باندې کومه نتیجه لاس ته راغلې هغه کرَه اویقني شي اړینه ده چې هغه به په لیکلی بڼه وي او باید په عام محضر کې ثبت شي .

مدني قانون په دې هکله په ۱۳۱۱ ماده کې داسې وضاحت لري «صلحه بې له دې په لیکلي توکه وي یا په رسمي محضر کې ثبت نه وي نه شي ثابتیدلې».

بل طرف ته موژ یو بل قانون منځکړیتوب (مصالحې)په نوم لرو چې ۰۳۵ شماره مصوبه دوزیران شوری کې تصویب کړې چې په۱۳۸۵ هجرې کال نافذ شوی دی په هغې کې مصالحه په لاندې توګه تعریف شوې ده :

قانون میانجیگری درفقره یک ماده دوهم میانجی را در فقره دوم همین ماده میانجگري چنین تعریف مینماید:

میانجیگری (یا مصالحه) :

میانجیگری (یامصالحه) عبارت ازعملیه لازم الاجرا است که به تاسی ازمیانجي به اساس درخواست وتوافق طرفین خدمات بی طرفانه رابه منظور حل وفصل سریع وعادلانه منازعات وهم موضوعات اقتصادي وتجارتي راانجام میدهد.[2]

په دوهمه مرحله کې دبهرنی هیوادونو دقوانین یادونه کوو.

لومړی د سوریې هیواد مدني قانون په ۵۱۷ ماده کې صلحه داسې را پېژندلې ده.

---

[1].دمنتخب قوانین مجموعه ، مدني قانو ن، دریم توک ، پنځم فصل ، لمړي قسمت ، ص ۸۸ ، دچاپ کال ۱۴۸۶

[2].قانون میانجیگری ، شماره مصوبه شوری وزیران ۳۵ دچاپ کال ۱۳۸۵ ، دچاپ کابل پارسا، فدامحمد، حق طبعه ونشر : محفوظ ومنحصر به مطبعه دولتي مې باشد،

الصلح: «عقد يحسم به الطرفان نزاعا قائما اويتوقعان به نزاعا محتملا، وذلك بان يتنازل كل منهما على وجه التقابل عن جزء من إدعائه، وفقا لمانصت عليه المادة ٥١٧ مدني».[1]

ژباړه: عبارة له هغه ټرون څخه چې قطعه کيږي هغې سره ښکيلي خوا هغه شخړه چې واقع ده اويا هم دهغی شخړې د پيښيدو احتمال وي ، او دا واقع او ثابته ده په دا شان سره چې تير شي هر دواړه لورې په طريقې دتقابل سره ديوې څه حصی دغوښتل شوې ځيزنه . موافق تصريح متن د قانون.

نکته: دسورې مدني قانون چې کوم تعريف ذکر کړې د مالکی فقهې څخه اخيستل شوی ښکاري. ځکه د شخړې پيښيدو احتمال هلته هم ذکر ؤ.

دوهم دايران هيواد مدني قانون ته هم سر ورښکاره کوؤ. دايران هيواد مدني قانون د۷۵۲ نه شروع تر ۷۷۰ مادې پورې د سولې موضوع ته ځانګړې کړې دي .

ياد قانون په ۷۶۰ ماده کې سوله دا شان تعريفوي .

«عقد صلح یک عقد لازم است اگرچه درمقام عقود جایزه واقع شده باشد»، او همدا شان په ماده ۷۵۲ او ماده ۷۶۰ کې داشان تصريح لري صلح دعوا یاصلح به منظور دفع تنازع صورت می گیرد، قانون مدني مقرر مې دارد «صلح ممکن است یادرمورد رفع تنازع موجوده ویا جلوګري ازتنازع احتمالي درمورد معامله وغیرآن واقع شود»

ديته ورته ټول بشري قوانين اوځېرنه وشي نو ټول سوله په خپلو تعبيرونو اوځانګړ اصطلاحاتو سر سوله را پېژندلې وي چې دلته په همدې يوځو بسنه کوو.

دريـم مطلب د صلح (سولې) سره نږدې اصطلاحاتو وضاحت کول :

لکه التحکیم، العفو، الابراء

لومړی داخبره واضح کول په کار ده، چې د دې اصطلاحاتو پېژندنې او وضاحت ته اړتيا څه وه؟ د دې اصطلاحاتو پېژندنه ځکه اړينه ده چې، هغه کومه موخه چې سولې سره راځي چې د شخړوله منځه وړل دي هغه کله کله دې اصطلاحاتو سره هم لاس ته راتلی شي بلکې رفع او د فع دنزاع کې سره شريک دي نوچابه دا انګېرله چې داټول يو شي دي، اوچې يوشي شو، نوولې تعبيرونه ترې بيل بيل کېږي، نوپه دې وضاحت سره به ځرګنده شي چې داصطلاحات چې ځنکه خپل منځ کې سره توپيرلري، همدا شان سولې سره هم توپيرلري، نواول به د هريوتعريف وکړو بيابه يې د سولې سره توپير هم ذکر کړو. (ان شاء الله).

[1]. قانون الاسرة السوريةحسب اخرتعديل قانون رقم، ۸۴. مؤرخ، ۹ رمضان، ۱۴۰۴، ج-۱، ص- ۲۰۱.

التحكيم:

التحكيم " هو اتفاق الخصمين على قبول شخص معين في فصل الخصومة بينهمابتعين القاضي او بتعينهما[1].

ژباړه: "التحكيم: د شخړو د له منځه وړلو لپاره د متخاصمينو له خوا د يوه ځانګړي شخص د منلو هوکړه ده چې دا شخص به يا قاضي له لورې وي يا به د دواړو لوريو له خوا ټاکل شوی شخص وي.

دې تعريف څخه په څرګند ډول معلومه شوه، چې تحکيم له صلحې يا سولې سره موافق او يو شی دی چې په ترڅ کې يې نزاعات اوشخړې پای مومي. خو توپير يې په دې کې دی چې سوله پوره کېږي، اوتمامېږي، په تنازل سره چې دواړه خواوې او يا هم يوه خوا د قضې تنازل وکړي په خوشحالۍ سره، پرته له دې چې دريم طرف حکَم مقرر شي نو، فيصله کېږي دواړو خواوو نه په خپله خوښې سره، اوهرچې مسئله دتحکيم ده، نوپه دې کې فيصله ددريم ګړي لخوا کېږي، چې هيڅ يوه خوا دقضې نه دی، بلکې دريم شخص دی.

«**فالصلح عقد يرفع النزاع ويقطع الخصومة بتراضي الطرفين، اما التحكيم فانه يقطع الخصومة عن طريق اصدار الحكم ملزم من المحكم**»[2].

ژباړه: سوله هغه ټرون دې چې شخړه له منځه وړي اوپريکوي جنګونه په رضامندې سره دواړه خواو څخه، اوهرچې منځګړيتوب د ې نو په دې سره شخړه ختمېږي په داسې شان سره چې قطعي التزامي فيصله چې منل کېږي به دفيصله کونکې له لوري .

[1] - الموسعة الفقهيةج-١ ص ٢٣٤

[2].الموسعة الفقهيةج-١ ص ٢٣٦ـ ٢٣٧

العفو والصفح:

دوهمه اصطلاح چې صلحې سره مشارکت لري، هغه د عفوې او صفح اصطلاحات دي. اړینه ده چې وضاحت يې وشي. ځکه، دواړه د سولې کار کوي.

العفو: مصدر دی دعفا یعفو عفواً څخه. عفوه، د یو چا ګناه څخه تېرېدلو ته وایي او دا یوه عربي اصطلاح ده. «عفوت عن الحق»، ای اسقطته کأنه محوته عن الذي علیه، داپه هغه وخت کې کارول کېږي کله چې، یو چا ته حق ورپرېږدي، اوترې تېر شي.[1]

ابن منظور وایي: "الصفح هم مصدر دی د صفح یصفح صفحاً څخه چې مفهوم يې د هغه چا د ګناه څخه اعراض کول دي چې چې جنایت يې کړی وي."

دا دواړه اصطلاحکاني په قرآنکریم کې هم یوځای استعمال شوي دي، لکه: سورة نور کې الله تعالی فرمایي: «ولیعفوا ولیصفحوا»[2]

ژباړه: او ښایي عفوه دې وکړي، اوښایې ترې تیر دې شي.

دقرانکریم یو مفسر الازمي [3](رحمه الله) په خپل تفسیر کې فرمایي: **(«ولیعفوا» عن ذنبهم، «ولیصفحوا» ای لیعرضوا عن لومهم، فان العفو ان یتجاوز عن الجانی، والصفح: ان یتناسی جرمه العفو بالفعل والصفح بالقلب)**[4]

عفوه دېته وایي چې، اعراض وکړي دملامتیا اوتېرشي دجنایت کونکې څخه اوصفحه دېته وایي، چې هیرشي جرم د هغې څخه، اوبل تفسیرعفو په فعل سره وي اوصفحه په زړه سره وې .

---

[1] - لسان العرب، ج-١٥، ص- ٢٧.

[2] - سوره نور، ایت – ٢٢.

[3].الأزمي ، الشيخ العلامة محمد الأمين دعبد الله الأرمي العلوي الهرري الشافعي څوې دی ، په کال ١٣٤٨ هـ د حبشی په هېر علاقه کی زیږدلی دې ، ډیرکتابونه لري، لکه الکوکب الوهَّاج والرَّوض البَهَّاج د صحیح مسلم شرحه په٢٦ جلدونو کی ، په نحو ، صرف ، اسماءصفات کی هم لري. الاعلام للزرکلی ج ١ ص ٢٨٩

[4] - دکتاب نوم : تفسیر حدائق الروح والریحان في روابي علوم القرآن ، نشرکونکی : دار طوق النجاة، بیروت – لبنان، لمړي طبعه 1421 هـ ج ٦ ص ٤٣٢

دعفوې صفحې ترمنځ توپیر:

امام قرطبي [1] **وايي :«العفو ترک المؤاخذة بالذنب والصفح ازالة اثره من النفس».**[2]

ژباړه: عفو یعنې په ګناه باندې چې څوک و نه نیول شي او صفحه یعنې چې هیڅ اثر هم پاتې نه شي په نفس باندې.

بل توپیر د دواړو ترمنځ دا ذکر کړای شوی چې عفوه دې ته وایي چې، دبدی مقابله په بدی سره ونکړي او د هغې نه ځان لرې وساتې او هغې نیونه هم و نه کړي.

صفح: دېته وایي، چې نه دا چې مؤخذ نیونه په کې نه وي، بلکې ملامتیا او بد نسبت هم ورته نه کېږي. نومعلومه شوه عفوه اسانه ده او په ډېرو صورتونو کې تحقق موندلای شي. له بلې خواصفحه یوخاص حالت ته وایي چې د هغې تحقق یوځانګړی صورت لري.[3]

په همدې دلته اکتفاء کوو. راځو او راګرځو اصلي موخې ته چې هغه عبارت له دې څخه ده چې عفوه او صفح دواړه سولې سره په دې کې شریک دي چې په دې دواړو کلمو (یعنې عفوه او صفح) او صلحې (سولې) سره نزاع او شخړې ته د پای ټکی ایښودل کېږي یعنې خصومت ورسره له منځه ځي. مخو توپیر یې په دې کې دی چې زیاتره وختونو کې عفوه او صفحه له یو طرف څخه وي او صلحه (سوله) بیا د دواړو خواوو په خوښه وي.

الابراء:

یو له ځانګړو اصطلاحاتو څخه چې ځېنې شخړې ورباندې ختمېږي، هغه هم ابراء ده، نو د ابراء پېژندنه هم اړینه ده.

الابراء: ابراء په لغت کې تنزیه او خلاصون ته وایي او په اصطلاح کې "اسقاط الدائن دینه: خپل پورورې ته له پور څخه تېرېدو ته وایي چې په ذمه د پورورې وي."[4]

ابراء او صلح ترمنځ توپیر په دې کې دی، چې ابراء دحق خاوند له خوا وي. زیاتره وخت په مالونو او اثمانو او پورونو کې صورت مومي. صلحه عامه ده چې هم په اموالو او پورنو او هم په جناياتو او معاملاتو کې تحقق مومي. سوله د طرفینو له خوا وي، او کله کله به کې الزام هم وي.[5]

---

[1]. قرطبي ،أبو عبد الله نوم یې محمد داحمد، ځوی د أبي بکر لمسې ، کنیة أبو عبد الله ، مشهور اوپیاوړې مفسر دې په کا ل ۶۰۰ هـ کې تولد شوې دې په قرطبي سره شهرت لري اوپه کال ۶۷۱ هـ وفات شوې دې، العقد الثمین فی تاریخ البلد الأمین (لتقي الدین محمد بن أحمد الحسني الفاسی المکي (المتوفی: 832 ه)ج 2 ص 328

[2] - دکتاب نوم : الجامع لأحکام القرآن ، قرطبي ، نشرکونکي : دارالکتب العلمیة، طبعه:لړي ج-۴، ص-۱۱۶

[3] - ابوزهرة، محمد بن احمد بن مصطفی، تفسیر ابن زهرة، نشرکونکي : دارالفکر االعربي بدون طبع وتاریخ، ج-۲ ، ص – ۲۰۸۲ .

[4] - ابوالمعانی، برهان الدین محموداحمد ځوی دصدرشهید تجاري لمسې الحنفي، کتاب : المحیط البرهانی فی الفقه النعماي، نشرونکی اداره : دارالکتب العلمیه، بیروت، لړي طبعه ۱۴۲۴هـ ، دجلدونو شمیر ۱۱ ج – ۷ ص – ۴۱۱.

[5] - الصلح واحکامه: ج- ۱، ص – ۱۷.

دځېړونکی نظر: بايد د سولې په تحقق کې د هرې ممکنې وسيلې څخه کار واخيستل شي او هر اصطلاح چې مؤثره وي، هغه بايد وکارول شي. په اخر کې بايد دواړه خواوې دالصفح په غوښتنه عمل درامد وکړي.

دوهم مبحث: د سولې مشروعيت او ثبوت:

په دې مبحث کې د سولې د رواوالي موضوع دځېړنې لاندې نيسو. هغه دلايل مې ذکر کړي چې د سولې په روا والي راڅرخيږي. په دې مبحث کې دوه مطلبونه دي. لومړی مطلب "د سولې مشروعيت د اسلامي شريعت له نظره" دی. کوښښ مې کړی دی چې په دې مطلب کې د اسلامي مصادرو څخه هغه دليلونه ذکر کړم چې د سولې په مشروعيت (روا والی) دلالت وکړي. او دوهم مطلب: د سولې مشروعيت د قانون له نظره:

لومړی مطلب: مشروعيت د اسلامي فقهې له نظره:

دقرانکريم له نظره ځکه سوله نه دا چې يو روا او مشروع امر دی بلکې يو غوښتونکی امر هم دی.، ، سوله کې اتحاد، محبت او يوالی دی. د يادولو وړ ده چې کن شمېر قراني ايتونه شتون لري، چې نه يوازې د سولې په رواوالي دلالت کوي بلکې په سوله باندې امر کوي.

لومړی د سولې ثبوت او مشروعيت د قران کريم څخه:

۱ – په سورت النساء کې الله تعالی فرمايي: « **وَإِنْ خِفْتُمْ شِقَاقَ بَيْنِهِمَا فَابْعَثُوا حَكَمًا مِنْ أَهْلِهِ وَحَكَمًا مِنْ أَهْلِهَا إِنْ يُرِيدَا إِصْلَاحًا يُوَفِّقِ اللَّهُ بَيْنَهُمَا إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيمًا خَبِيرًا** »[1]

ژباړه: او که تاسې د مېړه او مېرمنې د اړيکو د خرابېدو په باب اندېښمن ياست؛ نو يومنځکړی د مېړه له خپلوانو څخه او يو د مېرمنې له خپلوانو څخه وټاکئ، که هغوی دواړه روغه جوړه کول وغواړي؛ نو الله به د هغو دواړو تر مينځ د توافق لاره برابره کړي، الله په هر څه پوه او با خبره دی.

[1] - سورت النساء ، ايت – ۳۵ .

صاحب دتفسير المنير زحيلي[1]، وايي: «لم يذكرالله تعالى الّا الإصلاح في مهمة الحكمين، ولم يذكرالتفريق اشارة الى الحرص على الاصلاح دون التفريق المؤدى الى خراب البيوت.»[2]

الله تعالى په سولې باندې د ټينكار په موخه د منځكړو وظيفه پخلاينه اوسوله ذكر كړه خو جدايي يا بېلتون يې ذكر نه كړه. ځكه سوله يا صلحه دكورنيو د رغولو او يوځاى كولو لپاره ده.

۲ – په همدې النساء سورت كې الله تعالى فرمايي: « **وَإِنِ امْرَأَةٌ خَافَتْ مِنْ بَعْلِهَا نُشُوزًا أَوْ إِعْرَاضًا فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا أَنْ يُصْلِحَا بَيْنَهُمَا صُلْحًا وَالصُّلْحُ خَيْرٌ.**»[3]

ژباړه: كله چې كومه ښځه د خپل مېړه له ناوړه چلن يا مخ اړونې څخه په وېره كښې وي نو هېڅ باك نشته كه مېړه او مېرمن (د څه حقوقو پر كمولو زياتولو) په خپلو مينځو كښې روغه جوړه وكړي. روغه جوړه په هر حال ډېره ښه ده.

په دې اية مبارك كې په صريح ډول د سولې په ټكورتوب باندې تأكيد او اصرار شوى دى.

۳ – په الانفال سورة كې الله تعالى فرمايي: « **.....فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَصْلِحُوا ذَاتَ بَيْنِكُمْ وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ.**»[4]

ژباړه: پس يره كوئ دالله تعالى نه اوتعلق سم ساتئ دخپل منځ اوتابعدارى كوئ دالله اودرسول دهغه ځكه تاسو مؤمنان ئى.

[1].د، وهبة د مصطفى الزحيلي ځوې ،،په كال ۱۹۳۲م، كى په دمشق كى زيږيدلى دى ، پلار هم عالم اوحافظ ؤ عاليه اوعالميه سندونه دواړه دجامعه ازهرڅخه لاس ته راوړي ، اود ماستري اودكتورى ويار هم لري ، نمورې تكړه اود معاصر تكړه علماؤ له جملى څخه ګڼل كيږي ، په ډيرو برخو كى تاليفات لري ،لكه اصول الفقه الاسلامى ، نطرية الضرورة ، العلاقات الدوليه ، الوجيز فى اصول الفقه ..... چې له مشهورو تاليفات څخه التفسيرالمنير او الفقه الاسلامى دى. (المعجم الجامع في تراجم العلماء و طلبة العلم المعاصرين)ج 1 ص ۳۶۸

[2] - التفسيرالمنير ، نشرونكى اداره : دار الفكر المعاصر – دمشق ، دوهمه طبعه ۱۴۱۸ ، ج – ۵، ص – ۶۱.

[3] - النساء سورت، ايت: ۱۲۸.

[4] - الانفال سورت: ايت: ۱.

حافظ ابن كثير [1](رحمه الله) فرمايي: «واتقوا الله فی اموركم وأصلحوا فيما بينكم ولاتظالموا ولاتخاصموا ولاتشاجروا فما اتكم آتاكم الله من الهدى والعلم خيرمما تختصمون بسببه»[2]

ژباړه: حافظ ابن كثير (رحمه الله) وايي: "له الله څخه په خپلو چارو کې وويريږئ او خپلو منځونو کې صلح (سوله) وکړئ او يو بل باندې ظلم او زياتی مه کوئ او شخړې اومشاجرې مه کوئ هغه علم او هدايت چې الله تعالی درکړی دی، ډېر غوره دی، د هغه څه له امله چې تاسو شخړې کوئ د هغه په سبب سره.

۴ – په همدې النساء سورت کې الله تعالی فرمايي: « **لَا خَيْرَ فِي كَثِيرٍ مِنْ نَجْوَاهُمْ إِلَّا مَنْ أَمَرَ بِصَدَقَةٍ أَوْ مَعْرُوفٍ أَوْ إِصْلَاحٍ بَيْنَ النَّاسِ وَمَنْ يَفْعَلْ ذَلِكَ ابْتِغَاءَ مَرْضَاتِ اللَّهِ فَسَوْفَ نُؤْتِيهِ أَجْرًا عَظِيمًا** »[3].

ژباړه: د خلکو په پټو مجلسونو کښې زياتره څه ښېګڼه نه وي. هو، که څوك په پټه توګه د صدقې او خيرات لارښوونه وکړي يا دکوم ښه کارلپاره ياد خلکو په چارو کښې د اصلاح کولو له پاره چاته څه ووايي نو البته دا ښه خبره ده، او څوك چې د الله د خوشحالولو په خاطر داسې وکړي هغه ته به موږ لوی ثواب ور په برخه کړو؛

امام ابوجعفرطبري [4](رحمه الله) فرمايي: «وهو الإصلاح بين المتباينين أو المختصمين، بما أباح الله الإصلاح بينهماليتراجعا إلى ما فيه الألفة واجتماع الكلمة، على ما أذن الله وأمر به.»[5]

ژباړه: امام طبري (رحمه الله) فرمايي: "اصلاح اوپخلاينه د شخړه کوونکو او متباينين ترمنځ په هغه څه کې چې، الله تعالی روا او جائزګڼلی ده، دواړو ترمنځ تردې چې راستانه شي هغه حالت ته چې هغې کې مينه اومحبت او يوالی دی په هغه څه چې الله تعالی ورباندې اجازه او امرکړی دی."

---

[1]. ابن كثير ابوالفداء ، عماد الدين محمد د اسماعيل ځوې د عمر البصري لمسی ، په بصره کی په کال ۷۰۰ کی زيږدلی دی ، بيا خپل ورور سره دمشق ته لاړ په ۷۰۶ کال پس دپلار دوفات څخه هلته له ډيرو علماؤ څخه زده کړې وکړ ی لکه شيخ الاسلام ابن تيميه، ډير تاليفات لری چی مشهوريی ، البدايه والنهايه ، تفسيرالقران العظيم چې په ابن كثير مشهور دې ، په ۷۷۴ کال کی وفات شو. الجواهر والدرر في ترجمة شيخ الإسلام ابن حجر ج ۳ ص ۱۲۵۸

[2] - تفسيرالقران العظيم چې په ابن كثير مشهور دې، نشرونکې : دارالقران الكريم، بيروت، طبعه، اوومه ، کال، ۱۴۰۲، ج، ۲، ص- ۲۷۳.

[3] - النساء سورت: ايت: ۱۱۴.

[4]. الطبري- ابوجعفر محمد د جريرځوی ديزيد لمسی ، په ۲۲۴هـ په طبرستان کی زيږدلی دی ، په امام طبري سره مشهور دی ،ډيرعلمی سفرونه کړي ، تاليفات لري لکه تاريخ الأمم والملوك، او تهذيب الآثار ، ترټول مشهورتفسيرطبري دې له دی وجهی به دطبري علماؤ ابا تفسير باله ، په کال ۳۱۰ هـ وفات شو. سير أعلام النبلاء ج ۱۴ ص ۲۶۷

[5] - تفسيرالطبري نشرونکې : دارالقران الكريم، بيروت، دوهمه طبعه ، ۱۹۵۸، ج- ۴، ص- ۳۲۲.

۵ – په الحجرات سورت کې الله تعالی فرمايي: « **إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ فَأَصْلِحُوا بَيْنَ أَخَوَيْكُمْ وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُرحمُونَ** »[1]

ژباړه: "مومنان خو يو د بل سره وروڼه وي، نو د خپلو وروڼو په مينځ کښې مناسبات سم کړئ او له الله نه وويريږئ هيله ده چې پرتاسې رحم وکړای شی."

صاحب د تفسيرالمنير وايي: چې داقول د الله تعالی چې «فاصلحوا» دليل على ان من رجى صلاح مابين متعادين من المؤمين ان عليه الاصلاح بينهما».[2]

دا شان د الله ج په کتاب کې د سولې په موضوع په تړاو درلودونکي ډېر ایاتونه شتون لري چې، ټول په څرګند ډول د سولې مشروعیت او رواوالی باندې ټینګار کوي. دا ایتونه مورږ سولې ته رابلي او مونږ ته دا لارښودنه کوي چې د شخړو او ناخوالو په وخت کې باید سوله وکړو. ځکه، سوله د اتحاد، یووالي، رفاه، اسایش، او قوت او پرمختک لامل کرځي.

دویم: د سولې ثبوت او مشروعیت له احادیثو څخه:

دلته د سولې مشروعیت باندې د رسول ﷺ له احادیثو څخه رڼا اچوو. ځرنګه چې د قرانکریم ډېر ایاتونه د سولې رواوالي او هڅونې باندې شتون لري، همدا شان کې شمیر نبوي احادیث هم شتون لري چې، له هغې څخه په ډاګه د سولې مشروعیت او رواوالی معلومېږي. دېلګې په ډول به یې یو څو دلته راوړو.

۱ – اول حدیث: عن أبي هريرة قال قال رسول الله ﷺ « **الصلح جائز بين المسلمين إلا صلحا أحل حراما أو حرم حلالا** ».[3].

ژباړه: دابوهریره څخه روایت دی، چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: چې سوله (صلح) جائز او روا ده، د مسلمانانو ترمنځ مګر هغه سوله چې حلال څېز حرام کړي او حرام څیز حلال کړي.

یعنې دحدیث شریف موخه داده چې د سولې له امله به حلال څیزونه حرامو ته نه وړل کېږي، اوحرام به نه حلال کېږي، ځکه د سولې دا ډول بیا ناجائز او نامشروع دی.

---

[1] - الحُجرات سورت: ایت: ۱۰.

[2] - تفسیر المنیر ج-۲۶، ص- ۳۲۲.

[3].كنز العمال ج ۴ ص ۳۶۰ ـ دحدیث نمبر ۱۰۹۳۳.تخریج :صاحب دبدرالمنیر دحدیث په صحت تصریح کوي ، ج ـ۶ ص ۶۸۶ قَالَ : هَذَا حَدِيث صَحِيح عَلَى شَرط (الصَّحِيحَيْنِ)، همدا شان أبو الفضل أحمد بن علي بن محمد بن أحمد بن حجر العسقلاني (المتوفى : ۸۵۲) په خپل کتاب التلخيص الحبير في تخريج أحاديث الرافعي الكبير کی دی حدیث په هکله داسی واي ، وقال الحاكم: صحيح على شرط الشيخين وهو معروف بعبد الله بن الحسين المصيصي وهو ثقة. ج ـ۳ ص ۶۳.

۲ – دوهم حدیث: «**عَنْ سَهْلِ[1] بْنِ سَعْدٍ - ﷺ - أَنَّ أَهْلَ قُبَاء اقْتَتَلُوا حَتَّى تَرَامَوْا بِالْحِجَارَةِ فَأُخْبِرَ رَسُولُ اللهِ بِذَلِكَ فَقَالَ اذْهَبُوا بِنَا نُصْلِحُ (نُصْلِحْ) بَيْنَهُمْ**».[2]

ژباړه: د سهل بن سعد څخه روایت دی، دی وایي چې دقباء اوسیدونکو خپل ترمنځ جګړه وکړه، حتی یو بل یې په ډبرو ویشته. نو، رسول الله ﷺ خبرکړای شو، نو هغه وفرمایل مورږ ورولئ چې سوله وکړو د هغوی ترمنځ.

۳ – دریم حدیث: «**عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ[3] قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -ﷺ- « أَلاَ أُخْبِرُكُمْ بِأَفْضَلَ مِنْ دَرَجَةِ الصِّيَامِ وَالصَّلاَةِ وَالصَّدَقَةِ ». قَالُوا بَلَى. قَالَ « إِصْلاَحُ ذَاتِ الْبَيْنِ وَفَسَادُ ذَاتِ الْبَيْنِ الْحَالِقَةُ ».**[4]

ژباړه: د ابودرداء څخه روایت دی، دی وایي "رسول الله ﷺ وفرمایل، چې ایا خبر درنکړم په هغه څه چې افضل او بهتر دی په درجه کې د روژې او لمونځ او صدقې څخه، هغوی وویل هو، نو هغه وفرمایل: چې د جوړ جاړي او سوله کول په خپل مابین کې جګړه فساد او ناخوالې هر څه لمنځه وړي."

۴ – څلورم حدیث: «**عن أمِّ كُلْثُوم بنت عُقْبَة بن أَبي مُعَيط ﷺ، قَالَتْ : سمِعتُ رسول الله - ﷺ -، يَقُولُ : ((لَيْسَ الكَذَّابُ الَّذِي يُصْلِحُ بَيْنَ النَّاسِ فَيَنْمِي خَيراً، أَوْ يقُولُ خَيْراً))**».[5]

ژباړه: د ام کلثوم څخه روایت دی، دا وایي، " ما درسول اکرم ﷺ څخه اوریدلي دي، چې هغه وفرمایل: نه دي هغه کس دروغجن چې سوله کوي، د خلکوترمنځ د خیر خبره وړي او د خیر وینا کوي. یعنې دا که درواغ وایي هم پروانه کوي."

داهغه روایات د رسول الله ﷺ له مبارکو احادیثوڅخه چې په څرګنده ډول د سولې په مشروعیت او رواوالي دلالت کوي. د قرانکریم ډیر ایتونه او د رسول اکرم ﷺ زیات شمېر حدیثونه د سولې (پخلاینې) په ثبوت او مشروعیت باندې شته چې یو څو یې مونږ د بېلګې په توګه ذکر کړل.

---

[1]. نوم یې سهل دپلارنوم یې سعد الخزرجي الانصاري، د بني ساعدة قبیلې څخه دي ، مشهور صحابي دي تقریبا سل کاله زندګي کړیده ، ۱۸۸ حدیثونه تري رویت شویدي ، په ۹۱ هـ اخري صحابي په صفت په مدینه وفات شو. :أسد الغابة ج ۱ ص ۴۸۶

[2] - البخاري ، نشرکونکي اداره عالم الکتب - بیروت ، لمړي طبعه : ۱۴۱۹هـ ، بَابُ قَوْلِ الْإِمَامِ لِأَصْحَابِهِ اذْهَبُوا بِنَا نُصْلِحُ ، .ج – ۶، ص- ۱۶۸، دحدیث نمبر ۲۶ ۹۳

[3]. نوم یې عویمر دپلارنوم یې عامر دنیکه نوم یې مالك کنیة أبو الدرداء ، دولادت نیټه نه ده معلومه ، له د څخه ۱۷۹ حدیثونه روایت شوي دي ، دعثمان ﷺ دخلافت کې دشام په دمشق ښار کې وفات شو. اسد الغابه ج ۱۱ ص ۴۳۲

[4]. صحیح البخاري، باب فِي إِصْلاَحِ ذَاتِ الْبَيْنِ. ج۴ ص ۴۳۲دحدیث نمبر ۴۹۲۱

[5] - صحیح البخاري، بَابٌ: لَيْسَ الكَاذِبُ الَّذِي يُصْلِحُ بَيْنَ النَّاسِ ج۳ ص۱۸۳دحدیث نمبر ۲۶۹۲

دريم: د سولې ثبوت او مشروعيت له اجماع او د صحابه كرامو(رضى الله عنهم) له اقوالو څخه:

په دې برخه كې د علماء كرامو او د اسلافو، د صحابه كرامو، تابعينو، او امامانو نظريات نقل كړي دي، چې سوله يو مشروع او روا بلكې مطلوب امر اوغوښتنه ده.

١ – اجمع الصحابه وعلماء الامة على جوازالصلح بالجملة.....[1]

ژباړه: صحابه كرامو(رضى الله عنهم) او علماء دامت په جواز دسولې اجماع كړى.

٢ – ذهب جمهورالعلماء الى ان مشروعية الصلح ثابتة بالاجماع.[2]

ژباړه: ډيراې علماء په دي نظر دې چې روا والې دسولې په اجماع سره ثابت دې

٣ – لقد اجمع الفقهاء على رأسهم الائمة الاربعة اصحاب المذاهب المشهورة على ان الصلح مشروع بالجملة لمافيه من الخير والفوائد التى لاتحصى، ولاتعد، اذ به تزول العداوة والشقاق وبه يقطع دابر الخصومة والنزاع وبه تستمر الأُلفة والتواصل بين الناس.[3]

ژباړه: يقيناً اتفاق كړى فقهاو په سر كې څلور امامان دي ، په دى خبره چې سوله روا ده ځكه په سوله كى خير او بى شميره ډيرى كټې دي ، اوبله داچې په دى سره دښمنى ، اختلاف ورسره لمنځه ځې . اوپه سولې سره ژړې دشخړو اوناخوالو لمنځه ځې ، او ورسره محبت اوپالل دخلكو ترمنځ قائميږي.

دې ټولو اقوالو خلاصه داده چې، د امت ټول علماء د سولې په مشروعيت اتفاق لري. ځكه، په سولى سره دښمني، اختلاف او شخړې لمنځه ځي، او د خلكو ترمنځ الفت اومحبت په دايمي بڼه سره راځي. نو، سوله اړين او حتمي امر دى.

په دې هكله دصحابه كرامو اقوال هم ډېر زيات دي. د هغې له جملې څخه د حضرت عمر بن الخطاب ﷺ دغه قول بسنه كوي.

« **عن عُمَر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ : قَالَ رُدُّوا الْخُصُومَ حَتَّى يَصْطَلِحُوا فَإِنَّ فَصْلَ الْقَضَاءِ يُحْدِثُ بَيْنَ الْقَوْمِ الضَّغَائِنَ** ».[4]

---

[1] - الصلح والتطبيقات، ج- ١، ص-٢٩.

[2]- .[الإجماع] الناشر : دار المسلم للنشر والتوزيع الطبعة : لمړى طبعه ١٤٢٥هـ/ ٢٠٠٤م عدد الأجزاء :١ ج ١ ص ٨٨
المؤلف : محمد د إبراهيم څوى دالمنذر لمسى دى ،المحقق : فؤاد عبد المنعم أحمد

3 - مراتب الإجماع في العبادات والمعاملات والاعتقادات الناشر : دار الكتب العلمية – بيروت ج ١ ص٦٦
المؤلف : أبو محمد علي د أحمد څوى د سعيد دحزم الأندلسي لمسى القرطبي الظاهري (المتوفى : ٤٥٦هـ)

[4] - السنن الكبرى للبيهقي ج٦ ص- ٦٦.

ژباړه: "عمربن خطاب ﷺ فرمايلي: چې متخاصم رد او واپس کړی تردې چې سوله وکړي ځکه قضاء اومحکمه فيصله کول دښمني اوبدبيني پرېږدي."

او عقلا هم داخبره ثابته او جوته ده چې، شخړې بايد په سولې او پخلاينې سره حل شي. ځکه، که قضاء او محکمې ته ورځو نو هلته ډېرې نيمګړتياوې شته چې ځينې په لاندې ډول دي:.

1. په قضاء کې کيدای چې حق حقدار ته ور نکړل شي. دا ځکه چې کېدای شي ځينې خلک په استدلال کې قوي وي.
2. کله کله په قضايي دعواګانو کې خبره تر دښمني تر بريده رسيږي.
3. بله دا چې نزاع او شخړې د بزدلي اونفاق سبب کيږي او اتفاق او وحدت لمنځه وړي؛ امنيت درهم برهم کېږي. نو اړينه ده چې، انسانان د سولې په فضا کې ژوند وکړي. د سولې په نه شتون کې نه يوازې د ډېرو انسانانو بلکې د ډېرو نورو موجوداتو ژوند له جدي ننګونو سره مخ کېږي.
4. په سولې سره د شخړو حل کول د وخت د ضايع کېدو مخنيوی کېږي. حال دا چې په قضايي چوکاټ کې ډېر وخت او بې ځايه مصارفو ته اړتيا پېښېږي. د وخت او مالي سرچينو له ضايع کېدو ځخه په سوله کې خلاص او بيغمه يو.

دوهم مطلب: د سولې مشروعيت د قانون له نظره:

په تېر مطلب کې مو د سولې د رواوالي دلائل د اسلامي شريعت له مصادرو څخه ذکر کړل. همدا شان د عقل له نظره هم د سولې په مشروعيت کې کومه ستونزه نه لېدل کېږي. خو، دا چې د قانون يادونه هم په کې شوې ده، نو اړينه بولم چې د مدني قوانينو يو څو کرښې هم رانقل کړم، چې په صراحت سره د سولې ټينګښت باندې رڼا اچوي.

لومړی: دافغانستان مدني قانون (۴) جلدونه او (۲۴۱۶) مادې لري چې په (۱۳۵۵) کال کې توشېح شوی دی. دا قانون د سولې لپاره يوځانګړی فصل لري چې په مفصله توګه په (۲۴) مادو کې د سولې موضوع روښانه کړې ده. د قانون په ۱۲۹۷ ماده کې داسې په روښانه توګه راغلي دي «صلحه يوعقد دی چې جګړه لرې کوي، او د واړو خواوو درضائيت په اساس خصومت پرې کوي».[1] [پنځم فصل صلحه مدني قانون).

او همدا شان په ۱۳۱۹ ماده کې داسې تصريح لري، د قانون د فهم «غلطي په سبب پرصلحه اعتراض کول جواز نه لري».

[1]. دمنتخب قوانين مجموعه ، مدني قانو ، دريم ټوک ، پينځم فصل ، لمړۍ قسمت ، ص ۸۸

دا شان، د مدني قانون له ۱۲۹۷ څخه تر ۱۳۲۱ مادو کې د سولې او پخلاینې په ډیرو صورتونو باندې په تفصیل سره رڼا اچول شوې ده. دا ټولې مادې په دې دلالت کوي سوله یو مشروع او مطلوب کار دی باید چې وشي.

دویم: همدا شان، مونږ د حکمیت او منمځګړتوب [قانون میانجیګري] قانون لرو،چې پکې په تفصیل سره د منځګړتوب مصالحې موضوع څېړل شوې ده. په هغې کې حکمیت داسې تعریفوي: «حکمیت عبارت است ازرفع اختلاف بین متداعین درخارج ازمحکمه به وسیله شخص یااشخاص حقیقي، حقوقي مرضي طرفین یا انتصابي».

همدا شان، د تجارتي حکمیت په نوم قانون لرو چې (۹) فصله او (۶) مادې لري. په دې قانون کې هم په حکمیت بحث شوی دی، چې د مصالحې په مشروعیت باندې دلالت کوي.[1]

شخصي احوالو قوانین چې وګورو هغه نه یوازې د مصالحې په مشروعیت بلکې په وجوب او لزوم باندې قول کوي. نو، پورته لیکل شویو ټولو سرچینو او مصادرو ته په کتو دې پایلې ته رسېږو چې د مصاحلې(سولې) د مشروعیت او رواوالي په برخه کې هیڅ کوم مشکل پاتې نه شو.

[1].پارسا، فداحمد، حق طبعه ونشر : محفوظ ومنحصر به مرکز مستقل ملي اموزش حقوقي ونوسینده آن میباشد ، دچاپ کال ۱۳۹۰ هـ ش.

دریم مبحث د سولې شرطونه او ارکان:

ما په دې مبحث کې د سولې په شرطونو او ارکانو بحث کړی دی.په دې مبحث کې دوه مطلبونه دی

لومړي مطلب د سولې شرطونه

دوهم مطلب دسولې رکنونه

لومړي مطلب د سولې شرطونه:

په دې مطلب کې به هغه شرطونه ذکر کوم چې، د مصالحې د تحقق لپاره اړین دي

لومړی: د سوله کوونکو شرطونه:

آیا هر څوک کولای شي چې د نورو ترمنځ سوله وکړي؟ آیا سوله کوونکو لپاره کوم ځانګړي شرایط شتون لري؟ دکتابونو دمطالعې څخه ځرګندیږي چې سوله کوونکي به د یو څه ځانګړو صفاتو لرونکي وي، چې هغه عبارت دي له:

1. **مصلحین به عقل لرونکي یعنې عُقلاء وي:** ځکه د عقل په قوت سره وکولای شي د متخاصمو اشخاصو یا وګړو ترمنځ سوله وکړي. ځکه، څوک چې د عقل له دولت څخه محروم او بی برخې وي هغه به څنګه وکولای شي د نورو لپاره د خیر او سولې ذریعه شي.
2. **اخلاص به لري:** یعنې دا مصلحین به د اخلاص صفت څخه برخمن وي، ترڅو د دوي د اخلاص له برکته شخړې ته د پای ټکی کېښودل شي. اخلاص یو مهم اصل دی. هغه څوک چې دوه مخې او منافقت کوي هغوی دا لوې او عظیم کار نشي کولای.
3. **د نظرخاوندان به وي:** د رأی خاوند به وي ځکه، چې رای او نظر و نه لري، هغه نه شي کولای چې دې ستونزې ته د پای ټکی کېږدي.
4. **صلاحیت به لري:** په دې معنا چې کومې پریکړې د دواړو خواوو ترمنځ کوي، د هې امکاني وسیلې له لیارې به د خپلو کړو پربکړو د پلې کولو صلاحیت لري.
5. **تواضع او صبر لرونکي به وي:** هغه څوک چې سوله او پخلاینه رامنځ ته کوي، هغوي لپاره دا دواړه صفتونه حتمي دي. هغوی باید تواضع او عاجزي ولري. ځکه تواضع او خاکساري په طرفینو باندې خپل مثبت تأثیر کوي. له تواضع سره سره د صبر په صفت باندې هم باید سمبال اوسي، ځکه، پخلاینه راوستلو کې هسکې او تېټې منځته راځي. یو طرف به کنځل او بدې ردې وایي. دوی به په ډول ډول نومونو ستایل کېږي. تر څو د سولې پروسه سبوتاژ کړي. نو مصلحین باید دلویې اوپراخه سینې خاوندان وي.

ځکه که چېرې صبر ونشي، نو ډېر ژر به پروسه دلاسه ورکړي. نو د سولې راوستلو په خاطر حوصله او صبر یو مهم اصل دی.[1]

دویم : د صیغې اړونده شرائط:

دا هغه شرط چې هغې الفاظو پورې تړلې چې هغه، په سوله باندې دلالت کوي، نو د هغی الفاظو او اصطلاحاتو لپاره د دین علماؤ ځانګړي شرطونه ټاکلي دي. د همدغه شرطونو په شتون کې په همدې (صیغې) الفاظوسوله راتلی شي. که داشرطونه په دې صیغه کې نه وو، نو بیا په دې صیغه باندې سوله نشي راتللی او یا هم اثار ورباندې نه مرتب کېږي. هغه شرطونه په لاندې ډول دي:

لومړی شرط: داحنافو په اند: هغه ایجاب او قبول چې د سولې ترون لپاره اساس جوړوي، هغه په ماضي صیغې سره وي، «**تستعمل صیغة الماضي فی الایجاب والقبول ولا ینعقد الصلح بصیغة الامر....**».[2]

ژباړه: په ایجاب او قبول کې د ماضي صیغه استعمالېدای شي . په امر صیغې سره سولې عقد نه صحیح کېږي. د له بلې خوا جمهور فقهاء لکه: مالکیه، شافعیه او حنابله (رحمهم الله)، په اند چې ایجاب په امر صیغې سره هم صحیح کېږي.

دویم شرط: د صلحې په ترون یا عقد کې به ایجاب د مدعي له لورې وي.

دریم شرط: قبول به د ایجاب سره موافق وي.

څلورم شرط: موجب ایجاب کوونکی به د قبول څخه مخکې رجوع نه کوي. که داسې وشي، عقد لغوه کېږي.[3]

داهغه شرطونه دي چې د سولې په صیغه کې اړین دي، او باید د سولې د تحقق لپاره موجود وي.

دریم : د (عاقدینو) ترون کونکوشرطونه:

د صلحې یا سولې ترون کې داخلېدونکیو یعنې دواړو خواوو لپاره فقهاء کرامو هم شرطونه ایښي دي. اړینه ده، چې هغه هم دلته ذکر کړم.

1. «ان یکون عاقلا فلا یصح من المجنون والصبی الذي لایعقل، لانعدام اهلیة التصرف بانعدام العقل».

---

[1] - الصلح واحکامه، ج-۴، ص- ۵۹۱۳.

[2] - الصلح والطبیقات، ج- ۱، ص-۳۷.

[3] - الصلح واثاره فی انهادالخصومة: ج: ۱، ص: ۷۳.

ژباړه: دعقل خاوند به وي، همدا شان د ليوني سوله نه صحيح کېږي، او نه هم د هغه ماشوم چې عقل نه لري. ځکه، چې اهليت نه لري، چې د هغې پربنسټ تصرف کېدای شي.

2. که په سوله کې ماشوم مدعي عليه وي، هغه ته به ځرګند ضرر نه وي. او يا به ولي د ده لپاره دعوه کونکی وي.
3. که د ماشوم له خوا سوله کېږي، نو دا شخص هغه څوک به وي چې هغه د تصرف کولو حق څخه برخمن وي، لکه، پلار او نيکه. دا چې سوله تصرف دی په مال کې، نو دا وضعيت هغه چا پورې ځانګړی دی چې د تصرف حق او ملکيت ولري.
4. **د امام ابوحنيفه (رحمه الله) په اند:** صالح به مرتد نه وي. ځکه دامام صاحب په اند قاعده داده چې د مرتد تصرفات موقوف دي.، خو صاحبين په اند دي چې د مرتد تصرف هم جائز دی او کومه پروانه کوي.

څلورم: د مصالح عليه شرطونه:

په کوم څيز چې سوله کېږي، يعنې د عقد سر ته رسولو په موخه د سولې په بدل کې ورکول کېږي، هغې لپاره هم فقهاء يو شمېر شرطونه ايښي دي، چې هغه عبارت دي له:

1. د سولې په بدل کې کوم څيز ورکول کيږي هغه به مال وي. ځکه په سوله کې د معاوضې يا بدل مفهوم پروت دی. نو په معاوضاتو کې د مال نه پرته بل څه نه صحيح کېږي. لکه: شراب، وينه، يا مرداره. په مال کې دا شرط نه دي چې، هغه به عين وي بلکې عين، دين اومنفعه او ملکيت ټول صحيح دی، ځکه همدې سره معاوضه کېږي.
2. په کوم شي سوله کېږي هغه بايد په ملکيت د مصالح کې وي، ځکه هغه شی به په عوض کې ورکړي، چې دې مالک وي ، په هغې شي سوله نه صحيح کېږي چې ده د په ملکيت کی نه وي، اوهم نامعلوم وي، ځکه جهالت دشخړې او نزاع لامل کېږي، موضوع به بالعکس شي، سوله به په نوې شخړې بدله شي.
3. دريم شرط دادی چې کوم مال د سولې په بدل کې ورکول کېږي، هغه به متقوم مال وي. البته دا شرط په حق د مسلمان کې دی. نو، که چېرې صلح په غيرمتقوم مال سره وشي، لکه: خنزير، او شراب نو دغه صلحه به نه صحيح کېږي. خو که بيا هم په همدې حالت کې عقد وکړل شو، يعنې سوله وشوه او طرفينو څه ونه ويل نو سوله صحيح ده، عوض نه لازمېږي. د يدولو وړ ده چې دا ډولسوله په معنا د عفوې سره ده.[1]

[1]- الفقه الاسلامي وادلته: ج:۶، ص: ۱۷۸ – ۱۹۷.

یادښت: مال متقوم هغه ته ویل کېږي، چې اسلامي شریعت د هغې څخه ګټه پورته کول روا بللی وي؛ یا په بل تعبیر سره هغه مال ته ویل کېږي، چې په شریعت کې مالي قیمت ولري او په عام حالاتو کې ګټه پورته کول ترې جائز وي.[1]

پنځم شرط د مصالح عنهُ شرطونه :

مصالح عنهُ هغه شي ته ویل کېږي، په کوم شي باندې چې شخړه رامنځ ته شوې ده، یا په بل تعبیر سره هغه څیز دی په کوم شي چې، دعوا شوې ده. د دې لپاره هم فقهاؤ مختلف شرطونه ذکر کړې دی چې، په لاندې کرښو کې یې یادونه کوو. نو ویلی شو، چې هغه څیز چې په هغې کې شخړه راغلې هغه په دوه ډوله دي:

۱- حق الله او ۲ – حق العبد.

لومړی شرط چې حق الله دې چې په بل تعبیر سره ورته عامه حق هم ویلی شو یعنې نفعه دعامو وګړو لپاره ده. په دې کې د فقهاء اتفاق دی، چې په دې مورد کې سوله کول صحیح نه دي او صلح هیڅ معنا نه لري. سوله په کې باطله ده. د ببلکې پ ډول د د زنا او شراب خوری حد کې سوله کول هیڅ اعتبار نه لري په دې معنا چې، زنا کار اوشراب خور ووایي چې، زه به دومره مال درکړم زما قضیه اولی الامر ته مه وړئ او ما سره په کې مصالحه وکړئ. داسې سوله باطله ده. ځکه، داحق الله دی.

دوهم قسم حق العبد دی: چې په هغې کې د شرطونو د شتون او تحقق په صورت کې سوله جائز ده. دا شرطونه په لاندې ډول دي:

لومړی شرط: مصالح عنهُ د مصالح یو ثابت حق دی.که داسې نه و، نو سوله باطله ده.[2]

دوهم شرط: دویم شرط دا دی چې باید داسې یو شی وي، چې د هغې څخه عوض ورکول صحیح جائز وي، چې د هغې په بدل کې یوڅه واخیستل شي. لکه، یو څو ک چې په ښځه دعوه وکړي، چې ګویا زما ښځه ده او بیا هغې سره د مال په بدل کې سوله وکړي. دا شان سوله صحیح نه ده. ځکه چې یوحرام څیز ورسره حلال ګرځوي. همدا شان د مال په بدل کې خپل نفس وراندې کولهم صحیح نه دی، نو ، لهذا دا ډول سوله باطله ده .

دریم شرط: دریم شرط دا دی چې دا شی به معلوم وي. د څیر په څرګندوالي کې دفقهاء ترمنځ د نظر اختلاف دی. په دې اړه څلور قولونه دي، خو، د مالکیه اوحنابله (رحمهم الله) قولونه دلته ذکر کوو. ځکه هغوی په دی برخه کې یو فیصله کونکی قول کړی دی. هغوی وایي: "جنس به داسې وي، چې علم او خبرېدل وربانديې متعذر او ستونزمن وي.

---

[1]- الفقه الاسلامي وادلته: ج : ۴، ص: ۲۱، ۷۹.

[2]- الفقه الاسلامي وادله: ج:۶: ص: ۱۹۱.

نو، په داسې حالت کې بیا سوله کول جائز دی. خو، که خبرېدل وربانديې ستونزمن نه وه، نوبیا په دې ترهغې سوله روا نه ده، ترڅو چې وپېژندل شي اومعلوم شي او هغه جهالت لمنځه لاړشي.[1]

دوهم مطلب د صلح رکن یا رکنونه:

په دې کې دجمهورو فقهاو او د احنافو فقهاو دنظر اختلاف دی، جمهور فقها په دې اند دي، چې د سولې عقد لپاره په شان د نورو عقدونو څلور ارکان دي، چې هغه عبارت دي له:

1. عاقدان ترون کونکی
2. صیغه یا دایجاب او قبول څخه عبارت دی
3. مصالح عنهُ
4. مصالح علیه.

دا حنافو په اند د صلحې رکن یو دی. هغه یوائې صیغه ده، یعنې ایجاب او قبول. باید وویل شي چې قبوله مې ده. دوی وایي چې همدا رکن دی، او بس.[2]

یادونه: دا اختلاف د نظر ولې منځ ته راغلی دی؟

جمهور فقهاء وایي "هرهغه شی چې عقد د صلح هغې پورې تړلی وی سوله ترون نه متحقق کېږي ترڅو هغه پیدا اوموجود نه شي نو هغه رکن دی؛ که هغه په ماهیت د شي کې داخل وي، او که داخل نه وي. نو، په دې اساس داڅلورواړه ارکان دي ځکه د سولې تحقق ورپورې تړلی دی.

حنفي فقهاء په دې اند دي، چې رکن د شي هغه ته وایي چې وجود د شی ورپورې تړلی وي. یعنې، وجود اوشتون دشي پرته د هغې ممکن نه وي، اوشې په داخل او ماهیت د دې شي کې وي، نوپه دې اساس دوي وایي، چې په دې معنا رکن یوائې همدا صیغه ده، چې ایجاب او قبول سره تعبیر تری کېږي. همدا صیغه دلالت کوي، په توافق د دواړو ارادو باندې او هغه باقې ارکان پې د شرطونو له جملې څخه ګڼلې دي. دلته دفقهاء عبارت رانقلوم چې همدا ذکر شوې وینا ورسره قوي شي .
وَذَهَبَ جُمْهُورُ الْفُقَهَاءِ إِلَى أَنَّ هَذِهِ الاربعةَ كُلَّهَا أَرْكَانُ الْعَقْدِ.وَذَهَبَ الْحَنَفِيَّةُ إِلَى أَنَّ رُكْنَ الْعَقْدِ هُوَ الصِّيغَةُ فَقَطْ. [3]
ژباړه : جمهور فقهاء (رحمهم الله) په دې اند دي چې داڅلورواړه د عقد ارکان دي او حنفي فقهاء (رحمهم الله) واي چې رکن دعقد یوائې صیغه دی او بس.

---

[1]- .فتح القدير ، نشرونكي : دارة الطباعة المنيرية، طبعه دوهمه ۱۳۸۶ ج ۴ ص: ۳۰۲.

[2] - الفقه الاسلامي وادلته ج ۱ ص۱۷۷.

[3]ـ الموسوعة الكوتية ج ۳۰ ص ۲۰۰

څلورم مبحث: د سولې اهمیت او ګټې:

په دې مبحث کې به د سولې اهمیت او د سولې لپار ګټې ذکر کېږي. هر عقد او هره معامله اهمیت او ګټې لري. نو د سولې اهمیت او ګټې څه دي هغه په دې مبحث کې دځېرنې لاندې نیسو. په دې مبحث کې دوه مطلبونه دي.

لومړی مطلب: د سولې اهمیت.

دوهم مطلب د سولې ګټې.

لومړی مطلـــب: د ســـولې اهمـیـــت:

اسلام هغه سپیڅلی او برحق دین دی چې د ژوند په ټولو پراونو کې یې ټولو وګړو ته حقوق ورکړي او د هر چا حقوق په کې خوندي دي. په اسلام کې هر یو خپل مقام سره د قدر وړ دی.

له هغه ځانګړتیاو څخه چې د اسلام دین یې لري، یو یې همدا ده چې کله هم شخړه رامنځ ته شي یو یا څو تنه یا یوه ډله باید هلې ځلې پیل کړي تر څو دې شخړې ته د پای ټکی کېږدي، پرته له دې چې دواړه خواوې ورته فریاد وکړي. دا با احساسه وګړي باید دا خپل دیني او ملي مسؤلیت وګڼي چې دغه ناخوالې اوشخړې پای ته ورسوي، او شخړې په سوله بدلې کړي. هغوی ولې دا هلې ځلې ځکه کوي، دا کړنه ولې مهمه ده؟ دغو پوښتنو ته د ځواب ویلو لپارهغواړو لاندې ټکو ته اشاره وکړو:

د سولې اهمیت:

1. **د سولې اهمیت په شخصي احوالو کې:** کله چې په کورنۍ کې شخړه رامنځ ته شي، نو اړینه ده چې دا شخړه باید په سولې سره حل او فصل شي. ځکه، که ښکېلې خواوې شخړه په محکمې او قضاسره له منځه وړل غواړي، نو ټول هغه حالات باید په ډاګه شي د کوم اساس چې دا شخړه منځ ته راغلې ده. په دې توګه هغه محرم او مرموز پټ حالات هم باید څرګند شي چې هغې څرګندول عرفاً او عقلاً منع اوشرم وي. د یادولو وړ ده چې په محکمه کې د هغه حالاتو څرګندول اړین وي چې په عادي حالتونو کې یې ښکاره کول مناسب نه وي. د نېکه مرغه د محرمو او پټو حالتونو په ډاګه کولو ته په سوله کې هیڅ اړتیا نه لیدل کېږي. پر ښکېلو لوریو پرده اچول او د چا لهشخصي حالاتو څخه نور څوک نه خبرول یومهمه خبره ده. همدغه د شررعیت غوښتنه هم ده. ، دا مهم کار یوازې د سولې په کولو سره عملي کېدای شي. له پورتنیو څرګندونو څخه روښانه ده چې سوله یو مهم کار دی.

2. **په مدني او تجارتي معاملاتو کې د سولې اهميت او ارزښت:** سوله او امن په ټولو مدني او تجارتي معاملاتو کې د پرمختک د باوري کولو لپاره يو اړين اصل دي. له سولې او خوندي چاپېريال پرته پرمختک ناشونی دی. په مدني او تجارتي معاملاتو کې پرمختک ټول بشريت ته يومنل شوی حقيقت دی. پرته له دې پرمختک څخه ژوند له ستونزو سره مخ کېږي. د ژوندانه په چارو کې پرمختک د ژوند يوه بنسټيزه غوښتنه ده. هر انسان ارامه ژوند غواړي او دا کار هغه وخت تحقق مومي کله چې سوله شتون ولري او تجارتي معاملات پرمختک وکړي.، دا دا يو منلی او څرګند حقيقت دی. دا بايد ومنل شي چې امن اوسلامتيا او سوله په اسلام کې يوه فرعي قضيه نه ده، چې په ساده شکل ورځخه هر انسان ځان خلاص کړي، بلکې سوله او سلامتيا او امن د دين لپاره روح دی او دا نساني ژوند لپاره حياتي ماده ده.

داخبره نبي کريم ﷺ په يو حديث کې واضحه کړې ده، چې څوک امن او صحت او رزق څښتنان وي نو هغه داسې دي لکه دټولې نړۍ څښتنان.

قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ : مَنْ أصبَحَ منكم آمِنا في سِرْبِه، مُعافى في جَسَدِهِ، عندهُ قوتُ يومِه، فكأنَّما حِيزَتْ له الدنيا ».[1]

ژباړه: چا چې سهار پيل کړ په داسې حال کې د اوسېدو ځای يې په امن کې وه، او روغتيا څخه برخمن وه، او خوراکي توکي يې د يوې ورځې په انداز درلودل، ګويا ټوله دنيا دده په اختيار کې ده او ورته راجمع شوې ده.

۳. په ټولنيزو اړيکو کې د سولې اهميت: لکه څنګه چې په شخصي او مدني او ټولنيزو اړيکو لپاره سوله يوه حياتي موضوع ده، پرته د سولې هيڅ پرمختک ممکن نه دی، نو همدا شان په ټولنيزو اړيکو کې سوله او امن تر دې هم ډير اهميت لري. که هر څوک او هر هېواد غواړي چې اړېکې اغيزمنې اوپياوړې وساتي دسيمی نورهيوادونوسره نواړينه ده، چې د امن او سولې فضا کې دې ژوند ولري. پرته له سولې، هيڅوک نه شي کولې له بل لوري سره سالمې اړيکې ولري. همدا شان بل لوری هم زړه ديته نه ښه کوي، چې له هغه مقابل لوري سره اړيکه ونيسي، چې هغوی د امن او سولې څخه بې برخې وي او په جنګ جګړو کې اخته وي. په شخړه کې ښکېل لوري هيڅ قسمه ټولنيز ديپلوماتيکي او ټولينزې اړيکې نه لري. څوک چې له ټولنيزو او ديپلوماتيکي اړيکو څخه بې برخې وي هيڅ ډول دنياوي او اخروي، پرمختک نه شي کولی.

---

[1] - البرهان فوري، المتقي الهندي،علاء الدين علي د حسام الدين ،څوی كنز العمال في سنن الأقوال والأفعال ، تحقيق کونکې : بكري حياني - صفوة السقا ، نشرکونکی : مؤسسة الرسالة ، پنځمه طبعه : ۱۴۰۱ هـ ج: ۳، ص: ۳۸۹.دحديث تحريج: حديث حسن ، غريب ، الاحكام الوسطى للامام الحافظ المحدث ابو محمد ، الازدي الشبلي ج ـ۴ ص ۲۸۴
همدا شان الباني رحمه الله هم واي چې حديث حسن دې: " السلسلة الصحيحة " 5 / 408.

مورته خو په تجربې او عملي ژوند سره جوته شوېده چې په شخړو کې ځومره ناوړه حالات سر مخ کيدل دي او په امن اوسوله کې ځومره نيکې پايلې اوپرمختګ دی. که مور لږ سيرت ته سر ورښکاره کړو وبه وينو چې کومې لاسته راوړنې دحديبيې سولې ځخه وروسته لاسته راغلې د هغې تصور هم نه کيده. حتی دحديبيې سولې ترون په ښکاره فتحه ونومول شوه. که معاصر تاريخ ته وګورو او د خپل هيواد پرتله په مادي لحاظ له جاپان هيواد سره وکړو نو روښانه ده چې چې نن هغه د ژوند په کومه مرحله کې قرار لري او زمور حالات په کوم درجه کې دي. همدا شان د امن او سولې داهميت لپاره د يو عظيم درس په صفت دا کفايت کوي چې سوله او امن د پرمختګ، تعليم، اختراع، رفاه او پياوړي اقتصاد لپاره يو ستر اصل دی.

که قراني لارښوونو ته ځيرشو، نو په ډاګه دا پايله لاس ته راځي، چې سوله او امن يو مهم فکتور او د ژوند اصل دی

راځي چې دابراهيم عليه السلام دعاته ځير شو، چې د خوراک ځخه لومړی د امن دعا کوي او امن دسولې ځخه پرته نشې راتلی. دابراهيم عليه السلام دعا قران کريم کی داسی راغلی ده:

« وَإِذْ جَعَلْنَا الْبَيْتَ مَثَابَةً لِلنَّاسِ وَأَمْنًا وَاتَّخِذُوا مِنْ مَقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى وَعَهِدْنَا إِلَى إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ أَنْ طَهِّرَا بَيْتِيَ لِلطَّائِفِينَ وَالْعَاكِفِينَ وَالرُّكَّعِ السُّجُودِ (125) وَإِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ رَبِّ اجْعَلْ هَذَا بَلَدًا آمِنًا وَارْزُقْ أَهْلَهُ مِنَ الثَّمَرَاتِ مَنْ آمَنَ مِنْهُمْ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ قَالَ وَمَنْ كَفَرَ فَأُمَتِّعُهُ قَلِيلًا ثُمَّ أَضْطَرُّهُ إِلَى عَذَابِالنَّارِ وَبِئْسَ الْمَصِيرُ».[1]

ژباړه: او دا چې مونږ دا کور (کعبه) د خلکو له پاره مرکز او د امن ځای جوړ کړی ؤ او خلکو ته مو امر کړی ؤ په کوم ځای کښې چې ابراهيم (عليه السلام) د عبادت له پاره درښده هغه ځای په مخصوصه توګه د لمانځه ځای جوړ کړئ او ابراهيم (عليه السلام) او اسماعيل(عليه السلام) ته مو په کلکه ويلي وو چې زما دا کور د طواف کوونکو، ځيله کيدونکو او رکوع او سجده کوونکو له پاره سوتره کړي. او کوم وخت چې وويل ابراهيم (عليه السلام)ای رب زما وګرځو داځای ښار امن والا او روزي ورکړه اوسيدونکو د دی ته د ميوو نه هغه چاته چې ايمان لري د دوي نه په الله او په ورځ وروستنۍ ، وفرمايل الله تعالی او چا چې کفر وکړه ، پس فايده به ورکړم هغه ته لږه زمانه بيا به زور بوځم دلره عذاب داور ته او بد دی ځای د ورتلو(دا اور).

بل ځای سورت (النحل) کې الله عزوجل دهغه ښار بېلګه ذکرکړې ده، چې په هغه ښار کې امن اوسوله وه، نو د هيڅ شي کمي نه وه په کې. خوچې کله هم هغوی دهغه نعمت شکر اداء نه کړ اوناشکري يې وکړه الله تعالی هم ورباندې ډول ډول عذابونه مقرر کړل، لکه الله تعالی فرمايي: « وَضَرَبَ اللَّهُ مَثَلًا قَرْيَةً كَانَتْ آمِنَةً مُطْمَئِنَّةً يَأْتِيهَا رِزْقُهَا رَغَدًا مِنْ كُلِّ مَكَانٍ فَكَفَرَتْ بِأَنْعُمِ اللَّهِ فَأَذَاقَهَا اللَّهُ لِبَاسَ الْجُوعِ وَالْخَوْفِ بِمَا كَانُوا يَصْنَعُونَ (112) ».[2]

[1] - البقرة سورت، ايت: ۱۲۶.

[2] - سورت النحل، ايت: ۱۱۲.

ژباړه: الله د یوه کلي مثال راوړی دی. چې هغه د ډاډینې او بیغمۍ ژوند تیراوه او له هر لوري ورته پریمانه روزي رسیدله چې هغه د الله د پیرزوینو پر ناشکرۍ لاس پورې کړ، نو بیا الله د هغو پر اوسیدونکو د هغو د کړو وړو دا خوند وځکه چې د لوږې او ویرې غمونه پرې خواره شول.

کله چې امن وي، هغې سره اطمینان هم ترلاسه کېږي. د ژوند ټول اسباب د امن په برکت چمتو وي. دلته وګورئ چې کله ښار امنة منطمئنة و نو د رزق هیڅ تشویش نه وه، بلکې پراخ او پریمانه وه، قران کریم په څومره بلیغ اندازه هغه بیان کړی دی (رغداً من کل مکان.)پراخه دهر ځای نه

سید طنطاوي[1] رحمه الله داسې تفسیر کوي، «ای یأتیها مایحتاج الیه اهلها واسعا لیناً من کل مکان من الأمکنة، فالایة الکریمة قد تضمنت امهات النعم: الامن، والاطمنان،ورغد العیش.»[2]

ژباړه: رائې دی ښار والاو ته ټول هغه څه چې دوي ورته ضرورت لرې پراخه ، اسانه د هری خوا څخه . نو اية کې هغه اساسی او لوې نعمتونه چی آمن ، اطمنان ، پراخه ،ارامه ژوند دی ذکرکړې دي.

چې کله امن اواطمنان وي نو هغه څه چې دښاراوکلي اوسیدونکو ورته اړتیا لري، هغه ورته پراخه، پریمانه او په اسانه د هرځای څخه راتلل، نوایت درې ستر او اساسي نعمتونه چې لومړی په کې امن اواطمنان اوپراخې درزق ده، ذکر کړي دي، نومعلومه شوه چې هرڅه په امن کې دي اوامن پرته د سولې ممکن نه دی الله دی زمور هبواد ته سوله راولي.

نومعلومه ده، چې د الله جل جلالهُ نعمتونو شکر سره الله تعالی خپل نعمتونه زیاتوي او کله چې هم چا د نعمتونو ناشکري وکړه، نوالله تعالی ترې هغه نعمتونه اخلي او په مختلفونو ډولونو دعذابونو وربانديې نازلوي. دا د الله تعالی وینا هم ده او په تجربې سره هم ثابته ده. په همدې ذکر شوې اية کې الله تعالی فرمايي: « وَ ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا قَرْيَةً كَانَتْ اٰمِنَةً مُّطْمَئِنَّةً يَّاْتِيْهَا رِزْقُهَا رَغَدًا مِّنْ كُلِّ مَكَانٍ فَكَفَرَتْ بِاَنْعُمِ اللّٰهِ فَاَذَاقَهَا اللّٰهُ لِبَاسَ الْجُوْعِ وَ الْخَوْفِ بِمَا كَانُوْا يَصْنَعُوْنَ».3

ژباړه: الله د یوه کلي مثال راوړی دی. چې هغه د ډاډینې او بیغمۍ ژوند تیراوه او له هر لوري ورته پریمانه روزي رسیدله چې هغه د الله د پیرزوینو پر ناشکرۍ لاس پورې کړ، نو بیا الله د هغو پر اوسیدونکو د هغو د کړو وړو دا خوند وځکه چې د لوږې او ویرې غمونه پرې خواره شول.

[1]- طنطاوي محمد سید، د دیارلسمی او څوارلسمې پیړۍ عالم دې ډ یر ځانګړنې لري، معاصر عالم دې

[2] - تفسیر طنطاوي، ج: ۴، ص: ۲۵۷.

[3] - سورت النحل، ایت: ۱۱۲.

د یاد ښار اوسېدونکو د الله عالی دنعمتونو چې (هغه امن اطمینان اوپراخ رزق وه)، ناشکري وکړه او کفر یې وکړ، نو، الله ﷻ وربانديې د لوړې او وېرې عذابونه نازل کړل. د هغوی د عملونو له امله یې پر هغوی د عذاب خوندې یې وڅکولو.

او په تجربي سره هم ثابت دی، چې زموږ هېواد حالات ژوندی ببلګه دي، دې ته ورته ډېر موارد شته چې د سولې او امن په اهمیت دلالت کوي. په همدې اندازه بسنه کوو.

دوهـــم مـــطلـــب د ســـــولې ګـــتې:

په دې مطلب کې به د سولې د ګټو څخه یادونه کوؤ، چې په لاندې ډول دي:

لومړی ګټه: داده چې په سولې سره شخړه او د ښمنې له منځه ځي. هغه شخړه چې شرعاً اوعقلاً د تباهۍ لپاره یواصل دی، نوپه سوله همداسترہ ګټه ده چې شخړه ورسره پای مومي.

دویمه ګټه: فساد ورسره له منځه ځي اوشرته د پای ټکی کېښودل کېږي چې په ترڅ کې یې فساد ورسره له منځه ځي اوشرته د پای ټکی کېښودل کېږي. په سوله کې حتی درواغو ګناه له منځه پورته کېږي ده او د دروغو داباحت قول کړی دی په دی تړاو امام بخاري، په خپل صحیح کې ذکر کړی دی.

د امام مسلم رحمه الله په کتاب صحیح مسلم کی په همدې عنوان باندې امام نووي رحمه الله باب وضعه کړی، (باب مایباح فیه الکذب).

همدا شان امام بخاري په خپل صحیح کې حدیث ذکر کړی: **عن أُمِّ كُلْثُومٍ بِنْتِ عُقْبَةَ[1]، أَنَّهَا سَمِعَتْ رَسُولَ الله ﷺ، يَقُولُ: «لَيْسَ الكَذَّابُ الذِي يُصْلِحُ بَيْنَ النَّاسِ، فَيَنْمِي خَيْرًا، أَوْيَقُولُ خَيْرًا».**[2]

ژباړه: دام کلثوم څخه روایت دی چې ماله رسول الله ﷺ څخه اوربدلي دي چې هغه وفرمایل «نه دی هغه کس دروغجن چې سوله کوي دخلکو ترمنځ او وړي دخیر خبري، او د خیروینا کوي.

نو په دې اساس چې سولې سره دومره شر له منځه ځي، نو حتی منصوص حرام شي، چې هغه دروغ دي، مباح جائز ګرځول شوی، او دا ستره ګټه ده.

دریمه ګټه: په سولې سره یووالی راځي او هغه بې اتفاقي چې په شخړه کې را منځ شوې، له منځ ځي. همدا شان د الله تعالی د رضا سبب ګرځي: او همدا یووالی اورضا یوځانګړی صورت، په هغه صورت کې تحقق مومي، چې کله ښځه اوخاوند ترمنځ کوم تاوتریخوالی رامنځ ته شوی وي، په ځینو حقوقو کې نوهغوی یو بل ته دحقوقو څخه تنازل وکړي، وروسته دنفاق اوشخړې څخه په همدې اساس کورنۍ په خوشحالي اورضا سره خپل ژوند ته دوام ورکوي.

څلورمه ګټه: سوله سبب دمغفرت او ښېنې دی الله تعالی له خوا. ځکه په شخړې، بغض، حسد او دښمني د هغې مهلکې اوتباه کونکي ګناهونه دي، چې وکړي کورنۍ اوقومونه دنیایي او اخروي تباهۍ په لور وړي. سوله بیا سبب دی لپاره دمغفرت اوښېنې دګناهونو لکه په امام مسلم چې په خپل صحیح کې په دې هکله حدیث نقل کړی دی:

---

[1]ــ ام کلثوم دعقبه لور ده مور نوم یې أروی ده په مکه کې ایمان راوړی رسول علیه السلام سره بیعت هم کړی ، دهجرت یوخاص شرف ورته حاصل دی چې مدنی راغله نواول یې زید سره نکاح وکړه دهغې نه وروسته زبیر رضی الله عنه سره وکړه. اسد الغابه ج ۱ ص ۱۴۵۹

[2]- صحيح البخاري، ج: ۳، ص: ۳۰۱.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: « **تُفْتَحُ أَبْوَابُ الْجَنَّةِ يَوْمَ الْإِثْنَيْنِ، وَيَوْمَ الْخَمِيسِ، فَيُغْفَرُ لِكُلِّ عَبْدٍ لَا يُشْرِكُ بِاللهِ شَيْئًا، إِلَّا رَجُلًا كَانَتْ بَيْنَهُ وَبَيْنَ أَخِيهِ شَحْنَاءُ، فَيُقَالُ: أَنْظِرُوا هَذَيْنِ حَتَّى يَصْطَلِحَا، أَنْظِرُوا هَذَيْنِ حَتَّى يَصْطَلِحَا، أَنْظِرُوا هَذَيْنِ حَتَّى يَصْطَلِحَا**».[1]

ژباړه: ابوهريره ﷺ څخه روايت دی چې نبي کريم ﷺ فرمائيلي دي چې، د هرې دوشنبې اوپنج شنبې پرورځ دجنت دروازې خلاصيږي، نومغفرت کيداشی هربنده ته چې شريک پې نه وي نيولې الله ﷻ سره، مګرهغه کس ته چې دده او دورور ترمنځ بدي وي نوويلی شي مهلت وکړي مهلت وکړي مهلت وکړي، دې دواړو ته ترڅو روغه وکړي، يعنې تررروغه کولو پورې ورته بايد انتظار وشي که سوله او مصالحه وکړي نودوی ته هم مغفرت کيږي، ځکه په سولې تواصل اوتراحم رائي چې هغه د مسلماناوترمنځ واجب اوضروري ده، نوله همدې حديث څخه په ډاکه معلوميږي، چې تصالح او سوله يو اړين امر دی د دې لپاره چې دوی اهل شي لپاره د مغفرت او بښنې ترڅو دوشنبې او پنج شنبې دي اوی اجر څخه دوی هم پې برخې نشي، په دې هکله داحاديثو روايتونه ډېردي، چې په دې موضوع دلالت کوي چې صلح د الله ﷻ مغفرت لامل کيږي.

پنځمه ګټه: په سولې سره د وينو ساتنه کيږي. شخړې او جګړې کله کله دوينو تويولو تر برېده رسيږي، او وينه تويه ول يولوي جرم دي، له هغه د مسلمانانو ترمنځ وي او که دغيرمسلمانانو ترمنځ وي. لومړی د مسلمانانوترمنځ د وينو ساتل، د اسلامي شريعت يوه ستره موخه ده. په هر قيمت چې وي د مسلمان وينه بايد توی نه شي. له دې ويني تويولو څخه اسلامي شريعت، او عقل منعه کړې يو.

الله عزوجل فرمايي: «وَلَا تَقْتُلُوا أَنْفُسَكُمْ»[2]، "ژباړه: او تاسو مه وژنئ خپل ځانونه يعنې يو بل مه وژنئ." د يو بل څخه په خپل ځانو تعبير وکړه ګويا کې خپل ځانونه وژني.

دا وينه تويول دومره ستر جرم دی چې يوائې په دنياکې نه بلکې په اخرت کې به هم لومړي د وينو په هکله پريکړه کيږي. په دې هکله امام بخاري (رحمه الله) په خپل صحيح بخاري کې د نبي کريم ﷺ حديث رانقل کړی:

«**عَنْ عَبْدِ اللهِ، قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " أَوَّلُ مَا يُقْضَى بَيْنَ النَّاسِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فِي الدِّمَاءِ.**»[43]

---

[1] _ صحيح مسلم ، باب النهى عن الشحناء والتهاجر ، ج ۴ ص ۱۹۸۷ ، دحديث نمبر ۲۵۶۵

[2]. سورة النساء اية ۲۹

[3]- صحيح البخاري كتاب الديات، ج: ۲، ص: ۳۸۹، مسلم: ج:۳، ص: ۱۵۹.

[4]. نوم عبد الله د مسعوځوې د غافل بن حبيب الهذلي، لمسی ، کنيه أبو عبد الرحمن دی ، صحابي دی ، داولينو مسلمانانوڅخه دی په مکه کې لمړي کس دې چې قران په جهر سره تلاوت کړه ، خوشبويي خوښوله ، د عثمان، خلافة مدينی ته راغی، دشپته کلو په عمر په مدينه کې وفات شو ، ۸۴۸ احاديث روايت کړی . اسد الغابة ج۳ ص ۶۷۴

ژباړه: له عبد الله ﷺ څخه روایت دی چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي «دقیامت په ورځ کې اوله پرېکړه (فیصله) به د خلکو تر منځ په وینو کې وي».

نو په څرګند ډول معلومه ده چې د سولې نه شتون له امله په سلګونو حتې تردې هم ډېرومسلمانانو وینه په ناحقه تویږي. که سوله راشي نو د وینو بهېدو څخه په کې حفاظت کېږي. ژوندی ښکته یې زمور دهېواد اوسنۍ وضیعت دی چې دوینو سېلابونه په کې روان دي.

همدا شان رسول الله ﷺ بل حدیث کې په یو خاص ځای او خاص وخت کې د دې موضوع اهمیت په سخت اوشدید الفاظو داسې بیان کړې دي هغه اورد حدیث چې دحجة الوداع په موقع باندې بیان کړې ؤ چې هغه امام مسلم رانقل کړی دي په اړونده موضوع داسې بیان کړې، فَأَتَى بَطْنَ الْوَادِي فَخَطَبَ النَّاسَ وَقَالَ: «إِنَّ دِمَاءَكُمْ وَأَمْوَالَكُمْ حَرَامٌ عَلَيْكُمْ، كَحُرْمَةِ يَوْمِكُمْ هَذَا..... الحدیث. [1]

ژباړه : نبي علیه السلام دحج په موقع باندې تشریف راوړه وعظ خلکو ته وکړه په هغې کې وفرمایل : بیشکه ستاسو وینې او مالونه ستاسو حرام دي (یعنی د هغې تویول)لکه حرمت ده دې ورځې چې داده.

دویم د غیر مسلمانانوترمنځ: څنګه چې مسلمانانو خپل ترمنځ وینه تویول ستر او نابښونکي جرم دی. همدا شان په اسلامي فکر او مکتب کې د غیر مسلمان وژل هم ستر جرم ښول شوی دی. نبي کریم ﷺ فرمایي چاچې یو معاهد وواژه هغه شخص به دجنت بوی هم ونه وینې، (**عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنْ قَتَلَ مُعَاهَدًا لَمْ يَرِحْ رَائِحَةَ الجَنَّةِ، وَإِنَّ رِيحَهَا تُوجَدُ مِنْ مَسِيرَةِ أَرْبَعِينَ عَامًا»** [2]

ژباړه: چاچې و وژه (معاهد)لره چې دیوترون په اساس راغلی وې دجنت بوې به حس نه کړې ، او حال داچې د جنت بوې څلویښت کلو مسافې په اندازه کې حس کېږي.

او همدا شان ډېرو روایاتونه شتون لري، نو خلاصه داشوه چې په سوله کې دوینې ساتلو دی، ژوند امن دی چې ټول انسان دا درک کړي اوقناعت لري، نوسوله مهمه ده.[3]

شپږمه ګټه د وخت ضائع کېدو مخنوی ورسره کېږي: که خلک خپلې شخړې هممدا شان پرېږدي، نو دا به یو مناسب او ښه کار نه وی. شخړو ته باید د پای ټکی کېښودل شي. نو د هغې لپاره یوه لاره محاکمو ته خپلې قضې ورډل دي. نو څنګه چې وینو په محاکمو کې د کاري تراکم له امله مراجعین زیات وي، په کم وخت کې هغو ته رسېدنه نه کېږي. همدا لامل دی چې دغه کار لپاره ډېروخت ته اړتیا وي، ترڅو د حل وار راشي. اړینه ده هغه پراوونو ته انتظار

---

[1]. صحیح مسلم ، بَابُ حَجَّةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، ج ٢ . ص .٨٨٦ دحدیث نمبر ١٢١٨

[2]- صحیح البخاري ، باب إِثْمِ مَنْ قَتَلَ مُعَاهَدًا بِغَيْرِ جُرْمٍ، ج ۴ ص ۹۹ رقم الحدیث ۳۱۶۶

[3]- الصلح فی ضوء الکتاب والسنة، ج: ۱، ص: ۶۸۰ ، ۷۱۰. داپنځه واړه ګټې په همدې ځای کې ذکروي.

وکړو کوم چې د قانون چوکاټ کې په نظر کې نیول شوي دي. نو څرګنده ده چې دادېروخت ته اړتیا ده نوډېروخت ضائع کېږي، دوخت له زیات لګېدلو څخه د خلاصون لپاره دوهمه لاره هغه سوله او مصالحه ده چې، شخړې وربانديې حل او فصل کړل شي او په تجربې سره هم ثابته ده.

اوومه ګټه په محاکمو کې کاري حجم کم کېږي: لکه څنګه چې مخکې ذکر شو چې په محاکم کې مراجعین زیات وي، نووخت زیات په کار دی، نو په سولې سره خپلې شخړې حلولو کې یوه مهمه ګټه داهم ده، چې محاکم باندې حجم کاري کمېږي. دا چاره ګویا له محاکم سره همکاري ده. دا هم یو ستر هدف دی او لویه ګټه ده.

اتمه ګټه داسرارو (رازونو) د افشاء څخه مخنیوی کېږي: که په سولې سره خلک خپلې شخړې حل کړي نویوه ستره ګټه یې داهم ده، چې هغې سره دپټ رازونو افشاء مخنوی کېږي، او دا په سوله کې تردېره بریده ممکن او واقع دې او په محاکمو کې خوضروري ده چې د شخړو ټول جزیات به برملاکړي، ترڅو پربکړه اسانه وشي، او په مصالحه کې دومره جزیات او اسرارو شکاره کولوته ضرورت نه وي، په ځانګړي ډول په شخصي اوکورنیو شخړو کې.

نهمه ګټه د دواړو خواو (طرفین) رضامندي وربانديې حاصلېږي: یعنې هغه شخړه چې په سولې او مصالحې سره حل کېږي، په هغې سره طرفین قناعت ترلاسه کوي، ځکه سوله او مصالحه یورضائي عقد دی، دواړه خواوې وربانديې راضي وي، او د واړه طرفه دیوڅه حقوقو څخه تېرېږي نوځکه دواړه ته دقناعت وړ وي. په محکمې سره خو پربکړه کېږي، چې یوطرف هرومرو خوښ نه وي.

لسمه ګټه عدالت تحقق مومي: کومې شخړې چې په مصالحې سره کېږي هغې کې مهم اصل عدالت وي، که عدالت نه وي وبیا د هغې سولې جواز د سوال لاندې دی. بله دا چې د سوله کوونکو صفاتو ته په کتو باید عدالت تحقق ومومي، او دا عدالت په محاکم کې په ځانګړي ډول په اوسني وخت کې ډېر اسان نه دی. ډېر ممکن دی، چې هلته ظلم وشي حق حقدار ته ونه سپارل شي. دغه کار لپاره ډېر لاملونه شته. ممکن یوطرف په استدلال کې قوي وي، او یا هم څوک واسطه ولري، او یا هم درشوت څخه کار واخلي او دښته ورته. نو د عدالت تحقق کم په سترګو کېږي، چې هغه په سوله کې زیات دی. دا هغه لس ګټې دي چې په سوله کې په سترګو کېږي نوباید شخړې په سولې سره حل او فصل شي، ترڅو له دې ګټو څخه برخمن شو.[1]

[1]. داټولې ګټې : الصلح في ضوء الكتاب والسنة ج ١ ص ٦٨٥ـ٦٩٨.

پنځم مبحث د سولې وسائل:

په دې مبحث کې به د سولې په وسائلو بحث وکړو؛ هغه وسائل چې د سولې په تحقق کې مؤثر دي. دامبحث مشتمل دی په دوه مطلبونو باندې.

لومړی مطلب مادي وسائل.

دوهم مطلب د روغې جوړې لپاره معنوي وسائل.

لـــومـــړی مطـــلـــب مادي وسائل:

په دې مطلب کې هغه امور تربحث لاندې نیول کېږي. چې هغه د وسائلو په شکل ترې کار اخیستل کېږي. په بل تعبیر سره ویلی شو چې هغه وسائل چې مادي دي لومړی چې کله د سولې خبرې اترې داسې یوې مرحله ته ورسیږي، چې دواړه خوا انعطاف اونرمي ښکاره کړي. نو، د لاخوش باورۍ او د یو بل منلو په خاطر باید یو بل ته ډالۍ ورکړي. ځکه، دا ډالۍ کولی شي چې یو بل ته دوستي اومصالحي لاره نورهم لابرابر کړي ځکه چې تحفې اوډالۍ زیات اغیز لري، هم په نقلي دلائلو او هم عقلي دلائلو سره.

په دې هکله چې ډالۍ بغض او حسد او ناخوالې لرې کوي اومحبت او ورورولي رامنځ ته کوي. په دې هکله ډېر احادیث دي. په دې هکله باندې مې یو څو روایتونه رانقل کړي دي.

لومړی: عن أبی هریرة: قال قال رسول: الله صلي الله علیه وسلم: «**تهادوا تحابوا وتصافحوا یذهب الغل عنکم**».[1]

ژباړه: یو بل ته هدیې اوډالۍ ورکوي یو بل سره محبت پیدا شي یو بل سره په لاس روغبړ کوي، داغل او کینه اوحسد له منځه وړي .

[1] - کنزالعمال ج،۶، ص۱۱۰۰ دحدیث نمبر ۱۱۰۱۵

دحدیث تحریج : الباني په حپل کتاب کې واي چې ضعیف دې (سلسلة الأحادیث الضعیفة والموضوعة وأثرها) ج ۱۴ ص ۱۲۶۷

دویم:عن عائشة [1]ﷺ قالت: قال رسول الله ﷺ: «**تهادوا تزدادو حبا**.....»[2]

ژباړه: ډالۍ ورکوئ محبت به مو زیات شي .

دریم: عن أبي هريرة قال: قال رسول الله صلي الله عليه وسلم: **"تهادوا إن الهدية تذهب وحرالصدرولا تحقرن جارة جارتها ولو بشق فرسن شاة"** .[3]

ژباړه: دابوهریرة څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: چې یو بل ته ډالۍ ورکوي، ځکه وسوسه اوحقد یعنې شدت دغضب د زړه له منځه وړي او سپک دی نه ګڼې ګاونډې خپله ګاونډې نه هدیه اکرکه د پسه د سوم(دپښې نوک) یو برخه وي.

دې او د ېته ورته نورو احادیثو ته په کتو چې په هغو کې هم دډالیو دمحبت او ورورولي لامل کېږي، او د حقد، کینې اوحسد او ناخوالو دله منځه وړولو یادونه په کې شوې، په دې واضح ډول دلالت کوي چې ډالۍ او هدیه د پخلاینې او ورورولي راوستلو لپاره یوه مهمه وسیله ده چې باید ترې ګټه واخیستل شي.

دوهم: عقلا اومنطقاً او تجربتاً هم دا خبره ثابته او واضحه ده چې ډالۍ ورکول د محبت او ورورګلوي او روابطو ټینګولو لپاره یوترټولو مهمه وسیله ده چې په ورځني ژوند کې ترې کار اخیستل کېږي. هغه وګړي چې ډالۍ ورکوي مور وینو چې دخلکو په سترګو کې لوړ مقام لري او که کومه تېروتنه وکړي په ټولنه کې ترې تسامح کېږي، اویا شي چې انسان دی اوحتی هغه تېروتنې ته هم یومعقوله توجې کېدای شي ځکه یوستر صفت لري چې خلکو ته ډالۍ ورکوئ، او همدا شان ده دغه شخصیت محبت او وقار په ټولنه کې دخلکو په زړونو کې وي، اوهیڅوک ورسره ضد اوکینه نه کوي. نو، لهذا که دکوم شخص یاطرفینو ترمنځ ناخوالې رامنځ ته شوې وي. نو، اړینه ده چې له دې یوستر دیني او عقلي وسېلې څخه کار واخلي او په هغې سره هغه حسادت اوکینه له منځه لرې کېدای شي. ځکه، یوستر صفت لري چې خلکو ته ډالۍ ورکوئ، او همدا شان دغه شخصیت محبت او وقار په ټولنه کې دخلکو په زړونو کې وي، اوهیڅوک ورسره ضد اوکینه نه کوي، نولهذا که دکوم شخص یاطرفینو ترمنځ ناخوالې رامنځ ته شوې وي. نواړینه ده چې له دې

---

[1].عائشة دابوبکرلور دعثمان لمسي ده دهجرت څخه نه ۹ کاله مخکې پیداشوې ده د مسلمانانو ښځوکې ډیره عالمه ښځه وه ، دهجرت څخه وروسته واده وشو ، نبي علیه السلام ته ډیره ګرانه وه ، مشرانو صحابو ترې په ډیرو مسائلو پښتنې کولې هغې په جوابونه ورکول ، دهغه صحابه له جملې څخه ده چې ډیرروایاتونه رویات کړي ، ۲۲۱۰ احادیث ترې رویت شوي دي ، په مدینه کې د۵۸ هـ د۶۵ کالو په عمر وفات شوې .

اسدالغابه ج ۳ ص ۲۴۰

[2]- نفس مصدر یعنی کنزالعمال

[3] - کنزالعمال فی سنن الاقوال والافعال: ج، ۶، ص: ۱۱۰. دحدیث تحریج :امام ا لمفسر ،المحدث ،الشیخ إسماعیل بن محمد العجلوني واي : چې داحدیث جید دې او دې لپاره نو شواهد هم شته ، کشف الخفاء. ج ۱ ص ۳۲۰

اوالألباني رحمه الله واي : چې ضعیف دې ، صحیح وضعیف الجامع الصغیر، ج.۱۴ ص.۱۱۰

یوستردیني اوعقلي وسېلې څخه کار واخلي او په هغې سره هغه حسادت اوکینه له منځه ولاړ شي، کومه چې منځ ته راغلې ده.

دویمه وسیله مادي تاوان منل: د سولې د تحقق او پخلاینې درواستلو په خاطراړینه ده چې، یوه خوا یادواړه خواوې مادي تاوان ومني چې ډېرستونزمن وي. خو، یوې لوېې موخې ته د رسېدلو په خاطر چې هغه مصالحه اوپخلاینه ده مادي تاوان باید ومنل شي. د هغې لپاره په ټولوصورتونو کې لکه شخصي شخړې، مدني،سوداګریزې، قومي، نظامي شخړو کې ببلکې لرو.

سوداګریزې ساحې لپاره مثال یو شخص په یو بل وکړي باندې د مارکیټ یوه برخه دعوه وکړي، اوخبره ترشخړې ورسېږي، نو، د پخلاینې او مصالحې راوستلو په خاطر باید یوه خواه مادي تاوان په ځان ومني ترڅو په کمه موده کې شخړې پای وموميِ.

دریمه وسیله له خپل حق څخه تېرېدل: بله هغه اغېزناکه وسیله چې په ورځني ژوند کې موږ وینو اوکتلې مو دي، چې هغې سره سوله ژر راتلی شي هغه داده چې یولوری دحق څخه تېرشي. نو په اسانۍ سره سوله راتلی شي. همدې ته مصالحه وایي چې یو لوری په مالي ایثاراوقرباني ته تیاریږي. او که هر لوری په خپل حق باندې په عامه اصطلاح نیغ ولاړ وي نو بیا خو سولې طرف ته تلل ستونزمن کېږي. یو لوری باید داقرباني وکړي چې یو سترهدف په لور روان شي. بله دا چې په دې کم لږ تاوان او د حق څخه تېرېږي دیوې لوی فاجعې او د ډېر زیات حقوق لاسته راوړلو په خاطر دی که سوله ونشي بیاهغه لاس ته نه شو راوړی بلکې ډېرثابت حقوق به دلاس ورکړو او دا په تجربې سره موږ لیدل اوثابته ده نودیوځه حق څخه تېرېدل یوه اړینه وسیله ده، چې ترې کار باید واخیستل شي.

څلورمه وسیله باصلاحیته حکم مقررکول: سوله په خپل سرنه راځي باید داسې یو څو ک وي چې د سولې او مصالحې منځګړتوب اوحکمیت وکړي ځکه طرفینوته خوممکن نه ده چې دشخړې په صورت کې خپله د مصالحې میز ته سره کیني او په هغه خبرو سره اتفاق وکړي، چې دوي شخړه له منځه یوسي نواړینه ده چې حکم باید وی.

د حکم پېژندنه: الحکم: هوعبارة عن اتخاذ الخصمین حاکمابرضاهما لفصل خصوما ته ما ودعواهما ویقال لذلک حکم.[1]

ژباړه: تحکیم هغه ته وایي چې دشخړې دواړه خواوې یو شخص د هغو په خوښه سره جوړاومقرر کړي لپاره د حل کولو دجګړې دواړو او د عوی د دواړو او د یته حکم فیصله کونکی هم ویلی شي.

۶۹- الاتاسی محمد خالد، الشرح مجلة الاحکام العدلیة، نشرکونکي : مکتبة حنفیه ، تاج میرجان روډ چمن ،بلوچستان ، پاکستان ج۳ ص ۱۷۹.

په قانون د حکمیت کې حکم داشان تعریف شوی دی: «*عملیه لازم الاجرایي است که به اساس ان حکم یا حکم ها یاد اداره حکمیت بالاثرتقاضا وتواق طرفین باقرار محکمه خدمت بیطرفانه رابمنظور حل وفصل سریع عادلانه مناعات ناشي ... انجام میدهد.*»[1]

د حکمیت ماهیت څه شی کی دی؟ قانون پوهان په دې هکله په یونظرنه دي بلکې دوی ترمنځ اختلاف دنظر شتون لري. ځینې په دې نظر دي چې حکمیت ماهیت قراردادي دی اوځینې بیا په دې نظر دي چې د حکمیت ماهیت قضائي دی. هغه ډله قانون پوهان چی وایي ځکه قرار دادي دی چې اساس د حکمیت ددواړو خواو په خوښه سره تشکیل شوی دی. یعنې یوقراردادی بڼه لري. او نور قانون پوهان بیا وایي چې نه، ماهیت د حکمیت قضائي دی. ځکه چې د حکم وظیفه شباهت او ورته والی لري دقاضي دوظیفی سره اوقرار اوفیصله الزام اور وي نوځکه قضاسره ورته والی لري.

خو، که حقیقت ته وکتلی شي نود حکمیت ماهیت بینبین دی ځکه دواړه خواوو سره ورته والی او شباهت لري یعنې ماهیت قراردادي هم لري او ماهیت قضایي هم لري.[2]

د حکمیت او مصالحې اهمیت په څه کې دی؟

دلته دسولې اهمیت ذکرکوم په لاندی ډول سره اود قضائي نظام سره پرتله کول: نوحکمیت اوسوله کې یو څو ځانکړنې شته چې هغه په قضایي نظام کې نه په سترګو کېږي:

1. په قضایي نظامونو کې دقضیو حل ډېرژر نه کېږي، په ډېر سست خوځښت سره پرمخ ځي اوسوله کې بیا دا ستونزه نشته .
2. د منازعاتو او شخړو حل په کې ډېر وخت اخلي ځکه په محاکم کې مراحل وي آن تر دې چې کله کله خو په کې ایستناف غوښتنه او تمیز طلبي هم راشي یعنې خلاصه ډېروخت ته په کې اړتیا وي، لاس رسسی ورته سخت او ستونزمن وي.

صلاحیت د حکم اوحکمیت: لکه څنګه چې دنوم څخه څرګندیږي، حکم باید باصلاحیته وي، ترڅو وکولای شي خپلې مطلوبې پایلې ته ورسیږي. هغه صلاحیتونه چې حکم پلاوی لري په لاندې ډول دي:

لومړی دوی د صلاحیت لاندې چې کومې شخړې دي د هغې حل اوفصل کول.

دویم: همدا شان هغه اعتراضونه ته رسېدنه چې مطرح کېږي.

---

[1] - حکمیت ومیانجګیري: ج، ۱، ص: ۱۳۱، ماده ۲ فقره ۲.

[2] - قانون حکمیت ج: ۱، ص: ۴۱.

دریم: کوم شرطونه چې دوی د حکمیت په هوکړه لیک کې ځای پرځای کړي دي، د هغې التزام کول.[1]

د حکم فیصله به کوم مقام لري؟

چې کله دوه نفرو یادوه ډلو ترمنځ یو شخص یایو بورډ حکم مقرر کړاېشي اوس چې حکم کومه فیصله کوي د دې پرېکړې عملي کول اومنل به لزوم لري اوپلي کوي به یې او که نا؟

نوپه دې هکله دفقهاو په لویه کې دوه قوله دي:

لومړي قول: دادی چې حکم اوفیصله نافذه اولازم الاجراء ده او د هغې څخه سرغړونه جائز نه ده، بلکې یوناوړه کار دی داقول دامام ابي حنیفه اوحنابله اومشهور قول دامام شافعي (رحمهم الله) دی .[2]

همدا شان ابن قدامة [3] واي: **«واذا تحاكم رجلان الى رجل حكماه بينهما ورضياه وكان ممن يصلح للقضاء، فحكم بينهما ورضياه جاز ذلك ونفذ حكمه عليهما.»**[4]

ژباړه: ابن قدامه (رحمهم الله) وایي "کله یو حکم اوفیصله کونکی مقرر شي او یو سړی دا فیصله وکړي د دوی ترمنځ او دواړه پرې راضي وي، او دا سړی له هغې صفاتو څخه برخمن وي چې فیصلې کولی شي. نوفیصله یې وکړه او دواړه راضي وو نو دا خبر بلکل جائز ده او فیصله نافذه اوجاري ده په دواړو باندې."

دوهم قول دادی چې دافیصله کوم الزامي جنبه نه لري یعنې الزام اور نه دی دواړه خوښه ده مني او که نقض یې کوي او نه یې مني ځکه داکوم الزامي عقد نه دی او نه اجباري دی.

دځېړونکې نظر: لومړی قول مناسب دی ځکه چې که چېرې د دوی فیصله نافذ اولازم نه کړو نو د حکمیت هیڅ ګټه پاتې نه شوه. کله چې ټولنه کې د حکمیت هیڅ مقام پاتې نه شو، اوشخړه لرونکو خلکوته به لوی چانس په لاس ورشي چې کله به کوی. نو اړینه ده، چې باید ورباندې ومنل شي لکه څنګه چې دجرګو اومرکونه منلو لپاره هم داشان یو اصل شتون لري. څوک چې د جرګو له پرېکړو څخه سرغړونه کوي، هغوی جریمه کېږي.

---

[1] - قانون حکمیت ج: ۱، ص: ۴۱.

[2] - الصلح والتطبیقات، ج: ۱، ص: ۱۲۵.

3. ابن قدامة، عبد الله د أحمد څوی د محمد بن قدامة الجماعيلي المقدسي ثم الدمشقي الحنبلي. لمسی دې ، فقیه اومحدّث دی په جماعیل کی پیداشوی دې دا یوه قریة په جبل نابلس د فلسطین کې دیر تالیفات لري چې مشهور کتاب المغني دی . الاعلام للزرکلی ج ۲ ص ۳۹

[4]- المغنی لابن قدامة: ج، ۱ ص: ۱۳۷.

په اړوندې موضوع باندې تفصیل ډېر زیات دی خو په همدومره بسنه کوو. او ویلی شو چې په سوله او مصالحه کې باصلاحیته حکم یو وسیله نه بلکې دملاتیر حیثیت لري. که دټولې مصالحې روغې جوړې کنټرولر و نومول شي مناسبه به وي.

دوهم مطلب د روغې جوړې لپاره معنوي وسائل:

په دې مطلب کې به هغه اسباب او وسائل ذکر کړو، چې هغه د پخلاینې لپاره معنوي وسائل ګڼل کېږي، چې په لاندې ډول دي:

۱ – ریښتونی نیت او اراده لرل: په دې معنا چې دواړه خواوې به د پخلاینې راوستلو په هکله ریښتوني وي. نیت ټې به خالص وي. که داسی ونه شي او د نیتونو اخلاص شتون ونه لري، روغه جوړه نه یوازې دا چې ناشونې ده، بلکې د یو نوي لوی ناورین پیلامه به وګرځي. نو، ځکه د نیت ریښتنولې او صداقت یوه غښتلې وسیله ده. نه یوائې په پخلاینه بلکې د ژوند په ټولو برخو کې چې وګورو د نیت په ریښتنولې ډېرتأکید شوی اوکېږي. نواخلاص د نیت دومره مهم دي چې حتی داحادیث په اکثرو کتابونو کې په اخلاص نیت باندې تاکید شوی دی. حتی ټول کتابونه د (إِنَّمَا الأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ....) حدیث په سر کې ذکر کوي. د یادولو وړ ده چې په اخلاص النیة کې دومره تأثیر دی چې کله هم اخلاص په نیت کې موجود وي نوکه په خپل بستر باندې هم یوشخص مړشي د دې نیت داخلاص په اساس به الله تعالی ورته دشهید اجر ورکوي، لکه صحیح حدیث کې راغلي دي: «**عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ [1]، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: مَنْ سَأَلَ اللَّهَ القَتْلَ فِي سَبِيلِهِ صَادِقًا مِنْ قَلْبِهِ أَعْطَاهُ اللَّهُ أَجْرَ الشَّهَادَةِ وإن مات على فراشه.**»[2]

ژباړه: چا چې د الله ﷻ څخه شهادت وغوښت د زړه په اخلاص سره، الله ﷻ به ورته دشهید اجر اوثواب ورکړي اکر که په خپل بستر هم مړ شي.

نو اخلاص په ټولو معاملاتو او کړنو کې مهم دی. باید دواړه لوري اخلاص ولري ترڅو روغه جوړه منځ ته راشي او د پخلاینې پایلې ته ورسیږو. اخلاص مهم عامل دی په پخلاینه کې.[3]

دوهمه وسیله: اخلاص په سمه توګه کارول: دواړه خواوې چې کله د پخلاینې په میز سره کېناستل او یا هم د روغې او جوړې په تغرسره راټول شول، دهغه ناخوالو اواصطلاحات یادولو څخه باید ډډه وشي کوم چې دشخړې درامنځ ته

---

[1]. معاذ د جبل د عمرو بن أوس الانصاري الخزرجي لمسي ، أبو عبد الرحمن كنية دي، دتبوک دغزا څخه وروسته يمن ته دقاضي او مرشد په صفت ولېږه، حتی دابوبکر ﷺ د خلافت په زمانه کې واپس مدنې ته راغې ، دعبيده بن جراح ﷺ سره شام ته لاړ ، له دځخه ۱۵۷ حديثونه نقل شو يدي بيادعمر ﷺ په زمانه کې دهجرت په ۱۸ کال داردن کې وفات شو . اسدالغابه ج ۳ ص ۱۰۲۰

[2]- كنزالعمال ج ۴ ص ۴۰۲ ، دحديث تخريج : حسن صحيح دي ، الموسعة التخريج ، ج ۴ ص ۹۷۴، قال الشيخ الألباني : صحيح. الجامع الصغير وزيادته، ج ۲ ص ۲۳۲

[3]- الصلح والتطبقات، ج: ۱، ص: ۱۲۹.

کېدو سبب شوی دی. بلکې د هغې پر ځای باید داسی اصطلاحات وکارول شي او یو بل په ښکلې نومونو او لقبونو یاد کړي. ځکه په داسې لقبونو او نومونو رابلل خپل مثبت تأثیر لري. دا خبره په احادیثو او منطق هم ثابته ده، لکه په دې حدیث کې: **عن حنظلة[1]بن حذيم قال: قال رسول الله ﷺ: «كان يعجبه أن يدعى الرجل بأحب أسمائه إليه وأحب كناه.»**[2]

ژباړه: له حنظله ﷺ څخه روایت دی، چې دنبي کریم ﷺ به دا خوښه کښله چې یوسړی په ښه نوم سره راوبللې شي اوخوښه وله به یې مناسب او د محبت څخه ډکې خبرې اواحسن اوطیبه (یعنې دادب او د رناوي څخه ډک الفاظ) وکارول شي .

دا په انساني طبعیتونو کې خپل مثبتې اغیزې لري دمشاهدې اوتجربې ګواهي ترڅنګ ډېرروایات لرو، چې هغه په دې دلالت کوي چې رونې تندی اوتبسم حالت کې او د مقابل لوري ښه راغلاست دمینې اومحبت څخه ډک اصطلاحات کارول ډېرمهم رول لري. دلته یو څو روایاتوته اشاره کوو.

۱ – چې بشاشة الوجه تأثیر اومقابل لوري کې د قبول تأثیر اچول، دا په حدیث کې ثابته ده، چې دا یوه نیکي هم ده لکه په دې حدیث چې رائيٍ، عن ابي ذر[3] ﷺ قال: قال النبي ﷺ: «ولاتحقرن من المعروف شيئاً لوان تلقى اخاک بوجه طلق.»[4]

ژباړه: ابوذر ﷺ وایي، چې ما ته نبي علیه السلام وویل چې دنیکي څخه هیڅ شی کم اوحقیرکم مه ګڼه، اګر چې د خپل مسلمان ورور سره په رونې تندي مخامخ شي یعنې داهم نیکي ده.

---

[1].نوم حنظلة د حذیم ځوې دحنیفة أو یاهم عبید الحنفي لمسی دبني حنیفة قبیلې څخه ، رسول الله ﷺ راوغوښت ، په سر یې ورته لاس راکش کړه او دبرکت دعا ېې ورته وکړه (" فمسح رأسه وقال" بارك الله فيك ") ده ده وفات او ولادت په نیټې بریالې نه شوم .. اسدالغابه ج ۲ ص ۲۸۸

[2]- صحيح البخاري، ج: ۲، ص: ۲۴۳، باب يدعى الرجل باحب الاسماء اليه.

[3].ابوذر، نوم جندب دجناده ځوې سفیان لمسې ، دغفار قبیلې څخه ، ابوذر کنیه ، اوپه همدې مشهورهم دې ، جلیل القدر صحابي دې ، اوله دې څخه ۲۸۱ احادیث روایت شوي دي اودعثمان په وخت کې راغې خپل عادت موافق مالدارانو سره جنجالونه راغلل ، نو عثمان ﷺ بیا ربذی ته ولیږه ، هملته وؤ ،تردې چې هملته وفات شو. (طبقات ابن سعدج ۴ ص ۱۶۱ - والاصابة ج ۷ ص ۶

[4] - صحيح مسلم، مسلم ج ۲ص: ۳۳۰

همدا شان چې کله به نبي علیه السلام چاسره مخامخ کېده نو هغه ته به داسې ویل: یامرحبًا، او همدا شان یوځل عمار[1] ﷺ اجازه وغوښتنه چې داخل شي نو نبي علیه السلام دغږ څخه وپېژنده نو هغه ته داسې وویل «مرحبًا بالطیب المطیب».[2]

همدا شان نبوي سنت دخوږې خبرې کولو اهمیت بیان کړی دی، چې دمصالحی راوستلو اونزاع اوشخړې له منځ وړلو کې مؤثریث زیات لري. په یو لوی حدیث کې راغلي، چې «کل سلامی من الناس علیه صدقة کل یوم تطلع فیه الشمس تعدل بین الاثنین صدقة.....» [3]

ژباړه: په هر مفصل (بند)با ندی صدقه ده هره ورځ چی لمر پکی راخیژي ، دوه نفرو ترمنځ عدالت کول (سوله) کول هم صدقه ده .

نو، دوه کسانو ترمنځ دعدل خبره کول د صدقې معادل دی لکه څرنکه چې صدقه خوشحالي په زړونو کې اچوي. دغه شان خوږه خبره هم په زړونو کې خوشحالي راولي همدا شان دحدیث په اوږدو کې داشان راځي « والکلمة الطیبة صدقة» ژباړه: همدا شان ښکلې خبره صدقه ده.

دلته په واضح ډول ابن حجر ﷺ وایي: چې موخه دطیبه دکلمې څخه هغه خبرې دي چې هغې سره دوه کسانو متنازعین ترمنځ ورسره سوله راځي. خلاصه دکلام داشوه چې سم اصطلاحات کارول ادبي خبرې کول او لقبونه سم کارول د سولې لپاره یو ښه وسیله ده چې باید ترې کار واخیستل شي..»[4]

دریمه وسیله د روغې او جوړوې د تحقق لپاره سلام اچول

یو تر ټولو ښه وسیله چې ناخوالې اوشخړې له منځه وړي او په ځای یې محبت اوپخلاینه راوړي هغه سلام اچول دي. ځکه، سلام اچول دمحبت راوستلو یوه بنسټیزه وسیله ده. چې محبت راشي ځېنې حسادت خپله له منځه ځی. دا په صحیح احادیث کې ثابته ده، له هغې جملې څخه دلته یو څو روایات ذکر کوو:

---

[1] . نوم یی عمار دپلا رنوم یاسر دنیکه نوم یی عامر الکناني ، کنیة أبو الیقظان ، دهجرت څخه ۵۷ کاله مخکې زیږی دلې دي،دلمړنیو مسلمانانو له جملې څخه دي،دهجرت ، اوبیعة الرضوان، داحد ،اوبدر،خندق کې دشریکیدو ویاړ لري، ۶۲ حدیثونه ترې رویت شوي دي دهجرت ۳۷ کال کې وفات شوی دی . اسد الغابه ج ۱ ص ۸۰۸.

[2] - صحیح ابن حبان ج ۱۵، ص۵۵۱. التخریج: [تعلیق الألباني] صحیح لغیره - تعلیق شعیب الأرنؤوط] إسناده حسن

3- فتح الباري، ج: ۸، ص: ۲۲۲.

[4]- فتح الباري، ج ۱۳، ص: ۲۲۲.

لومړی هغه مشهور حدیث چې دعام اوخاصو خلکو په وړاندې مشهور دی، چې اکثر داحادیثو کتابونو لکه مسلم، ابوداو د، ترمذي، ابن ماجه نقل کړی دی: **عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -ﷺ- :« وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لاَ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ حَتَّى تُؤْمِنُوا وَلاَ تُؤْمِنُوا حَتَّى تَحَابُّوا أَوَلاَ أَدُلُّكُمْ عَلَى شَىْءٍ إِذَا فَعَلْتُمُوهُ تَحَابَبْتُمْ؟ أَفْشُوا السَّلاَمَ بَيْنَكُمْ».**[1]

ژباړه: دابوهریره (**رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ**)څخه روایت دی دا واې : چې رسول الله -ﷺ- ویلې دي چې قسم دی په هغه ذات چې زماروح دهغه په ولکه کې دی چې تاسو به جنت تر هغې داخل نشې ترڅو مؤمنان نشې ترهغې مؤمنان نشی کیدلې چې یوبل سره محبت ونکړې ،آیا زه هغه څیز درونه ښایم چې کله هغه تاسو انجام کړې نو یو بل سره به محبت وکړې ، نو سلام اچول عام کړې .

قاضي عياض [2](رحمه الله) د دې حدیث په معنا کې داسې لیکي: «أی لایتم ایمانکم ولایکمل ولاتصلح حالکم فی الایمان الا بالتحابب والألفة.[3]

ژباړه: نه پوره کیږې ایمان ستاسو، او نه سمیږې حال ستاسی په ایمان کی مګر په محبت او الفت سره.

دا تیرحدیث او همدا شان د هغه علماء کرامو څرګندونې چې د دې حدیث ژباړه اوتفسیر کړی دی، ټولو په واضح ډول لیکلي دي، چې سلام د محبت او دوستي تحقق لپاره یوه تر ټولو ښه وسیله ده. په سلام اچولو سره حسد له منځه ځي. چې کله هم حسد او کینې له منځ ولاړ شي او محبت رامنځته شي هم دا معنا د پخلاینې او مصالحې ده. همدا شان په یو بل روایت کې داهم راغلي دي، چې په سلام اچولو سره کبر او لویي دسړي څخه ختمیږي. تکبر هم د شخړو رامنځته کېدو یومهم لامل کنل کېږي، او هغه لامل هم په سلام سره له منځ څخه ځي. نو، سلام عام کول او په ځانګړې ډول سلام اچول په هغه لوري اوشخص باندې چې شخړه ورسره لري یومهم اصل دی او دانعطاف اونرمښت لپاره یوه ښه وسیله ده. باید په مصالحې اوروغې جوړې دواړه خواوې ترې کار واخلي، ځکه چې کله سلام اچول پیل شي نو د امن اوسلامتیا پیغام ورکوي یو بل ته .

څلورمه وسیله :په روغه او جوړه کې د درواغ ویلو جواز دی.که موږ د اسلام مبارک دین اصول مطالعه کړو نو وبه وینو چې له دروغ څخه یې ټول پېروان په سختو ټکو سره منعه کړي، او د رښتیا ویلو امر یې کړی. اسلام د روغ ویل په لویو ګناهونو کې ګڼلي دي او په ریښتونولې باندې ټینګار کړی دی، لکه څنګه چې یوصحیح حدیث کې رسول الله

---

[1] - صحيح مسلم، ج: ١، ص: ٩٦ ، وابوداود، ج: ٢، ص: ٣٥٠، كتاب الادب

[2]..نوم یې : عياض د موسى څوې او عياض بن عمرون اليحصبي السبتي، لمسې ، كنية أبو الفضل ، په سبتة، کې په کال ۴۷۶ هـ کې زیږدلې دې ، په غرناطة کې قاضي هم پاتې شوې دې ډیرکتابونه لري : لكه الشفا بتعريف حقوق المصطفى ، مشارق الانوار ، شرح صحيح مسلم ، نوموړې په کال ۵۴۴ هـ په مراکش کې دزهرو په وسیله مړ شو. الاعلام للزركلي، ج ۵ ص ۹۹

[3] - اكمال المعلم بفوائد مسلم للقاضي عياض، ج: 2ص: ٣٠٤.

ﷺ فرمايلي دي، **عَنْ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -ﷺ- :« إِنَّ الصِّدْقَ يَهْدِى إِلَى الْبِرِّوَإِنَّ الْبِرَّيَهْدِى إِلَى الْجَنَّةِ وَإِنَّ الرَّجُلَ لَيَصْدُقُ حَتَّى يُكْتَبَ عِنْدَ اللَّهِ صِدِّيقًا وَإِنَّ الْكَذِبَ يَهْدِى إِلَى الْفُجُورِ وَإِنَّ الْفُجُورَ يَهْدِى إِلَى النَّارِوَإِنَّ الرَّجُلَ لَيَكْذِبُ حَتَّى يُكْتَبَ عِنْدَ اللَّهِ كَذَّابًا ».1**

ژباړه: دعبدالله څخروايت دی وايې چی رسول الله-ﷺ- فرمايلی دې چی يقيناً ريښتيا رسوي نيکې ته اونيکې سړې وړي جنت ته او بيشکه يوسړې ريښتيا وايې تر دی دالله په وړاندې ريښتونې وليکل شې ، او دروغ سړی بدې په لور وړې اوبدې (ګناه) سړې اور ته رسوې ، او يو شخص دروغ واي تردې چی دالله په وړاندی دروغجن وليکل شې .

په دې حديث کې صدق اوريښتنولې دټولو نيکيو کيلي کرځولې چې په انتهاء کې جنت ته تلل دي. د دروغو کيلي د هرې ګناه ګڼل شوې حتی چې پايله جهنم ته تلل دي. الله دې مورږ ته فنا ترې راپه برخه کړي. خو ومع ذلک بيا هم ديوې لويې موخې لپاره چې هغه پخلاينه اوروغه جوړه ده، جائز ګڼلې دي. يعنې په دې معنی چې د هغې په ګناه کې مؤاخذه او نيول نشته بلکې جواز ورکړی دی. د يوې سترې موخې لپاره چې هغه مصالحه ده، او د لوی فساد د له منځ وړلو په خاطر چې هغه شخړه له منځه وړل دي دروغ ويلو کې رخصت ورکړی دی. په دې هکله رواتوپه مختلف شکل اوعبارتونو راغلي چې له هغه جملې څخه دلته يوروايت ذکر کوو: عَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ يَزِيدَ[2] قَالَتْ: قال **لا يصلح الكذب إلا في ثلاث: يحدث الرجل امراته ليرضيها والكذب في الحرب، والكذب ليصلح بين الناس .** ».[3]

ژباړه: نه دی صحيح دروغ مګر په دری ځاينو کې : ښځې ته په خبرو کې ترڅو راضې کړې اوپه جنګ کې ، او دروغ په سوله په مابين دخلګو کې .

سره د دې چې دروغ ګناه ترټولو بد تره ګناه ده ، خو بيا هم د دې سترې موخې دلاسته راوړلو په خاطر ورته اجازه ورکړل شوې ده. کله هم د خلکو ترمنځ پخلاينه او روغه جوړه کېږي، نوکولی شي چې درواغ ووايي. د دروغو ويلو صورت داسې جوړيږي چې کله طرفين ديو بل په مقابل کې ستغې او سپورې او دا سې اصطلاحات وکاروي چې په هغې ديو بل سپکاوی وي او هغه خبرې د پخلاينې موضوع سبوتاژ کوي او له منځه يې وړي نو بايد حکمين هغه څوک چې په منځ کې داپروسه په مخ وړي هغوی بايد يو بل طرفته هغه منفې خبرې انتقال نه کړي، بلکې هغه خبرې په مثبت لوري ته وژباړي. دا خو ضروري ده چې حکمين خو ريښتوني وي او د رواغ نه وايي نو هيڅ تشويش دې نه کوي بلکې دا وخت ورته د رواغو جواز او رخصت شته. د زيات وضاحت لپاره به د عمدة القاري قول رانقل کړم. هغه دلته داسې وضاحت کوي: «وعلى هذافالكذب المباح فى اصلاح القصد منه صلاح ذات البين لتحقيق الخير، والصلاح ودفع

---

[1]- البخاري، كتاب الادب، ج: ۲، ص: ۳۲.

[2]. نوم يې : اسماء د يزيد لور د السكن لمسي الانصارية الاوسية ، خوله وره اوشجاعه ښځه وه ، په لمړي کال دهجرت په وفد کې رسول الله ﷺ ته راغله ، ديرموک واقعې کې حاضره شوې وه ، دځکلو اوبه به يې راوړلې اوزخميانو تداوي هم کوله ، په بخاري کې ترې دوه حديث هم رويت شوي ، دولادت او وفات په نيټه بريالې نه شوم ، اسد الغا به ، ج :۱ ص : ۱۳۱۳

[3] - كنزالعمال ، ج:۳ ص: ۶۳۰. دحديث نمبر: ۸۲۴۸

الفساد والشر،[1]». ژباړه: بناپردې دروغ مباح کړځیدلی لپاره دقصد صلاح اوسولی او لپار دتحقق لپاره ،اودفع دفساد ا و شړپه خاطر.

او همدا شان په عمدة القاري کې داسی وضاحت کړی دی «ليس الكذاب الذي يصلح بين الناس، لأن فيه دفع المفسدة وقمع الشرور، ومعناه: أن هذالكذب لايعد كذبًا بسبب الاصلاح مع انه لم يخرج من حقيقة. »[2]

ژباړه: نه دي هغه دروغ په حقيت کې کوم چې خلکو ترمنځ دسولی په خاظروې ، ځکه هغې سره فساد اوشرلمنځه ځې . په دی معنا چی دا دروغ دروغ نه ګڼل کیږي په دی سبب دسولې ، سره د دې چې خپل حقيقت څخه نه وځې .

دې وضاحتونو ته په کتو او د قت کولو سره ویلی شو، چې پخلاینه یواړینه اومهمه غوښتنه ده چې د دې لپاره منصوص حرام شي ارتکاب اوکول کې رخصت ورکړای شوی دی. پاتې شوه داخبره چې دا دروغ د خپل حقيقت څخه ووتل او که دروغ پرځای دي البته ګناه يې نشته، نو، په دې هکله دصحيح بخاري شارح امام کرماني [3](رحمه الله) د قول په نقل کولو اکتفاء کوم، هغه وايي: **(هل هو نفي الكذب؟ ام لافقال «لايخرج الكذب هناعن حقيقة سبب الاصلاح، فالكذب كذب سوآء كان للاصلاح أو لغيره»، ولكن المراد نفى اثم الكذب لانفى الكذب نفسه.[4]**

ژباړه: امام الكرماني رحمه الله فرمايي : چې آيادانفې دكذب ده او كه نه ده نو دا وايي چې په هرصورت دروغ له خپل حقيقت څخه نه اوځي دروغ دروغ دي هغه كه د هرڅه په اړه وي، كه داصلاح اويا د بل هرڅه لپاره وي، مګر مراد له دې څخه نفې دګناه ده نه نفې كول د دروغ به خپل اصل سره، يعنې خلاصه داشوه چې ګناه د دروغ نفي ده اوخپل دروغ پرځای پاتې دی اوكوم اثار دګناه چې مرتب كېده هغه وربانديې نشته.

پنځمه وسيله له خپل موقف څخه تېرېدل:

د سولې او پخلايې د تحقق لپاره يوه مهمه وسيله داده چې كله داسې پېښيږي چې د يوې خوا او يا هم د يو شخص موقف سوال لاندې وي بله لورې ته، نو د سولې دا ستره موخه لاس ته راوړلو په خاطر بايد دې قرباني ته هم يوه خوا يا هم يو شخص چمتو وي، ترڅو شخصي تاوان برداشت كړي ياهم دا خاص اوځانكړی تاوان تحمل كولو اومنلو

---

[1].عمدة القاري شرح صحيح البخاري، المؤلف : بدر الدين العيني الحنفي، مصدر الكتاب : ملفات وورد من ملتقى أهل الحديث تاريخ التعديل : ١٩ربيع الأول ١٤٢٧ هـ ، ج ٤ ص ٢١٢

[2] - الكرماني، شارح البخاري، دوهمه طبعه ، كال ١٤٠٦، نشركونكي دارالكتب. بيروت لبنا ن: ج: ١٢، ص: ٥.

[3].الكرماني ، محمد د يوسف ځوی د علي لمسې دی ، په اصل کې دكرمان څخه دې او داحاديث په هكله پوره علم لري ديرش كاله په بغداد کې علمې خدمات كړي ، اوخه وخت مكه مكرمه کې پاتې شوی دې ، اوهلته دخپل كتاب (الكواكب الدراري في شرح صحيح البخاري - ط) څخه فارغ شوې دې چې په ٢٥ جلدونو کې پوره كړه بالاخره په كال ٧٨٦ هـ ق وفات شو.الاعلام للزركلی ج ٧ ص ١٥٣

[4]- الكرماني، شارح البخاري، ج: ١٢، ص: ٥.

لپاره دلوی اوعظیم مصلحت چې هغه تحقق د سولې او پخلاینې ده. تیار اوسي دا وسیله په سیاسي او تنظیمي او حکومتي مصالحو کې پښیږي چې یو لوری دا وغواړي چې هغه شخص له دې موقف څخه لرې شي او دا وظیفه دې پرېږدي نوپه دې صورت کې هغه حکم کولی شي چې پرېکړه وکړي که په دې کې خیروي اوسوله تحقق کېږي اومنازعې او جکړې دلوی شرڅخه خلاصی مومي. نو باید داکار وشي او دا لورې اوشخص باید اړ کړای شي چې له دې موقف څخه تېرکړشي اوعظیم اولوی هدف ته ورسیږي.

شپږمه وسیله له تکبر څخه ډډه کول: اخري وسیله په دې بحث کې چې مونږ ذکر کوو هغه داده چې طرفین باید د یو ناوړه عادت څخه لاس په سر شي. که یو یا دواړه لوري تکبر او لویي کوي نو کوم امکانات چې برابر شوي هغه هم له منځه ځي. تر ټول مهم دا چې په دې صورت کې چې له تکبر څخه ډهډه ونکړي نو الله تعالی له منځه وځي اوشیطان په کې مداخله کوي. په دې صورت کې چې د الله تعالی مرسته شامل الحال نه وي نو هغه کله په مخ ځي؟ نو، اړینه ده چې باید له تکبر څخه ډډه وشي. بله دا چې په تکبر کې دشیطان خوښي ده، او د الله تعالی ناخوښي ده.متکبر د انسان الله تعالی نه خوښېږي. کله چې دواړه خواوې دتکبر لرونکي وي نو د یو بل غوښتو ته کله غوږ نیسي او دیو بل غوښتنې ته کله مثبت ځواب ورکوي؟ نو خلاصه خبره داده چې تکبر څخه باید په جدي ډول ډډه وشي.[1]

شـــپږم مبحث:د سولې ډولونه:

په دې مبحث کې پنځه مطلبونه دی: غواړو چې په دې مبحث په پنځه مطلبونه کې د سولې مفهوم او ډولونه په لنډ ډول روښانه کړو او وضاحت یې وکړواوتفصیل سره نشو کولی ځکه په هر ډول کې یوه علمي رساله لیکل کېږي، اوله هریو څخه ځکه یادونه وکړو چې پېژندنه یواړین امر دې چې نفس معلومات د سولې ډولونه څخه د سولې او پخلاینې موضوع کې مهم دی.

لومړی مطلب سوله د مسلمانانو او کفارو تر منځ:

د سولې د دې ډول پېژندنه ځکه اړینه ده، چې داخبره لکه څنګه چې واضح ده، لا په ښه ډول روښانه شي.

دا یو څرګند حقیقت دی چې اسلام دین دسِلم، ارامتیا او د وستي او یود بل منلو دین دی. ځکه قرانکریم چې د خلکو تر منځ د علاقې او تعلق کوم منظر بیان کړی هغه د دوستي او یو بل منلو دی. ځکه قرانکریم وایي چې دټولو انسانانو اصل یعنې موراوپلار یو دی چې ادم علیه السلام او حوا علیها السلام ده، اوهیڅ یوته غوره والی اوفضلیت نشته مګرپه

[1]- دصلحې داټول وسائل د (الصلح في ضوء الكتاب والسنة) له کتاب څخه، ج: ۱، ص: ۱۴۰.

تقوا باندې. نور هیڅ ډول غوره والی د رنګ، قوم، سمت او ژبې او نژاد هیڅ اعتبار نشته. لوړوالی یواځې په یواصل دی چې هغه تقوا ده. دا حقیقت قران په مختلفو نصوص کې واضح کړی چې له هغې څخه یو څو ایاتونه دتله ذکر کوو:

۱ - «يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُمْ مِنْ ذَكَرٍ وَأُنْثَى وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ»[1]

ژباړه: ای خلکو ! مونږ تاسې له یوه نارینه او یوې ښځې نه پیدا کړئ او بیامو تاسې قومونه او قبیلې وکړ څولئ ترڅوچې تاسې یوتر بله سره وپیژنئ په حقیقت کښې د الله په نزد له تاسې نه تر ټولو زیات عزتمند هغه څوك دی چې په تاسې کښې ترټولو زیات پرهیزګار وي . په باوري ډول الله په هر څه پوهیدونکی او باخبره دی .

۲ - «لَا يَنْهَاكُمُ اللَّهُ عَنِ الَّذِينَ لَمْ يُقَاتِلُوكُمْ فِي الدِّينِ وَلَمْ يُخْرِجُوكُمْ مِنْ دِيَارِكُمْ أَنْ تَبَرُّوهُمْ وَتُقْسِطُوا إِلَيْهِمْ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَ(۸) إِنَّمَا يَنْهَاكُمُ اللَّهُ عَنِ الَّذِينَ قَاتَلُوكُمْ فِي الدِّينِ وَأَخْرَجُوكُمْ مِنْ دِيَارِكُمْ وَظَاهَرُوا عَلَى إِخْرَاجِكُمْ أَنْ تَوَلَّوْهُمْ وَمَنْ يَتَوَلَّهُمْ فَأُولَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ (۹)».[2]

ژباړه: الله تاسې له دې خبرې نه نه منع کوي چې تاسې له هغو خلکو سره دنیکۍ او عدل چلند وکړئ چې هغوی د دین په باب له تاسې سره جنګ ندی کړی او تاسې یې له خپلو کورونو څخه نه یئ ویستلي . الله عدل کوونکي خوښوي.
یقیناً منع کوي تاسې لره الله تعالی (له دوستي)دهغه کسانو نه چې جنګ کړی دی تاسو سره په دین کې او ایستلې یئ تاسو دکورونو ستاسونه، اوکومک یې کړی دی له دښمنانو ستاسي سره په ایستلو ستاسی کې ، له دې څخه چې دوستي وکړئ تاسې له هغوې سره ،او هر هغه چې دوستي کوي له هغوي سره دغه (خلق)همدوی دي ظالمان.
دلته یواځې په دی آیتونو په ژباړو بسنه کوو. ځکه، که چېرې دمفسرینو قولونو ته ځو، نومطلب ډېر اوږدیږي. یواځې په ژباړه کې هم هغه اصول اواساسات په ځرګند ډول معلومېږي، چې اسلام دورور ولې او یو والې دین دې .

نو، په تاکید سره ویلی شو چې د اسلام لومړی او اساسي علاقه هغه دسِلم ده. حرب اوجګړه دارټیا پربنسټ پیل شوې ده. که نه نوحرب اوجګړه د اسلام په اصل کې ځای نه لري. البته د ډېرې ارټیا پرمهال چې بله د حل لاره پیدانه شي نو بیا اسلام دجنګ امر کړی دی هغه هم د خپلو اصولو او لارښونو په چوکاټ کې. نو په قطعیت او یقین سره ویلی شو، چې علاقه د مسلمانانو دغیرمسلمو سره علاقه دسِلم او پخلاینې او د ښه ژوند ده.. البته کله چې مسلمانان امة مسلمة دی ته پرې نښودل شي، چې په خپل دین باندې پوره عمل وکړي او له دیني دعوت څخه منع کړای شي نو بیا په دې صورت کې د دوی دتیري او تجاوز مقابل کې قتال او جهاد بیا مشروع بلکې یو اولی او افضل عمل دی. په دې صورت کې مسلمانان باید په خپلو اصولو چوکاټ کې په میړانه مقابله وکړي.

---

[1] - الحجرات سورت: ایت: ۱۳.

[2] - الممتحنة سورت: ایت: ۸، ۹.

وعلى هذا يجب القتال لأمرين: ١ – دفعاً للعدوان ٢ – وحماية الدعوة، اوبعبارة اخرى للسبب الذى من اجله أذن فى القتال هو يرجع الى امرين: اما دفع الظلم أوقطع الفتنة وحماية الدعوة، فاالله سبحانه وتعالى أوجب على المسلمين أن يقاتلوا هؤلاء المعتدين دفعا لاعتدائهم وازالة العقبات امام الدعوة. [1]

ژباړه: دکفارو وژل او هغوی سره جګړه کول د دوه وجوهاتوله وجهی جائز بللي: **لومړی:** د هغو ی دظلم او دتیری ددفعه کول په خاطر کوم چې دعوت دملاتړو محوه کول غواړي او دین د ساتنې په خاطر او دا طرحه اوفکر چې دمتجاوزینو وژل روا اواړین دی دانسانیت خالق دانسانیت درفاه اوپوره ژوند لپاره دا اصول وضعه کړي دي، نوپه دې عمل کولو کې ده، دنیا او اخرت فوز اوفلاح او د نیا کې تحقق د امن ذریعه ده. **دوهم :** الله ته د بلنې په مخکې چې کوم رکاوټونه دي هغه او هغه خندِ ونه اورکاوټونه لمنځه وړولو په خاطر.

دځېړونکې نظر: زما نظر په دې اساس چې قراني نصوصو او موضوع اړوند دفقهاء اواسلامي سیاست اړوند موادو څخه له برداشت نه دې پایلې ته رسیدلې یم چې د راکړې ورکړې او راشه درشه کې د انساني وروروڼۍ په اساس او د اسلام ي اصولو په چوکاټ کې باید مخته ولاړ شي. د ټولو ډلو او مذهبونو ترمنځه که هغه اسلامي وي که غیر اسلامي وي، داتعامل ده رسول اکرم ﷺ، دهجرت څخه وروسته او اسلامي دولت دجوړښت (تأسیس) څخه وروسته په څرګند ډول په ستړګو کېږي، چې نبي علیه السلام تعامل په کوم ډول وه، غیر مسلم سره په ځانګړي ډول دیهودو سره چې هلته مېشته وه.

نو په یقین سره ویلی شو چې هغه اړیکې او روابط، راشه درشه سلمي او انساني وروروڼي او دانساني ټولنې دښیراځي په خاطر وه حتی د دې اړیکو دښه ساتلو په خاطر هغوی سره معاهدات اوټرنونه لاسلیک کړل، چې ټولې خواوې بیاد د هغې ترنونو پاپند اوسي اوالتزام وکړي حتی په کامل صراحت څرګند کړه چې تاسو په خپل نظر او د ین اوسېږي، هغوی دین اسلام منلوته اړنه کړل اوهغوی باندې دهیڅ ډول زور اوځواک څخه کار وانه خیست بلکې هغوی ته په ډېروحقوقو قایل شول، مګر دا چې هغوی د دې ترونونو څخه په ښکاره اوخرګند ډول سرغړونه وکړه اوټرونونه یې مات کړل، اوعملاً په فساد یې لاس پورې کړ، له هغې څخه وروسته دټرون په اساس او همدا شان دستر رب دفرمان په اساس دوی سره د خپل و کړونو متقابل کړنه ترسره شوه، ځکه چې دمشهورمتل پربنسټ هرعمل عکس العمل لري.

د دې لپاره چې د دې خبرې کره والی ښکاره اوخرګند شي غواړم چې په دې هکله د خپل و معتمدو اواعتباري سرچینوڅخه د سیرت ابن هشام کتاب څخه قول نقل کړم:

---

[1] - السياسة الشرعية في اصلاح الراعي والرعية ، المؤلف : أحمد بن عبد الحليم بن تيمية الحراني
الناشر : دار المعرفة ج ١ ص ١٤٣ / السياسة الشرعية، ج ١ ص ٧١ شيخ عبدالوهاب، خلاف

«كتب رسول الله ﷺ كتابا بين المهاجرين والانصار و وادع فيه اليهود وعاهدهم واقرهم على دينهم واموالهم وشرط لهم واشترط عليهم قال فيهم: انهم امة واحدة من دون الناس وان اليهود ينفقون مع المؤمنين ما داموا محاربين وأن اليهود بنى عوف امة مع المؤمنين، لليهود دينهم وللمسلمين دينهم وانه من خرج آمن ومن قعد آمن بالمدينة، الامن ظلم أواثم وان الله جار لمن برواتقى»[1]

ژباړه: وليكه رسول الله ﷺ يو خط په ما بين دمهاجرين او انصارو کې په هغی کې ديهودو سره د دوستی ذکر کړې و، او هغوې سره عهد اوترون وکړه ، او ثابت پريښودل په خپل دين پاندې ، اوپه هغوې شرطونه کيښودل ، په هغې ورته ذکرکړل چې دوې څان ته دين دې ، دنورو نه علاوه ، او يهود به مصرف کوې دمؤنانو سره ترڅو چې جنګې حالات وې ،او دبنې عوف يهود يو دې دمؤ منانو سره ، يهودو لپاره خپل دين دی او مؤمنانو ته خپل دين دې ، او يقيناً څوک چې ووتل دمديني نه هغه په امن کې دې اوڅوک جې په حيل ځاې کيناست هغه هم په امن کې دې ، مګر هغه څوک چې ظلم وکړه او ګناه يې وکړه . يقينا چې الله ګاونډې دنيکو کارو او متقيانو دې .

په دې مطلب کې چې دغير مسلمو سره سولې کول په لاندې بندونو بحث کوو:

١ – د دې ډول سولې پېژندنه٢ – مشروعيت او رواوالی ٣ – شرطونه.

لمړي فرعه له كفارو سره د سولې پېژندنه: هغه سوله چې غيرمسلمو سره کېږي هغې لپاره لاندې اصطلاحات کارول کېږي: هدنه چې موادعه ورته هم ويل کي. معاهده اومسالمې اومهادنه اصطلاحات ورته هم کارول کېږي

اول المهادانة: هغه سولې ته ويل کېږي چې وروسته له جنګ څخه وي او کله هم دمهادنه لپاره يوتاکلی وخت وي چې هغه وخت خلاص شي بيا جنګ پيل شي.

دوهم الموادعه: هغه سولې ته وايي چې دکفارو اومسلمانانو ترمنځ او د هر جګړه مارترمنځ ترمنځ صورت مومي.[2]

حقيقة الموادعة: المتاركة وهو ان يدع كل واحد منهما صاحبه وتوادع القوم واعطى بعضهم بعضاً عهداً.[3]

مهدانه اومسالمه، معاهده دا اصطلاحات ټول عبارت د سولې څخه دي .

او د فقهاء اتفاق دی په دې باندې چې مهادنة خاص دهغه صلح پورې چې کوم دمحاربين غيرمسلموسره کېږي اوهغې لپاره مختلف تعريفونه نقل کړي دی، چې د هغې له جملې څخه يوتعريف دلته ذکرکوو:

---

[1]- السيرة النبوية لابن هشام: تحقيق: طه، عبدالرؤف سعد: ناشر، دارالجيل، ١٤١١ ه ق، بيروت عددالاجزاء ۴، ج: ١، ص: ٥٠١-٥٠٢.

[2] - لسان العرب: محمدبن مكر،دار صادر بيروت طبعة الثانية، ١۴١۴.

[3] - نفس مصدر.

والهدنة: شرعاً مصالحة أهل الحرب على ترک القتال مدة معينة بعوض اوغيرعوض.[1] ژباړه هدنه په شريعت کې هغې سولې ته واي چې اهل حرب سره په ترک دجنګ تريونيټې خاصې اومعلو مې پورې په مقابل دبدل کې وي او که په غير دبدل نه وي .

دوهم بند دهمدې دول سولې رواوالی: لکه مخکې چې ذکرشو، چې اسلام مبارک دين دسِلم اوښه اړيکوساتلو دين دی نوپه همدې اساس حتی دمحاربينوسره د سولې په مشروعيت او رواوالي قائل دی دې دول دمشروعيت لپاره دقرانکريم کې شمېردلائل لرو:

اول دليل: الله عزوجل فرمايي: «وَإِنْ جَنَحُوا لِلسَّلْمِ فَاجْنَحْ لَهَا وَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ»[2]

ژباړه: او ای پيغمبره ! که دښمن د روغې جوړې خوا ته ميلان ولري نو ته هم د هغې لپاره تيار اوسه او پر الله توکل وکړه، په يقيني دول هماغه د هر څه اوربدونکی او په هر څه پوهيدونکی دی.
امام ابوبکر جصاص [3](رحمه الله) د دې ايت په تفسيرکې داسې وايي: انهم ان مالوا الی المسالمة وهی طلب السلامة من الحرب فسالمهم واقبل ذلك منهم.[4] ژباړه: که دوې ميلان وکړې سولې ته چې غوښتنه دسلامتيا ده دجنګ نه نو ته هم سوله وکړه او په دې وروړاندې شه.

که چېرې دوی ميلان وکړه مسالمې او پخلاينې ته چې هغه سلامتيا ده دجنګ څخه نوسوله وکړئ دوی سره، او دا وړانديز له دوی څخه قبول کړئ، اکر چې يودله د علماء مفسرين په دې اند دي، چې دا اية منسوخ دې د قتال په ايت سره او دا مصالحه هغه وخت کې وه چې حالات د مسلمانانو ضعيف او کمزوري وه. کله چې په قوت اوزور کې شو نو دا حکم منسوخ شو او د قتال او د جګړی کول حکم پاتې شو، چې د هغو ی له دلې څخه دهمدې ابوبکر جصاص (رحمه الله) نوم دياد ولو قابل دی، هغه داسې وايي «فان قووا بعد ذلک علی قتالهم نبذوا اليهم علی سوآء ثم قاتلوهم»[5] ژباړه: که قوت وموند له دی څخه وروسته په جنګ کولو دوې سره ، ور ودغورځوې دوي ته په برابری بيا دی ورسره جنګ وکړې.

---

[1] - معنی المحتاج: محمدالخطيب الشربيني، دارلفکر بيروت، عددالاجزاء ۴، ج: ۴، ص: ۲۶.

[2]- الانفال سورت: ايت، ۶۱.

[3]- الجصاص ، نوم يی احمد دپلار نوم يی علي ، کنيه ابوبکرالرازي اوجصاص لقب دې ، په کال ، ۳۰۵ زيږدلې دې نومورې په تقوا ورعه باندې شهرت لره دکبار علماؤ شاکرد پاتې شوې دې ، لکه امام کرخي ، ډيرکتابونه لري چې مشهوريی ، احکام القران دې په کال - ۳۷۰هـ په بغداد کې وفات شو. سير أعلام النبلاء ج ۱۹ ص ۳۵۰

[4] - احکام القران الجصاص: احمدعلی کنية ابوبکر-الرازی الحصاص-الحنفي، نشرکونکې : دار إحياء التراث العربي - بيروت ، تحقيق : محمد الصادق قمحاوي ، طبعه : دوهمه ،۱۴۰۵ ،ج:۴، ص: ۲۴۷.

[5]- تفسير احکام القران الجصاص ، ج ۴ ۲۴۴

لكن حافظ عماد الدين ابن كثير(رحمه الله) او همدا شان امام رازي چې دواړه د خپل وخت له علمي اړخه بحرونه شمېرل کېږي دنسخ خبره رده وي او وايي چې په مصالحه اومهادنه ثابته ده، دلته به ددواړو قولونه رانقل کړو.

١ - «اية براءة فيها الامر بقتالهم اذا امكن ذلك فاما ان كان العدو كثيفًا فانه يجوز مهادنتهم كما دلت عليه هذه الاية الكريمة وكما فعل النبى ﷺ يوم الحديبية فلا منافاة ولانسخ ولاتخصيص والله اعلم.»[1]

ژباړه: دى وايي چې اية دبراءة کې امر دى په قتال او وژلو دکفارو سره چې کله ممکن وي او که کله دښمن ډېره وي، نوبيا ورسره مهادنه اومسالمه جائزده لکه څنګه چې په دې باندې همدا ايت دلالت کوي، او همدا شان دنبي کريم ﷺ فعل اوکړنه دحديبې په ورځ نوهيڅ منافات، نسخ اوتخصيص نشته، الله تعالى ښه پوهيږي.

٢ – ويقول الامام الرازي [2](رحمه الله) فى هذه الاية: «اذا جنحوا اى مالوا الى الصلح فالحكم قبول الصلح، والمعنى: ان مالوا الى الصلح فمل اليه ثم قال نقلاً عن بعض العلماء انه قال ان الاية غيرمنسوخة لكنها تضمنت الامر بالصلح اذا كان الصلح فيه.»[3].

امام رازي (رحمه الله) وايي چې په دې ايت ې داخبره اوحكم دى چې كه دوى سولى ته خپل ميلان ښيي نوحكم قبلول د سولې دي نو دا معنا شوه كه دوى سولې ته ميلان كوي نوته هم ميلان وكړه بيا داخبره دځينې علماؤ څخه نقل كوي چې دا ايت نه دى منسوخ بلكې متضمن د سولى خبرې لره چې كله د سولى خبره وي، قرآني آياتونه نورهم شته په همدې بسنه كوو ځكه په هر ايت كې خپل ځانګړي وضاحت اوتفسيروي څنګه چې قراني اياتونه دهمدې ډول سولى په جواز دلالت كوي همدا شان دنبوي سنت هم په واضح ډول دهمدې ډول سولې په مشروعيت اوجواز دلالت كوي چې د هغې جملې څخه به يو څو دلته داستدلال لپاره راوړو.

١ – هغه حديث رانقلو كوم چې رسول اكرم ﷺ مشركينو سره دحديبې مشهوره سوله كړې ده: **عَنِ الْبَرَاءِ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ : «صَالَحَ النَّبِىُّ -ﷺ- الْمُشْرِكِينَ يَوْمَ الْحُدَيْبِيَةِ عَلَى ثَلاَثَةِ أَشْيَاءَ عَلَى أَنَّ مَنْ أَتَاهُ مِنَ الْمُشْرِكِينَ رَدَّهُ إِلَيْهِمْ وَمَنْ أَتَاهُمْ مِنَ الْمُسْلِمِينَ لَمْ يَرُدُّوهُ وَعَلَى أَنْ يَدْخُلَهَا مِنْ قَابِلٍ فَيُقِيمُ بِهَا ثَلاَثَةَ أَيَّامٍ وَلاَ يَدْخُلَهَا إِلاَّ بِجُلُبَّانِ السِّلاَحِ السَّيْفِ وَالْقَوْسِ وَنَحْوِهِ فَجَاءَ أَبُو جَنْدَلٍ يَحْجُلُ فِى قُيُودِهِ فَرَدَّهُ إِلَيْهِمْ.»**[4]

---

[1]- تفسيرابن كثير: ج، ٢، ص:٣٥.

[2]. امام الرازى ، نوم يى محمد دعمر ځوې دنيكه نوم حسن ؤ فخرالدين لقب ؤ دطبرستان په الري كلي،په كال٥٤٤ هـ زيږدلې دي،نومور دخپل وخت مشهورو علماؤ څخه زدكړې وكړې ، ډير تاليفات لري ، چې مشهور مفاتيح الغيب ې په تفسير كبيرسره مشهور دئ په كال ٦٠٦هـ كې وفات شو . والبداية والنهاية ج 13ص 55 وطبقات الشافعية ج 5 ص 33

[3]- تفسير الكبيرللامام الرازى، مفاتيح الغيب،. نشركونكي : دار إحياء التراث العربي – بيروت، طبعه دوهمه : ١٣٩٥ ، ج ٤ ص ٢٧٦

[4]- صحيح البخارى، ج: ١، ص: ٢٤٢ ، كتاب الصلح مع المشركين.

ژباړه: د براء (رضی الله) څخه روایت دی هغه وایي چې نبي کریم ﷺ دحدیبې دسولی په ورځ له مشرکینو سره په درې خبرو باندې سوله وکړه: اول څوک چې دمشرکینو څخه مسلمانانو ته راغی هغه به بېرته مشرکینو ته سپارل کېږي، او که د مسلمانانو څخه څوک مشرکینو ته ورغی هغه به مسلمانانو ته نه سپارل کېږي، او په راتلونکی کال کې به راځی او یوائې درې ورځې به تېروی اوسلاح به مو په پوښونو کې بندې وي، نوپه همدې وخت کې ابوجندل په داسې حال کې راغی چې په پښوکې یې زولنې وې، نو هغه یې ورته واپس کړ.

په دې هکله احادیث هم ډېر دي چې له مشرکینو اومحاربینوسره سوله کول جائز او روا ده بلکې فقهاو داهم لیکلي دی چې د سولې په مقابل کې که مال ورکولوته هم اړتیا وي نوهم جائزدی، نوخلاصه سوله کول له محاربینو سره په کتاب الله او په سنت الرسول ﷺ او په دفقهاوپه اقوالو او دا مت په اجماع سره ثابت اوجائز ده.[1]

دوهم فرعه د محاربینو سره د سولې شرطونه:

دمخکې وضاحت څخه معلومه شوه چې محاربینو سره سوله کول جائز دی اړینه ده چې دلته بحث وکړو دهغه شرطونه څخه کوم چې دهمدې ډول پخلاینې لپاره فقهاؤ بیان کړي دي، هغه شرطونه په لاندې ډول دي:

1. غوښتنه به د هغو ی له لوري وي.
2. مسلمانانو لپاره به په کې مصلحت وي.
3. تریوې معلومې نیټې پورې به وي.
4. او دا سوله به د یو قانوني مشر لرونکي دولت په چوکاټ کې ترسره کېږي.[2]

لومړی شرط : دا دی چې غوښتنه اومیلان به ددښمن له خوا وي ځکه دا دلالت په ضعف او ذلت کوي او مسلمان خوضعیف اوذلیل نه دی او نه به وي. بلکې قوی دی د هر لحاظه، ځکه دټولو قوتونو اواسبابو خالق او مسبب الاسباب دوی سره دي. ځکه دې ایت ته چې کورو الله تعالی په سورة محمد کې فرمایي: « فَلَا تَهِنُوا وَتَدْعُوا إِلَى السَّلْمِ وَأَنْتُمُ الْأَعْلَوْنَ وَاللَّهُ مَعَكُمْ وَلَنْ يَتِرَكُمْ أَعْمَالَكُمْ »[3]

ژباړه: نو تاسې بې زړه کېږئ مه او د سولې پیشنهاد مه کوي. همدا تاسې برلاسي کیدونکي یئ . الله ستاسې ملګری دی او هغه به ستاسې عملونه هیڅکله ضایع نکړي .

تفسیرفي ظلال القران د دې ایت په تفسیر کې داسې لیکي، «**انتم الاعلون- اعتقادًا وتصوراً للحیاة، وانتم الاعلون – قوةً ومکانًا ونصرةً، وانتم الاعلون- ارتباطًا وصلةً بالعلی الاعلی، وانتم الاعلون منهجاً وهدفًا وغایةً، وانتم**

[1] - الصلح فی ضؤالکتاب والسنة: ج، ۱، ص: ۶۱۳.

[2] - ذکرشوې حواله

[3].سورة محمد ۳۵

الاعلون شعوراً وخلقًا وسلوكًا ثم انتم الاعلون قوة ومكانًا ونصرةً فمعكم القوةالكبرى، والله معكم، فلستم وحدكم انكم في صحبة العلى الجبارالقادر، وهولكم نصيروحاضرمعكم يدافع عنكم، فما يكون اعداؤكم هؤلاء والله معكم.... ثم قال فعلام يهن ويضعف ويدعوا الى السلم من يقر الله له اله الاعلى وانه معه وانه لن يفقد شياء من عمله فهو منصور ماجور»[1]

دامام شهيد دې ايت تفسير ته په کتو چې تاسوپه هرډول فوقيت اوتفوق اوسرلوړي څخه برخمن ياست او د ستر واکمن کومک تاسوسره شامل حال دی نو تاسی يوائې نه ياست او د ښمن مو په هيڅ حال کې له دې امتيازاتو څخه برخمن نه دي نوهيڅ برتري په تاسو نه لري، نوځکه تاسو اعلون دخطاب امتياز لری خلاصه دشرط داشوه چې ددښمن لخوا به جنوح او ميلان د سولې کېږي.

دوهم شرط: ان يكون الصلح فيه مصلحة للمسلين: چې مسلمانو لپاره په کې مصلحت وي په دوهم شرط کې داخبره راغله چې په صلحه کې به مسلمانانو لپاره مصلحة وي.

لومړی اړينه ده چې مصلحت وپېژنو: د لغت امامان مصلحت داسې تعريفوي چې په لغت کې مصدر دی په معنی دصلاح سره نومصلحت هرهغه امرته وايي چې په هغې کې نفع وي اوکټه وي هغه کټه بياعامه ده په جلب دمنفعه سره وي او که دفع دمضرة سره وي [2]

هغه مناسب ده چې هغې ته منفعت اومصلحت وه وايو.

په اصطلاح او شريعت کې داسې تعريفوي المصلحة: هی الوصف الذي يكون ترتيب الحكم عليه جلب منفعة، او د رء مفسدة، [3]

ژباړه: هغه امر او کړنه ده چې د حکم په ترتيب کې په هغې کې منفعت وي او د فساد لرې کول وي.

دمصلحت په اړه دفقهاء علماؤ کرامو ډېرتفصيلات ورکړي دي چې دلته يوائې هغه مصلحت معتبر دي کوم چې شرعاً معتبر دی او د لته په اصول الفقه دابوزهره کې داسې دي: «والمصالح المعتبرة هی المصالح الحقيقة، وهی ترجع الی امور خمسة، حفظ الدين، حفظ النفس، حفظ العقل، وحفظ النسل وحفظ المال.»[4]

ژباړه: معتبر مصالح په حقيقت کی مصالح دې چی د هغی رجعه پينځه ته کيږي چې هغه عبارت دی له (حفظ الدين، حفظ النفس، حفظ العقل، وحفظ النسل وحفظ المال) څخه

---

[1] - في ظلال القران شهيد سيد قطب ، نشرکونکې : دار الشروق .القاهرة ج .۶، ص: ۳۰۲.

[2] - لسان العرب، ج: ۱، ص: ۵۱۵.

[3] - اصول مذهب الامام احمد ج، نشرونکيه اداره دارالقران بيروت ، دوهمه طبعه ۱، ص: ۲۵۹

[4]- اصول الفقة لأبی زهرة، نشرونکيه اداره :دارالکتب العربيه مصر ، ج ۱، ص: ۲۵۹.

ځکه داهغه پنځه اصول اواساسات دي په دې سره ددنیا پایښت او د وام دی چې د هغې په اساس انسان ژوند کوي او له دې پرته مناسب ژوند نشته.

له دې امله فقهاء کرامو تصریح کړې په دې خبره باندې چې دمصلحت مراعات اړین دي، چې کله دښمن جنوح اومیلان کوي سولې ته او دا سې تصریح کوي چې دامصالحه یودول جهاد دی.

د دې خبرې ابن هشام (رحمه الله) ښه وضاحت کړی دی:

«اذا رأى الامام ان يصالح اهل الحرب أو فريقا منهم وكان ذلك مصلحة للسملين فلابأس به، ثم استدل على ذلک باية الانفال وصلح الحديبية ثم قال لأن الموادعة جهاد معنى اذا كان خيراً للسلمين لأن المقصود دفع الشر الحاصل به.»[1]

ژباړه: کله چې مسلمانان امیر وکتل چې داهل حرب سره سوله کول او یا هم ددوي دیوې ډلې سره، او دا کار وي د مسلمانانو لپاره مصلحت اوګټه نوهیڅ پروا نه کوي، بیا یې د الانفال سورت په (۱۵) ایت، او د حدیبې د صلحې باندې دلیل نیولی دی بیایې داخبره کړې ده چې دادول مصالحه معنوي جهاد دی چې کله په دې خبره کې خیر وي. د مسلمانانو لپاره ځکه موخه دهغه شردفع کول دي، چې حاصل اوقرار لری دجنګ له امله په دې ډول مصالحه کې یوه ډول ساتنه اوحفاظت دی، د مسلمانانو لپاره او په دې کې دقوت ساتنه ده د مسلمانانو لپاره، اوتیاری دی د خپل قوت دسمبالولو او جوړولو لپاره ځکه په حقیقت کې دجهاد موخه د مسلمانانو دځانونو اوقوت ساتل دي نوکله که هم دمشرکینو اومحاربینو شان اوشوکت ماتول په جهاد سره ستونزمن شي نولازم دی په مسلمانانو باندې چې دځان اوقوت ساتنه په مصالحې (موادعې) سره وکړي او دا به د دوی په هوښیارتوب اوځیرکتیا دلالت کوي.[2]

له دې امله ابن حجر(رحمه الله) په ځرکندو ټکو وایي چې د مصالحې او سولې خبرې مقید دي په دې خبره چې په سوله کې به مصلحت وي او که مصلحت نه ښکاري نو بیا سوله نه ده جائز، هغه داسې تصریح کوي: (ان الامر بالصلح مقيد بما اذاكان الأحظ للاسلام المصالحة اما اذاكان الاسلام ظاهرا على الكفر ولم تظهر المصلحة فى المصالحة فلا.)[3]

دریم شرط: چې ددولت مشروع رئیس په مسؤلیت کې به دامصالحه کېږي:

په دې شرط کې داخبره واضح کېږي چې د پخلاینې داعقد اوترون باید رئیس الدولة په لاس وشي، ځکه امام اورئیس دولة مسؤل دی بیا په ځانکړي ډول په داسې قضیو کې خوباید یومسؤل جهت هغه رئیس الدولة وي، او د ې خبرې اومطلب دوضاحت لپاره چې باید داترون رئیس الدولة وکړي، دقران کریم او دامت د علماؤ اقوال داستدلال په بنه راوړ:

---

[1] - شرح فتح القدير: كمال الدين محمد بن عبدالواحد، ج: ۵، ص: ۴۵۵.

[2] - السيرالكبير: محمدبن الحسن، ج: ۱، ص: ۱۹۱.

[3]- فتح الباري: احمد على، كينه په ابن حجرعسقلاني. ج ۳ ص ۲۳۳

۱ – د الله ﷻ قول: «وَإِنْ جَنَحُوا لِلسَّلْمِ فَاجْنَحْ لَهَا وَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ »[1]

ژباړه: او ای پیغمبره ! که دښمن د روغې جوړې خوا ته میلان ولري نو ته هم د هغې لپاره تیار اوسه او پر الله توکل وکړه، په یقیني ډول هماغه د هر څه اورېدونکی او په هر څه پوهېدونکی دی.

په (فَاجْنَحْ)سره مخاطب رسول الله ﷺ دی، اورسول علیه السلام رئیس الدولة وه، او همدا شان دحدیبې صلحې تړون پخپله رسول اکرم ﷺ کړی وه، او هغه امام المسلمین وه.

۲ – دهمدې حدیبې صلح تړون څخه امام المازري[2] استنباط کړی او دا سې وایي: «فی هذا الحدیث دلالة علی ان للامام ان یعقد علی مایراه صلاحاً للمسلمین ....»[3] ژباړه: په دی حدیث کی دلالت دی چی امام اوو رئیس ته جائز دې چی هغه تړون وکړې چی په هغی کې دمسلمانانو صلاح ګوري.

۳ – همدا شان امام ابن ابی حمزة [4](رحمه الله) داسې وایي: «ان للامام ینظر ماهو الأصلح بالرعیة فیفعله لان النبي ﷺ لما رأی أن المصلحة للمسلمین فی الرجوع وعقد الصلح فعل ﷺ ذلک»[5]

ژباړه: شته امام اوو رئیس ته وګورې چی کوم کار اصلح اوښه دې رعیت لپاره نو هغه دی وکړې . ځکه نبي ﷺ وکتل چی دمسلمانانو مصلحت په واپسې ، او په سوله کی دي همغسی وکړل.

دی وایي دحدیبې د صلحې تړون په حدیث کې داخبره واضح ده وایي چې امام اورئیس الدولة به ګوري چې کوم حال اصلح دې رعیت حاله پورې نو هغه به ترسره کوي، ځکه نبي کریم ﷺ چې کله وکتل چې مصلحت اوخیر مسلمانانو لپاره په رجوع اوصلحه کې ده، نوځکه یې هغه تړون وکړه، نوهمدا شان هر رئیس الدولة باید دا کار وکړي.

---

[1]- الانفال سورت، ایت: ۶۱.

[2]- المازري ، نوم محمد دعلي ځوی دعمرلسی مشهور په امام ابوعبدالله، محدث، فقهي اصولي، متکلم، دافریقا په مهدیه ښار کې پیداشوې دی، دېرتصنیفات لري چې مشهور یې دحدیث کتاب: المعلم بفوائد صحیح مسلم ، په عقایدوکې نظم الفواید، نوموړی ۵۳۶ هـ کال دربیع الاول میاشت کې وفات شوی دی . وفیات الأعیان ج ۱ ص۴۸۶

[3]- المعلم بفواید مسلم للامام المازري، نشرکونکي : دارالتدبریه – السعودیه، دوهمه طبعه ۱۴۲۵، اجزاء ۲. ج: ۳، ص: ۲۷،

[4]- عبدالله دابوحمزة ځوی محدث، مقري، مشهورد تصانیفات څخه یی ، بهجة النفوس وفات یې ۴۹۹ هـ

[5]- بهجة النفوس، نشرکونکي: دارالکتب .بیروت ، لبنان ج: ۳، ص: ۸۱

۴ – د المغني [1] خاوند هم دا استدلال کړی دی هغه وايي: «عقدالهدنة يختص بالامام اونائبة لما فيها من الخطر، ولانه هوالذي يتولى الامور العظام وهو اعرف بالمصالح من الآحاد»[2]

ژباړه: دسولې تړون خاص دی درئیس او امام او نائب پورې ځکه په دی کې خطردی ، او له دی وجهې لوی کارونه صلاحیت همده سره وي ،اودی یې پوهه دي په مصالحو پاندی د افرادو نه .

په دې سره داخبره واضحه شوه چې امام المسلمین یا په بل عبارت رئیس الدولة به داهوکړه لیک لاسلیک کوي، او دا خبره خو ظاهره څرګنده ده چې امام مسؤل جهت دی اوله دادول هوکړو اومحاربینو سره سوله کول هم په دې مسؤلیتونو کې یولوی مسؤلیت دی البته دیادونې وړده چې داپه دې معنا نه ده چې ځنګه ده دې خوښه وي، هغه به کوي لکه ځنګه چې دیکتاتور حاکمانو طرز اوطریقه ده بلکې رئیس الدولة به مشوره کوي، اوځان درعیت له مشورو بې پروا نه ګڼي بلکې مشورې به کوي اقتداءً برسول الله ﷺ، ځکه هغه دحدیبې په مقام کې له صحابه کرامو سره مشورې وکړې بیا يې فیصله وکړه، د دې مقام اوتړون په اړه زیات تفصیلات شتون لري، دزیاتو معلوماتو دلاسته راوړلو لپاره دسیرت اوفقهي کتابونو ته مراجعه وشي.

څلورم شرط: داسوله به تر یوې معلومې مودې پورې وي:

په دې کې د علماؤ کرامو اختلاف شته چې دامودە او وخت به څومره وي:

لومړی داخبره چې دا شرط له کومه ځای اخیستل شوی دی نومعلومه او واضحه خبره ده چې داشرط دنبي کریم ﷺ دفعل چې مشرکینو سره دحدیبې په مقام کې مصالحه وکړه تر یوې تاکلې مودې پورې چې هغه لس کاله وه، لکه په دې حدیث کې : **عَنِ الْمِسْوَرِ بْنِ مَخْرَمَةَ، وَمَرْوَانَ بْنِ الْحَكَمِ، قالا: «أَنَّهُمْ اصْطَلَحُوا عَلَى وَضْعِ الْحَرْبِ عَشْرَ سِنِينَ، يَأْمَنُ فِيهِنَّ النَّاسُ وَعَلَى أَنَّ بَيْنَنَا عَيْبَةً مَكْفُوفَةً، وَأَنَّهُ لَا إِسْلَالَ وَلَا إِغْلَالَ».**[3]

ژباړه: د مسور اومروان څخه روایت دی هغوی وايي چې صلحه کړه دجنګ په ودرولو باندې پوره لس کاله چې په هغې کې به خلک په امن وي، اوزمونږاو ددوی ترمنځ به جنګ بند کړای شوی وي یعنې زمونږ او د دوی ترمنځ داتړون چې جنګ به نه وي حالات مکفوفة هم دی ته وايي چې نه به اسلال وي یعنې پټ اوخفیه جنګ به نه وي، ولااغلال او نه به خیانت وي یو بل سره.

---

[1]. عبد الله بن محمد بن قدامة الجماعيلي المقدسي ثم الدمشقي الحنبلي، حنبلي مذهبه دی، په ابن قدامه المقدسي سره مشهور دی د فلسطین په جماعیل نوم کلي کې چې نابلس سره نږدې دی پیدا شوي، دېرتصنیفات لري، المغنی په لسو جلدو کې، الکافي، المقنع نومورې په ۶۲۰ هـ کې وفات شوی دی، شذرات الذهب ، ج ۵ ص ۸۸

[2]- مغنی المحتاج، ج: ۳، ص: ۱۵۷، لابن قدامه: نشرونکیه : اداره دارالقران بیروت ، لمړي طبعه ۱، ص: ۲۷۹

[3]- سنن ابي داود، باب فی الصلح العدو، ج: ۲، ص: ۴۱

دوهم په نيته کې چې کوم اختلاف نظر دی، نوامام شافعي [1](رحمه الله) وايي چې زياته موده به لس کاله وي او د ې څخه به نه زيات وي که زيات کړه هغه به ممنوع وي، او استدلال يې کړی دی په عمل دنبي کريم ﷺ، دی.[2]

اوځېنې نور قول دادی درې کاله اوځېنې نور وايي، چې دې لپاره کوم ټاکلې موده نشته بلکې دامام رای ته سپارل شوی چې امام الدولة اورئيس چې په څومره موده کې مصلحت وی کولی شي.

تحليل: کتابونو او څېړنو ته په کتو ويلی شو چې مصلحت ته بايد وکتلی شي چې درعيت مصلحت په ټاکلې موده کې دی او که مطلق کې ده نو هغه شان به کولی شي او که نصوص ته وکتلی شي نوپه نصوصو کې خوظاهره ده چې لس کلونو به زيات نه وي، لکه څنګه چې دانظر دامام شافعي هم دی.

نتيجه: دځېړنې څخه وروسته نتيجه داشوه چې کله هم دا شرايط او ضوابط موجود شي نو سوله شرعا يومطلوب او شرعي امردې چې بايد تحقق ومومي .

دوهم مطلب سوله د باغيانو او نظام ترمنځ (د اهل عدل او باغيانو ترمنځ):

مخکې له دې چې د صلحې په موضوع کې بحث وکړو اړينه ده چې لومړی بايد باغيان وپېژنو، ځکه چې دپېژندلو نه مخکې سوله بحث يولړ جدي ستونزې لري ځکه يو څو ک باغيان نه پېژنې نو د هغو ی سره د سولې اومذاکرې کول به څه وپژنی بناء د باغيانو پېژندل يې اړين دي: دغه تغيرات پرځای کی.

البغاة: يوعربي کلمه ده مفردې *باغٍ* دی په معنی دتجاوز او کوښښ کول په فساد کې، باغي د قانون څخه وتونکي ظالم ته ويل کيږي، «برئ الجرح على بغى اذا التأم على فساد»[3].

البغي: الفاجرة تتكتسب بفجورها: هغه ښځې ته وايي چې په بداخلاقي سره څه لاسته راوړي، البغى فى اللغة التعدى ومجاوزة الحد: په لغت دحد څخه تېرېدو ته وايي.[4]

---

[1]. نوم محمد دادريس ځوی العباس لمسی په ۱۵۰ هـ کال دفلسطين په غزه ښار کې زېږېدلی دی، دځلورو مشهوراامامانوځخه دې، ډيرتاليفات لري چې مشهور الام دې ، په ۲۰۴ کال کې وفات شو، دمذهب پيروان يې په حجاز، عراق، مصر، شام، فلسطين، عدن، حضرموت، اندونزيا اوسريلانکا کې دي ډيردي . طبقات الشافعية الكبرى ج ۹ ص ۱۱۳

[2]- كتاب الام للامام الشافعي، ج: ۴، ص: ۱۹۱، الكتاب : الام: ناشر: دارالتدبريه – السعوديه، اولنۍ طبعه ۱۴۲۷، اجزاء ۳.

[3]. التعريفات. ج ۱ ص ۴۴

[4] - لسان العرب، ج: ۱، ص: ۱۳۳.

البغية: مايبتغى يقال ليكن بغيتک ثواب الاخره: [1]بغية هغه شى دى چې ستا هدف اولټون ثواب داخرت، ابتغاء په معنى دطلب سره هم راځي. لکه الله ﷻ فرمايي: « **قُلْ أَغَيْرَ اللَّهِ أَبْغِي رَبًّا وَهُوَ رَبُّ كُلِّ شَيْءٍ وَلَا تَكْسِبُ كُلُّ نَفْسٍ إِلَّا عَلَيْهَا وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَى ثُمَّ إِلَى رَبِّكُمْ مَرْجِعُكُمْ فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ فِيهِ تَخْتَلِفُونَ** »[2]

ژباړه: ووايه ايا زه له الله نه پرته کوم بل رب ولټوم په داسې حال کښې چې هماغه د هر څه رب دى؟ هر څوك چې څه کټي د هغه مسئول هغه په خپله دى، هېڅ پورته کوونکى د بل پيټى نه پورته کوي، بيا ستاسې ټولو د خپل رب لورې ته کرځېدل دي، په هغه وخت کښې به هغه ستاسې د شخړو حقيقت تاسې ته لوڅ کړي.

علماء کرامو اصطلاحي تعريفونه په مختلفو عباراتو کړي دي، چې دلته زه يوتعريف راوړم:

١ – هم مخالفو الامام بخروجهم عليه وترک الانقياد له اومنع حق توجه عليهم بشرط شوكة لهم وتأويل ومطاع فيهم.[3].

داهغه مخالفين دامام دي چې وتلي دي په پادشاه باندې او د هغه انقياد اوتابعداري پرېښى ده او همدا شان منع کوي هغه حقوق چې دوى ته راجع کېږي په دې شرط چې دوى لپاره به فوج وي خپل خروج لپاره تأويل هم کوي اوتابعداري هم لري.

دپېژندګلوي اومعرفت وروسته اصلي موضوع ته راګرځو، مخکې له دې چې په مصالحه خبره وکړو اړينه ده چې دوحدت او يوالي خبره وکړو، بنسټيزه خبره داده چې په امت کې بايد وحدت او يووالى وي ځکه د اسلامي امت ځانکړنه ده دټولو امتونو ترمنځ اواسلامي امت به هيڅ خپل برم او عزت لاسته رانه وړي ترڅوچې يوالى او وحدت په کې نه وي راغلى او د ې امة الله تعالى هم ديوامت خطاب کړى دى لکه د الله عزوجل په دې ايت مبارکه کې فرمايلي دي: «**وَإِنَّ هَذِهِ أُمَّتُكُمْ أُمَّةً وَاحِدَةً وَأَنَا رَبُّكُمْ فَاتَّقُونِ**»[4]

ژباړه: او داستاسې امت يوامت دى او زه ستاسې رب يم، نو له ماڅخه ووېرېږئ.

د دې ايت له اساسي اومهمو فرائضودجملې څخه دامت يووالى اواتحاد او د هغې ساتنه اوله تفرقې څخه دځان ساتلوڅخه دى نواړينه ده چې وحدت او يوالى حفظ کړو او د تفرقې څخه ځان وساتو لکه څنګه چې دامام مسلم په يو حديث کې دابوهريرة (ﷺ) څخه روايت کې فرمايلي: **عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -ﷺ- : إِنَّ اللَّهَ يَرْضَى لَكُمْ**

---

[1]- المعجم الوسيط، ج: ١، ص: ٦٥، ابراهيم دمصطفى څوى ، احمدزيات دلغة امام دى، دارالنشر، دارالدعوة تحقيق مجمع اللغة العربية په دوه جلدونو کې.

[2].سورة انعام اية ١٦٤

[3]- مغنى المحتاج، ج: ٤، ص: ١٢٣.

[4]- دالمؤمنون سورت، ايت: ٥٢.

ثَلاَثًا وَيَكْرَهُ لَكُمْ ثَلاَثًا رَضِىَ لَكُمْ أَنْ تَعْبُدُوهُ وَلاَ تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا وَأَنْ تَعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا وَلاَ تَفَرَّقُوا وَأَنْ تُنَاصِحُوا مَنْ وَلَّى اللَّهُ أَمْرَكُمْ وَيَكْرَهُ لَكُمْ قِيلَ وَقَالَ وَكَثْرَةَ السُّؤَالِ وَإِضَاعَةَ الْمَالِ ».[1]

دابوهريرة (ﷺ) څخه روايت دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: «بېشكه الله تعالى خوښوي تاسولپاره درې شيان اوبدګني تاسوته درې شيان، تاسو ته خوښوي چې دهغه عبادت وکړي او هغه سره څوک شريک ونه نيسي اوچې تاسو منګلې ولږوی د الله تعالى په رسۍ يوځای اوتفرق اختلاف ونه کړی او امرآء (حاکمان)ته نصيحت اوخير غوښتونکی شي، اوبدګني تاسولپاره درې شيان، قيل قال او ډېرسوال کول، او مال ضائع کول».

په دې حديث کې په يومهم اوړين کاربانديې امر شوی دی چې هغه وحدت او يووالی دی، او همدا شان داختلاف او نفاق څخه منعه شوې ده.

په دې هکله رويات او اقوال دحد څخه زيات دي چې دلته په همدې بسنه کوو، چې ټول په دې امرکوي چې له نفاق څخه بايد ځان وساتو او د دې ترڅنګ أولي الأمر طاعت اوتابعداري باندې مورِ خپل شريعت مامور کړځولې يو اوحتى په هرحال کې بايد دحاکمانو او د زمام الامورڅخه بغاوت اوسرغړونه ونه کړو ځکه خپل رسول الله ﷺ له دې څخه منع کړيو او د هغوي تابعداري امرپې کړی يواځې په يوحديث دمسلم شريف څخه دلته يادونه کوو

عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ : بَايَعْنَا رَسُولَ اللَّهِ -ﷺ- عَلَى السَّمْعِ وَالطَّاعَةِ فِى الْعُسْرِ وَالْيُسْرِ وَالْمَنْشَطِ وَالْمَكْرَهِ وَأَنْ لاَ نُنَازِعَ الأَمْرَ أَهْلَهُ وَأَنْ نَقُومَ أَوْ نَقُولَ بِالْحَقِّ حَيْثُمَا كُنَّا لاَ نَخَافُ لَوْمَةَ لاَئِمٍ.[2]

ژباړه: عباده ﷺ وايې چې مورِ بيعت وکړه رَسُولَ اللَّهِ -ﷺ سره په اوريدو اوخبره منلو سره په هر حال کې : به سختې او اسانې کې په پاخې او بيچارګې کې ، اوپه دی خبره مو هم بيعت وکړه چې اولي الامر سره به جنګ نه کوو ، حق به ودريږو، حق به وايو هر چيرته چې وو په دې کی به ملامتيا څخه نه ډاريږو.

دې حديث ته په کتو چې مورِ ته لارښونه کوي چې په هرحال کې بايد د اولی الامر يعنې دحاکمانو دوخت څخه بغاوت ونه شي، ټولو نصوصو ته په کتو چې په ځينو کې دسرغړونې څخه منعه شوې ده او په ځينو نورو روایاتو کې په اطاعت باندې امر شوی دی، نوپه يقين باندې ويلی شو چې وحدت او يوالی هدف دی اختلاف څخه بايد ځان وساتو،

---

[1]- امام مسلم ،نيشاپوري قشيري لقب دې، ابوالحسين کنيه، نوم مسلم دپلارنوم حجاج دی، امام حافظ حجة القاب لري، دحديث په امامت کې مشهور دی په کال ۲۰۴ په نيشاپور کې زېږېدلی دی،ډېرکتابونه لري چې مشهور کتاب يې الجامع الصحيح دی، چې ۱۲۰۰۰ دولس زره احاديث لري په ۱۵ کلونو کې په ډېرځير اودقت سره ليکلي دي.، المعين فی طبقات المحدثين ج ۱ ص ۲۵
دکتاب بشپړنوم: المسند الصحيح المختصربنقل العدل عن العدل الى رسول الله ﷺ، محقق: محمد فؤاد عبدالباقي، ناشر: دارالحناالتراث العربي، بيروت، عدد الاجزا ۵، طبع موافق کتاب الاقطية باب النهی عن کثرت المسائل من غيرحاجة، ج: ۳، ص: ۱۹۶.

[2]- نوم عبادة دپلارنوم صامت، دقيس الانصاري الخزرمي، دهجرت څخه ۳۸ کاله مخکې پيداشوی دی، ابوالوليد يې کنيه ده، جليل القدر صحابي وه، ۱۸۱ حديثونه ترې روايت شوي دي، په ۳۴ هـ کال په رمله يابيت المقدس کې وفات شو: تهذيب التهذيب ج 5 ص 111

خو بيا هم دانساني اجتماع ده اوطبعتونه مختلف اونظرونو داختلاف په اساس کيدای شي کله هم داسې يوفاجعه رامنځ ته شي، او ديو نظام څخه يوه ډله خلک بغاوت اوسرغړونه وکړي نواړينه ده، چې دې بغاوت ته د سولې کولو سربايد د پای ټکی کېښودل شي.

کله چې هم يوډله خلک دحاکم څخه بغاوت وکړي، نودټولو فقهاؤ په دې خبره اتفاق دی چې حاکم دی دوي راوبلي مصالحې ته او د خپل نظرڅخه تيريدوته او د نظام سره يوځای کېدو او وحدت ته او دوی ته دې استازی وليږي چې هغوی ترې وپوښتي چې دوي ولې په دې کار لاس پورې کړی دی، که هغوی دظلم خبره ذکره کړه، چې په دوی ظلم کېږي هغه به ترې لرې کړي، او که دکومې شبهې اواعتراض کوه، د هغې ځواب او وضاحت وکړي که کومه بله پوښتنه لري هغه دې په ښه توکه ځواب کړي، په قتال اوجنګ دې پيل نه کوي.[1]

په دې نظر ډېر دلايل شته چې هغوی لومړی سولې ته رابلل.

۱ – امام شافعي (رحمه الله) په دې ايت باندې استدلال کړی دی: «وان طائفتان من المؤمنين اقتتلوا فاصلحوا بينهما».[2] ژباړه: که چيرې دوه ډلی دمؤمنانو (په حيلو منځونو کې) سره په جنګ او جګړه کی ولويږي ، پس روغه اوسو له وکړئ (ای نورو مؤمنانو) په منځ د هغودواړوجنګ کوونکيو کې (په نصيحت سره).

قال الشافعي (رحمه الله) فی تأويل هذه الاية: ای ان الله سماهم المؤمنين، وامربالاصلاح بينهم فحق علی کل احد دعاء المؤمنين اذا افترقوا و ارادوا القتال ان لا يقاتلوا حتی يدعوا الی الصلح»3

ژباړه: امام شافعي (رحمه الله) وايي چې الله پاک دوی دمؤمنانو په نوم نومولي، او امر يې کړی په اصلاح د دوی نوواجب ده په هرچاباندې چې راوبلی مؤمنان چې کله سره مختلف شي او اراده دجنګ وکړي، چې جنګ ته يې پرې نښودل شي، اوصلحې ته راوبلل شي.

او که دوی عسکر نه لري نو امام دوخت دې دوی ونيسي اوبنديان دې کړي تردې چې توبه وکړي، او که دوی فوج لري او خوندي ځای لري، اوسلاح لري، نولازم دی په بادشاه باندې په ټولو هغو طريقو چې وړاندې مو ورته اشاره وکړه،کار واخلي، که بيا هم په دې کار ونشو بلکې دوی خپل بغاوت اوسرکشي ته ادامه ورکوله نوبيا لازم اوضروري ده چې امام اوحاکم دوخت ورسره قتال اوجنګ وکړي تردې چې دې فتنې ته د پای ټکی کېښودل شي،[4] په دې خبره باندې چې دوی اطاعت او سولې ته رابللو څخه وروسته بايد جنګ ورسره وشي هم ډېردلائل شتون لري.

---

[1] - ردالمحتار علی الدارالمختار، ج: ۴، ص: ۲۰۶: السعودية ۱۳۲۷، ج: ۳، ص: ۲۷۱.

[2]- دالحجرات سورت: ايت ۹.

[3]- الشافعي ابوعبدالله محمد بن ادريس، تفسيرالشافعي، تحقيق: احمد بن مصطفی، نشرکونکي: دارالتدميرية.

[4] - د، وهبة الزحيلی، الفقة الاسلامي وادلته، ج: ۷، ص: ۴۱۳.

لومړی اوښتیز دلیل دسورة الحجرات نهم نمبر ایت دی، په دې ایت کې په روښانه شکل داخبره ثابته کړې ده چې د مصالحې او وحدت اواطاعت ته درابللو څخه وروسته که هم دوی بغاوت وکړ، نوبیا دې ووژل شي په هرممکن لارچې وي، او که بیا هم دوی د الله تعالی حکم چې اطاعت دی راوګرځېدل نوبیا هم ورسره په عدل سوله وکړي او دا ځکه چې الله انصاف کونکی خوښوي.

دوهم حضرت علی (ﷺ) هم لومړی کې باغیانو سره جنګ ونه کړلکې هغوی ته یې استازی ولیږه، ترڅو چې وحدت اطاعت او یووالی ته راشي چې کله هم هغي یوتعداد رانغلل بیا ورسره جنګ وکړه.[1] پاتې شوه هغوی سره دجنګ اصول او احکام داهل عدل اوباغیانو، دغنیمتونو، اسیرانو، ضمان اوتاوانونه دجنګ ډول، هغه دفقهي په لویو کتابونو کې ورباندې تفصیلي بحث شوی دی، چې ددوه کتابونو نومونه په لاندې ډول دي.[2]

دریم مطلب سوله د متخاصمینو ترمنځ په جنایاتو کې :

ترهرڅه وړاندی اړینه ده چې لومړی د اسلامي فقې او قانون په رنا کې دجنایت پېژندنه وکړو

الجناية: «كل فعل محظوريتضمن ضررًا على النفس وغيرها»[3].

ژباړه: هرهغه ممنوع او ناوړه فعل دی چې متضمن وي ضرر لره په نفس باندې اوغیر دنفس باندې، په اصطلاح او شریعت کې ګڼ شمېر تعریفونه شوی دي چې دلته به دځینو یادونه وکړو.

١ – اسم لفعل محرم حل بمال اونفس.

ژباړه: دهغه حرام کار نوم دی چې په مال او نفس راغلی وي .

وقيل: الجناية: هی كل فعل محرم شرعاً سواء وقع الفعل على النفس والمال اوغيرها.[4] ژباړه جنایت هغه حرام کړنې نوم دی چې هغه په مال کې وې او که نفس کې.

جنایت هغه حرام اوناروا عمل نو دی چې په مال او یا هم په ځان (نفس) راغلی وي، مګر دومره ده چې فقهاء دجنایت اصطلاح ځانګړې کړې چې په خپل نفس یا غړو پورې تړاو ولري، او هغه چې مال پورې تړاو لري هغې ته غصب او یا

[1] - ابن كثيراسماعيل-دعمرڅوی، البداية والنهاية، نشركونكی: :دارالصمعي-رياض ١٤٢٠، ج:٣، ص: ١٣٢.

[2]- الفقة الاسلامي وادلته: ج: ٧، فتح القدير، چ: ۴، حاشيه عابدين شامي، الموسوعة الفقهية الكويتية، ج: ٧ اهل البغی، الحكم التكلفي للبغی : ج، البحر الرائق: ج۵، باب البغاة، الدرالمختار باب البغاة، تحفة الفقهاء باب احكام البغاء: ج، ص: ٣١٣.

[3] - التعريفات للجرجاني، ج: ١، ص: ١٠٧.

[4]- الفقه الاسلامي وادلته، ج: ٧، ص: ٥٣٠.

هم سرقه غلا اصطلاح کارولې ده، په هم دې اساس دمغنی خاوند داسې وايي: فکل عدوان علی نفس او مال یوجب قصاصاً أو نحوه فهوجنایة.[1]

ژباړه: هرهغه تجاوز په نفس او یا هم مال چې بدل یې واجب وي او د دې په مثل هغه ته جنایت ویلی شي.

که په هره ساحه کې جنایت منځ ته راشي که په مال کې او که په نفس کې وي نواسلامي شریعت دعفوې او مصالحې او سولې ته ترغیب ورکوي، ځکه په سوله کې دوینو مال ساتنه ده او د واړه ساتنه د اسلام مبارک دین اوانساني وجود لپاره ستراولوی اصول دي نوځکه اسلام مبارک دین په مصالحې باندې تاکید کوي ځکه چې کله هم جنایت صورت مومي نود حل لارې چې مورِ لرو په هغې کې لومړی لاره قصاص او د یة ده په دواړو کې شرعیت دجواز خبره کړې ده اوهغې لپاره حکمتونه هم بیان کړي،

چې «صیانة للامة اوحفظ نفس دی»، الله تعالی فرمایي، «وَلَكُمْ فِي الْقِصَاصِ حَيَاةٌ يَا أُولِي الْأَلْبَابِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ».[2]

ژباړه: اوتاسې لره په دی قصاص کې (لوی) ژوندون دی ای خاوندانو دعقلونو لپاره ددې ځان وساتئ(له نا حق وینوڅخه).

« وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ أَنْ يَقْتُلَ مُؤْمِنًا إِلَّا خَطَأً وَمَنْ قَتَلَ مُؤْمِنًا خَطَأً فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُؤْمِنَةٍ وَدِيَةٌ مُسَلَّمَةٌ إِلَى أَهْلِهِ إِلَّا أَنْ يَصَّدَّقُوا فَإِنْ كَانَ مِنْ قَوْمٍ عَدُوٍّ لَكُمْ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُؤْمِنَةٍ وَإِنْ كَانَ مِنْ قَوْمٍ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ مِيثَاقٌ فَدِيَةٌ مُسَلَّمَةٌ إِلَى أَهْلِهِ وَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُؤْمِنَةٍ فَمَنْ لَمْ يَجِدْ فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ تَوْبَةً مِنَ اللَّهِ وَكَانَ اللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمًا».3

ژباړه: دا د یومؤمن کار نه دی چې بل مؤ من ووژني، مګر دا چې خطائي ورڅخه وشي. او څوك چې کوم مؤمن په خطائی سره ووژني؛ نو د هغه کفاره دا ده چې یو مؤمن له غلامی نه ازاد کړي او د وژل شوي وارثانو ته د وینو بیه ورکړي، مګر دا چې هغوی خونی وښي ؛خو که هغه وژل شوی مسلمان له کوم داسې قوم څخه ؤ چې له هغه سره ستاسې دښمني وي؛ نو د هغه کفاره د یو مؤمن غلام ازادول دي. او که هغه وژل شوی مؤمن د کوم یو داسې نامسلمان قوم وګړی ؤ چې له هغه سره ستاسې تړون ؤ نو د هغه وارثانو ته به د وینو بیه ورکول او د یو مؤمن غلام ازادول وي. نو که څوك غلام ونه مومي پر له پسې دې دوه میاشتې روژه ونیسي . دا پردې ګناه الله ته د توبې ایستلو طریقه ده او الله د علم او پوهې خاوند دی.

په دواړو آیاتونو کې قصاص او د یة ذکر دی د هر هغه جنایت په مقابل کې چې منځ ته راځي، باید قصاص وشي اویا هم دیة ورکړل شي.

---

[1] - المغنی لابن قدامة، ج: ۳، ص: ۴۴۳.

[2]- دالبقرې سورت، ایت: ۱۷۹.

[3]- دالنساء سورت، ایت: ۹۲.

دوهم هغه اساسي امر په دواړو صورتونو کې سوله کول، دجنايت په واقع کېدو کله هم قصاص واجب کېږي، نوکولی شو چې دقصاص حق څخه تنازل وکړو او د مقابل لوري څخه قصاص وانخلو بلکی دقصاص څخه تنازل اوښکته والی وکړو دية ته او کله هم دية واجب کېږي نوتنازل کول ځېنې دية يعنې دځينو څخه تېرېدل چې دی ته سوله ويل کېږي، په دې صورتونو کې اسلامي شريعت سوله جائز کرځولی چې دعفوې، اواسقاط وکړي او يا هم په معاوضې سره داکار وکړي ځکه په دې صورت کې حق العبد دبنده حق غالب دی.

البته داخبره هم دیادولو وړ ده چې هغه جنايت چې حق دفرد په کې غالب وي په هغې کې تنازل کولی شي دحق څخه په تېرېدا او په مصالحې سره خوداپه دې معنا نه ده چې جاني (جرم کونکې) بشپړ خلاص دی بلکې دې ته به تعزيري جزا ورکولی شي، حفظا للمصلحة العامه[1].

البته داخبره چې کله جنايت کونکي ته سزا ورکول کېږي دا ورته بس ده، او که نا تعزيری جزاء به هم ورکوي، نودجمهور علماؤ لکه امام ابوحنيفه اوامام شافعي او امام احمد دانظر دی چې په همدې جزا به اکتفاء کېدای شي او دوی وايي چې کوم تعزيري جزاء به نشي ورکېدلې، مکر امام مالک بياپه دې نظر دی چې عقوبات ترڅنګ به تعزير هم ورکېدلی شي.[2]

هغه جرائم چې قصاص او د ية په کې واجب کېږي پنځه دي:

١ – قتل عمد ٢ – قتل شبه عمد ٣ – قتل خطا ۴ –جناية مادون النفس په قصد سره، ۵ – جناية په مادون النفس کې خطأ.[3]

يادښت: په مادون النفس څخه موخه له هغو زخمونو مراد دی چې ترمرګ ونه رسيږي.[4]

دې عام فکرې څخه وروسته غواړو چې هغه دليلونه راوړو چې په هغې کې ترغيب دی او يا هم په بل عبارت په دې ډول سوله کې دجواز دليلونه:

١ – چې کله دقرانکريم دې ايت ته وګورو چې په هغې کې الله تعالی دقصاص حکم ذکر کړی دی دايت په دوام کې الله تعالی فرمايي « **يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِصَاصُ فِي الْقَتْلَى الْحُرُّ بِالْحُرِّ وَالْعَبْدُ بِالْعَبْدِ وَالْأُنْثَى بِالْأُنْثَى فَمَنْ**

[1]- التشريح الجنائي عبدالقادر عودة، نشرکونکی: دارالکتب العلمية، ج: ١، ص: ٧٩.

[2] - الصلح فی ضؤ الکتاب والسنة، ج: ١، ص: ۴۵۵.

[3] - التشريح الجنائي عبدالقادر، ج ـ ١ص ـ ٩١

[4] - الصلح فی ضؤ الکتاب والسنة.

عُفِيَ لَهُ مِنْ أَخِيهِ شَيْءٌ فَاتِّبَاعٌ بِالْمَعْرُوفِ وَأَدَاءٌ إِلَيْهِ بِإِحْسَانٍ ذَلِكَ تَخْفِيفٌ مِنْ رَبِّكُمْ وَرَحْمَةٌ فَمَنِ اعْتَدَى بَعْدَ ذَلِكَ فَلَهُ عَذَابٌ أَلِيمٌ».[1]

ژباړه: ای مؤ منانو ! ستاسې له پاره د قتل په دعواوو کښې د قصاص حکم لیکل شویدی که اصیل قاتل وي له هماغه اصیل نه دې بدله واخیستله شي او که غلام قاتل وي؛ نو هماغه غلام دې ووژل شي، که ښځه قاتله وي، نو له هماغې ښځې نه دې قصاص واخیستل شي هو که له کوم قاتل سره د هغه (دیني) ورور یو څه نرمی کولو ته تیار وي، نوپه ښه وجه دې د وژنې د بدل په باب اقدام وشي او پر قاتل لازمه ده چې په صداقت سره خونی ورکړي داستاسې درب له خوا اسانتیا او رحمت دی که له دې نه وروسته څوك تجاوز وکړي د هغه له پاره درد وونکی عذاب دی .

په دې ایت کې ابن عاشور [2](رحمه الله) وایي: «اتفق المفسرون على ان القصد من هذه الاية الترغيب فى المصالحة عن الدماء».[3]

ژباړه: ابن عاشور(رحمه الله) وایي چې اتفاق کړی دی چې مفسرون په دې خبره کې چې هدف اوموخه د دې ایت ترغیب دی په سوله او مصالحه کې.

دوهم دلیل له نبوي احادیثو څخه: په دې هکله ډېرحدیثونه شتون لري یواځې په یوحدیث بسنه کوو: **عَنْ أَنَسٍ قَالَ : «مَا رَأَيْتُ النَّبِيَّ -ﷺ- رُفِعَ إِلَيْهِ شَيْءٌ مِنْ قِصَاصٍ إِلاَّ أَمَرَ فِيهِ بِالْعَفْوِ».**[4]

ژباړه: انس (رضی الله) فرمایي چې ما نه دی لیدلی نبي کریم ﷺ چې کومه قضیه دقصاص به ورته راغله مګر په هغې کې به امر اوغوښتنه دعفوې کوله.

۳ – داسې ډېر روایتونه شتون لري چې په هغې کې د صلحې موضوع په کې ترغیب راغلې او همدا شان داجر اوبدلې خبره په کې راغلې ده لکه په دې روایت کې :

أَنَّ عُبَادَةَ بْنَ الصَّامِتِ قَالَ : سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ : مَا مِنْ رَجُلٍ يُجْرَحُ فِي جَسَدِهِ جِرَاحَةً فَيَتَصَدَّقُ بِهَا إِلاَّ كَفَّرَ اللَّهُ عَنْهُ مِثْلَ مَا تَصَدَّقَ بِهِ.»[5] **ژباړه: عبادة ﷺ واي چې ما د رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ**

---

[1] - دالبقرې سورت، ایت: ۱۷۸.

[2]. ابن عاشور:نوم یې محمد طاهر دمحمد خوی په کال ۱۲۹۶ هـ په تونس کې زېږېدلی دی په ابن عاشور شهرت لري ډېرتالیفات لري چې یومشهور التحریر والتنویردی په کال ۱۳۹۳ کال وفات شوی دی. الاعلام للزکلي ج ۶ ص ۱۷۴

[3] -التحرير والتنوير ، لابن عاشور نشرونكي : دارسحنون للنشر والتوزيع ، تونس ، طبعه : لمړي ۱۹۹۷ م ، ج.۲ ص.۱۴۰

[4] - ابوداود- كتاب الديات بالامام يأمر بالعفوفي فى الدم، ج: ۴، ص: ۱۶۹، تخريج: صححه الالباني، جامع الاصول وقال الترمذي، حسن صحيح، اسناد دحديث حسن دي، تهذيب الكمال. ج ۳ ص ۵۴۱

[5]- مسند احمد، ج، ۵، ص، ۳۱۶، تخریج: امام منذري وایي چې رجال یې صحیح دی، دحدیث نمبر: ۲۳۰۷۷.

څخه اوريدلې چې ويلې : نه دی يو سړې چې په بدن زخمې شې نو دی دهغی عفوه وکړې مګرالله پاک په همغه اندازه ګناهونو کفاره وګرځوې .

4 – امام قرطبي (رحمه الله) د دې ايت لاندې داسې ليکي: «فمن عفا واصلح فاجره على الله» دابن عباس قول ذکر کوي، «فمن ترک القصاص واصلح بينه وبين الظالم بالعفو فاجره على الله أی: ان الله يأجره على ذلك.»[1]

ژباړه: چاچې قصاص پريښود او ظالم سره يې په عفوه سوله يې وکړه نوالله عزوجل به اجر اوبدله ورکړي.

دلته که په دې مسئله کې تم پاتې شو نو ممکن چې بحث به يې په ډېرو پاڼو کې هم راخلاص نه شي، ځکه صلح په قتل عمد، صلح په قتل خطا، صلح په جنايات مادون النفس کې اوصلح په جنايات کې په مطلق عفو سره، دلته يواځې صلح قتل عمد څخه يوځه يادونه کو، نواشد په جناياتو کې هغه قتل عمد دی نوعمد کې چې سوله جائز شي نوپه نورو ټولو کې په طريق الاولی سره جائز ده او وي به، له دې په ډاګه شوه چې سوله کول په ټولو جناياتو کې يومطلوب امر دی.

او اسلام مبارک دين په دې هکله قوي ترغيبي ادبيات لري چې مصالحې ته جانبين هڅوي ځکه دوينو حفاظت په کې دی.

دوينو تويدل په شرعي اوطبعي او قانوني اوعقلي ډول يوبد او ناوړه عمل دی په هره مکن لار بايد دوينو تويول مخنيوی وشي اوحفاظت دنفوسو يومطلوب امر دی نوله دې امله ټول هغه با احساسه وکړي په دې برخه کې مسؤل دي چې دوينو تويول مخنيوی وکړي حتی په قتل عمد يا په قصدي وژنه کې بايد دې ستونزې اومشکل ته د سولې له لارې د پای ټکی کېښودل شي، ځکه په سوله کې خير دې ځکه چې الله عزوجل ورته خير ويلي لکه په دې مبارک ايت کې: «...وَالصُّلْحُ خَيْرٌ... ».[2]

نو هغه اشخاص چې په دې برخه کې کوښښ کوي بايد په پوره توان اواخلاص سره داکار وکړي، ترڅو په دې برخه کامياب شي.

لمړي فرعه په قصدي وژنه (قتل عمد) کې سوله:

قتل عمد: «هو ان يتعمد ضربه بسلاح ومايجري مجراه مما له حد يقطع ويجرحه لأن العمد والقصد ممالايوقف عليه ولكن الضرب بآلة جارحة قابلة قاطعة دليل على القتل فيقام مقام العمد.»[3]

---

[1]- الجامع الاحكام القران للامام القرطبي، ج: ۶، ص: ۴۰.

[2]- دالنساء سورت، ايت: ۱۲۸.

[3]- البحرالرائق- كتاب الجنايات، ج:۸، ص: ۳۳۰.

ژباړه: قصدي وژنه دهغه قصدي وهلو څخه عبارت دی چې وهل وکړي په قصد سره په سلاح اویاهغه څه چې سلاح ته ورته وي چې هغه تیره، پرې کوونکی(قطع کوونکی) اوزخمي کوونکی وي او په قصد باندې خو اطلاع مشکله دی.

د اسلامي شریعت مصادرو ته چې کورو نودعمدي وژني سزا اوجزا قصاص دي چې د هغې قاتل وژنه ده، الله تعالی فرمايي: « **يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِصَاصُ فِي الْقَتْلَى الْحُرُّبِالْحُرِّوَالْعَبْدُ بِالْعَبْدِ وَالْأُنْثَى بِالْأُنْثَى فَمَنْ عُفِيَ لَهُ مِنْ أَخِيهِ شَيْءٌ فَاتِّبَاعٌ بِالْمَعْرُوفِ وَأَدَاءٌ إِلَيْهِ بِإِحْسَانٍ ذَلِكَ تَخْفِيفٌ مِنْ رَبِّكُمْ وَرَحْمَةٌ فَمَنِ اعْتَدَى بَعْدَ ذَلِكَ فَلَهُ عَذَابٌ أَلِيمٌ**».[1]

ژباړه: ای مؤ منانو ! ستاسې له پاره د قتل په دعواوو کښې د قصاص حکم لیکل شویدی که اصیل قاتل وي له هماغه اصیل نه دې بدله واخیستله شي او که غلام قاتل وي؛ نو هماغه غلام دې ووژل شي، که ښځه قاتله وي، نو له هماغې ښځې نه دې قصاص واخیستل شي هو که له کوم قاتل سره د هغه (دیني) ورور یو څه نرمۍ کولو ته تیار وي، نوپه ښه وجه دې د وژنې د بدل په باب اقدام وشي او پر قاتل لازمه ده چې په صداقت سره خونی ورکړي داستاسې درب له خوا اسانتیا او رحمت دی که له دې نه وروسته څوك تجاوز وکړي د هغه له پاره دردوونکی عذاب دی .

په بل ځای کې الله عزوجل فرمايي: «وَلَا تَقْتُلُوا النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلَّا بِالْحَقِّ وَمَنْ قُتِلَ مَظْلُومًا فَقَدْ جَعَلْنَا لِوَلِيِّهِ سُلْطَانًا فَلَا يُسْرِفْ فِي الْقَتْلِ إِنَّهُ كَانَ مَنْصُورًا »[2]

ژباړه: پرته دحق وژنې څخه، دهغه نفس دوژنې مرتکب مه کیږئ چې الله حرام کړي دي. اوهرڅوک چې مظلوم وژل شوی وي، دهغه وارث ته مور دغچ اخیستنې حق ورکړی دی، نوپکارده چې هغه په وژلو کې له حده تیری ونه کړي، له هغه سره به مرسته وشي.

دې اياتونوڅخه به استدلال او بیا ن سره داخبره څرګنده شوه چې دقصدي وژنې جزا اوسزا قصاص یا (ببرته وژل)دي، داحق الله عزوجل دوژل شوي شخص کورنۍ ته ورکړی دی او یاپه بل عبارت سره مشروع ګرځولی دی چې دیوفطري حق ته لبیک وویل چې په دې سره د هغو ی یعنې وارثانو د مقتول هغه قهر اوغوصه چې په قاتل راولاړه شوې ده سړه شي.

خوله دې څخه ورهاغه خوا الله تعالی ترغیب وکړی له دې څخه یوې اعلی درجې ته چې هغه عفو اوصفح ده اوقبلول دې ددیت دي. الله تعالی په دې هکله فرمايي: «**يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِصَاصُ فِي الْقَتْلَى الْحُرُّبِالْحُرِّوَالْعَبْدُ**

[1] - دالبقرې سورت، ایت: ۱۷۸.

[2]- دالاسراء سورت، ایت: ۳۳.

بِالْعَبْدِ وَالْأُنْثَى بِالْأُنْثَى فَمَنْ عُفِيَ لَهُ مِنْ أَخِيهِ شَيْءٌ فَاتِّبَاعٌ بِالْمَعْرُوفِ وَأَدَاءٌ إِلَيْهِ بِإِحْسَانٍ ذَلِكَ تَخْفِيفٌ مِنْ رَبِّكُمْ وَرَحْمَةٌ فَمَنِ اعْتَدَى بَعْدَ ذَلِكَ فَلَهُ عَذَابٌ أَلِيمٌ».[1]

ژباړه: ای مؤ منانو ! ستاسې له پاره د قتل په دعواوو کښې د قصاص حکم لیکل شویدی که اصیل قاتل وي له هماغه اصیل نه دې بدله واخیستله شي او که غلام قاتل وي؛ نو هماغه غلام دې ووژل شي، که ښځه قاتله وي، نو له هماغې ښځې نه دې قصاص واخیستل شي هو که له کوم قاتل سره د هغه (دیني) ورور یو څه نرمی کولو ته تیار وي، نوپه ښه وجه دې د وژنې د بدل په باب اقدام وشي او پر قاتل لازمه ده چې په صداقت سره خونی ورکړي داستاسې درب له خوا اسانتیا او رحمت دی که له دې نه وروسته څوك تجاوز وکړي د هغه له پاره دردوونکی عذاب دی .

د دې ایت په اساس سوله جائز اومشروع ګرځول شوې ده، په دې خاطر دمحبت او وروروڼی، قائمول، حسد اوکینه له منځه تلل او دزړونو لاسته راوړل دي.

نودلته د سولې موضوع داسې ده چې یاخودقصاص څخه تېرشي ددیت په مقابل کې یعنې دقصاص حق څخه تنازل وکړي او یا هم بیخي دیت وا نخلي اومطلق عفوه تام وکړي، او یا هم په دیت کې ورسره تخفیف وکړي، او دا د دې امت ځانګړتیا ده ځکه په تېرو امتونوکې دقصدي وژنې سزایواځې قصاص ؤاو د دیة نامشروع ؤ په دې هکله په صحیح بخاري داسې روایت دی:

«عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: كَانَتْ فِي بَنِي إِسْرَائِيلَ قِصَاصٌ وَلَمْ تَكُنْ فِيهِمُ الدِّيَةُ، فَقَالَ اللهُ عَزَّوَجَلَّ لِهَذِهِ الْأُمَّةِ {كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِصَاصُ فِي الْقَتْلَى} إِلَى قَوْلِهِ {فَمَنْ عُفِيَ لَهُ مِنْ أَخِيهِ شَيْءٌ}.قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: فَالْعَفْوُ أَنْ تُقْبَلَ الدِّيَةُ فِي الْعَمْدِ، قَالَ {فَاتِّبَاعٌ بِالْمَعْرُوفِ} أَنْ يَطْلُبَ بِالمَعْرُوفِ وَيُؤَدِّيَ بِإِحْسَانٍ.»[2]

دلته یوه ځانګړې لورینه د الله عزوجل له لوري ده په دې امت باندې چې اختیارپې ورکړی په ددواړو امرونو کې چې هغه یاقصاص یا هم عفوه په دیت (دوینې بدله) چې دقصاص حق څخه تنازل او په دیة باندې صلحه کول دي، په دې هکله د علماؤ ډېراقوال شتون لري.

همدا شان امام کاساني (رحمه الله) داسې وایي: «وجعل لفظ الصلح كناية عن العفووذلک جائز لان العفو هوالفضل وفی الصلح معنی الفضل.»[3]

او همدا شان وایي: «دلت هذه الاية على جوازالصلح من القصاص على القليل والكثير وهذا بخلاف القتل الخطأ وشبه العمد انه اذا صلح على اكثر من الدية لايجوز.»[4]

---

[1] - دالبقري سورت، ایت: ۱۷۸.

[2]- صحيح البخاري- كتاب الديات- باب من قتل له قتيل فهوبخيرالنظرين، دحديث نمبر: ۶۸۸۱،

[3]- بدائع صنائع، ج: ۷، ص: ۵۱۴.

[4]- نفس مصدر

دایت ترڅنګ نبوي احادیث هم ډېرشتون لري چې په دې ډول د سولې جواز دلالت کوي چې د هغې له جملې څخه یودلته یادونه کوو: «عن ابی هُرَيْرَةَ أَنَّهُ عَامَ فَتْحِ مَكَّةَ قَتَلَتْ خُزَاعَةُ رَجُلًا مِنْ بَنِي لَيْثٍ بِقَتِيلٍ لَهُمْ فِي الْجَاهِلِيَّةِ فَقَامَ رَسُولُ اللهِ فَقَالَ إِنَّ اللهَ حَبَسَ عَنْ مَكَّةَ الْفِيلَ وَسَلَّطَ عَلَيْهِمْ رَسُولَهُ وَالْمُؤْمِنِينَ أَلَا وَإِنَّهَا لَمْ تَحِلَّ لِأَحَدٍ قَبْلِي وَلَا تَحِلُّ لِأَحَدٍ بَعْدِي أَلَا وَإِنَّمَا (وَإِنَّهَا) أُحِلَّتْ لِي سَاعَةً مِنْ نَهَارٍ أَلَا وَإِنَّهَا سَاعَتِي هَذِهِ حَرَامٌ لَا يُخْتَلَى شَوْكُهَا وَلَا يُعْضَدُ شَجَرُهَا وَلَا يَلْتَقِطُ سَاقِطَتَهَا إِلَّا مُنْشِدٌ (وَلَا تُلْتَقَطُ سَاقِطَتُهَا إِلَّا لِمُنْشِدٍ) وَمَنْ قُتِلَ لَهُ قَتِيلٌ فَهُوَ بِخَيْرِ النَّظَرَيْنِ إِمَّا يُودَى (أَنْ يُودَى) وَإِمَّا يُقَادُ (أَنْ يُقَادَ) فَقَامَ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْيَمَنِ ..... الحديث»[1]

ژباړه:(دهغه ځای ژباړه ده په کوم چې استدلال کېږي) څوک چې ووژل شي نو ده ته اختیار دی په دوه خبرو کې یابه دیت اخلي اویابه قصاص .....

البته دیت طرف ته په اساس ددلیلونو او په تجربې سره تمایل اومیلان زیات دی، له دې امله قرانکریم داسې تعبیر کړی: «...فمن عفی له من أخیه...» تعبیر دورور وکړ ځکه په دې کې یو بلیغ انداز انعطاف اونرمي ده، چې د ورور شان سره داښآیي چې باید ورته عفوه وشي اول مکمل اومطلق او که داسې نه وي نولږترلږه دقصاص څخه ورته تېرشي، او د یت ترې واخلي.

کله چې سوله په دیت (دوینې په بدل کې عفوه) وشي، نوبیاپه قصدي قتل کې چې هراندازه دیت اخلي اخیستی شي، زیات اوکم په کې پروا نه کوي ځکه په قصدي وژنه کې خودیت نشته، قصاص دی، نوکله چې سوله په دیت وکړه نوپه هراندازه چې هوکړه وکړه کومه ستونزه نه لري، او په خطااوپه هرهغه قتل کې چې جزاء دیت ده نوهلته ددیت له اندازې زیات دیت اخیستل جائز نه دي ځکه چې دیت مال دی او د مال په مقابل کې مال زیات اخیستل خوسود دی او هغه ناروا اوحرام دی «وفی الخطا علی اکثر من الدیة والارش لایجوز لان ههنا الارش والدیة مقدران شرعاً والزیادة علیه ربا فلایجوز.»[2]

یادونه: په دیت کې اختیار دوژل شوي کورنۍ ته دی، دادجمهورو نظردی البته امام ابوحنیفه اوامام مالک او امام ثوری (رحمهم الله) په دې نظر دي چې اختیار قاتل ته دی چې کوم یوانتخاب کوي، واحتج الطحاوي [3](رحمه الله)

---

[1]- صحیح البخاري،باب من قتل له قتیل فهو بخیر نظرین- دحدیث نمبر ۶۸۸۰، ج: ۳، ص: ۱۲۵.

[2]- تحفة الفقهاء- کتاب الصلح- نشرکوونکی: دارالکتب العلمیة-۱۴،۵، بیروت، ج: ۳، ص: ۲۵۴.

[3]. الطحاوي ابوجعفر: نوم یې احمد دمحمد ځوی دسلامة ابوجعفرالطحاوي لمسی، مشهور محدث، فقهي، په ۲۳۸ هـ کال کې زېږېدلی دی په طحا یو ځای دی په مصرکې دی، لومړی دشافعي فکرخاوند وه وروسته بیا حنفي شو، ډېرتألیفات لري لکه: احکام القران، العقیدة الطحاوي، شرح معاني الاثار، په ۳۲۱ هـ کال کې وفات شوی دی. البدایة والنهایة ج 11ص 174

«باهم اجمعوا على أن الولى لوقال للقاتل رضيت ان تعطيني كذا على أن لااقتلك، ان القاتل لايجبرعلى ذلک ولايؤخذ منه كرهاً وان كان يجب عليه أن يحقن دم نفسه.[1]»

له دې څېړنې وروسته ويلى شو چې په قصدي وژنه کې دقصاص په بدل کې سوله کول يودول مشروع بلکې يوښه اوغوره کار دى شريعت عقلاً اونقلاً وربانديې اتفاق لري چې په داسې صورتونو کې بايد د سولې له لارې څخه کار واخيستل شي ترڅوناخوالو ته د پاى تکې کېښودل شي، او د وينو له بهېدلو څخه مخنيوى وشي او هغه حسد اوحقارت او د ښمني چې منځ ته راغلې هغه په پخلاينې، محبت او ورورولي بدل شي، لکه څنګه چې په قصدې قتل کې چې يوستراولوى جنايت دى صلحه جائز او روا ده بلکې خوښ عمل دى نوپه خطا اوشبه عمد کې هم روا اوجائز بلکې خوښ عمل دى.

دويمه فرعه په خطأ اوشبه عمد قتل کې سوله :

قتل الخطا: قال ابوجعفر: «واما الخطا فهو ما أصابه فقتله ممالم يرده وانما اراده غيره[2]».

خطأ قتل: هغه ته ويل کېږي، چې قتل کړي هغې چالره چې دې په قتل سره نه وي اراده کړى بلکې اراده اوموخه يې بله وي، خو په خطأ سره تړې داقتل شي، دوهم خطأ په داشان چې همدابعينه په خپل قتل سره هدف کرځولې خودقتل څخه وروسته معلومه شي، چې کوم څوک چې وژل شوى دي داهدف نه وه په هدف کې خطأ شي چې دېته خطأ فى القصد وي اولومړى نه خطأ فى العمل وايي.

قتل شبه العمد: هغه قتل ته وايي چې يوشخص په يوداسې آلې سره قصداً ووهي چې عادتًا په هغې سره څوک نه مړکېږي، خودلته قتل واقع شوى وي، لکه په يوه نرى لښته يوسړى ووهل شي اومړ شي.[3]

په دواړو صورتونو کې دية واجب دى په جاني باندې، البته په دې دواړو صورتونو کې دوه جزاګاني لازمېږي: لومړى دية دوهم کفارة، خودومره خبره ده چې په شبه عمد کې دية مغلظة دى او په قتل خطأ دية مخففة دى[4].

له دې بيان څخه وروسته داخبره بايد واضح کړو چې کوم حق چې په دې صورت کې شرعې واجب کرځولې په حق العبد کې چې هغه دية دى په هغې سوله کول جائز اومتحقق ده اوکوم چې حق الله دى چې کفاره ده، په هغې سوله نه متحقق کېږي ځکه هغه يوحق دى درب اوبنده ترمنځ چې بنده مکلف دى چې هغه پرځاى کړي د دې لپاره چې خپله داخرت ذمه فارغه کړي نودهمدې پربنسټ دلته خبره د سولې په دې موضوع څرخيږي چې په دية کې سوله وکړي په

---

[1]- شرح معاني الاثار للامام الطحاوي، نشركونكى: دارالكتب علمية- بيروت – طبعة: لومړى تحقيق: محمد زهري النجار- ج ۳، ص ۱۷۷..

[2]. الطحاوي: شرح مختصرالطحاوي، تحقيق كونكي: دكتور عصمت الله، نشركوونكى: دارالبشائر الاسلاميه، طبعة: لومړى ۱۴۲۱، مؤلف: احمد بن على ابوبكر ، مشهور جصاص سره، ۲۷۰ هـ كال وفات شوى، ج: ۵، ص: ۴۰۲.

[3] - البحرالرائق: ج، ۵، ص: ۴۱۰.

[4]- بدائع الصنائع للامام الكاساني، ج: ۱، ص: ۶۵۸.

دې معنا چې یاتول عفوه کړي او یا هم ځینې چې د خپل کامل حق څخه تېرشي او جوړجاړی وکړي، او دا خبره چې دځینو برخې څخه تېرشي او جوړجاړی وکړي، چې د دې په مشروعیت کې اوروا والي بلکې ترغیب قرانکریم اواحادیث ورکړي اوعرف اوتجربه اوتعامل هم په دې جاري اوروان دي.

۱ – قرانکریم کې الله عزوجل فرمایي: « **وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ أَنْ يَقْتُلَ مُؤْمِنًا إِلَّا خَطَأً وَمَنْ قَتَلَ مُؤْمِنًا خَطَأً فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُؤْمِنَةٍ وَدِيَةٌ مُسَلَّمَةٌ إِلَى أَهْلِهِ إِلَّا أَنْ يَصَّدَّقُوا فَإِنْ كَانَ مِنْ قَوْمٍ عَدُوٍّ لَكُمْ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُؤْمِنَةٍ وَإِنْ كَانَ مِنْ قَوْمٍ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ مِيثَاقٌ فَدِيَةٌ مُسَلَّمَةٌ إِلَى أَهْلِهِ وَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُؤْمِنَةٍ فَمَنْ لَمْ يَجِدْ فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ تَوْبَةً مِنَ اللَّهِ وَكَانَ اللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمًا**»[1]

ژباړه: دا د یو مؤمن کار نه دی چې بل مؤ من ووژني، مګر دا چې خطائي ورڅخه وشي. او څوك چې کوم مؤمن په خطائ سره ووژني؛ نو د هغه کفاره دا ده چې یو مؤمن له غلامۍ نه ازاد کړي او د وژل شوي وارثانو ته د وینو بیه ورکړي، مګر دا چې هغوی خونکار وښي ؛خو که هغه وژل شوی مسلمان له کوم داسې قوم څخه ؤ چې له هغه سره ستاسې دښمني وي؛ نو د هغه کفاره د یو مؤمن غلام ازادول دي. او که هغه وژل شوی مومن د کوم یو داسې نامسلمان قوم وګړی ؤ چې له هغه سره ستاسې تړون ؤ نو د هغه وارثانو ته به د وینو بیه ورکول او د یو مؤمن غلام ازادول وي. نو که څوك غلام ونه مومي پر له پسې دې دوه میاشتې روژه ونیسي . دا پردې ګناه الله ته د توبې ایستلو طریقه ده او الله د علم او پوهې خاوند دی.تفسیر کبیر اوابن کثیر دلته د دې ایت داسې معنا کوي: («الا ان یصدقوا» فتجب الدیة مسلمة الی اهله الا ان تصد قوا بها فلاتجب.).[2]

اوامام رازي (رحمه الله) وایي: «ومعنی التصدق الاعطاء والمعنی الا ان یتصدقوا بالدیة، فیعفوا ویترکوا الدیة.»[3]

ژباړه معنا دتصدق داده ورکړه اومعنا د*الا ان یتصدقوا بالدیة* داده چې عفوه به وکړي او دیت ورته پرې دې .

۲ – احادیثو ته چې وګورو نوپه دیت ورکولو کې جاني سره عاقله شریک کړځولې داسانتیا لپاره.

۳ – دفقهاؤ اقوال مخکې هم تېرشول او د لته هم دالشرح الصغیر قول په ذکرکولو بسنه کوو: «یجوز الصلح فی قتل الخطأ حیث لامانع.»[4]

ژباړه: سوله جائز ده په خطأ قتل کې ځکه هیڅ مانع شتون نه لري.

---

[1]- دالنساء سورت، ایت: ۹۲.

[2]- تفسیرالقران العظیم، ج:۱، ص: ۵۵۸.

[3]- التفسیرالکبیر للامام الرازي، ج: ۱۰، ص: ۲۳۴.

[4]- الشرح الصغیر للامام الدردیري. ج ۲ ص ۳۴۱

د څېړونکي نظر: له د ې څېړنې څخه څرګنده شوه چې سوله په قتل خطأ اوشبه عمد کې راځي په اتفاق اوخوښۍ سره دځینو برخو په پرښودلود دیت او یا هم په مکمل معاف کولو سره دعفوې په طریقې سره دهغه حق واجب چې په مقابل لوري دی او دا صورتونه مورِ په خپل عمر کې تجربه کړي او په سرسترګو مولیدلې چې کله هم، دقاتل له لوري څخه څومخور سپین ږیري اوعلماء دیوځه اندازه مال سره د عذر په شکل دمقتول کورنۍ ته راشي نوځان ملامت بولي اوانعطاف او ورورولي اومحبت څخه ډک اصطلاحات کاروي تردې چې اکثراً خومطلق معاف کېږي ابراء ورته کېږي او په ځینو ځاینو کې یوځه مقدار نقدې او هغه مال ترې اخلي. والله اعلم بالصواب.

دریمه فرعه په مادون النفس او په زخمونو کې سوله کول:

دټېروپانو څخه دا څرګنده شوه چې تجاوز اوظلم زیاتې اعتداء په انساني نفس باندې پرته دحق څخه حرامه اوناروا ده د هغې تجاوز اوظلم باید همغه شان ځواب ورکړل شي، خو په بشري ټولنه کې چې څنګه کورو اومعامله همدا شان جریان لري چې په بدل اخیستلو ستونزه نه حل کېږي، بلکې دلویو ستنوزو زیږنده ګرځي حتی چې وقومونو تباهي ته خبره رسي .

نواسلام مبارک دین دانساني نفس دعزت اواحترام په خاطر سوله اوپخلاینه مشروع او روا ګرځولې ده ځکه په سوله اوپخلاینه کې دنیوي او اخروي خیر دی، نوپه دې برخه کې هغه دجناياتو هغه ستره برخه چې دزخمونو موضوع په څومختصر کرښو کې ورته اشاره وکړو.

دزخمونو ډولونه خوبیخې ډېردي دفقهي لوی کتابونه لویې برخې په ډکې دي، نوچې څنګه دزخمونو ډولونه زیات دي همدا شان احکام یې هم زیات دي،، بدائع صنائع کې داسې وایي: «وهذه الانواع مختلفة الاحكام منها مايجب فيه القصاص ومنها مايجب فيه دية كاملة ومنها مايجب فيه أرش مقدر ومنها مايجب في ارش غيرمقدر.»[1]

نو څنګه چې ډولونه ډېر دي نود سولې صورتونه هم ګڼ کیدای شي، کله به دقصاص څخه تېرېدل وي تاوان به اخیستل کېږي او کله به په دیت کم کول وي او کله هم مطلق عفوه کول وي، په دې ډول جنایات کې سوله کول هم قران اوسنت اوفقهاء اقوال اوتجربې اوتعامل سره ثابته ده، چې یو څو ته به دلته اشاره وکړو:

۱ – قرانکریم کې الله عزوجل فرمایي: « **وَكَتَبْنَا عَلَيْهِمْ فِيهَا أَنَّ النَّفْسَ بِالنَّفْسِ وَالْعَيْنَ بِالْعَيْنِ وَالْأَنْفَ بِالْأَنْفِ وَالْأُذُنَ بِالْأُذُنِ وَالسِّنَّ بِالسِّنِّ وَالْجُرُوحَ قِصَاصٌ فَمَنْ تَصَدَّقَ بِهِ فَهُوَ كَفَّارَةٌ لَهُ وَمَنْ لَمْ يَحْكُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ فَأُولَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ.**»[2]

[1]- بدائع الصنائع، ج: ۱۰، ص: ۷۶۰.

[2]- دالمائدې سورت، ایت: ۴۵.

ژباړه: په تورات کښې مونږ پر یهودیانو دا حکم لیکلی ؤ چې د نفس په بدل کښې نفس، د سترګې په بدل کښې سترګه، د پوزې په بدل کښې پوزه د غوږ په بدل کښې غوږ، د غاښ په بدل کښې غاښ، او د تولو زخمونو له پاره برابره بدله؛ نو که څوك قصاص صدقه کړي نو هغه د هغه له پاره کفاره ده. او کوم خلك چې د الله له نازل کړي قانون سره سمه فیصله ونه کړي هماغوی ظالمان دي.

په روح المعاني تفسیر کې داسې معنا ورته کړی دی: «فمن تصدق ای من المستحقین للقصاص« به »ای باالقصاص.»، اوتعبیر له دې عفوې څخه په تصدق سره وکړه لپاره دمبالغې په ترغیب کې لپاره دعفوې.[1]

دوهم حدیث هم په دې هکله دلیل کې راوړو: « عنَّ أَنس، حَدَّثَهُمْ: أَنَّ الرُّبَيِّعَ وَهِيَ ابْنَةُ النَّضْرِ كَسَرَتْ ثَنِيَّةَ جَارِيَةٍ، فَطَلَبُوا الأَرْشَ، وَطَلَبُوا العَفْوَ، فَأَبَوْا، فَأَتَوُا النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَمَرَهُمْ بِالقِصَاصِ، فَقَالَ أَنَسُ بْنُ النَّضْرِ: أَتُكْسَرُ ثَنِيَّةُ الرُّبَيِّعِ يَا رَسُولَ اللَّهِ، لاَ وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالحَقِّ، لاَ تُكْسَرُ ثَنِيَّتُهَا، فَقَالَ: «يَا أَنَسُ كِتَابُ اللَّهِ القِصَاصُ»، فَرَضِيَ القَوْمُ وَعَفَوْا، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ مِنْ عِبَادِ اللَّهِ مَنْ لَوْ أَقْسَمَ عَلَى اللَّهِ لَأَبَرَّهُ» زَادَ الفَزَارِيُّ، عَنْ حُمَيْدٍ، عَنْ أَنَسٍ، فَرَضِيَ القَوْمُ وَقَبِلُوا الأَرْشَ.»[2]

امام عیني رحمه الله د دې په تفسیر کې داسې وایي چې قبلول د ارش تاوان په بدل دقصاص کې نه وي مګر په سولې سره«لان قبول الارش عوض القصاص لم یکن الابالصلح. »[3]

همدا شان ابن حجر(رحمه الله) هم وایي: «وفیه الصلح علی الدیة».[4]

له دې روایاتو او اقوالو څخه په ډاکه معلومه شوه، چې سوله په هغه جنایت کې چې دمادون النفس اړوند یعنې زخمونو پورې وي، هغه کې سوله یوجائز اومطلوب امر دی، ځکه سوله کې وحدت، یوالی، او وروروڼي ده، نو د اسلام مبارک دین له لومړیو څخه ترنن پورې په دې تعامل را روان دی، (نن سبا زمور په ټولنه کې همدا شان روغ جوړې کېږي یوڅه اندازه نغدې پیسې او یا هم جنس دعذر په نوم ورکوي اوښنه تري غواړي اوسوله کېږي.) دیوې عامې اوسرتاسرې سولې او پخلاینې په هیله.

---

[1]- روح المعاني فی تفسیرالقران العظیم، مؤلف، محمود الوسي ابوالفضل، نشرکوونکی: داراحیاء التراث، بیروت، ج: ۶، ص: ۱۳۳,

[۲] - صحیح البخاري باب الصلح فی الدیة- دحدیث نمبر۲۷۰۳، ج: ۱، ص: ۴۱۳.

[3] - عمدة القاري، ج: ۱۱، ۱۶۳.

[4]- فتح الباري، ج: ۱۴، ص: ۲۱۴.

څلورم مطلب په مالي معاملات کې سوله:

په دې مطلب کې دمال پېژندنه، او ډولونه، د شخړو صورتونه او په شخړو کې سوله کول .

لومړی دمال پېژندنه :مال په لغت کې ټول هغه څه چې په ملکیت اوتصرف دیوچاکې وي جمع یې اموال راځي.[1]

اواصطلاح کې داسې تعریف کړی دی: «المال مایمیل الیه الطبع ویمکن ادخاره لوقت الحاجة».[2]

ژباړه: مال هغه څه دی چې طبعیت ورته میلان کوې او هغی جمع کول دحاجت وخت لپاره ممکن وې .

مال یو مهم عنصر دی دانسان په ژوند کې، او په اسلام مبارک دین کې دمال مقام دنفس سره دمعادل اوبرابر مقام لري، او د هغه پنځه اصول څخه ګڼل کېږي چې انساني ژوند کې اصول او اساسات ګڼل شي، حفظ المال، اوکوم حرمت او عزت اومقام چې مالي حقوق لري هغه په هیڅا پټ نه دي، نوله دې امله هیڅاته به هیڅ ډول جائز نه دی چې دیو مسلمان له مال څخه پرته دشرعي اصولو اولارو چارو څخه ګټه پورته کړی نومال یوله هغه بهترین مخلوقاتو څخه دی لپاره دانسان نوپه انسان او په ځانګړي ډول مسلمان باندې د هغې ساتنه یواړین اوحتمي امر دی حتی که دنفس په قیمت وي باید ساتنه وکړي حتی که مال په ساتنه کې خپل ژوند له لاسه ورکړي اسلام مبارک ورته دشهید اوځای اومقام ورکړی دی، نبي کریم ﷺ ته یوسړي راغی او هغه مبارک ته یې وویل یارسول الله ﷺ: « **وعن أَبي هريرة - ﷺ - قَالَ : جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رسول الله - ﷺ - فَقَالَ : يَا رسولَ اللهِ، أَرَأيتَ إنْ جَاءَ رجلٌ يُرِيدُ أَخْذَ مَالِي ؟ قَالَ : ((فَلاَ تُعْطِهِ مَالَكَ)) قَالَ : أَرَأَيْتَ إنْ قَاتَلَنِي ؟ قَالَ : ((قَاتِلْهُ)) قَالَ : أَرَأَيْتَ إنْ قَتَلَنِي ؟ قَالَ : ((فَأَنْتَ شَهِيدٌ)) قَالَ : أَرَأَيْتَ إنْ قَتَلْتُهُ ؟ قَالَ : ((هُوَ فِي النَّارِ))**».[3]

ژباړه: دابوهریره ﷺ څخه روایت دې واي چې راغې یوسړی رسول الله ﷺ ته نو وی ویل ای د الله رسول خبر راکړه که یو سړې راښې ماڅخه زما مال اخلي نو نبي علیه السلام ورته وویل مه یې ورکوه مال دې هغه وویل خبر راکړه که هغه ما سره جګړه وکړي نو علیه السلام ورته وویل نو جنګ ورسره وکړه هغه وویل که هغه ما و وژني نوعلیه السلام ورته وویل ته شهید یې بیاهغه وویل که هغه مې و وژه نو علیه السلام ورته وویل هغه به په اور یعنې جهنم کې وي .

او مال هغه څه څخه عبارت دی چې انسان ورسره دحدڅخه زیات مینه اومحبت لري دې محبت اومینې تصویر داسې بیان وي، «وَإِنَّهُ لِحُبِّ الْخَيْرِ لَشَدِيدٌ»[4] انسان محبت مال سره ډېرسخت اوقوي دي یوخوامال سره دانسان محبت زیات اوطبعي دی او بلې خوامالی معاملات او راکړه ورکړه زیاته ده،نوطبعاً اومعمولاً په داسې صورتونو کې ستونزې

---

[1] - البحرالرائق، ج: ۵، ص: ۲۷۷.

[2] - هماغه البحرالرائق.

[3]- مسلم-کتاب الایمان- باب الدلیل علی ان من قصد أخذمال غیره بغیر حق کان القاصد مهدرالدم، ج: ۱، ص: ۱۳۱.

[4]- دالعادیات سورت، ایت: ۸.

ډېروي، نوکله چې هم ستونزه اوشخړه راشي نومورِ ديوداسې دين پيروان يوچې د ژوند په هرډراو کې راته لارښوني اواصول اوساسات لري چې سره د دې پېچيدلې حالاتو کې مورِ شخړو ته نه پريږدي بلکې مورِ ته شخړو څخه دخلاصون لارې اصول راښايي. نولومړی به هغه صورتونه ذکر کړو چې معمولاً هغې کې شخړې راپېښيږي، بيابه د هغې شخړو څخه دخلاصون لارې په سولې سره ذکر کړو، ځکه په سوله کې په هرصورت خيروي. والصلح خير.

لومړی په دين (قرض کې) منازغه اوشخړه دشخړې صورت داسې راځي چې په نيټه کې شخړه رامنځ ته راځي، په دې معنا چې په ټاکلې نېټه هغه مقدار پيسې نشي ورکولی نو داسې حالت کې شخړه منځ ته راځي، چې له دې شخړې دوتو لاره سوله ده، چې بايد سوله وشي، او دا سوله په حديث سره ثابته بلکې تشويق وربانديې هم راغلي دی.

لومړی سبب د سولې راوستلو دادی چې ياخوټول پور ورمعاف کړی او يا هم يو څخه برخه ورته ورمعاف کړی لکه په دې حديث کې: «عن عَائِشَةَ، قالت: سَمِعَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَوْتَ خُصُومٍ بِالْبَابِ، عَالِيَةٍ أَصْوَاتُهُمَا، وَإِذَا أَحَدُهُمَا يَسْتَوْضِعُ الْآخَرَ وَيَسْتَرْفِقُهُ فِي شَيْءٍ، وَهُوَ يَقُولُ: وَاللهِ لَا أَفْعَلُ، فَخَرَجَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيْهِمَا، فَقَالَ: «أَيْنَ الْمُتَأَلِّي عَلَى اللهِ لَا يَفْعَلُ الْمَعْرُوفَ؟» قَالَ: أَنَا، يَا رَسُولَ اللهِ، فَلَهُ أَيُّ ذَلِكَ أَحَبَّ».[1]

په دې حديث مبارک کې داخبره راغله کله چې هم رسول الله ﷺ داحالت وليد کله چې رسول الله ﷺ راغی نودهغه شخص څخه پوښتنه وکړه چې دحق له امله چيغې وهلې اوقسمونه يې کول نودلته په حديث کې دهغه حق په مقابل دي سړي سره په نرمي کولو موافق اوسوله وشه وويل(وله ای ذلک أحب).

د دې لپاره هغه څه وي چې کومه خوښه وي، په بل حديث کې داسې راغلي دي چې چا داسې وکړل چې لاس تنکي سره يې کذاره وکړه او هغه ته يې وخت ورکړنورسول الله ﷺ دتشويق لپاره هغه داسې فرمايي: «...أَظَلَّهُ اللَّهُ يَوْمَ القِيَامَةِ تَحْتَ ظِلِّ عَرْشِهِ يَوْمَ لاَ ظِلَّ إِلاَّ ظِلُّهُ.»[2]

ژباړه: داسړي به الله عزوجل دقيامت په ورځ د خپل عرش ترسيوري لاندې راولي په هغه ورځ به چې نورهيڅ سيوری به نه وي، کله چې هم ديومسلمان په اخرت دعقيدې اوباور لرونکی وي او هغه سره داسې ستره وعده وشي نولازمي ده چې هغه دډېرځه څخه ورتېرشي، او بيا خو په سوله کې ددنيا ګټې هم ډېرې دي، محبت، ورورولي، يووالی، اتفاق، حسد ورځخه له منځه ځي او دا سې نور.

[1] - البخاري – كتاب الصلح- باب هل يشيرالامام بالصلح، ج: ۳، ص: ۲۴۴.

[2] - صحيح مسلم، باب حديث جابرالطويل، ج: ۴، ص: ۲۳۰۲، دحديث نمبر: ۳۰۰۶.

امام بغوي [1](رحمه الله) په (صلح الاموال) کې ډېرمناسب اوپرځای تشریح کړې ده، هغه وایي چې (صلح الاموال) په دوه ډوله دی: صلح حطیطة، صلح معاوضة، دواړه په عین او د ین دواړو کې جائز دی.[2]

۱ – صلح الحطیطة: د هغې سولې له ډول څخه عبارت دی چې، دعوه کوونکي سره په ځینوبرخو دمدعاة صلح وشي، دښلګې په ډول، په دین کې په زرافغانیو دعوه ده په ځینو مثلاپه څلورسوه ورسره صلحه وکړي، ګویاکې ورته هبه کړې دی، او په عین کې چې نیم یاپه زیات اوکم دعوه وکړي.[3]

صلح المعاوضة: د هغې سولې څخه عبارت دی چې، په یوعین دعوه وکړي اوصلحه ورسره په بل عین وکړي یاپه دین دعوه وکړي نوصلحه ورسره په نورمال وکړي، نوکویا کې داصلح په معنی دبیعې سره ده نوکوم شرطونه چې په بیعه کې اړین دي هغه دلته هم اړین دي، دښلګې په ډول په مجهول څیز باندې صلحه جائز نه ده.[4]

د صلحې دحالاتو په کتو سره فقهاؤ صلحه وېشلې ده په دې معنا چې په صلحه کې به مدعی علیه یابه اقرار کوي یابه چپ پاتې کېږي او یا هم انکار کوي.

لومړی صورت: صلح الاقرار دوهم ته صلح السکوت دریم صورت صلح الانکار وایي جمهور فقهاء درې واړه صلحې جائز اومشروع ګڼي مګر امام شافعي (رحمه الله) د صلح الانکار په عدم جواز باندې قائل دی دلیلونه لري.[5]

لومړی: الله عزوجل په سورت النساء کې فرمایي: « ولاتأکلوا اموالکم بینکم بالباطل.»[6]

ژباړه: ای مؤمنانو! په خپلو مینځو کښې یو د بل مالونه په ناروا توګه مه خورئ

دوهم: نبي کریم ﷺ فرمایي: «لایحل مال امرئ مسلم الابطیبة من نفسه».[7]

جمهور فقهاء په دې قائل دي چې د صلحې ټول ډولونه جائز اومشروع دي کومه ستونزه په کې نشته په صلح علی الانکار کې هم ستونزه نشته خوشرطونه لري .

---

[1].الامام البغوي: نوم عبدالله دمحمد ځوی دعبدالغزیر لمسی- ابوالقاسم کینه ده، په بغوي سره مشهور دی په ۲۱۴ هـ کال زېږېدلی دی، په ۳۱۷ هـ کال وفات شوی دی، اصلادبغداد دی منسوب دی بغشور ښارته چې دخراسان له ښارونو څخه دی، پلار اوتره یې هم علماؤ وه= سیراعلام النبلاء. ص ۱۲۰۶

2- الصلح في ضؤالکتاب والسنة ج ۱ ص ۶۵۴

3.همدا ذکر شوی حواله ج ۱ ص ۶۵۸

4.همدا ذکر شوی حواله ج ۱ ص ۶۶۰

5- دالام للامام الشافعي، ج: ۳، ص: ۲۲۱.

[6]- دالنساء سورت، ایت:۲۹.

[7]- مسند احمد،، ج: ۳، ص: ۷۲، تخریج: الهیثمي رجاله ثقات، مجموع زواید، ج: ۶، ص: ۱۰۰. او زیلعي وای اسناد جید دی، نصب الرابة، ج: ۵، ص: ۱۶۹.

لومړی چې دمدعي په دې عقيده اوفکر باندې وي چې کومه دعوه کړی ده په حقه ده او دا ده ده حق دی، اومدعي عليه په دی فکرباندې وي چې دمدعي حق نشته دازماخپل حق دی خوبيا هم صلحه کوي د دې لپاره چې کومه دعوه کړې ده په حق دی او دا دده حق دی اومدعی عليه په دې فکر اواند باندې وي چې دمدعي حق نشته دا زماخپل حق دی خو بيا هم صلحه کوي د دې لپاره چې خصومة اوشخړه له منځه لاړه شي اوپخلاينه راشي او که يو لوری په خپل بطلان خبروي اوپوه وي چې دی په ناحق دی او دا کوم شی چې اخلي دايې حق نه دی بيا سوله باطله ده، او دا مال خورل حرام دي ځکه دا أكل بالباطل دي.[1]

د دوی دليل په دې ايت باندې الله عزوجل فرمايی «والصلح خير» دلته صاحب دبدائع الصنائع داسې ليکي: «وفی هذه الاية وصف المولی عزوجل الصلح بالخيرية والمعلوم ان الباطل لايوصف بالخيرية فكان كل صلح مشروع بظاهر هذا النص الاما خص بالدليل.»[2]

همدا شان دليل نيول په دې حديث باندې: قَالَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «**الصُّلْحُ جَائِزٌ بَيْنَ الْمُسْلِمِينَ، إِلاَّ صُلْحًا حَرَّمَ حَلاَلاً، أَوْ أَحَلَّ حَرَامًا، وَالمُسْلِمُونَ عَلَى شُرُوطِهِمْ، إِلاَّ شَرْطًا حَرَّمَ حَلاَلاً، أَوْ أَحَلَّ حَرَامًا.**»[3]

ژباړه: سوله جائزده په مابين دمسلمانانو کې مګرهغه سوله نه ده جائز حرام کړی حلال لره ، اويا حلال کړی حرامو لره ، او مسلمانان په خپلو شرطونو باندی دې مګر هغه شرط چی حرام کړی حلال لره ، اويا حلال کړی حرامو لره.

البته په دې حديث کې چې کوم استثناء راغلې ده هغه دې ډول صلحې ته نه ده شامل ځکه امام السرخسي[4] (رحمه الله) داسې وايي: «الصلح على خلاف مقتضى الحكم جائزبين الخصمين لانه يعتمد التراضي بينهما وبالتراضي ينعقد بينهما للسبب الموجب لنقل حق احدهما الى الاخربعوض اوبغيرعوض.»[5] ژباړه سوله په خلاف دمقتضى دحكم جائزده په مابين دشخړه کونکو کې ځکه اساس په رضامندې ده او په رضا مندې سره ټړون کيږي دوجهی موجبه سبب نه لپاره دنقلولو حق بل ته که په عوض سره وې او که بغير دعوض وي.

---

[1] - المغنی لابن قدامة، ج: ۷، ص: ۷، اوهمداشان بدائع الصنائع، ج: ۷، ص: ۴۹۳.

[2]- بدائع الصنائع للامام الكاساني، ج: ۷، ص: ۲۴۹۳.

[3] - دحديث تخريج مخکې تيرشوی دی.

[4]- شمس الائمة السرخسي: نوم يې احمد دپلارنوم احمد دی، دشمس الائمة لقب دی سرخس ته منسوب دی، په ۴۸۳ هـ کال کې زېږېدلی دی، ابن كمال باشاه دمجتهدين فی المسائل له جملې څخه ګڼلی دی، داحناف له مشرانو څخه دی دېرتاليفات لري لکه: شرح الجامع الكبير، شرح السيرالكبير او المبسوط اوداسې نور، دفات نيټه يې نه ده معلومه. البدايه والنهايه ج ۴ ص ۲۱۲

[5]- المبسوط للامام السرخسي: تحقيق: خليل محی الدين- نشركونكی: دارالفكر للطباعة والنشروالتوزيع- بيروت، لبنان، لومړی طبعه: ۱۴۲۱، ج: ۲۰، ص: ۱۳۴.

او د هغې له دليلونو څخه دامام الشوكاني (رحمه الله) داسې ځواب کړی دی: چې کله د صلحې عقد ددواړو خواو په خوښه سرته ورسيده، داخپله دلالت کوي چې دابطيبة النفس دی، او کله چې مال ورکړه بطيب النفس وي نوأكل بالباطل کې نه راځي.[1]

پايله: مورِ وينو چې ديادو شويو دليلونو پربنسټ دجمهورو رايه اونظر راجح دی، اوهم تعامل دخلکوهم په دې دی چې کله هم داشان شخړه رامنځته شي نو د ولس بانفوذه اشخاص هغه همدا شان نه پريږدي، بلکې هغه ته د حل لاره کوري او د حل همدامعقوله اومنطقي لاره ده چې دې شخړې ته بايد د مصالحې او سولې له لارې د پای ټکی کښودل شي.

پنځم مطلب سوله په کورنيو شخړو کې:

کورنۍ دنظام يو بنسټيز واحد دی چې له دې څخه ټولنه نظام منځ ته راځي، د کورنۍ جوړښتونو ته بايد جدي پاملرنه وشي ځکه که د کورنۍ په جوړښت اوتشکيل کې لږ غفلت هم وشي نوټولې انساني ټولنې ته سرخوړی جوړولی شي، نوبايد هغه اصول اوسپارښتنې چې اسلام مبارک دين دکورني جوړښت لپاره کړی هغې ته بايد په جدي ډول پاملرنه وشي ترڅوديوې پياوړې علمي، اخلاقي اوباحساسه کورنۍ څخه برخمن شو، په دنيايي ژوند کې اطمنان، ارامتيا، او په اخرت کې فوز اوفلاح د الله عزوجل خوښه خپله کړو..

له دې کوښښ او پلټنې وروسته که بيا هم دکورني جوړښت نه وروسته په کوم ډول ناخوالو لاس او ګريوان شو، نو الحمدلله مورِ ديوداسې دين پېروان يو چې په داسې وخت کې هم راته دنجات اوخلاصې لارې راښودلی دی چې د هغې په عملي کولو سره کولی شو، چې دبحراني حالاتو څخه ځان وساتو او د ژغورنې هغه لارې چارې عملي کړو کومې چې مورِ له داسې حالات راوباسي او دا طبعي ده ځکه دانسانانو طبعيتونو، اندونه، مختلف دي نو داسې حالاتو کې حتمي يو څه نادودو سره انساني ټولنه مخ کښداشي.

دلوی الله په فضل اوکرم چې اصولې اوشرعي لارې هم لرو ترڅو د هغې په کارولو له دې نادودو څخه خلاصی ومومو، ديادونې وړ ده چې داموضوع يوځه زيات تفصيل ته اړتيا لري چې په هغې کې دکورني جوړښت اصول او اساسات او همدا شان د کورنۍ ځانګړنی او شخړوصورتونو او اسباب اوهغې ته دحل لارې چارې، نو په يومطلب کې د هغې ځای پرځای کښدل مناسب نه وه، نوپه راتلونکې فصل کې موهغې ته يوځانګړی مبحث ورکړ ترڅوتفصيلي بحث ورباندې وشي.

[1] - نيل الاوطار للامام الشوكاني- نشرکوونکی: دادارة الطباعة المنرية- دوهم چاپ، ۱۳۹۱، ج: ۵، ص: ۲۵۵.

اووم مبحث د سولې ځانګړتياوې

په دې مبحث کې څلورمطلبونه دي.

په تيرمبحث کې داخبره تېره شوه چې سوله په درې ډوله ده سوله داقرار، سوله انکار، سوله دسکوت، نوکله چې د سوله عقد تمام شي نويوه خواه ته هم رجوع کولو حق نشته، مدعي مالک ده دبدل ګرځي نوددعوې حق نه لري اومدعي عليه لپاره حق داسترداد واپس غوښتلو نشته چې بدل وغواړي.[1]

په دې مبحث کې غواړو چې د سولې ځانګړنې ذکرکړو:

لومړی مطلب د سولې عقدمعاوضه دی اوکه غيرمعاوضه؟

معاوضه: هغه عقد ته ويل کېږي بيع دعرض ده په عرض باندې او دا يو ډول بيعه ده چې دواړو خواو په کې جنس وي چې دفقهاء په عامه اصطلاح کې ورته کله دمعاوضې او کله هم دمقايضې اصطلاح کارول کېږي، او کله ورته المعامله هم وايي.[2]

سولې ته په دې معنا عقد معاوضه ويل کېږي چې په دې عقد کې دواړه مدعي اومدعی عليه عوض اخلي، مدعي د سولې په مقابل کې يوڅه بدله ياعوض لاس ته راوړي اومدعي عليه ته مصالح عنه څېزورته خالص پاتی کېږي اومحل دنزاع په کې نه وي.[3]

او کله هم صلحه عقد غيرمعاوضه وي هغه په داشان وي چې کله يولوري ته مطلق عفوه وشي يعنې دمقابل لوري څخه هيڅ هم طلب نه کړي او په داسې شان سوله ته عقد بغيردمعاوضې نه وايي، نوويلی شو چې د سولې عقد هم عوضي عقد دی اوهم عقد بلاعوض دی او په عقودو کې داځانګړنه سولې ته حاصل دي.[4]

دوهم مطلب سوله په خوښه عقد دی:

سوله داسې يوعقد دی چې دواړه خواوې په خوشحالي اورضايت سره ترسره کېږي، ځکه دزور په صورت کې پايله هم مثبته نه لري، او د وهمه دا چې په دې باندې اثار نه مرتب کېږي، بلکې داعقد باطل ګڼل کېږي، صاحب دمدوني په دې هکله داسې وضاحت کوي: «واذا وقع الاكراه فی عقد الصلح فانه يكون باطلا كما قرر ذلك جمهور الفقهاء.»[5]

---

[1] - شرح مجلة الاحكام، ج: ۴، ص: ۵۶.

[2] - الموسوعة الفقهية، ج: ۲۰، ص: ۲۳۵.

[3] - الصلح والتطبيقات، ج: ۱، ص: ۱۰۸.

[4] - مخکې ذکر شوې حواله.

[5]- المدونة الكبرى، ج: ، ص: .

ژباړه: کله چې په سولې کې زور واقع شي نو دا سوله باطله ده هیڅ اثار ورباندې نه مرتب کي. لکه څنګه چې داخبره جمهورو فقهاو واضح کړې ده، او همدا شان په دې هکله درسول الله ﷺ په مبارک حدیث استدلال کړی دی،: **عَنْ أَبِي ذَرٍّ الْغِفَارِيِّ، قَالَ : «قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى الله عَلَيْهِ وسَلَّمَ : إِنَّ اللَّهَ قَدْ تَجَاوَزَ عَنْ أُمَّتِي الْخَطَأَ، وَالنِّسْيَانَ، وَمَا اسْتُكْرِهُوا عَلَيْهِ.»**[1]

ژباړه: ابوذر ﷺ واي : چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي چې بیشکه الله عزوجل تیر شویدې زما دامت له خطا، او هیر ې، او هغه حالت څخه چې زور پرې وشي .

په دې حدیث کې دهغه څه نه چې په هغه کې زور او زیاتی راغلی وي د هغې باندې احکام نه دي مرتب کړي.

فلهذا خلاصه داشوه چې سوله یوداسې عقد دی چې په رضا اوخوشحالي ترسره کېږي او په زور اوزیاتي سره به نه وي، ځکه وجود تراضي له دواړوو طرفونو څخه یومتفق علیه شرط دی دفقهاؤ ترمنځ، ځکه: «لان المقصود من عقد الصلح انها ء الخصومة وقطع دابر النزاع، واذالم یوجدالتراضي فی عقد الصلح انتفي الغرض الحقیقي من وراء الصلح وظل النزاع موجودًا.»[2] ژباړه: ځکه مقصود دسولې څخه دشخړو لمنځه وړل دي ،او دشخړې اساس ختمولې دي. نو کله چې هم رضامندې نه وې په ټرون دسولې کې نوهغه اصلي او اساسي هدف منتفي شو نو شخړه به پاتی شي . نوتراضي اورضامندي شرط ده او که داشرط منتفي شي نود سولې عقد فساد لوري ته ځي، او که تراضي اوتوافق موجود شي نوبیا سوله جائز اونافذه ده په دې هکله فقهاء داسې وایي: «واذا انتفي هذاالشرط صار عقد فاسدًا.»[3] ژباړه : نوکله چې شرط منتفی اولری شو نو ټرون اوعقد فاسد شو .

---

[1]- سنن ابن ماجه، ج: ۲، ص: ۳۵۴، تخریج: امام الباني (رح) صحیح ګڼلی دی.

[2]- الصلح والتطبیقات، ج: ۱، ص: ۶۴.

[3]- الصلح فی الضوء الکتاب والسنة، ج: ۱، ص: ۲۲۵.

دريم مطلب سوله يوه لازمي عقد دی:

په دې مطلب کې د دې خبره بيان او وضاحت کېږي چې کله هم د سولې عقد منعقد شو نو دا حق هيڅ لوري ته نشته چې له دې عقد څخه سرغړونه وکړي او دا ترون ونه مني داځکه چې د سولې عقد دهغه عقودو له جملې څخه دی چې لزوم اوحتمي دې نوځکه سرغړونه ترې صحيح نه ده، اوهيڅ يود متقاعدينو ته جائز نه ده چې دانعقاد څخه وروسته فسخ کړي پرته د بل لوري په خوښه لکه څنګه چې ترون کې ددواړو خواوو خوښه شرط ده، همدا شان په فسخ کې ځکه عقد لازمي دی.[1]

داپه دې معنا نه ده چې په هيڅ ډول فسخ نه قبلوي بلکې فسخه اوله منځه وړل دواړه لوريو پورې اړه لري که دواړه لوري په فسخ اوله منځه وړلو راضي شول بياله منځه وړلی شي، غواړم دلته دفقهاؤ هغه اقوال راوړم چې په دې دواړو خبرو په ډاکه دلالت کوي هم په دې چې عقد لازمي اوهم په دې چې په ددواړو لوريو په خوښه کولی شي چې فسخ او لمنځه لرې کړي.

په دې هکله امام سيوطي (رحمه الله) داسې وايي: «**العقود بين الاثنين على اقسام ... وذكر منها لازم بين طرفين قطعا كالبيع- والصرف... والصلح- والحوالة والاجارة...**»[2]

امام سيوطي (رحمه الله) وايي چې عقود چې دوه نفرو ترمنځ منعقد کېږي په ډېرو ډولونو دی، چې د هغې له جملې څخه لازمې د دواړو خواو څخه په قطعي ډول دي، لکه بيعه-صرف-صلحه حواله اواجارة، نوله دې کلام اوتحليل څخه څرکنده معلومه شوه چې د سولې عقد داسې يوعقد دی چې منعقد شي نويوطرف نشي کولی چې هغه له منځه يوسي، او که دواړه لوري په دې راځي وه بيا کولی شي خوالبته دا صحيح کار نه دی.[3]

---

[1]- الموسوعة الفقهية، ج: ۲۰، ص: ۴۲.

[2]- السيوطي: نوم عبدالرحمن، دپلارنوم ابوبکر-په جلاالدين سيوطي مشهور دی، په کال ۸۴۹، دمصرپه اسيوط ښارکې زېږېدلی دی، مشهور عالم دی، تفسير، فقه، لغت... کې ډېرتاليفات لري، الجامع الكبير-الاتقان فی علوم القران- الاشباه والنظائر، په ۹۱۱ هـ کال کې وفات شوی دی. وشذرات الذهب ج 8ص 51

[3]- الاشباه والنظائر: لسيوطي، نشرکونکی: دارالكتب العلمية، سنة ۱۴۰۳، بيروت، دوهم چاپ، چ: ۱، ص: ۱۱۸.

څلورم مطلب د سولې عقد منجزدی اوکه غیرمنجز:

منجز په دې معنا چې په هغې باندې کټه اواغیزه مرتب کېږي پرته له دې چې یودریم شي ته انتظار شي ترڅوهغه دریم شی وجود متحقق شي او بیا په دې فایده مرتب شي، اوغیرمنجزیاپه بل تعبیر معلق اومضاف.

هغې ته وایي چې کټه اواغېزه یې یودریم شي پورې تړلې وي که هغه دریم شی موجود شی نوپه دې باندې کټه اواغیزه مرتب کېږي او که هغه موجود نه شي نو دا معلق څیزدتعلیق په حالت کې پاتې کېږي، هیڅ اثارورباندې نه مرتب کېږي.[1]

دتعلیقي حالت لپاره مورِ په فقه کې مشهورې بېلګې دعتق اوطلاق ورکوو لکه په ساده ژبه کې یوه بېلګې وړاندې کړو: هغه داسې چې خپل ځوی سره ژمنه وکړې که چېرې پوهنتون کې ښه درجه ترلاسه کړې اوهم دې سلنه (فیصدي) پوره وي نودیوې جائزې وعده ورسره وکړي په دې صورت کې ستا ځوی دغه ټاکلې موخې ته چې هغه ښه درجه اوفیصدي واخلي او خپله ډالۍ ترلاسه کړي نودیته تنجیزوایي.

نودلته هم د سولې موضوع همداسې ده کله چې هم دیودریم څیزپورې تړل شوی نه وي نوخپل ځان ته دانجاز حالت غوره کوي لکه سوله دبدل اوعوض په مقابل کې نوکله چې داقرار په صورت کې سوله وشي نودلته منجزه ده حکم دبیعې اخلي[2] هغې باندې اثارمرتب کېږي، او که سوله په بدل د دین اوقرض کې وي نوپه دې صورت کې قبض کول دبدل دین دقرض اړین دي نودلته هغه اثارچې سولې باندې مرتب کېږي نو هغه ترقبض پورې تړلې دی. نوخلاصه داشوه چې سوله کې دواړه صورتونه راځي هم منجز اوهم معلق .[3](ده دی صورتونه تحقق واضح دي)

---

[1]- الصلح وحکامه، ج: ۱، ص: ۱۲۵.

[2]- المبسوط، ج: ۲، ص: ۱۴۲.

[3]- الصلح والتطبیقات، ج: ۱، ص: ۱۱۰.

دوهم فصل

په مدني اوکورني حقوقو کې شخړې او د هغې حل لارې چارې:

په دې په دی څېړکې کې په لویه کې دوه مبحثونه دي،لومړی مبحث په مدني اوټولنیزو حقوقو کې شخړې او د حل لارې چارې د اسلامي شریعت او قانو له نظره.

دې فصل کې د موضوع اصلي صلب باندی بحث کیږي چې په دې فصل کې هغه مباحث اومطالب ځای پرځای شوي دي چې ډېری دانساني ټولنې حقوق په کې راوړل شوي دي که هغه کورني حقوق دي اوهم ټولنیزحقوق دي، حتی الوسعه به د هر عنوان پېژندنه او ورسره په هغې کې د شخړو صورتونه او د هغې شخړو ته د حل لارې چارې چې د اسلامي شریعت فقهي له کتابونو او د موضوع اړوند لیکنو اوتجربوڅخه کټه پورته کړو.

لومړی مبحث په ټولنیزو حقوقو پېژندنه کې :

په دی مبحث کې ټول دولس مطلبونه ځای پرځای شوي دي چې دنوبت په ډول به د هریوڅخه څېړنه وکړو.

لومړی مطلب مدني حقوق او ډولونه :

په دې مطلب کې په مختصرډول دمدني حقوقو پېژندنه او د مدني حقوقوډولونه دڅېړنې لاندې نیسو.

مدني حقوق: له هغه حقوقو څخه عبارت دي چې شخص ته یولړحقوق له دې کبله چې شخصي مصالحو ته یې د تحقق ورکولو لپاره هڅه اوهاند کوي ثابت ګرځي.[1]

د دې تعریف پربنسټ دادډول حقوق هر وګړي ته ثابت دي چې په هیواد کې ژوند کوي برابره ده که هغه خپله دهېواد تبعه وي او که بهرنی وي.

دوهم: دمدني حقوقو ډولونه: په لویه کې مدني حقوق په دوه ډوله دي: عمومي-خصوصي.

مدني عمومي حقوق: له مدني حقوقو له څانګې څخه عبارت دی چې دانسان ټولو اړخونو پورې تعلق لري، اوانسان له وجود پرته د هغې تصور هم نکېږي.[2]

[1] - دحقوقو مبادي علم، پوهاند دادمحمد نذیر ژباړن: عبدالحمید وردک- چاپ کال، ۱۳۹۳ هـ ش الفاروق مطبعه، خپروندیه اداره، انتشارات حامد رسالت، ج: ۱، ص: ۳۴۱.

[2] - هماغه دحقوقو مبادی علم.

عمومي حقوق بیاپه خپله دوه ډولونه لري لکه عمومي مادي حقوق، عمومي معنوي حقوق، او دا خپل ځانګړنې لري چې د هریو پېژندنه اوځانګړنې دقوانینو په کتابونو کې په تفصیل سره ذکر دي.[1]

خصوصي حقوق: له هغه حقوقوڅخه عبارت دي چې د ټولنې ټولو وګړو ته نه ثابتېږي، بلکې هغه ډول وګړو ته ثابتېږي چې د هغې دکسب داسبابو لرونکی وي، لکه دملکیت حق، ملکیت هر وګړي ته نه وي حاصل بلکې هغه چاته حاصلېږي چې دملکیت اسباب ولري، ملکیت حق ډېراسباب لري چې په خپلو کتابونو کې تفصیل ذکر دي.[2]

خصوصي حقوقو ډولونه: کورني حقوق، مالي حقوق... او دا سې نورچې د هریو پېژندنه اوځانګړتیاوې دحقوقو په کتابونو کې په تفصیل سره ذکر دي.[3]

دوهم مطلب: دبیوعو پېژندنه:

په دې مطلب کې دبیعې پېژندنه، ډولونه او اړونده مسائل دڅېړنې لاندې نیول کېږي.

البیع: بیعه په لغت کې مقابله دیوشي بل شي سره دبدلولو اومعاوضې په ډول، ځکه هریو دمتبایعین(اخیستونکی اوخرڅوونکی) یو بل ته خپل جنس ورکوي، داخیستلو او ورکولو لپاره، لغوي تعریف یې په لسان العرب په داسې ډول کړی دي:

«البیع فی اللغة معناه مبادلة شئ بشئ علی وجه المعاوضة وهو مشتق من الباع لان کل وحدمن المتعاقدین یمدباعه للأخذ والإ عطاء.»[4]

ژباړه : بیعه په لغت کې بدلول دیوشي دي په بل شي باندې په طریقې دمعاوضې او دا اخیستل شوې د(الباع) مادې څخه ځکه هریو د ټرون کونکوڅخه خپل سامان اخیستې او ورکونې ته وړاندې کوي.

اوشرعي تعریفونه مختلفو فقهاو په مختلفو تعبیرونو سره کړي دي چې دلته به مو کوښښ داوي چې یو جامع او کره تعریف ذکرکړم.

حنفي فقهاء په خپلو کتابونو کې په مختلفو تعبیراتو سره تعریفونه ذکرکړي دي چې د هغې له جملې څخه به دلته دعلامه الکاساني تعریف ذکر کوم.

---

[1] - دحقوق علم مبادي، ج: ۱، ص: ۳۵۶.

[2] - مخکني مرجع.

[3] - هماغه دحقوق علم مبادي.

[4] - لسان العرب، مادة بیع، ج: ۱، ص: ۴۰۱.

البيع: «مبادلة شئ مرغوب بشئ مرغوب وذلک يکون بالقول وهو المسمى بالإيجاب والقبول وقديکون بالفعل وهو بيع المعاطاة.»[1]

ژباړه: ديوخوښ شوي شي بدلول په بل خوښ شوي شي باندې، او دا اکثر په وينا اوخبرو سره کېږي چې هغې ته ايجاب او قبول وايي او کله په کړنه اوعمل سره وي لاس په لاس چې دېته بيع المعاطاة وايي.

چون دبيعې او شراء اخيستنې اوخرڅونې معاملې په ورځني ژوند کې ډېرې دي غواړم چې په دې مطلب کې يوڅه ډېرتم پاتې شم چې ترڅودا موضوع يوڅه ښه روښانه شي.

دتعريف ترڅنګ به په لاندې موارد بحث کوو:

۱- دبيعې ډولونه اواحکام.

۲ – دبيعې شرطونه.

۳.دبيعې اداب.

مهمه ده چې په مختصر ډول دبيعې له ادابو څخه يادونه وکړم. بيعه ډېراداب لري چې د هغې له جملې څخه يو څو ته په لاندې ډول اشاره کوو.

دبيعې اداب:

- په کټه کې به زيادت يعنې غبن فاحش نه کېږي.
- **صدق المعاملة:** يعنې ريښتونی به وي په هغه صفات به مبيعه پلوري چې هغه صفات په کې موجود وي.
- په معامله کې په اسانتيا څخه کار اخلي که بائع وي او که مشتري.
- قسمونه به نه خوري، په خپل جنس اوپيسو باندې لکه څنګه چې بدبختانه عادت دی.
- بايد ډېرصدقاتو څخه کارواخلي، چې هغه نيمکړتياوي پوره کړي کوم چې ترې واقع شوي دي.
- او کله چې معامله پورونو ته ورسيږي، نوبايد حتمي شکل وليکل شي.[2]

[1] - بدائع الصنائع فی ترتيب الشرائع الکاساني، ج: ۵، ص: ۱۳۳.

[2] - الفقه الاسلامي وادلته، ج: ۵، ص: ۵-۶.

دبيعې شرطونه:

دبيعې شرطونه په څلورډوله دي:

۱ – دانعقاد شرطونه.

۲ – دنفاذ شرطونه.

۳ – دصحت شرطونه.

۴ – دلزوم شرطونه.[1]

دانعقاد شرطونه : له هغو شرطونه څخه عبارت دي، چې دبيعې صحت اوبطلان پورې اړه لري .

دنفاذ شرطونه: دنفاذ شرطونه هغه دي چې کله شتون ولري بيعه نافذه کړئ او که موجود وي نوبيعه نه نافذ کېږي..[2]

دصحت شرطونه: له هغو شرطونو څخه عبارت دي که په بيعه کې موجود شي بيعه صحيح ده او که موجود نه شي، نوبيعه فساد لوري ته ځی.[3]

دبيعې ډولونه: بيعه کې ډولونه لري، اوهرډول ځانګړی احکام لري نوپېژندنه يی د هر ډول اړينه ده، په بيعه کې فقهاء لاندې تقسيمات کړي دي:

- دمبيعې له نظره دبيعې ډولونه
- دثمنوله نظره دبيعې ډولونه.
- د حکم له نظره دبيعې ډولونه .

[1] - دررالحکام شرح مجلة الاحکام: علی حيدري، تحقيق: المحامي، الفقهي، الحسيني، ناشر: دارالکتب العلمية- لبنان-بيروت- دوهم چاپ- کال ۱۴۰۳.

[2] - ردالمختار، ج: ۹، ص: ۲۰۱.

[3] - ردالمختار، ج: ۹، ص: ۲۰۱.

دمبیعې له نظره بیعه په څلورډوله دی:

- مطلقه بیعه
- صرف بیعه
- مقایضه بیعه
- دسلم بیعه

دثمنو له نظره بیعه په څلورډوله ده:

- مرابحه بیعه
- تولیه بیعه
- وضیعه بیعه
- مساومة بیعه

د حکم له نظره بیعه په پنځه ډوله ده:

- صحیحه نافذه لازمه بیعه.
- صحیحه نافذه غیرلازمه بیعه.
- صحیحة موقوفه بیعه.
- فاسده بیعه.
- باطله بیعه.

دریم مطلب: په بیعوکې د شخړو اسباب اوله منځه وړلو وسائل اولارې چارې

لومړی به داذکر کړو چې په بیعو کې کله شخړې رامنځته کېږي؟

ایا د شخړو لپاره کوم ځانکړی علتونه او اسباب شتون لري چې کوښښ وشي د هغې څخه ځان وساتو ترڅو په دی ستراوورین کې اخته نه شواو د شخړو مخنو ی وشي.

دوهم به دا ذکر کړو که چېرې دې ستونزو سره مخ شلو شخړه پیښ شوه بیا دخلاصي اونجات لاره څه ده چې زمونږ د موضوع محور هم ده په کومو لارو چارو به سوله کوو ترڅوشخړې ته به د پای ټکی کېږدي وه.

لومړی په بیعه کې د شخړو صورتونه:

په عمومي ډول چې ورځني ژوند ته کتنه وشي او د معاملاتو ساحه دنظر لاندې ونیول شي، نوجوتیږي، چې په بیعو کې په لاندې صورتونو کې شخړې رامنځ ته کیږي:

- ✓ چې کله په مبیعه کې عیب پیدا شي.
- ✓ دمبیعې په ملحقاتو کې.
- ✓ شخړې په ثمن کی د اختلاف له وجې.

داهغه درې صورتونه دي چې معمولا دمتبایعنو ترمنځ کې شخړې رامنځ ته کیږي د هریو څخه په یویو باندې څېړنه وکړو.

لومړی: چې کله مبیعه کې عیب پیدا شي او د همدې عیب په اساس شخړه رامنځته شي نوپه دې صورت کې لاندې احتمالات دبحث ور دی.

۱ – ایا مشتري ته جائزدي چې مبیعه دعیب سره له ځان سره وساتي او د هغه عیب په اندازه په ثمن(پیسو)کې کمی راولي؟

- ➢ چې عیب کله پیدا شوی دی بائع سره، که مشتري سره؟
- ➢ که برأت اوبې زاري شرط کړې وه بیاپه څه کیږي؟
- ➢ کله چې مشتري دخیار عیب په اساس مبیعه رد کوي، نوپه رد کې به عجله کوي او که دځنډ سره هم رد کولی شي.

اول صورت: دپیسو کمبود دعیب په اساس په دې کې دفقهاء ترمنځ اختلاف دنظردي، فقهاء په دوه ډولو ویشل شوی دي.

۱ – لومړی ډله اومذهب دادی چې په دې صورت کې مشتري ته داجائز نه دی چې په بدل دعیب کې به څه کمبود په ثمن کې راولي دي یامبیعه رد کوي، خپلې پیسې به اخلي اویاپه ځان سره ساتي پرته دکمبود دثمن څخه.

دامذهب دجمهورو دی: احناف [1]، مالکیه، شوافع.[2] (رحمهم الله)

---

[1]_ شرح فتح القدیر لکمال الدین محمد بن عبدالواحد السیواسي، نشرکونکی: دارالفکر-بیروت، دوهم چاپ-ج: ۶، ص: ۳۵۶.

[2]_ مغنی المحتاج، ج ۲، ص: ۵۰.

دوهم نظراوقول دامام احمدبن حنبل (رحمه الله) دی دوی وایي چې داسې کول جائز دی دواړه فریقه خپل ځانکړي دلیلونه لري

۱ – لومړی فریق یاجمهور استدلال کوي په مشهور حدیث باندې چې دټولو په نزد باندې شهرت ته رسیدلې، چې هغې ته حدیث دمصراة وایي په هغې کې نبي کریم علیه السلام مشتري ته دوه اختیاره ورکړي بین الامساک من غیرارش او الرد: حدیث داشان دی قال علیه السلام «« **من اشتری مصراة فهو بخیر النظرین بعد ان یحلبها ان رضیها أمسکها وان سخطهاردها وصاع من تمر**»»[1]ژباړه : چاچې هغه ځاروې واخیست چې په غولانز کې شیدې جمعه کړې وي، مشتري دوه اختیاره لري پس د هغې چې ولوشله که خوښه شوه ودئ ساتي او که خوښه ئې نه شوه واپس دی کړي یوې پیمانې خرما سره.

دوهم فریق وایی چې ځکه به تاوان اخلي که ځان سره ایسار وله، ځکه ثمن یې پوره ورکړي او یوجزء دمبیعي شتون نه لري نوفلهذا دهغه جزء ناقصه تاوان به اخلي.

دلومړي فریق خبره قوي ښکاري، لومړی له دې وجه دبخاري حدیث په دلیل کې لري ،

او د وهم ځکه دا چې دجمهورو قول دې او هغه هم عادي جمهور نه دی بلکې أئمه ثلاثه دي.

دوهمه مسئله چې داعیب دچاپه ملکیت کې پیداشویو دی؟

کله کله بلکې ډېرى ځل چې مبیعه کې عیب پیداشي نو یو بل ته نسبت کوي بائع په مشتري اومشتري په بایع ورتپي حتی چې موضوع شخړې ته ورسیږي، نودفقهاو په دې هکله څه نظر دي غواړو چې په دې هکله د هغو ی نظریات دلته سره ذکر کړو، نوعیوب په دوه ډوله دی

1_ یوقسم هغه عیوب دي چې خپل په ذات کې حال وایي په دې معنا چې داعیب چاځخه پیداشوی دی که عیب داسې وي چې مخکې وي لکه پیدا یشي ړوند والی، کودوالی، بدرنګي یا په موټرکې تیټ مادل نوپه داسې عیوب کې خوښکاره ده چې داعیوب دبائع په ملکیت کې وه،

2_ او که عیوب داسې وي چې په ښکاره معلومېږي چې تازه اوحادث دي.

لکه تازه زخم، دموټر شیشه ماتېدل، او د ټته ورته نوپه داسې عیبونو کې ښکاره ده چې دادمشتري په ملکیت کې پیداشوی دي، نوپه داسې حالات کې فیصله کول اسانه دی نوپه داسې صورتونو کې نه قسم ته اړتیا شته او نه شاهدانوته په څرګند ډول ملامت اوسلامت معلوم دی.[2]

[1] - البخاري کتاب البیوع- باب ان شاء ردالمصراة، دحدیث نمبر، ۲۰۵۱، ج: ۳، ص: ۷۳.

[2] - بدایع الصنائع، ج: ۵، ص: ۲۸۰.

3_ بل ډول دعیبونو هغه دی چې ددواړو احتمالات په کې وي، په جرم اویقین سره جهت نه شي معلومیدلی نو دا موضوع چې څنګه په معاملات کې یوڅه ستونزمنه ده دغه شان دفقهاو اقوال هم په مختلف دي، په دې کې هم دفقهاءو دوه نظره دي فقهاء په دوه ډلو ویشل شوي دي: یو طرف جمهورعلماء اوبل طرف ته بعضې علماء وایي.

لومړي قول دجمهور علماء: لکه احناف، مالکیه، شوافع او په یو روایت دامام احمد (رحمه الله) دوی وایي په داسې حالاتو کې قول معتبر دبائع دی خوسره دقسم په داسې الفاظو به قسم کوي چې داشی ما خرڅ کړی دی په داسې حال کې چې روغه او جوړه هیڅ عیب په کې نه وه، البته داپه هغه وخت کې چې مشتري سره کواهان نه وي اوبائع انکار دعیب کوي اوقسم په منکر وي.[1] البته مالکیه اوشوافع (رحمهم الله)په دې موضوع کې یوڅه تفصیل کوي،

دوهم قول دبعضې شوافع اوحنابلو دی دوی وایي چې په داسې حالاتو کې قول دمشتري وي اوقسم به کوي د الله په نوم چې داجنس ما همدا شان عیب سره اخیستی دی او دا عیب ما سره نه دی پیداشوی، دواړه فریقه خپل استدلالات لري.

دجمهورو دلیلونه: اصل دادی چې مبیعه سالمه وي دعیبونو څخه همدا علت دی چې عقد وربانديې راغلی دی داسالم والی اصل دی او د همدې اصل دعوه بائع کوي نو ځکه قول ددهمدې معتبر دی دوهم دادی چې مشتري دفسخ دعوه کوي اوبائع انکار کوي او دا صل دی القول قول منکر.[2]

دوهم فریق دلیلونه: اصل دادی چې دمعیوبه کې عقد اوبیعه نه وي راغلي اومشتري دعقد څخه انکار کوي اوعقد نفې کوي فکان القول قول من ینفي ذلك.[3]

دلته دجمهورو قول راجح قول دی ځکه دلیلونه پې قوي دي.

حنفي فقه کتابونوکې په عیبونو کې یو څه یوتفصیل په لاندې ډول شته:

ځینې عیبونه داسې ښکاره وي چې هرانسان ورته وګوري وربانديې پوهیږي نو داسې عیبونو کې دقاضي او یا هم دهغه چاقول چې قاضي مقرر کړي وي معتبر دی ځکه په دمشهور متل پربنسټ چې وایي عیان ته څه بیان دی، او که عیب داسې وه چې خاص ځانګړی متخصصین وربانديې پوهېدل لکه دځینو ناروغیو باندې چې پوشیده (پټ) وي یواځې ډاکټران پرې پوهیږي نوبیا دډاکټرانو خبره اووینا دمنلو وړده، او همدا شان دعیبونو څېړنه کېدای شي.

---

[1] - بدائع الصنائع، ج: ۵، ص: ۲۷۹.

[2] - مغنی المحتاج، ج: ۲، ض: ۶۱.

[3] - بداية المجتهد ونهاية المقصد لابن رشدالمالكي، - نشركوونكي: مطبعة مصطفى البابى الحلبي واولاده مصر، څلورمه طبعة: ۱۳۹۵ هـ ج: ۲، ص: ۱۸۳.

او که چېرې مشتري د خپل ې مدعی دثبوت لپاره شاهدان رانه وستل نوپه دې صورت کې به بائع ته قسم ورکولی شی او که نه په دې هم دوه قوله دي صحيح قول دادی قسم به نشي ورکولی اومشتري نه حق واپس کولو هم نشته دهمدې قول پربنسټ همدا قول دمالکيه دی.[1]

دريمه مسئله: کله چې يوشئ وپلورې په شرط دبرأت د هرعيب نه دادول برأت شرطول صحيح دی او که نه په دې کې هم دفقهاءو اختلاف دی.

داحنافو په اند داشرط مطلق جائز دی په حيوان کې وي او که غير د حيوان څخه وي ځکه عام دی چې دهغه عيب په وخت دبيعی کې وي او که وړاندې په کې وي وروسته خبروي او که نه وي خبر حتی تروخت دقبض پورې که په کې پيداهم شي په عيب حادث کې دامام احمد (رحمه الله) اختلاف شته.[2]

داحنافو دليل دادی چې دابراء ده اوابراء اسقاط دی او دا تصرف دعاقل بالغ دی په اسقاط دحقوق کې او دا صحيح دی.[3]

دمالکيه په نزد هم جائز دی البته خاص کړی دی غلامانو پورې او په نورو شيانو کې جائزنه دی.او يو روايت ترې عام هم راغلی اوبل روايت ترې داهم راغلی چې په ټول کې په عدم جواز قائل دي.[4]

اوشوافع وايي چې پرته دحيوان نه برأت کولی شي«وانه يبراء فی غير الحيوان کالثياب والعقار.»[5]

اوحنابله وايي که چېرې بائع په عيب خبر وه اوپټ يې کړي بيابراءت صحيح نه دی او که په عيب خبرنه وه بيابرأت وکړه صحيح دی.[6]

هرمذهب خپل دلائل لري چې کومو کتابونو باندې حوالي ورکړای شوی دې هملته ټول تفصيلات ذکر دي.

څلورمه مسئله: کله چې دعيب پربنسټ سره مبيعه ردکوي نو فی الحال او که څه وخت پس، کله چې مشتري ته خيار دعيب حاصل شو اومبيعه عيب جن شوه او د عيب پربنسټ ردکول غواړي نورد او واپس کول فی الحال کوي، او که وروسته هم کولی شي نوپه دې مسئله کې هم دوه نظره دفقهاو دي.

---

[1] - بداية المجتهد، ج: ۲، ص: ۱۴۷.

[2] - شرح فتح القدير، ج: ۶، ص: ۶۹۳۰، او بدائع الصنائع، ج: ۵، ص: ۲۷۶.

[3] - بدائع الصنائع، ج: ۵، ص: ۱۷۶.

[4] - بداية المجتهد، ج: ۲، ص: ۱۴۸.

[5] - مغنی المحتاج، ج: ۴، ص: ۱۹۷.

[6] - المغنی، ج: ۴، ص: ۱۹۷.

لومړی مذهب دادی، «ان الرد بخیار العیب یکون علی الفور.» ژباړه : واپس کول په اساس دخیار عیب سره هغه به پورې وې .

ځکه چې کله هم مشتري په عیب خبر شو او دا مبیعه فی الحال واپس نکړه سره د دې چې دواپس کولو کوم مانع هم نشته، «نو دا نه واپس کول دا نښه دقبلولو ده او همدا شان که دعیب باندې دخبریدو څخه وروسته په مبیعه کې داسې تصرفات وکړل چې هغې دلالت کوه په رضاباندې نو دا هم دلالت کوي په رضامندي او قبولو باندې، داقول دیارانو دی په احنافو کې او د مالکیه اوشوافعو دی او یو قول حنابلو هم دی.[1]

دوهم قول دامام ابي حنیفه (رحمه الله)اوراجح قول دامام احمد (رحمه الله)هم دی، دوی وایي چې کوم شی چې خیار عیب په اساس رد او واپس کوي که فی الحال یې رد نه کړو او وروسته والی هم په کې وکړه کومه ستونزه نه لري.[2]

دلومړی فریق دلیلونه: حدیث دمصراة په فوریه دلالت کوي ځکه تصریه له دې وړاندې نه معلومیده.

دوهم دلیل: که تراخي وکړي بیاضرر دی بائع ته په تراخي کې نو اړینه ده چې عجالة اوبالفور به واپس کوي .[3]

دوهم دلیل: دا رد او واپسې ثابت حق دمشتري لپاره دی په دلیل قاطعه سره اوحق محدود کول وربااندی یودلیل قاطعه غواړي چې د شریعت معتبرو سرچینو څخه وې لکه القران ،السنة ،الاجماع او داسی دلیل نشته.[4]

دلته په دې مسئله کې هم دلومړی مذهب قول راجح اوقوي ښکاري ځکه دلیلونه هم قوي دي بل ترټولومهم دلیل دادی چې عرف کې هم عمل درامد په همدې لومړی مذهب ولاړ او راروان دی، ځکه چې کله هم مشتري تاخیریعنې وروسته والې وکړي نوبائع ورته وایي چې کله دی هم داعیب لیدلې و نو په همغه وخت کې په به دې راوړی وه، ما همغه وخت کمپني یاهغه کوم ځای نه چې مولاس ته راوړی ورکوه چې دومره ناوخته دې راوړه معلومېږي چې خوښ دی دې، زه یې اوس نشم اخیستلې ځه الله دې مل شه اومشتري په خپله لاره رخصته وي، والله اعلم بالصواب.

دوهم صورت: چې اکثره په هغې کې شخړې راپېښېږي

هغه دمبیعې په ملحقاتو او یا هم توابعو کې شخړې رائې هغه په داسې شکل چې ډیرکرته یوه مبیعه چې خرڅیږي، هغه ډېرملحقات اوتوابع لري نودشخړې صورت داسې پېښېږي چې بائع وایی چې داملحقات په مبیعه کې نه دي داخل مشتري وایي چې دا په مبیعه کې داخل دي، نوشخړې رامنځته کېږي.

---

[1] - شرح فتح القدیر، ج: ۶، ص: ۳۹۶، حاشیة الدسوقي، ج: ۲، ص: ۵۶، المغنی ، ج: ۴، ص: ۱۶۰.

[2] همدا حواله

[3] - مغنی المحتاج، ج: ۲، ج: ۲، ص: ۵۶، المغنی، ج: ۴، ص: ۱۶۰.

[4] - المعلیّ ابومحمد علی بن احمد الاندلسي الفوطي، نشرکوونکی: دارالفکرللطاعبة والنشروالتوزیع، دوهم چاپ، ج: ۹، ص: ۷۳۴.

د دې لپاره چې مبیعه ملحقات لري او هغه محلقات دجنجال وړ کېږي هغې لپاره په ورځني ژوند کې ډېرې بېلګې اوصورتونه شته، لکه ونې خرڅې شي ایاپه ونو کې میوه شامل ده او که نه پانې شامل دي، کورونه خرڅې شي کوم شیان په کې شامل دي اوکوم څه نه دي شامل له دې ټولوڅخه به یوائې دکورنو مثال کې دا مسئله واضح کړم.

لکه چې کور خرڅ شي مطلق پرته دجزیاتو څخه نو دا شامل دی کور او هغه ثوابت چې کور کې شتون اړین ګڼل کېږي لکه دروازې ځینې... کور ابادي اوځمکه ټول په بیعه کې داخل دي، پرته دمنقولات څخه[1]

البته دیادونې وړ ده هغه څېزونه چې منقول دي هغه په بیعه کې نه دی داخل لکه دکور فرشونه، پردې، ظرفونه .... داپه بیعه کې نه دی شامل مکرهغه منقولات چې ددمصالحو څخه ګڼل کېږي هغه په بیعه کې شامل دی، او که نه په دې کې دوه قوله دی:

١ – لایدخل فی البیع لانه منفصل.

ژباړه: په بیعه کې داخل نه دي ځکه دمبیعې څخه جدا دي .

٢ – یدخل فی البیع لانه من مصالحها فاشبه المتصل.

ژباړه: په بیعه کې داخل دي ځکه دمصالحو دبیعې څخه نو هغه څه سره شباهت پیدا کړه چې مبیعې سره متصل وي .

البته یومسئله دفقهاء ترمنځ اختلافي ده هغه دا چې یوکس کورخرڅ کړه او په هغې کور کې ډېرې ونې ولاړې دي ایا داونې بیه کې شامل دي او که نا؟ نوپه دې مسئله کې دشوافعو اواحنافو ترمنځ اختلاف دی، شوافع په ذکرشوی مسئله کې یوڅه تفصیل کوي په داسې شکل یوقول دادی چې دا ونې داخل دی اوبل قول دادی چې نه دي داخل په دریم قول کې تفصیل دی په داسې شکل ګورو چې داونې څومره دي که دومره ډېرې وي چې دباغ اطلاق وربانديې کېږي نوبیا نه دي داخل او که لږ وي چې دباغ اطلاق وربانديې نه کېږي یاداخل دي، خود دوی په اند هم داخبره هغه وخت اختلافي ده چې کله هم دابیعه مطلق وشي پرته دذکر دیوشي څخه که ذکر په هرنوعه شوي وه بیا په بیعه همغه شکل سره وي.[2]

داحنافو مذهب په دې هکله اسانه دی دوی وایي: «**یدخل فی بیع الدارالبستان مطلقًا اذاکان داخل الدارفان کان خارجها فلایدخل.**»[3]

---

[1] - مغنی المحتاج، ج: ٢، ص: ٨۴.

[2] - فتح القدیر بشرح الوجیز، لعبدالکریم بن محمد الرافعی القزوینی، نشرکونکی: دارالحدیث، للکتب-بیروت، دوهم چاپ: ١٣٩٨ هـ ق، ج: ٩، ص: ٣۴.

[3] - شرح فتح القدیر، ج: ۶، ص: ۶٨١.

ژباړه: په بیعه دکور کې باغ اوباغچه داخل دي مطلق کله چې په دننه دکور وي .

دیادونې وړده چې په دې ټولو صورتونو کې شخړې راځي او واقع کېږي خوهلته بیایو بل ته حقوقو ته تیریږي اوهم بیعه فسخه کوي د دې لپاره چې شخړه له منځه ولاړه شي، اومعامله جوړه شي، چې په راتلونکي مطالبوکې به ورباندې بحث وشي

دریم صورت: چې بُیوعو(راکړه ورکړه) کې شخړه رامنځ ته کېږي، هغه په ثمن کې راځي، اوثمن اختلاف لپاره ځوصورتونه دي چې هریوه ته به جدا اشاره وکړو.

لومړی: اختلاف په ثمنو په اندازه کې راغلی بائع واي چې مبیعه په شلو افغانیو ده اومشتري وایي چې نه په لس افغانیو ده اوحال داده چې چې کوم سامان باندې معامله شوی ده موجود دې، او یو طرف سره ګواهان نه شته، ځکه که هرلوری سره ګواهان وي فیصله دهمغه په طرف کېږي ځکه فقهې قاعده ده «**قضى لمن اقام البية اذا لبينة مبينة.**»[1] ژباړه: فیصله به هغه چالپاره کیږي چې ګوهان راوړل ، ځکه ګوهان ښکاره کونکې دې .

نوپه داسې حالات کې دفقهاءو اختلاف نظر دی په درې ډولو ویشل شوي دي:

لومړی مذهب: دامام ابوحنیفه اوامام شافعي او دامام احمدبن حنبل اویو روایت دامام مالک دی، دوی وایي چې په داسې صورت کې به دواړه قسم کوي اوبیعه به فسخه کوي ځکه کله چې دواړه دعواوکړ په نفې ده دعوا د طرف مقابل او په اثبات د خپل نوبیعه له منځه ځي.[2]

دوهم مذهب: دامام زفر اویو روایة دامام مالک اوظاهرية دی، دوي وایي: چې معتبربه په داسې حالاتو کې قول وینا دمشتري وي خوسره دقسم.[3]

دریم مذهب: دامام شعبي[4] اوامام ابن منذر[5] دامام احمد بن حنبل څخه دوی وایي چې معتبرقول دبائع دی سره دقسم نه.[6]

هریو مذهب خپل دلیلونه لري په کومو کتابونو کې چې حوالې ورکړای شوي دي هلته تفصیل موجود دي.

---

[1] - حاشیه ابن عابدین، ج: ۵، ص: ۵۵۹.

[2] - الذخیرة، ج: ۵، ص: ۳۲۲، تبین الحقائق، ج: ۴، ص: ۳۰۴، مغنی المحتاج، ج: ۲، ص: ۹۵.

[3] - المحلي، ج: ۹، ص: ۳۲۵.

[4] - شعبي .عامرپې نوم دی دشرجیل ځوی دی په کوفه کې زېږیدلی دی فقیه اومحدث دی په کال ۳۰۱ هـ کال وفات شوی دی دپیدایښت نیټه پې نه ده معلومه، الاعلام للزکلي، ج: ۳، ۲۵۱، وفیات الاعیان، ج: ۱، ص: ۲۴۴.

[5] - ابن منذر ،ابوبکرمحمد بن ابراهیم ، دېرکتابونه لري، لکه، الاقناع-الاشراف ، په کال ۳۰۹، اویا ۳۱۰، اویا ۳۱۶ قولونه دوفات راغلي دي ، وفیات الاعیان :ج ۳، ص: ۳۴۴،.

[6] .المغنی، ج: ۴، ص: ۲۱۱.

داخو هغه صورت وه چې مبيعه هغه سامان چې پلورل شوی دی موجود وي او که هغه سامان چې پلورل شوي له منځه تللي وي، بيا اختلاف راشي په ثمن کې نوپه دې هکله بيا دفقهاء هم اختلاف شته په دوه ډوله ويشل شوي دي:

لومړی مذهب: يوقول دامام ابوحنيفه اوروايۀ دامام مالک اوروايۀ امام احمدبن حنبل (رحمهم الله)دی دوی وايي: چې په دې صورت کې هم معتبر قول دبائع دی سره دقسم نه.[1]

دوهم مذهب: چې دواړه به قسم کوي اوګورو به چې هلاک شوی څېز ده ذوات قيميت څخه دی او که مثلي دي نوکه لومړی وه قيمت ته به رجوع کېږي، او که مثلي وي نومثل به کتل کيږي بيابه هغه شان فيصله کېږي، او که مشتري نرتوب وکړه اوويل چې کوم څه چې بائع واي همدا ورکوم، بياخوکومه ستونزه نشته، دامذهب دامام محمد دی داحنافو نه، اوروية دامام احمد بن حنبل دی.[2]

داهغه صورتونه شول چې اختلاف په ثمنو کې راشي اوشخړه په مبيعه کې واقع شي نو دا هغه حالات وه چې دفقهاءو په کتابونو ورباندې بحث شوی دي.

دوهم د شخړو مخنيوی: چې کله هم شخړې پيښ شي، نوپه داسې حالات کې څه بايد وکړای شي چې د شخړو مخنيوی وشي اوشخړې واقع نه شي.

څه بايد وکړای شي چې د دې ستونزو او شخړو څخه مخنيوی وشي و ايا داسې څه لارې شته چې د هغې په مراعاتولو سره په بيعې کې د شخړو څخه خلاصی ومومو، نودتېرې څېړنې څخه معلومه شوه چې دشخړې اکثره په داسې مراحلو کې پښيږي چې دجنس په رانيولو نه پوهيږي او په سوداګرانوکې هغه اخلاق او اداب نه وي چې په کومو اسلامي شريعت امرکړې ورته پرې کړی بلکې په سوداګري کې دفريب او دوکې څخه کار اخلي نوپه نتيجه کې شخړې ته خبره رسيږي، د دې په خاطر چې له دې ستونزو څخه په لومړيو کې خلاص شو نواسلامي شريعت داسې لارې چارې راښودلې دي، چې لومړی په هغې باندې ځان پوه کړو په ځانګړي دول د هغې اشخاصو لپار هـ چې دمعامالاتو په برخه کې وي يعنې کارو باري خلک وي، بيا دپوهيدلو څخه وروسته د هغې لحاظ وساتو اوعملي کړو نو له دې شخړو مخ به نيول شوی وي هغه امور چې په بيوعو کې اړين دي هغې لپاره فقهاء ځانګړي ډول اصطلاحات ايښي دي لکه خيار عيب، خيارشرط، خيار رؤيت.[3]

داهغه ځانګړي اصطلاحات دي چې بيوعو کې ددېرو حکمتونو لپاره وضعه شوی دی دلته به په مختصر شکل د هريو تعريف اومشروعيت اوحکمت ذکر کړو.

---

[1] - بدايع الصنائع: ج: ۵، ص: ۲۶۲، حاشيه الدسوقي، ج: ۱۳، ص: ۱۷۹، المغنی، ج: ۴، ص: ۲۱۴.

[2] - بدائع الصنائع، ج: ۵، ص: ۲۶۲.

[3] . الفقه الاسلامي وادلته، ج: ۴، ص: ۶۰۳.

مخکې له دې چې هریو تعریف اوحکمت ذکر کړو، په مجموع کې دادی چې ښه طریقه او په اطمنان سره هرسړی د خپلې خوښې څېز په بازار کې راوړیسي پرته دشخړې او د وکې اوفریب څخه نو اړینه ده چې ځان لپاره خیار واخلې .[1]

۱ – خیارعیب: هغه خیار او واک ته ویلی کېږي چې لامله مشتري عیبجن مال (مبیعه) بېرته بائع ته رد کولی شي.[2]

دخیارعیب دثبوت شرطونه:

- ✓ عیب باید مخکې له عقد څخه موجود وي، او که په ملک دمشتري کې موجود شي بیادهمدې عیب پربنسټ دواپس کولو حق نه لري.
- ✓ په دې عیب یوطرف په ځانکړي ډول مشتري خبرنه وي، ځکه که خبروي اوچپ پاتې شي نوګویا کې دلالتًا په دې عیب راضي دي
- ✓ دبیعې پروخت کې باید عیبونو څخه براءت نه وي شو ی لکه څنکه چې مخکې تېرشو.[3]

دخیارعیب حکم: متعاقدین هر اړخ بائع اومشتري په مبیعه اوثمن کې په عیب خبرشی هغه شئ ردکولی شي.[4]

روا والی حکمت: بائع اومشتري پر یو بل حق لري چې یو بل ته سالم اوله عیبه څخه پاک مال ورکړي، او که یو بل ته عیب جن شي ورکړي نوشریعت ورته د دې اختیار ورکوي چې بېرته ورکړي اوله ده څخه زیان دفعه شي او دا سې څه ورباندې لازم نه شي، چې په هغې کې ورته تاوان وي.[5]

خیارشرط: هغه واک ته وایي چې یوجانب یادواړه لوري دیومعلومې مودې لپاره دبیعې دمنلو اویانه منلو په هکله دځان لپاره ساتي، البته خیارشرط هغه وخت ثابتېږی چې دعقد په وخت کې یې ذکر وشي اوجانبین پرې اتفاق وکړي.

دخیارشرط حکم: په بیع کې شرعًا خیار شرط اېښودل جائز دی، ترهغې چې خیارشرط شتون ولري تر هغې مبیعه دبائع دملکیت نه خارجېږي او د مشتري په ملکیت کې نه داخلېږي.

دخیارشرط دروا والي حکمت: داخیار دخلکو دارتیا له مخې روا شوې دي څوخلکو ته دفکر اومشورې وخت په لاس ورشي او د زیان مخه ونیول شي.[6]

یادونه: دخیار شرط او دنورو خیاراتو زیات تفصیل دفقهې په کتابونو کی شته هلته کتلی شي.

---

[1] - العناية شرح الهداية: ج: ۸ ، ص: ۴۴۶.

[2] - البحرالرائق، ج: ۱۵، ص: ۳۹۸.

[3] - العناية، ج: ۹، ص: ۳۱۱.

[4] - الفقه الاسلامي، ج: ۴، ص: ۶۲۱.

[5] - النعاية شرح الهداية، ج: ۹، ص: ۳۲۵.

[6] - الفقه الاسلامي وادلته، ج: ۴، ص: ۶۰۳، العناية شرح الهداية، ج: ۸، ص: ۴۴۶.

خیاررؤیت: رؤیت په لغت کې لیدلو ته وایي او په اصطلاح کې دمال لیدلو په وخت کې مشتري ته دبیعې منلو او نه منلو واک ته خیار رؤیت وایي، البته خیار رؤیت هغه وخت ثابتیږي، چې مشتري داخیستلو په وخت کې مال نه وي لیدلی او یا هم دلیدلو وروسته پکې تغیرات راغلي وي.[1]

خیاررؤیت حکم: مشتري دمال دلیدلو په وخت کې اختیار لري چې بیعه فسخه کړي اویایې قبوله کړي.[2]

احکام: که دخیار رؤیت خاوند په مبیعه کې داسې تصرف وکړي چې هغه دلالتًا په رضا دلالت کوي نوخیار باطلیږي، لکه :

- ✓ دمبیعې خرڅول.
- ✓ همدا شان که دخیار خاوند مړشي نوخیار باطل او وارثانو ته انتقال کیږي.
- ✓ خیار رؤیت وخت اومودہ نه لري ترهغې وخت پورې په خپل حال پاتې کیږي ترڅو چې یې باطلونکی اومخ اړونکی سبب پیدا نه شي.[3]

په اړونده موضوع باندې دفقهاء کرامو په تفصیل سره لیکنې شتون چې نور ډولونه دخیاراتو هم په کې یادونه شوي او همدا شان هغه اختلافات اونظریات دفقهاؤ په خیاراتو کې شتون لري. دلته د هغې څخه هغه مهم خیارات ذکر شول، چې عمده اوکره رول په بیوع کې لري

همدا شان ددغو خیاراتو مراعات کول، او د هغې تطبیق دبیوعو په ساحه کې ده،دې لامل کیدای شي چې دهغه شخړو مخنیوي وکړي له کومو له امله چې لوی جنجالونه اومنازعات رامنځ ته کیږي نود شخړو مخنیوي په خاطر باید له دې خیاراتو څخه کار واخیستل شي، که بیا هم شخړه رامنځ ته کیږي نوځه باید وشي د حل لارې یې څه دي، په راتلونکي پانو کې ترڅېړنې لاندې نیول کیږي.

دوهم فرعه :د دې مطلب هغه وسائل چې اسلامي شریعت د شخړو اولانجو دله منځه وړلو لپاره وضع کړي دي:

په تېرو پانو کې یادونه وشوه چې په بیعو کې څنګه او کله شخړې اوجنجالونه پېښیږي د هغې دمخنیوي لارې چارې او وسائلو باندې بحث وشو که د هغې مراعات وشي امید چې د شخړو مخنیوي به وشي، که بیا هم شخړې اومنازعات واقع شو نوځه باید وکړای شي ترڅو له دې ناورین څخه ووځو د هغې لپاره اسلامي شریعت بحث کړی دی چې په دې څوپانو کې یې را ونغاړو.

---

[1] - الفقه الاسلامی وادلته، ج: ۴، ص: ۶۱۸.

[2] - هماغه الفقه الاسلامي وادلته..

[3] - بدائع الصنائع، ج: ۵، ص: ۲۷۳.

مورِ کولی شو چې هغه شخړو چې په بیوعو کې رامنځته شوې ده په دوه طریقو د مصالحې له لارې ورته د پای ټکی کیږدو:

لومړی دابیعه له منځه یوسو، په فسخې سره دوهم جوړجاړی وکړو په اقاله باندې.

لومړی: کله چې په مبیعه کې شخړه منځ ته راغله نومصالحین کښیني د دوی ترمنځ تردې چې شخړې په فسخ دبیعې په له منځه وړلو فیصله وکړي بیاپه دې کې دجمهورو لکه احناف، مالکیه، شوافع او په اوروایت کې حنابله په دې نظر دي چې فسخه باید دحاکم د حکم په اساس وشي، ځکه عقد صحیح ؤ دیولوري دظلم له امله اجراء نه شو نوحاکم به فسخه کوي.[1]

اولکه څنګه چې مخکې فصل کې داخبره ذکر شوه چې د صلح کونکي هم باید داصلاحیت ولري چې کوم حکم اوفیصله کوي هغه باید نافذه او دا جرا وړوکړئ، یعنې دوی فیصله ولوکه په تعبیر د سولې سره شوې ده هم الزامي جنبه لري ځکه که الزامي جنبه ونه لري نوهرڅوک به سوله کوي او بیا به دفیصلې داجراء اوعملې کولو څخه تښتي او دا کار خلاف دی د حکمت اومشروعیت د صلحې سره نو فلهذا مصلحین هم په دې صورت کې دطرفین ترمنځ دفسخې له عملې څخه کار اخیستلې شي.[2]

دوهمه لاره شخړو ته د پای ټکی ایښودلو داده چې اقاله وکړي:

دشخړې دختمېدو او سولې ته په رسېدو کې یوه ستره وسیله داده چې مصلحین دمتخاصمینو ترمنځ په اقاله باندې سوله وکړي.

اقاله: په لغت کې پورته کېدو ته وایی او په اصطلاح کې اقاله عبارت دی: «رفع عقد البیع.»[3] دبیعې دترون له منځ وړلو ته اقاله وایي.

بیا دفقهاو ترمنځ اختلاف شتون لري چې اقاله هغه لومړی عقد ختمول دي او که نوې عقد اوترون کول دی نودفقهاو په دې کې ډېرکښ اقوال دي خوداحنافو قول داسې دی،: «**ان الاقالة فسخ فی حق المتعاقدین وبیع فی حق غیرهما.**»[4]

چې اقاله په حق د متقاعدینو کې لومړی عقد ختمول دي او په حق دنورو کې بیعه ده، بناء هرمصلحین کولی شي چې داقالې له لارې دمعضلې ته د پای ټکی کیږدی او دا شخړه په سولې بدله کړي، او دا لاره ډېرممکن هم ده ځکه په دې

[1] - وسائل انها المنازعات بین الافراد فی الشریعة الاسلامیة، ج: ۱، ص: ۱۶۷ – ۱۶۸.

[2] - الصلح فی ضوء الکتاب والسنة، ج: ۱، ص: ۱۲۲۸.

[3] - البحرالرائق، ج: ۶، ص: ۱۱۰.

[4] - بدائع الصنائع، ج: ۵، ۳۰۲.

رسول الله ﷺ دډېرثواب اواجروعدې هم کړي دي، په دې هکله رسول الله ﷺ داسې فرمايلي: **عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ؛ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « مَنْ أَقَالَ نَادِمًا بَيْعَتَهُ أَقَالَهُ اللهُ عَثْرَتَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ »**[1]

ژباړه: چاچې دډېسيمانه شخص بيعه پورته کړه (يعنې لمنځه يورې) الله پاک به يې لغزشونه اوکناهونه پورته کړي . ورته ورتير به شي، ځکه جزا د خپل جنس څخه وي

دوهم دا چې دعقد ددوي حق دې چې څنګه تړلې دی له منځه وړلی يې هم شي په ځانګړې ډول ديوداسې سترهدف لپاره چې هغه شخړه له منځه وړل دي اوسوله راوستل دي نومصلحين له دې سترې حربې څخه کار واخلي دابيعه په اقالې کولو سره ما ته کړی هريو ته د خپل حق وسپاري اوشخړه به په سولې بدله شي.[2]

څلورم مطلب په قرضونو کې شخړې او د هغو له منځه وړلو وسائل

کله داسې کېږي چې بيوعو کې معامله دين اوقرضوته لاړه شي، او د خوښکاره ده چې شخړې په ديونو کې ترهرڅه زيات وي، نواسلامي شريعت اومسلمانان هيڅ کله هم په دې نه دي راضي چې شخړې دې وي بايد شخړې له منځه ولاړې شي او په پخلاينې بدل شي په دې مطلب کې به دهغه شخړو څخه دخلاصې لارې چارې دڅېړنې لاندې ونيسو چې په قرضونوکې رامنځته شوې وي .

قرض يا پور په لغت کې غوڅولوته وايي په قرض کې هم يو څو ک د خپل مال يوه برخه پرې کوي اوبل ته يې ورکوي.

شرعاً: يوچاته مثلي[3] مال ورکول دي چې هغه کتې ورڅخه واخلي اومثل يې ببرته قرض ورکونکي ته ورکړي.[4]

قرض ورکول يو روا اومشروع عمل دی بلکې دثواب لاس ته راوړلو يوه ستره وسيله ده په نبوي احاديثو کې ډېرفضائل راغلي دي: **عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُولُ: " مَنْ أَقْرَضَ شَيْئًا مَرَّتَيْنِ كَانَ لَهُ مِثْلُ أَجْرِ أَحَدهمَا لَوْ تَصَدَّقَ بِهِ "**[5]

ژباړه: رسول عليه السلام فرمايی چاچې يوڅيزپه قرض ورکړه دوه ځل نو ده ته ديو ځل اجر ورکول کېږي چی دې ورباندې صدقه وکړي .

---

[1] - سنن ابي داود: كتاب التجارت- باب الاقاله- دحديث نمبر: ۳۴۶۰، ج: ۲، ص: ۲۹۱، اوحاكم ويلى دي چې صحيح دى په شروط دالشخينو سره.

[2] - وسائل انهاء المنازعات، ج: ۱، ص: ۱۶۹.

[3] - مثلي هغه څيزته ويل کېږي، چې مثل په بازار پيداکيږي اودډېرتوپير سره نه لري لکه، غنم.

[4] - مجلة الاحكام العدلية، ج: ۱، ص: ۳۳.

[5] - صحيح ابن حبان مخرجا- دحديث نمبر، ۵۰۴۰، ج: ۱۱، ص: ۴۰۸.

امام الباني واي چې صحيح لغيره دى التعليق الرغيب، ج: ۲، ص: ۳۴، اوصاحب تعليق شعب الارنوط وايي حديث حسن دي، ج: ۲، ص: ۸۰۱.

داشان ډېر فضائل راغلي دي ځکه په قرض ورکولو کې تعاون همکاري ده یو بل سره او د یو بل لاس نیوی دی په دې هکله هم قران کریم اوحدیثو کې فضائل راغلي دي.

یادونه: فقهي اصطلاحات اوتعبیرنو کې دقرض او د ین ترمنځ توپیرشته دی او د واړه جداجدا شئ دی، خوالبته په معاملاتو یومیه (ورځنۍ)کې به استعمال کې خلکو ترمنځ کوم خاص توپیر نه په سترکوکېږي دواړه ته قرض ویل کېږي، که هغه کوم جنس په بدل کې وي لکه په معاملاتو کې چې کېږي او که نفس نقدې داحسان په شکل ورکړي وي.

البته کوم خلک چې نقدې دقرض په شکل اخلي هغې ته خلک قرض حسنه هم وایي، په عامه معنا په قرضونو کې په لاندې صورتونو کې شخړې رامنځ ته کیږي.

لومړی: خوداخبره باید په یاد وساتو چې قرض ټولو ډولونو ته شامل دی که هغه نقد ورکړې وي، او که په په نیټه کوم ځیز ورباندې خرڅ کړي وي، دکار مقابل کې وي او د کوم د بل شي تاوان وي دې ټولو ته ویل کېږي، بیاجنجال اولانجه اوشخړه په دې ټولو صورتونو کې داسې راځي.

یاخو اخیستونکې منکر وي اصلا د هغې دحق څخه هغه وایي چې زماپرتاقرض دی او د ی منکر وي، یاشخړه اومنازعه په اندازه کې وي چې هغه ورباندې دعوه کوي چې ۱۰۰۰ روپۍ دي او د ی وایي چې نه ۵۰۰ پنځه سوه دي او یا هم نیټه کې شخړه وي دپورخاوند وایي چې نیټه پوره ده اوپور وړی وایي چې نا وخت لاپاتې ده نوجنجال اوشخړه رامنځ ته شي، دېته ورته په ډېرو صورتونو کې شخړې پیښېږي، ترټولو غوره لار خوداده چې څنګه درسره ښیګڼه شوی ده نوهمدا شان باید نرتوب وکړي او هغه ته خپل پورپه ښه شکل تسلیم کړي لکه څنګه چې په احادیثو ورته بهترین ویل شوی دي،: «فان خیرالناس احسنهم قضاء.»[1] ژباړه: په خلکو کې ترټولو ښه خلک هغه دي چې په ښه شکل پور اداکوي.

که داسې ونه شو لکه بدبختانه کوم چې نن رائج دي او په دې هکله شخړې اولانچې رامنځ ته شوې نود شخړو حل لپاره اسلامي شریعت لارې راښودلې دي لکه، په لاندې شکل:

- نزاع او شخړې ته د پای ټکی ایښودل په سوله باندې.
- په ابرا سره.
- په عفوې سره.[2]

نورې لارې چارې هم شته په همدی دلته بسنه کوو.

[1] - مسلم، باب من استسلف شیئا فقضی خیرا منه، ج: ۳، ص: ۱۲۲۴.

[2] - وسائل انهاء المنازعات، ج: ۱، ص: ۲۱۰.

سوله په قرضونو کې:

کله چې پوروړی دپورخاوند سره په تېرو صورتونو کې شخړه راشي نولازمي ده چې يابه اقرار کوي يابه انکار کوي يابه چپ پاتې کېږي، نوپه درې واړه صورتونو کې سوله کول جائز دی همدا دجمهورو مذهب وه په دې هکله اختلاف د صلح فی الاموال مطلب کې تېر شو.

داقرار په صورت په قرضونو باندې په درې طريقو سره سوله کېږي ياپه معاوضې سره ياپه اسقاط سره ياپه ابراء سره.[1]

معاوضه چې کېږي هغه په غيردهغه قرض باندې کېږي په کوم چې دعوه شوې وي، او په سولې به معاوضې سره دفقهاءو په اند دېرصورتونه جوړيږي.

۱ – هغه دی چې په معنا دبيعې وي نوپه دې ډول کې ټول احکام دبيعې جاري کېږي، لکه: مثال يې چې يوسړی بل لپاره په نقدو اقرار وکړي چې په ده دي نوبياورسره مصالحه وکړي په يوجنس باندې، نودلته مبادله دمال راغلی په مال باندې نوهمدا معنا دبيعې ده.

۲ – هغه دی چې په هغې کې معنی يوائې دبيعی صرف وي لکه يوسړی دا اقرار وکړي چې دفلانکي په ما باندې ۱۰۰۰ افغاني دی اوسوله ورسره وکړی په ۲۰۰۰ کلدارو، نو دا بيع نقد بنقد اخرشوه همدې ته وايي بيعی صرف نودصرف احکام په کې جاري کېږي.

۳ – هغه دی چې سوله وکړي دنقد نه په کار سره لکه چې وه وايي: چې دفلانکي په ماباندې ۲۰۰۰ افغانی دی خوسوله ورسره کوي په کار باندې چې د دې په مقابل کې زه درته کارکوم نو دا په معنا داجارې ده نواحکام داجارې به په کې جاري کېږي.

داهغه درې ډولونه د سولې دي چې په سوله بالمعاوضه کې وربانديې عمل درامد کېږي.

سوله په معنی دابراء اواسقاط ده:

نو دا سوله ده په ځينو برخو د قرض چې دعوه شوې ده اوتېريدل دي دځينو برخو څخه، مثال يې داسې دی، چې دپورخاوند پوروړي ته داسې ووايي چې «**صالحتک عن الالف الذی لی علیک علی خمسمائة.**

تاسره مې سوله کړی په پنځه سوافغانيو دهغه زرافغانيو څخه چې په تايی لرم

[1] - کشف القناع للبهوتي، تحقيق: هلال مصلحي، نشرکوونکی: دارالفکر، بيروت، دوهم چاپ، ۱۴۰۲، ج: ۳،ص: ۱۹۳.

د دې ډول سولې حکم: جمهور فقهاء من الاحناف والمالكية والشافعية، وايي چې داډول سوله جائز ده او د دوی دليل دادی چې دحق خاوند خپل حق دبعضې حصه واخيستله اوځېنې ورپرېښوده، او په دې کې هيڅ حرج نشته چې يوانسان خپل حق ساقطوي يعنې بخښش کوي يې[1]، البته مالکيه په قول کې داسې نه مني، داختلاف په هغه صورت کې دوي کوي چې کله دامعامله په کلمې د صلحې سره وکړي او که ابراء اوعفوې سره وکړي بياکومه ستونزه نشته: «فان كان بغير لفظ الصلح فانه يجوز فيصح هذا بلفظ الابراء والحط والاسقاط والترک والاحلال- والتحليل والعفو والوضع- ولايشترط القبول».[2]

فان تطوع المقرله باسقاط بعض حقه بطيب نفس جاز ويشترط فيه ان يكون صادر من اهله ای ممن يملک التبرع.[3]

که په هرتعبير اواصطلاح وي مهمه داده چې شخړه اوجنجال له منځه لاړه شي چې د هغې لامله ډېرى ستونزې راغلې وي، او په ځای يې سوله پخلاينه راشي اوبدبيني اوبدحسي ختمه شي اوپرځای يې ورورولي، محبت او يووالی قائم شي چې همداموخې د سولې دي، مهمه داده چې حالات بدلون ومومي که په هرحالت اوتعبير سره وي که حالت داقرار، انکار اوسکوت وي، او همدا شان که تعبير د سولې وي: ابراء، عفوه، ترک، اسقاط، تحليل وي هيڅ ستونزه نشته.[4]

پـنـځـم مطلـب په أعيـانو کې سـولـه:

په دې مطلب کې به اعيانو کې دشخړې صورتونه او بيا هغه وسائلو باندې بحث وکړو په کومو چې شخړو د پای ټکی ايښودل کيږي.

دشخړې صورت په دې کې ډېرواضح دی اوخلک په وړاندې ډېرمثالونه لري لکه يوسړی ديو چا په کور دعوه وکړي، وياهم څوک دچا په دوکان دعوه وکړي ياهم په يوجنس دعوه وکړي او يا هم څوک دچا څخه يوعين لکه کور، موتر او دا سې يو بل څيز غصب کړي نوپه دې ټولو صورتونو کې شخړې اوجنجالونه جوړيږي.

---

[1] - تكمة فتح القدير، ج: ۸، ص: ۴۲۶، روضة الطالبين للنووي، نشركوونكى- الملكيت الاسلامي-بيروت، كال ۱۴۰۵، ج: ۴، ص: ۱۹۵.

[2] - حاشية الدسوقي، ج: ۳، ص: ۳۱۰.

[3] - المبدع، - شرح المقنع لابراهيم، المتوفى، ۸۸۴، نشركوونكى: دارعالم الكتب الرياض الطبعة: ۱۴۲۳.

[4] - الصلح فی ضوء الكتاب والسنة، ج: ۱، ص: ۶۹۸.

چې کله هم په داسې صورتونو کې شخړه پېښه شي نود اسلامي شریعت په رښا کې دې شخړو ته په لاندې طریقو د پای ټکی اېښودل کېږي.

- په سولې سره چې زمونږ دبحث موضوع ده.
- په ابراء سره ږ
- په تحکیم سره.
- په خپل حق لاس ته راوړلو سره.[1]

لکه څنګه چې زمونږ موضوع د سولې ده نومونږ لومړی ترې دسولی طریقه را اخلو چې هغی سره شخړو ته پای ټکی اېښودل دي.

که چا دیو بل سړي په عین (په یومشخص شي) دعوه وکړه اومدعی علیه انکار کوي او یا هم چپ شو نومدعی علیه مدعي ته یوځیز ورکړ، د سولې په طریقې سره، اوخپل ځیز پې واخیست نو دا ډول سوله جائز ده.[2]

فقهاء کرامو دادول سوله هم په دوه ډوله وېشلې ده: ۱- صلح الحطیطة، ۲ – صلح المعاوضة.

صلح الحطیطة :

د هغې سولې څخه عبارت ده چې د(مدعاة) دعوه کړای شوې په ځینو برخو باندې سوله ورسره وکړي کله نیم، یوه برخه او د ریمه برخه.[3]

د دې ډول سولې په حکم کې فقهاء په دوه ډلو وېشل شوي دي:

اول ډله: مالکیه[4]، شافعیه[5] یوقول داحنافو[6] اورویت دامام احمد[7] (رحمهم الله) دي، دوی وایي چې دادول سوله جائز ده اورواکنلې ده دهبې ځینې شمیرلې دهغه لوري ځینې چې په لاس کې داعین دی، ویشترط فیه مایشترط فی الهبة.[8]

---

[1] - الصلح والطبیقات، ج: ۱، ص: ۳۳۳.

[2] - فتح القدیر، چ: ۲، ص: ۴۱۱ – ۴۱۲.

[3] - الحاوي، للماوردي، نشرکوونکی: دارالکتب العلمیة، اول چاپ، ۱۴۱۴ هـ کال، ج: ۶، ۳۶۷.

[4] - حاشیة الدسوقي، ج: ۳، ص: ۳۱۰.

[5] - الحاوي، ج: ۶، ص: ۳۷۸.

[6] - افتح القدیر، ج: ۸، ص: ۴۱۲.

[7] - المغنی، ج: ۷، ص: ۱۵.

[8] - المغنی، ج: ۷، ۱۵.

دوهمه ډله: ددوي قول دادی چې دادول سوله که په لفظ دهبې سره وشي نوبیا صحیح اوجائز ده، او که په لفظ د سولې سره وشي، بیانه ده جائز یعنې د دې مذهب والا په صلح الحطیطة په جواز قول نه کوي، دامذهب دحنابلو، یوقول دشوافعو او یوقول داحنافو دی.[1]

ددواړو مذهبونو مختصر دلیلونه:

لومړی مذهب: په جواز ځکه قائل دي چې له دې سولې څخه وړاندې شخړه وه، او د ې سولې په پایله کې شخړه له منځه ولاړه او په خوښۍ سره پخلاینه راغله نوکومه ستونزه په جواز کې نشته.[2]

دوهم مذهب: وایي چې په لفظ د صلح کې معنی دمعاوضې ده او په پرېښودل شوي شي کې عوض نه وي او دا خو تعجب ده چې یو شخص دې یوملک د بل ملک په عوض کې ورکړي او دا باطل ده.[3]

راجح مذهب اول دی ځکه معنې د سولې لري اوشخړه ورسره له منځه ځي چې دټول تباهیو اصل دی.[4]

او که په همدې مذکورصورت کې سوله په بعضې برخې سره ونکړه بلکې په منافع یې وکړه په داسې شکل چې مدعي علیه مدعي ته ووایي چې تاسره په دې سوله کوم چې په دې کور کې اوسېده او یا هم څومره ورته منافع ورکړې نوپه دې صورت کې راجح قول دادی چې دادول سوله جائز نه ده ځکه د سولې چې خپل ملک باندې د خپل ملکیت په منافع باندې او د جائز نه ده، فکانه ابتاع داره بمنفعتها وهولایجوز.[5]

صلح المعاوضة:

داهغه ډول سوله ده، چې کله په کوم شي دعوه وشي په هغې شي سوله ونه شي بلکې په یو بل خارجي شي باندې سوله وشي، لکه چاپه کور دعوه وکړه نود هغې کور په بدل کې په موترباندې ورسره سوله کوي، یاورته بل کور ورکوي نو دا ډول سوله دبیعې په معنا ده اګرکه د صلح په لفظ وشي.[6]

دادول سوله جائز ده په اتفاق دفقهاء سره اواحکام دبیعې ورباندې جاري کېږي لکه حق د شفعې اوحق درد په عیب باندې اوخیارات، په هرهغه څه فاسده کرځي په کوڅه چې بیعه فاسده کرځي.[7]

---

[1] - کشف القناع، ج: ۳، ص: ۳۹۱.

[2] - فتح القدیر، ج: ۸، ص: ۴۱۲.

[3] - کشف القناع للبهوتي، تحقیق: هلال مصلحي، نشرکوونکی: دارالفکر، دریم چاپ، کال ۱۴۰۲، ج: ۳، ص: ۳۹۱.

[4] -المغنی لابن قدامة، ج: ۷، ص: ۱۵ – ۱۶.

[5] - المغنی، ج: ۷، ص: ۱۶۰، کشف القناع، ج: ۳، ص: ۳۹۲.

[6] - الحاوي، ج: ۷، ص: ۳۶۷.

[7] - روضة الطالبین وعمدةالمفتین، نشرکوونکي: الملکتب الاسلامي، بیروت –لبنان، کال-۱۴۰۵، ج: ۴، ص: ۱۹۳.

یادونه: سولې تحقق اړین اوضروري امر دی په دې مذکور صورت یعنې صلح الاعیان کې که یواجنبي سړی راولاړشي او د مدعي علیه له لوري سوله وکړي نوهم صحیح ده حتی که پرته د هغې داجازې څخه وی«لان التبرع باسقاط یقضي دین غیره بغیر اذنه صحیح والتبرع باسقاط الخصومة عن غیره صحیح فالصلح عن اقرار اسقاط للدین والصلح عن انکار اسقاط للخصومة.»[1]

ژباړه: تبرع ښکینه دپور په اداء کولو کې پرته داجازې څخه صحیح ده، نوښکینه دشخړې په لرې کولو دغیرنه هم صحیح ده که سوله د اقرار نه وه نواسقاط دپور وکړه اوسوله له انکارنو اسقاط دشخړې وکړو نوپه دواړو کې هیڅ ستونزه نشته.

شـــپـــږم مطـــلـــب گـــروي پېـــژندنه:

په دې مطلب کې گروي پېژندنه دځېړنې لاندې نیول کېږي.

رهن (گروي) : په لغت کې دیوشي بندول دي دیو حق لاس ته راوړلو لپاره.[2]

الرهن: «هوعقد وثیقة بمال مضمون بنفسه یمکن استقاؤه منه.»[3]

ژباړه: یومحکم مالې تړون دې چې ضمانت په ځان سره شوې وې . چې ممکن وې حق لاس ته راوړل دهغې څخه.

دگروي لپاره یورکن دی چې هغه داقول دراهن دی: «رهنت عندك هذالشئ بمالك علي من الدین.» اوهرچې (قبول) دی نو هغه شرط دی لپاره درهن څکه: «لان الرهن عقد تبرع... والتبرع یتم بالایجاب من غیرقبول.»

دلیل دروا والي د الله عزوجل داقول : «فرهان مقبوضة.»[4] ژباړه: (نو واخلي) گروي قبض کړای شوې .

دلزوم شرط: قبض کول دي، دجواز شرط: مرهون شئ پورې به د بل چاحق نه وي ترڅې، اورهن به داسې یوشئ وي چې له هغې څخه دحق لاس ته راوړل ممکن وي.

---

[1] - تحفة الفقهاء للسم قندي، نشرکوونکي: دارالکتب العلمیة، مکان النشر: بیروت- کال، ۱۴۰۵، ج: ۳، ص: ۴۳۳.

[2] - ردالمختار، ج: ۵، ص: ۲۹۱.

[3] - الاختیار لتعلیل المختار، ج: ۱، ص: ۱۷، کتاب الرهن.

[4] - دالبقرې سورت، ایت: ۲۸۳.

حکم يې: دادی چې مرتهن دمرهون شئ مالک ګرځي يواځې دساتلو حق کې تروخت دپوره کېدو د خپل حق پورې، حتی که راهن مړشو نو دا مرتهن زيات حقدار دی دنور پورورڅخه نواول به داترې خپل حق پوره کوي اوباقي به نورو پورورو ته ورکول کېږي.[1] يعنې مرتهن داحق لري که راهن پور ورنه کړي او يا هم دافلاس په صورت کې.[2]

درهن ياګروي حکمت: دپور کره والي له هېرېدلو، انکار، دپورورې افلاس څخه دقرض ورکونکي دمال ساتنه، ځان ته اطمنان پيداکول، اوپور ژر ادا کولو لپاره پوره وړې هڅول دي.[3]

اووم مطلب په ګروي کې شخړې او د هغو د حل لارې چارې:

په دې مطلب کې ګروي کې شخړې او شخړو څخه دخلاصۍ لارې چارې تر څېړنې لاندې نيول کېږي.

په ګرو کې د شخړو مختلف اوګڼ صورتونه دي چې دواړه خواوترمنځ په کې ځېنې شخړې راځي لکه:

۱ – په اندازه دګروي کې چې د راهن دځومره قرض په مقابل کې اېښودل شوي دي.

۲ – دمرهون په اندازه اوقدر کې چې کوم کوم اوځومره دي.

۳ – په قبض دمرهون کې.

۴ – په پوره کېدو دنيټه د دين کې چې له هغې له امله ګروي کړيده.[4]

داهغه صورتونو دی چې ځېنې وختونو کې دراهن اومرتهن ترمنځ دشخړې اولانجې لامل ګرځي او په دې کې شخړې پېښېږي کوښښ به مودواوي چې هريوباندې په مختصر شکل څېړنه وکړو او په اخرکې بياد شخړو ته د حل لارې خصوصاً د سولې لارې باندې دشخړې له منځه وړلو وضاحت وکړو.

لومړی صورت دمرهونه په حق کې اختلاف اوشخړه

کله چې دراهن اومرتهن ترمنځ په دې کې اختلاف راشي چې راهن واي چې داځېز مې تاسره رهن کړی په مقابل دزر (۱۰۰۰) دينار کې اومرتهن وايي چې نه، په مقابل ددوه زرو (۲۰۰۰) درهمو کې، داصورت دشخړې شو، نوډېرې داحنافو اوشوافعو اوحنابلو وايي چې په دې صورت کې به دراهن قول معتبر وي سردقسم نه[5]، او مالکيه بياتفصيل

---

[1] - البحرالرائق، ج: ۸، ص: ۲۶۳.

[2]- البدائع الصنائع، ج: ۸، ص: ۳۸۹

[3] - بدائع الصنائع، ج: ۸، ص: ۳۸۵.

[4] - وسائل انهاء المنازعات بين الافراد فی الشريعة الاسلامية، ج1 ، ص ۳۶۷.

[5] - بدائع الصنائع، ج: ۶، ص: ۱۷۴. مغنی المحتاج، ج:۲، ص: ۱۴۲، حاشية الدسوقي، ج: ۳، ص: ۲۵۸.

کوي که چېرې دمرهون څېز قیمت کم وي، له دې قرض څخه نوبیا معتبر قول دمرتهن دی او که قیمت زیات وه نوبیا قول دراهن دی.

دوهم صورت دشخړې: هغه داسې دي چې راهن اومرتهن اختلاف وکړي په دې کې چې راهن وایي چې ماتاسره دا موټرپه رهن کې ایښی دی اومرتهن وایي چې داموټرهم دی ورسره هغه بل هم دی.

دریم صورت دشخړې: چې اختلاف وکړي په قبض دمرهونه اورد کې.

څلورم صورت دشخړې: هغه دوخت په پوره کېدو کې دی هغه نیته چې دپور لپاره مقرر کړی ده نوراهن وایي چې وخت اونیته نه ده پوره اومرتهن وایي چې پوره ده، داټول هغه صورتونه وه چې په دې کې معمولاً اواکثراً په کې شخړې پیښیږي.

لومړی خو باید په داسې پیښ نه شي باید په هغه اصولو عمل وشي کوم چې اسلامي شریعت موږ ته راښودلی دی که بیا هم داسې وشو اوکېږي نواسلامي شریعت د حل لارې چارې هم راښودلی دی چې دد هغې څخه باید کار واخلو.

لومړی د حل لاره خودادە چې د مصالحې ټیم دوی دواړه طرفه دئ ته مجبور کړي چې په هغه وعدې اوټرون وفا وکړي کوم چې دټرون په ابتداء کې دوی ورباندې هوکړه کړه وه.

دوهم: د مصالحې هغه لارې څخه کار واخلي چې مخکې صورتونه ذکر شول په صلح الاموال صلح دیون کې.

دریم صورت چې شخړې ته دې داسې حل لاره وکوري چې مرهونه څېز دی راهن په لاس کې پرېږدي ترڅو هغه دی خپل حق ترې پوره کړي او د ې معاملې ته د پای ټکی کېږدي.[1]

څلورم صورت: هرچې په لومړی صورت کومه شخړه راغلي وه قول دجمهورو باندې دعمل وکړي په داسې شکل چې معتبر قول دراهن دی وکړځوي اوقسم دې ورته ورکړي ځکه په دې هکله صحیح حدیث دي: **عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَنَّ النَّبِيَّ -ﷺ- قَالَ :« الْبَيِّنَةُ عَلَى الْمُدَّعِي وَالْيَمِينُ عَلَى الْمُدَّعَى عَلَيْهِ ».**[2]

په دوهم صورت کې هم معتبرقول دراهن دی په همغې دفیصله وشي اوشخړې ته د پای ټکی کېښودل شي ځکه دوسائل انهاء المنازعات خاوند وایي: «فالقول قول الراهن ولاخلاف فی هذا بین الفقهاء.»[3] کله چې هم خبره دومره قطعي وي بیاځه مجال دی اختلاف ته.

---

[1] - الصلح فی ضوء الکتاب والسنة، ج: ۱، ص: ۸۱۰.

[2] - صحیح مسلم، کتاب الاقضیة، باب الیمین علی المدعی علیه، حدیث نمبر: ۱۷۱۱، ج: ۳، ص: ۳۶۶.

[3] - وسائل انهاء المنازعات ، ج: ۱، ص: ۳۶۱.

په دريم صورت کې به فيصله دحنابلو په قول کېږي اوشخړې ته به د پای ټکی کېښودل کيږي، هغه داسې وايي: «القول قول صاحب اليد في حالة الاختلاف في القبض فان كان بيدالراهن فالقول له لان الاصل عدم القبض وان كان بيد المرتهن فالقول له ، لان الظاهر قبضه بحق.»[1]

او د ريم صورت کې به دهغه چا قول معتبر وي چې چاسره بينة اوګواهان وي.[2]

په ځلورم صورت کې د(الذخيرة)په قول فيصله کېدای شي هغه داسې وايی: «ويؤخذ بمااقر به حالاً.»[3]

داټول هغه صورتونه دي چې مورږ له دې ځخه په ګټې اخيستنې کولی شو چې هغه بحراني حال د شخړو ته د پای ټکی کيږدو او د شخړو ځخه خلاصي ومومو په ځانګړي ډول دګروي په دې مورد کې.

اتـم مـطـــلب د شفـــعې پېژندنـــه :

په دې مطلب کې د شفعې پېژندنې اوشفعې اړوند اصطلاحات اومسائلو باندې څېړنه کوم.

الشفعه : دشفع يشفع، شفعاوشفعتا ځخه په معنی دضم اوجفت والي سره راځي ضد دوتر،طاق دی اوشفعې ته هم شفعه ځکه وايي شفيع خپل مال سره دامشفوعه مال يوځای کوي.[4]

په اصطلاح کې دګاونډي له ضرر ځخه دخلاصون په خاطر دځمکې دتملک حق ته شفعه ويل کېږي.»[5]

دمشروعيت دليل: هغه حديث دی چې امام بخاري (رحمه الله) په خپل صحيح کې رانقل کړی دی:

« قضى بالشفعة في كل ما لم يقسم،فإذا وقعت الحدود، وصرفت الطرق فلا شفعة»[6]

ژباړه: فيصله اوحکم وکړه په شفعی سره په تولو هغو کی چی ويش پکې نه وي راغلی ، نو هرکله حدود معلوم شول اولاری تری واړول شوی بيا شفعه نشته.

داحديث د شفعې په روا والي کې ځرګند دې

د موضوع اړونداصطلاحات:

شفيع: هغه چاته ويل کېږي چې دشفع حق ولري.

---

[1] - المغنی لابن قدامه، ج: ۴، ص: ۳۴۳-۳۴۴.

[2] - روضة الطالبين، ج: ۴، ص: ۱۱۶.

[3] - الذخيرة للقرافي، تحقيق: محمد جعي، الناشر: دارالعرب-بيروت، سنة النشر، ۱۹۹۴، ج: ۸، ص: ۱۴۵.

[4] - لسان العرب، مادة شفع، ج: ص: ۳۲۹.

[5] - الدرالمختار- كتاب الشفعه، ج: ۶، ص: ۲۱۶.

[6] - البخاري، باب الشفعه، ج: ۳، ص: ۱۱۴.

مشفوع: هغه ځمکې ته ویل کېږي چې د شفعې حق ورپورې ترلې وي.

مشفوع به: له هغه ملکیت څخه عبارت دی چې له امله د شفعې حق ثابتیږي.

مشفوع علیه: ځمکې اخیستونکي ته ویل کېږي..[1]

د شفعې حق لومړی دچا دې: په دې کې دفقهاءو اتفاق دی چې لومړی حق دهغه شریک دی چې په دې ځمکه یاکور کې شریک وي، بیا دهغه چاحق دی چې په حقوقو کې شریک وي، لکه د اوبو نوبت، او خاصه لاره کې بیا دګاونډي حق دی البته دجمهورو اواحنافو ترمنځ په حق دجارکې، یعنې دګاونډي په حق د شفعې کې یوځه اختلاف شته دی، داحناف مذهب دادی چې ګاوندي لپاره حق د شفعې شته دی، اوجمهور فقهاء بیا وایی: «لاتثبت للجار هذا هو مذهب جمهور الفقهاء من المالکیة والشافعیة والحنابلة.» او د وی دلیل نیسي په دې حدیث:

ان النبی ﷺ قال: «قضی بالشفعة فیما یقسم، فهذا یدل علی ان الشفعة انما یکون فی الشرکة فقط.»[2]

دتعامل او د لیلونو په لحاظ نظر اومذهب داحنافو قوي دی.

لومړی دلیل: **قال النبی ﷺ: «الجاراحق بصقبه.»**[3]

دوهم دلیل: **ان النبی ﷺ: «سئل عن ارض بیعت ولیس لها شریک، ولها جارفقال الجاراحق بشفعة جاره».**[4]

دریم دلیل: **وقول النبی ﷺ: «جارالداراحق بالدار».**[5]

څلورم دلیل: تعامل همدا شان را روان دی پرته د نکیرڅخه ځکه ملک اتصال اوابدي همدې د دې غوښتنه کوي اوحکمت د شفعې دجواز چې کوم دی هغه هم دلته محقق دی، بناءً داحنافو قول قوي دی.[6]

---

[1] - ماده: ۹۵۰ – ۹۵۴ مادو پوري، ج: ۱، ص: ۱۸۹، مجلة الاحکام العدلیة، تحقیق: نجیب هواوینی، ج: ۱، ص: ۱۸۵.

[2] - البخاري باب الهبة، ج: ۳، ص: ۱۱۵.

[3] - البخاري باب الهبة، ج: ۳، ص: ۱۱۵.

[4] - ابوداود- باب الشفعة، ج: ۳، ص ۶۴۲ تخریج: حدیث غیریب دی، والعمل علیه عند اهل العلم، سیل السلام ج: ۳، ص: ۹۹.

[5] - سنن نسائي، ج: ۷، ص: ۳۲۱، تخریج: صحیح ابن حبان، ج: ۱۱، ص: ۵۸۵، وفال الترمذي حدیث حسن صحیح، ج: ۳، ص: ۴۶۱.

[6] - بدائع الصنائع، ج: ۵، ص: ۴-۵.

نهم مطلب په شفعه کې د شخړو صورتونه او د حل لارې چارې

په شفعه کې د شخړو صورتونه کې شمېردي چې هغه به دلته په کوتا یادونه وکړو اومهمه تردې داده چې هغه ته به د حل لارې چارې هم ذکر کړو.

یوصورت دشخړې دادی چې دشفیع اومشتري ترمنځ په اندازه دثمن پیسو کې راځي، هغه په داسې بڼه چې مشتري وایي چې دامې په ۱۰۰۰ افغانۍ اخیستې اوشفیع وایي چې نه په په پنځه سوه دی اخیستې، نوپه دې صورت کې شخړه پیښ شوه.

دې شخړې ته د حل لاره: دفقهي دقواعدو پربنسټ ګورو چې دچاقول معتبر دی، نوجمهور فقهاء وایي، چې معتبر قول دمشتري دی خوسره دقسم نه ځکه هغه مباشرحال ور څخه خبردی، اوبله دا چې د یو اجنبي دعوه باندی پرته دشاهدانو څخه څنکه ورباندې مخامخ شي باطل شي.[1]

اوځینې نورعلماء وایي چې معتبر قول دشفیع دی ځکه چې مشتري خواقرار کړی دی په حق دشفیع باندې خواوس دعوه دزیادت دثمن کوي چې هغه شفیع په هغه اعتراف نه کوي نوشفیع مدعي علیه شو اومشتري مدعي شو او د زیادت دعوه کوي پرته ددلیل څخه نوځکه قول دشفیع معتبر دی، خو بیا هم لانجه حل نه شوه بیانو دهغه چا قول به معتبر وي چې شاهدان ولري، او که دواړو شاهدان پش کړل نودلته فیصله داده چې شاهدان دمشتري ته به اعتبار ورکېدای شي ځکه لانها زادت علما ځکه دمشتري علم اوپوه زیات ده له هغه څخه او همداقول راجح هم دی، او همدا قول دصاحبینو هم دی، او همدا اصل هم دی چې ان القول قول المشتري مع یمینه.[2]

دوهم صورت دشخړې: هغه دادی چې اختلاف په مبیعه کې واقع شي په داسې شان چې مشتري وایي چې ماپه دوه عقدنو دا اخیستی په دوه زره دینارو په زر مې کور او په زرمې انګړ اخیستی دی.

هدف ورسره دشفیع شفعه ساقطول وي نوشفیع ورته وایي چې نه دواړه دې په یوعقد سره اخیستی دی په ۲۰۰۰ دینارو اوس دواړه زماحق دی په شفعې سره نوپه دې صورت کې اختلاف اوشخړه راغله.

د حل لاره: داده چې په دې مذکور صورت کې دشفیع قول معتبر دی ځکه: «لان إفراد کل واحدمنهما بصفقة حال اتصالها لیس بمعتاد بل العادة بیعهما صفقة واحدة فکان الظاهر شاهد للشفیع فکان القول قوله.»[3]

---

[1] - مغنی المحتاج، ج: ۲، ص: ۳۰۴.

[2] - بدایة المجتهد، ج: ۲، ص: ۲۱۲، بدائع الصنائع، ج: ۵، ص: ۳۰ – ۳۱.

[3] - بدائع الصنائع، ج: ۵، ص: ۳۲.

ژباړه: ځکه جداوالې د هر یو په مستقل او ځانګړې ترون سره په داسې حال کې چې دواړه سره یو ځای او متصل دې دا په رواج او عادة نه دې چې جدا وپلورل شي، بلکې عادت او تعامل دا شان دې چې په یو عقد اوترون پلورل کیږي، نو ظاهر دعادت او تعامل د شفیع لپاره شاهد دې، نو ځکه قول دشفیع معتبر دې .

دریم صورت دشخړې: هغه داسې دی چې خرڅونکی اواخیستونکی وایي چې په معامله واک یعنې خیار موجود دی اوبیع بالخیار کې خوشفعه نه وي نو ته حق د شفعې نه لري مګر شفیع دعوه لري چې نه دابیعه بات ده نوشخړه پیشه شوه.

د حل لاره: داده چې دفقهاءو اقوالو ته ګورو مختلف دي چې دچاقول معتمد اوقوي دی دامام محمد (رحمه الله) او په یوروایت کې امام ابویوسف (رحمه الله) په دې نظر دي چې معتمد قول دشفیع دی ځکه ظاهري حال دشاهد لپاره دی،: «لان البات اصل في البیع والخیار عارض فکان القول قول من یتمسک بالاصل.»[1]

داهغه صورتونه چې په مسائلو کې شخړې واقع شوي او د فقهاء په اقوالو سره ورته د حل لارې چارې تجویزشوي دي، په لویه کې فقهاء کرامو ځومهمې لارې چارې د شخړو د حل لپاره ښودلې دي هغه باندې مختصر بحث اوڅېړنه کوو.

لومړی دادی چې شفیع دې ته وادار کړای شي چې د شفعې حق ځخه تېرشي اومشتري ته داحق ورپرېږدي او دا کولې شي ځکه شفعه غوښتل د ده حق دي او د خپل حق ځخه تېریدل په دې کې هیڅ ستونزه نشته، بلکې لوی خیر په کې دی چې شخړه ورسره له منځه ځي.

په دې هکله بدائع له کتاب ځخه ددعبارت په راوړلو به بسنه وکړو:

«وذلک لان الشفعة خالص حقه فیملک التصرف فیه استیفاء واسقاطها کالابراء عن الدین.»[2]

ژباړ: او داخبر ثابته ده ، ځکه شفعه یو خالص حق د ده دی ، نو دی دهر ډول تصرف کولو حق لرې اخیستل ، پرېښودل ، لکه دقرض ځخه ابراکول.

دوهم صورت دشخړې د حل: هغه دادی که دهمدې شخړې اوجنجال پرمهال شفیع ومړ نوهم شخړه ختمېږي ځکه دفقهې قاعدې په اساس : «وتسقط الشفعة بوفاة الشفیع لان حق الشفعة لایورث.»[3] ژباړ: ساقطېږي شفعه په مرګ د شفیع سره ځکه حق دشفعې په میرا ث نه وړل کیږي.

---

[1] - بدائع الصنائع: ج: ۵، ص: ۳۳.

[2] - البدائع الصنائع، ج: ۵، ص: ۱۹.

[3] - الدرالمختار، ج: ۵، ص: ۱۷۰.

دریم صورت دشخړې دختمیدو: هغه داده چې سوله وکړي دواړه خواوې چې شفیع غوښتنه او یا هم مشتري وړاندیز وکړي شفیع ته یادریم طرف غوښتنه وکړي چې دومره مقدار مال شفیع ته ورکړه چې هغه د شفعې دحق تېر شي نو هغه مال واخلي او په بدل کې د شفعې دحق څخه تېرشي نوشخړه به پای وموميِ، کله چې هم داکار وکړي نودشفیع حق د شفعې باطل شو دښه وروسته حق نه شي غوښتل.[1]

البته دیاونې وړده چې داشان سوله سمه ده او که نه نوپه دې هکله هم دفقهاء ترمنځ اختلاف شتون لري، جمهور فقهاء وایي چې دادول سوله سمه نه ده ځکه شفعه یوحق دتملک دی او دا یوه معنی ده چې قائم اوثابته ده شفیع ته نوپه دې حق عوض اخیستل صحیح نه دی نوعوض ورکول هم صحیح نه دی:.»[2]

مګر مالکیه(رحمهم الله) دادول سوله صحیح ګڼي دوی وایي داځکه چې عوض اوبدل اخیستل دی دملک په لرې کولوکې نوجائزدی اخیستل دبدل لکه: ښځه چې دتملیک حق په بدل کې ځان په خلعې سره خلاصوي.

[داټول هغه صورتونه دي چې فقهاءو کرامو د شخړو دلرې کېدو په خاطرذکر کړي دي له دې څخه د شخړو د حل لپاره استفاده کولې شو، او که مصالحه کونکی بل کوم طرحه لرله چې حرامه نه وی، د هغې څخه هم ګټه اخیستل شي.]

لسم مطلب مشترکه حقوق اوشخړې او د هغو د حل لارې چارې:

څرکنده اومعلومه ده چې ملکیتونه په دوه ډوله دي یوډول هغه دي چې دشخص په ملکیت کې وي په ملک تام سره هیڅا لپاره په کې په هیڅ ډول حق نه وي په داسې ملکیتونو کې تصرف کول ازاد اوجائز دی هرډول تصرف په کې کولې شي پرته د بل له اجازې څخه البته داسې تصرف به په کې نه کوي چې په هغې سره بل چاته ضرروي ځکه داشرعاً ممنوع دی له دې امله اسلامي شریعت بل چاته دضرر رسولو څخه منع کړي یو،**«لاضرر ولاضرار.»**[3]

او د بل چاته دضرر رسول څخه نبی کریم ﷺ په سخت الفاظو منعه فرمایلي ده یوخوهمدا حدیث شو، بل حدیث کې نبی کریم ﷺ فرمایلي دي: **«من کان یؤمن باالله والیوم الاخرفلایؤذی جاره.»**[4]

دایمان غوښتنه داده چې بل چاته به زیان نه رسوې که هغه ستاپه خپل ملکیت کې دتصرف له امله هم وي.

---

[1] - بدائع الصنائع، ج: ۵، ص: ۱۷۰، الهدایة، ج: ۴، ص: ۳۷.

[2] - بدائع الصنائع، ج: ۵، ص: ۱۷۰، الهدایة، ج: ۴، ص: ۳۷.

[3] - سنن ابن ماجه، لمحمد بن یزید ابوعبدالله القزویني، تحقیق: محمدفواد عبدالباقي، نشرکوونکی: دارالفکر-بیروت، دحدیث شمیره، ۲۳۴۰، باب من بنی فی حقه مایضربجاره، التخریج: قال الباني، صحیح.: غایة المرام ج ۳ ص۳۲۱

[4] - صحیح البخاري، باب حفظ اللسان، دحدیث شمیره، ۶۴۷۰، ج: ۸، ص: ۱۰۰.

دوهم ډول هغه ملکیت دی چې په ملک ناقص سره په دې معنا چې ځمکه، باغ، دیوال، کورشریک وي، نو دا هغه ډول ملکیت دی چې په دې کې تصرف ازاد نه دی، او همداهغه ډول ملکیت دی چې اکثر شخړې په همدې کې راځي، نوپه دې کې د شخړو صورتونه ډېردي دهغه له دې ځخه یو څو صورتونه دلته ذکر کوو، بیاوروسته د حل لارې چارې هم ورته ذکر کوو.

لومړی صورت دشخړې: ددوه شریکانو دیوال دی نویو شریک غواړي چې په دیوال کې دروازه یاکړکي یاهم یوډول تصرف په کې وکړي اوبل ممانعت کوي نوشخړه اوجنجال پیښ شو.

د دې شخړې د حل لاره: هغه داده چې فقهاء ذکر کړی ده چې دوی به سوله وکړي دې مشترک ځیزځخه چې استفاده کوي نوپه تفاهم دی وکړي مقابل لوري ته دې عوض ورکړي.[1]

دوهم صورت: دادی چې په مشترک دیوال لرکي کیږدي نو هغه بل لوری د دې مخنیوی کوي، نوسمدلاسه شخړه اولانجه جوړه ده.

د حل لارې: وبه کورو که په شریک دېوال لرکي اېښودل مقابل لوري ته ضرر رسوي او که نه که پې زیان رساوه نو دا شخص به له دې کارځخه منع شي ځکه دضرر رسولو ځخه منعه شوې ده لکه ځنګه چې په پورته حدیث راغلي دي.

او که هغه بل لوري ته ضرر نه وه نوبیا هم د(مغنی کتاب خاوند)په قول چې له هغه ځخه اجازه خوښه ترلاسه کړي که راضي شو داکار دې وکړي پرته دعوض اوبدل ځخه که داسې هم نه کول بیادې ورسره سوله وکړي په مقابل دداستفادې کې عوض اوبدل دې ورکړي دشخړې په له منځ وړلو کې.[2]

دېته ورته صورتونه د شخړو په مشترکو ملکیتونو کې په ورځني ژوند کې پېښېدای شي، چې له دې صورتونو د حل ځخه په ګټه اخیستنې په هغه شخړو کې چې منځ ته راغلي حل اوفصل شي اوشریکانو ترمنځ د سولې او پخلاینې یوه ارامه فضا رامنځ ته شي شیطان اوشیطان پرسته انسانان پرې نښودل شي چې د شخړو اور ګرم کړي او د وی په کې خپل شومې توطئ عملي کړي.

[1] - بدائع الصنائع، ج: ۶، ص: ۲۶۴، مغنی المحتاج، ج: ۲، ص: ۱۸۹.

[2] - مغنی المحتاچ، ج: ۲، ص: ۱۸۷.

یولسم مطلب د اجاری پیژندنه او په اجاره کې شخړې او د شخړو حل لارې چارې:

په دې مطلب اجاره پېژندنه، داجارې اړونده اصطلاحات اومسائل د شخړو پېښدو صورتونه او د حل لارې چارې د الله پاک په توفیق سره.

لومړی داجارې پېژندنه او د هغې څخه وروسته په اجاره کې د شخړو صورتونه او بیا د شخړو د حل لارې چارې ذکرکړو.

شرعاً: «هِيَ بَيْعُ مَنْفَعَةٍ مَعْلُومَةٍ بإجرة مَعْلُومَةٍ.»[1]

ژباړه: اجاره هغه عقد اوترون څخه عبارة چې کټه اوبدل دواړه معلوم وي . مثال دلس زرو افغانیو په بدل کې دکور داوسېدو څخه کټه اخیستل.

رکن الاجارة:

دعامو عقودو په شان داحنافو په نزد ایجاب او قبول دی اوجمهورو په نزد باندې داجارې لپاره څلور څېزونه ارکان دي: ۱ ـ عاقدان ۲ـ صیغه ۳ ـ اجرة ۴ ـ منفعة.[2]

دجمهورو علماؤ په نزدباندې عقد داجارې یومشروع اوجائز عقد دي دجواز لپاره ډېردلائل شتون لري

لومړی په قرانکریم کې ډېرآیاتونه موجود دي د هغې له ډلې څخه یودلته ذکرکوو دموسی علیه السلام په قصه کې: « قَالَتْ إِحْدَاهُمَا يَا أَبَتِ اسْتَأْجِرْهُ إِنَّ خَيْرَ مَنِ اسْتَأْجَرْتَ الْقَوِيُّ الْأَمِينُ. »[3]

دا ایت صریح اوظاهردي دایجارې په جواز کې دی .

په دې هکله احادیث هم ډېر دي په یوحدیث بسنه کوو: **عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -ﷺ- يَعْنِي :« قَالَ رَبُّكُمْ عَزَّوَجَلَّ ثَلاَثَةٌ أَنَا خَصْمُهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَمَنْ كُنْتُ خَصْمَهُ خَصَمْتُهُ رَجُلٌ أَعْطَى بِي ثُمَّ غَدَرَوَرَجُلٌ بَاعَ حُرًّا فَأَكَلَ ثَمَنَهُ وَرَجُلٌ اسْتَأْجَرَ أَجِيرًا فَاسْتَوْفَى مِنْهُ وَلَمْ يُوفِ أَجْرَهُ.»**[4]

په دې حدیث کې دلالت دی په دې او وعید دی هغه چاته چې مزدوریې ونیوه اوکار ورباندې وکړ، خو دده مزدوري ورنه کړي، وهذا یستلزم مشروعیة الاجارة.

---

[1] - البحرالرائق ج 8، ص: 2.

[2] - الفقة الاسلامي وادلته، ج: ۵، ص: ۴۵۴.

[3] - سورت قصص، ایت: ۲۶.

[4] - صحيح البخاري، كتاب البيوع، ج: ۲، ص: ۷۷۶.

تعامل اوعرف هم د دې په جواز اومشروعیت باندې راروان دي حتی که داسې تعبیر وکړوچې د اجارې جواز اومشروعیت تواتر ته رسیدلې دې اوس مشاهده همدا ده چې دورځنۍ ژوندډیراې چارې داجارې په شکل روان دي حتی زمور هیواد کې خو وزارت خانې او ډیراې ریاستونو وداني هم په اجاره (کرایه)نیول شوې دي.

دمشروعیت حکمت: دمشروعیت حکمت په دې کې دی چې اجاره د دې لپاره مشروع او روا ګرځول شوې ده چې هریو شخص ټول هغه څه نه لري چې ورته اړتیا لري نود خپل اړتیا پوره کولولپاره دا اجاره یومعقوله لاره اوطرحه ده چې عملي ده.[1]

دنزاع اوشخړې صورتونه او د هغې حل لارې چارې:

په اجاره کې هم ډېرصورتونه شتون لري چې شخړې په کې پېښېږي چې د هغې له ډلې څخه یو څو دلته ذکرکوو او بیا به د حل لارې چارې هم ذکر کړو.

لومړی صورت دشخړې: هغه داسې چې طرفین اختلاف وکړي په اندازه داجرة کې په داسان چې مؤجر ډډېرمقدار دعوه لري اواجیر دکم مقدار دعوه لري په دې صورت کې شخړه رامنځ ته کېږي، اصلاً قاعده داده چې کله عقد داجارې وشي نولازم په مؤجرباندې دکټې تسلیم کول دي اولازم په مستأجر دی چې اجرت پوره ورکړه ده، په هغه اندازه چې عقد وربانډې شوي دی.

د حل لاره: ۱.که ټرون په لیکلي بڼه وي په همغې به پرېکړه وشي.

۲ـ کوم لوري سره چې ګواهان وي دهمغې په قول به فیصله کیدای شي، او که دایوحال هم نه وه، یرجع الی العرف والعادة[2]

۳ـ: داده چې سوله دې وکړي په یومقدار باندې داهله چې کله عمل پوره کړې وي ځکه په دې صورت کې دا اجرت قرض ګرځي دهغه په وړاندې نوپه دې کې شخړه ختمول په هغه طریقو کولی شي کومی طریقې باندې چې په قرضونو کې سوله کړې وه.

دویم صورت دشخړې: په موده او وخت کې شخړه راشي او یا هم په مخکې والي او وروسته والي داجرت کې جنجال اوشخړه راشي، دېته ورته نورصورتونه د شخړو چې پېښ شي نود حل لارې همغه دي چې کوم مخکې صورت کې ذکر شې او همدا شان هغه صورتونه د حل هم په کې جارې کېدای شي چې کوم کې دمدعي قول معتبر وي او په کوم صورت کې دمدعي علیه هغه چې په تبره مطلبونو کې ذکر شول هغه ته دې مراجعه وشي.

---

[1] دررالحکام شرح عزیزالاحکام، چ: ۷، ص: ۴۵.

[2] - نهایة المحتاج، لشمس الدین محمد، بن ابي العباس الرملی، المتوفی، ۱۰۰۴، نشرکوونکی: دارالفکر، چاپ، ج: ۴، ص: ۱۹۴.

مهمه داده چې شخړو ته د پای ټکی کېښودل شي په ټول هغه مشروع اوجائز لارو چې مخکې ذکرشوې او همدا شان هغه کتابونو باندې چې حوالې ورکړای شوي دي زیات تفصیل اوجزئیات لپاره دې هلته مراجعه وشي .

دولسم مطلب وديعت پېژنده او د شخړو له منځه وړلو صورتونه

په دې مطلب کې وديعت پېژنده په قانون اوفقه کې او همدا شان د وديعت اړوند موضوعات دځېړنې لاندې نيول کېږي د الله په توفيق سره

وديعت په قانون کې داسې تعريف شوی دی

«وديعت داسې عقد دی چې د هغې په موجب مالک د خپل مال دساتنې واک د بل چاسره دساتنې لپاره اېښودل کېږي.»[1]

وديعت دعقد دصحت شرط دادی چې اېښودل شوی شئ دتصرف د ذوالید لاندې راوړل کېدای شي او د وديعت اخيستونکی له خوا قبض شوی وي.[2]

چاسره چې وديعت مال اېښودل کېږي هغه مکلف دی چې د هغې ساتنې ته داسې توګه توجه وکی لکه خپل مال ساتنې ته چې کوي، بله خبره داده چاسره چې وديعت مال اېښودل شوی وي نشي کولی چې دساتنې په مقابل کې اجرت وغواړي، البته يوصورت ترې مستثنی دی هغه دا چې دعقد کولو په وخت کې وربانديې تصريح شوې وي چې دساتنی په مقابل کې به يوځه اجرت ورکوي بياکومه ستونزه نشته.[3]

دفقهي کتابونو هم مختلف تعريفونه کړي دي

«الوديعة : فی الشريعة الايداع هوتسليط الغيرعلی حفظ ماله.»[4]

ژباړه: په شريعت کی بل څو ک دخپل مال په ساتلو مقرر ول.

دنزاع صورتونه په مختلف دی: لومړی صورت دادی چې مال دهغه چاسره چې اېښی دی هلاک شي نودضمان (تاوان) په سره لانجه را ولاړېږي.

همدا شان چې دوديعت مال د خپل مال سره ګډ کړي او د جلاکولو طريقه ممکن نه وي، نوبيا هم جنجال اوشخړه پېښېږي.

دريم صورت: که چاسره وديعت مال اېښول شوی وي هغه شخص مړشي نوځه به کېږي داهغه صورتونه دي شخړې په کې رائي.

---

[1] - مدني قانون، دريم توک څلورم فصل، ۱۶۰۹، ماده، ج: ۳، ص: ۲۵.

[2] - مدني قانون، دريم توک څلورم فصل، ماده، ۱۶۱۰.

[3] - مدني قانون، ماده، ۱۶۱۲ – ۱۶۱۳.

[4] - البحرالرائق، ج: ۷، ص: ۲۷۳.

د شخړو حل لارې چارې:

دلته یوائې هغه صورتونه ذکرکړو چې په هغې کې قانون تصریح لري، که ودیعت مال دامین سره هلاک شي نوکوم ضمان په دې سړې نشته، البته که دا هلاک دده له لوري راغلي وي او یا هم په ساتنه کې کوتاهي کړې وي نوبیاضمان شته[1]

او که دودیعت مال کې استهلاک راشي او یا هم دمالک داجازې پرته استعمال کړی اوپرته داجازې ترې ګټه واخلي، نودحالاتوسره سم ضمان به ورکوي.[2]

او که په دې صورتونوکې هم شخړې حل نه شوې نود سولې هغه صورتونه ځنې دي کارواخیستل شي کوم چې وړاندې ذکر شوې دی هغه ټول دلته اجرا کیدای شي ترڅو چې په کې د حلت اوحرمت خیال ساتل کېږي.[3]

[1] - مدني قانون، ۱۶۱۴ ماده.

[2] - مدني قانون، ۱۶۱۶ ماده.

[3] .بدائع الصنائع، ج: ۴، ص: ۶۸۹.

دوهم مبحث د کورنۍ جوړښت اوحقوق په کورنۍ کې شخړې او د شخړو حل لارې چارې په دې مبحث کې شپږمطلبونه دي:

لومړی مطلب د کورنۍ جوړښت اساسي اصول:

په دې کې هیڅ شک نشته چې د کورنۍ جوړښت چې نکاح په تړلو پیل کېږي او د نکاح علاقه او اړیکه په اسلام کې هغه مقدسه اوپاکه علاقه ده د الله پاک دقدرت دنښانو څخه یوه ستره نښه ده، او دا سې نښه اوعلاقه ده چې د هغې پربنسټ مودَّة اومحبت منځ ته راځي په دې هکله الله تعالی فرمایي: « وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ خَلَقَ لَكُمْ مِنْ أَنْفُسِكُمْ أَزْوَاجًا لِتَسْكُنُوا إِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُمْ مَوَدَّةً وَرحمَةً إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ .»[1]

ژباړه: او دهغه له نښانو څخه (بله) داده چې ستاسې لپاره همدا ستاسې له جنس نه يې ميرمنې پيدا کړې ترڅوچې تاسې له هغو سره ارام ترلاسه کړئ او ستاسې (ښځې او خاوند) په مينځ کښې يې مينه او خواخوږي پيداکړه . په باوری ډول پدې کښې د هغو خلکو لپاره ډيرې نښانې دي چې غور او فکر کوي .

دې مضبوطی او د محبت اورحمت څخه ډکې علاقې ټينک ساتلو لپاره اسلام مبارک دين يولړ اصول اومقررا ت ايښې او وضع کړي دي چې د هغې په لحاظ ساتلو سره کولی شو چې دې علاقې ته دوام ورکړو اوله ژوند څخه خوند واخلو، د کورنۍ جوړښت اصول په لاندې ډول دي.

لومړی اصل حسن الاختيار: په دې معناچې کوم څه چې کورنۍ دجوړښت لپاره اساسي خښته ده، د هغې په انتخاب کې بايد کامل دقت او احتياط څخه کار واخيستل شي، د هغې ښه والی لپاره بايد دکوم معيار څخه کار واخيستل شي؟

په ورځنې ژوند کې مورِ وينو چې د ژوند دشريک لپاره مختلف معيارونه شتون لري چې وکړي ده هغې په اساس ځان ته د ژوند شريک انتخاب اوخوښوي، البته دياد وني وړ ده چې مسلمانه ټولنه او مسلمان وکړي بايد د ژوند په ټولو پراونو کې هغه انتخاب خپل انتخاب وکړي کوم اسلام مبارک دين هغه مورِ ته راپه ګوته کړې دې اواسلام دين داسی يوجامع اوشامل دين دې چې د ژوند په ټولو برخوکې ځانګړې لارښونې لري ځانګړې توګه په دې هکله چې د ژوند ترټولو يوه مهم پراؤ دې په دهکله زمورِ انتخاب هغه دې کوم چې مورِته زمورِ شريعت راپه ګوته کړې دې هغه يواځې معيار شرعي دې کوم چې رسول الله ﷺ به خپلو لارښونو کې واضح کړی دي په دې هکله هغه ﷺ فرمايي: **عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ،**

[1] - د الروم سورت، ايت: ۲۱.

عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " تُنْكَحُ الْمَرْأَةُ لِأَرْبَعٍ: لِمَالِهَا، وَلِحَسَبِهَا، وَلِجَمَالِهَا، وَلِدِينِهَا، فَاظْفَرْ بِذَاتِ الدِّينِ تَرِبَتْ يَدَاكَ ".[1]

ژباړه: په نکاح کیداشي ښځه دځلوروصفتنو په اساس : دمال دوجهې،دنسب دوجهې، دښایست دوجهې، او د ین دوجهې، ځان کامیاب کړه په دین داره باندې خوارشوی یه.

په دې حدیث کې هغه اصول بیان شوي دي چې هغه په کومه ښخه کې موجود وي نوسړی د هغې نکاح، ته هڅیږي، یومال یعنې دمال په وجه یوښځې سره نکاح کېږي چې هغه مال داره وي نوپه عامه اصطلاح مال ته یې ورته سترکې پټې کړې وي،او بل دښځې سره نکاح کېږي چې هغه لوړ نسب لري یوخاص اوځانګړې موقف لري په ټولنه کې ده نسب له وجهې نوشخص دافکر وکړي چې راځه دې لورنسب والا سره نکاح وکړه لوړ او عالي نسب سره به دې مناسبت رایشي، بل دښایست اوښکلا لپاره یوې ښځې سره خلک نکاح کوي چې راځه تر ټولو ښایسته اوښکلې انجلي سره نکاح وکړه،(په اوسني وخت کې د ډیرآې ځوانانو ښایست په اساس ده ودونو انتخاب کوي) بل اصل اوکلیدي اومهم اصل چې د ژوند پایښت پورې پاتیکېږي هغه ده دین داري صفت دې یوځوان ده یوې انجلۍ سره ده دین داري په اساس واده اونکاح کوي . داهغه صفات دي چې په ټولنه کې د ژوند شریک د انتخاب لپاره کارول کېږي .خورسول الله ﷺ دین ځانګړنه انتخاب کړه.

په دې حدیث مبارک کې دین یواساس په شکل دښځې انتخاب لپاره ذکرشو، اوله دې دانه لازمېږي چې دا نور صفات دی په کې منتفي وي بلکې دیانت اصل وګرځول شو، ځکه هغه نورصفات ممکن چې انسان بل لوري ته راکاږي مثل فخر، مفاخره، تکبر، لویي بداخلاقي او داسې نورناوړه پایلې لري، کله کله حسن ډېروالي هلاکت لوري ته سړي بوځي، اونسب اګرچې ډېرمثبت دی خوکله په نسب کې بیا دانور مثبت صفات نه وي، او د دیدن صفت هیڅ نیمګړتیا نلري، بدرنګه، اوفقیره دي وي خودینداری صفت ورپکې وي، ژوند به ښایسته اوپوره اطمنان سره وي، او مَوَدَّة اورحمت څخه به ډک وي او کورني جوړښت لپاره همداسې یوماحول ضروري دي، همدا شان دین اواخلاقو صفات چې کله هلک کې وي او هغه په انجلۍ خطبه وکړي نورسول الله ﷺ وایي چې په نکاح یې ورکړي که مو ورنکړه نولوی فساد به په ځمکه کې شي، په دې هکله رسول الله علیه وسلم داسې فرمایي: « **إذا جاءكم ممن ترضون دينه وخلقه فأنكحوه، إلا تفعلوا تكن فتنة في الأرض وفساد عريض.**»[2]

---

[1] - البخاري، باب الاكفاء رقم الحديث، ج: ٧، ص: ١٧.

[2] - ترمذي – باب النكاح، دحديث شمېره: ١٠٨٤، تخريج: امام الباني، وايي چې حسن دی غاية المرام، ج: ١، ص: ١۴۴.

ژباړه: کله چې رایشي د(خطبې)لپاره هغه څوک چې تاسودین داري او اخلاق څخه خوښ اوراضي وینوپه نکاح ورته ورکړي که داسې ونه کړي فتنه د(بداخلاقي)به واقع شي اولوې فساد به په ځمکه کې شي .

دوهم اصل رضامندي: چې کله هم انتخاب وشو نوارینه ده چې داعقد باید په رضا سره وي دواړه طرفه باید خوښ وي، په ځانګړي ډول انجلۍ څخه به خوښه اورضا اخیستل شي ځکه زمور په ټولنه کې دانجلۍ څخه اصلا پوښتنه نه کېږي او که وشي هسې رواجي نورضا اوخوښه مهم اصل دی.[1]

په دې هکله صحیح حدیث موجود دی رسول الله ﷺ، فرمایي: **أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لاَ تُنْكَحُ الأَيِّمُ حَتَّى تُسْتَأْمَرَ، وَلاَ تُنْكَحُ البِكْرُ حَتَّى تُسْتَأْذَنَ».**[2]

ژباړه: په نکاح به نه شي ورکولې کونډه ترڅوچې امرترې وغوښتل شي او په نکاح به نه شي ورکولې پیغله ترڅوچې اجازه ترې وغوښتل شي .په اساس ده همدې حدیث اونورو روایتونو په اساس خوښه اورضامندي مهم اصل دنکاح په موضوع کې، اوتجربه هم په دې ګواه ده چې کله هم رضامندې نه وي نوژوند کې ډیرې داسې ستونزې راولاړیږي چې نه تنها ښځې اوخاوندته ستونزې جوړه وي بلکې ده دواړو فامیلونو اوحتی قومونوته جنجالونه زیږ وي .

دریم اصل: دادی چې علاقه باید په محبت اورحمت سره وي:

اسلام مبارک دین د کورنۍ دټینګښت لپاره محبت اورحمت یواصل دی چې کله هم محبت اورحمت موجود وي نوهغې کورنۍ ژوند په ښه شکل پرمخ ځي او د نکاح یوهدف هم قران سکون محبت اورحمت بیان کړی دی، لکه په دې ایت کې په صریح ډول داموضوع ذکر شوې ده: « وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ خَلَقَ لَكُمْ مِنْ أَنْفُسِكُمْ أَزْوَاجًا لِتَسْكُنُوا إِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُمْ مَوَدَّةً وَرحمَةً إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ .»[3]

ژباړه: او دهغه له نښانو څخه (بله) داده چې ستاسې لپاره همدا ستاسې له جنس نه یې میرمنې پیدا کړې ترڅوچې تاسې له هغو سره ارام ترلاسه کړئ او ستاسې (ښځې او خاوند) په مینځ کښې یې مینه او خواخوږي پیداکړه . په باوری ډول پدې کښې د هغو خلکو لپاره ډیرې نښانې دي چې غور او فکر کوي

نودواړو ته لازمه ده چې داسې دمؤدت اوسکون ژوند تېرکړي لکه یوتن او یو وجود لکه دوه روحه چې په یوه بدن کې وي.(روحها روحي وروحي روحها من رأی روحین حلا فی البدن)

---

[1] - البحرالرئق، ج: ۳، ص: ۱۲۱.

[2] - صحیح البخاري، دحدیث شمېره، ۵۱۳۶، ج: ۷، ص: ۱۷.

[3] - د الروم سورت، ایت: ۲۱.

څلورم اصل المعاشره بالمعروف: په ښه شکل او شریعت برابر ژوندکول:

هیڅ کله هم یوه کورنۍ نیک بخته اوعزتمنده نشي کېدلې او په ارامه ژوند نشي کولې ترڅوچې د الله تعالی د اوامرو فرمانبرداره وي، او کله چې هم فرمانبردار شول او دمتبادل احترام یو بل ته ولري نوهیڅ شک نشته چې داکورنۍ د الله په اذن اوتوفیق سره یوممتازه کورنۍ وي، او دا به یوه نمونه یې کورنۍ شي، او په دې نیک ژوند کولو الله تعالی امر کړی دی: « ...وَعَاشِرُوهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ... »[1] او که چېرې ژوند کې تعامل بد وي یو بل سره ښه تعامل نه وي،نولرې نه ده چې د دوی ترمنځ شقاق مخالفت اوشخړې پېښې شي په دې هکله صاحب دبدائع الصنائع څه ښه وایي: «وسوء العشرة ينشئ المخالفة ويقع به الشقاق والنزاع.»[2]

پینځم اصل حقوق اوواجبات: داهغه اصل دی که داپه ژوند کې مراعات شي نوهیڅکله هم شخړه ونه ګورئ بلکې دمحبت او مَوَدَّة څخه ډک ژوند به ولري، ځکه اکثره چې شخړ رائي، هغه هم په دې اساس چې حقوق دیو بل نه اداء کېږي، حقوق خودیو بل ډېروي خودلته به دیو څو عمده یادونه وکړو.

لومړی دخاوند حقوق په ښځه باندې:

په دې برخه کې غواړم بعضې هغه حقوقو څخه یادونه وکړم چې خاوندیې په میرمن لري .

- ✓ حق القوامة: (دسنبالونکی حق)
- ✓ اطاعت کول: ښځه مکلفه ده چې دخاوند اطاعت وکړي په ټولو امورو کې مګرپه ګناه کې به نکوي.
- ✓ دځان او مال او عزت ساتونکی به وي.
- ✓ دخاوند له اجازې پرته به دکور نه بهر نه وځي اوحتی نفلي روژه به هم نه نیسي.
- ✓ داولاد سمه روزنه به کوي.
- ✓ دخاوند نفسې اوطبعې غوښتونو ته به لبیک وایي.
- ✓ دخاوند د ژوند امانت خیال به ساتي د ژوند رازونه به نه افشاء کوي.[3]

دېته ورته ډېرحقوق شته خو په همدې بسنه کوو.

---

[1] - دالنساء سورت، ایت: ۱۹.

[2] - بدائع الصنائع، ج: ۳، ص: ۱۵۵۳.

[3] - موسوعة الزواج، الاسلامي السعيد: تاليف: الشيخ محمد ابوعمارالمصري: نشرکوونکی مکتبة الصفاء- مصر، ج: ۱، ص: ۲۷۸.

حق القوامة:

دسنبالونکی حق اسلام دین سړی ته ورکړې چې سړی په قوام وي، سنبال چارې به وي، الله تعالی فرمايي:« الرِّجَالُ قَوَّامُونَ عَلَى النِّسَاءِ بِمَا فَضَّلَ اللَّهُ بَعْضَهُمْ عَلَى بَعْضٍ وَبِمَا أَنْفَقُوا مِنْ أَمْوَالِهِمْ فَالصَّالِحَاتُ قَانِتَاتٌ حَافِظَاتٌ لِلْغَيْبِ بِمَا حَفِظَ اللَّهُ وَاللَّاتِي تَخَافُونَ نُشُوزَهُنَّ فَعِظُوهُنَّ وَاهْجُرُوهُنَّ فِي الْمَضَاجِعِ وَاضْرِبُوهُنَّ فَإِنْ أَطَعْنَكُمْ فَلَا تَبْغُوا عَلَيْهِنَّ سَبِيلًا إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيًّا كَبِيرًا.»[1]

ژباړه: نارینه پر ښځو مسلط اداره چیان دي، له دې امله چې الله د هغو ځینو (نارینه و)ته پر ځینو نورو (ښځو) لوړتیا وربښلې ده، او له دې کبله چې نارینه خپل مالونه لګوي ؛ نو کومې ښځې چې صالحې دي هغوی د فرمان منې خوی لري او د نارینه ؤ په غیاب کښې د الله تر ساتنې او څارنې لاندې د هغو د حقوقو ساتنه کوي . او تاسې چې د کومو ښځو له سر غړونې څخه اندېښمن یاست، هغوی پوه کړي د خوب ځایونه ورځخه جلا کړي او ویې وهئ، نو که هغوی ستاسې فرمان برداري شي؛ نو هغو ته د لاس غځونې له پاره بیځایه پلمې مه جوړوي، باور ولري چې له پاسه الله شته دی چې لوی او لوړ دی.

دوهم دښځې حقوق په خاوند:

دښځې حقوق په خاوند هم ډېردي دلته یوائې یو څو څخه یادونه کوو، په دې هکله قرانکریم څومره دقیق تعبیر کړی دی: « وَالْمُطَلَّقَاتُ يَتَرَبَّصْنَ بِأَنْفُسِهِنَّ ثَلَاثَةَ قُرُوءٍ وَلَا يَحِلُّ لَهُنَّ أَنْ يَكْتُمْنَ مَا خَلَقَ اللَّهُ فِي أَرحمه اللهامِهِنَّ إِنْ كُنَّ يُؤْمِنَّ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَبُعُولَتُهُنَّ أَحَقُّ بِرَدِّهِنَّ فِي ذَلِكَ إِنْ أَرَادُوا إِصْلَاحًا وَلَهُنَّ مِثْلُ الَّذِي عَلَيْهِنَّ بِالْمَعْرُوفِ وَلِلرِّجَالِ عَلَيْهِنَّ دَرَجَةٌ وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ.»[2]

ژباړه: کومو ښځو ته چې طلاق ورکړای شوی وي، هغوی دې ددرېیو حیضونو موده پر انتظار تېره کړي او دا ورته روانه ده چې هغه څه چې الله ددوی په رحم کښې پیدا کړي وي هغه پټ کړي هغوې ته هیڅکله نه ښایي چې داسې وکړي که پر خدای او داخرت پر ورځ ایمان لري که د هغو مېړونه د خپلو اړیکو سمولو لپاره چمتو وي، نو دهمدې عدت په دوران کې په خپله نکاح کښې د هغود بیا راوستلو حق لري . د ښځو له پاره هم په معروفه توګه هماغسې حقوق دي لکه څنګه چې د نارینه ؤ پر هغو حقوق دي –البته نارینه پر هغوی وه درجه (فضیلت) لري او پر ټولو الله غالب مقتدر او دحکمت او پوهې څښتن دی.

دښځو لپاره اسلام مبارک دین ډیر شان حقوق ذکر کړیدي، که دمحاید(یوبی طرفه)انسان په صف دهغه حقوقو ارزونه وشي چې اسلام مبارک دین ښځو ته ورکړي نوفیصله به دا وشي چې واقعا الله هغه سترذات ثناباید وویل شي

[1] - دالنساء سورت، ایت: ۳۴.

[2] - دالبقرې سورت، ۲۲۸،ایت.

اوستر قدرتونوځښتن ښه پوهيږي په هرڅه باندې،ځکه دومره ځانګړې حقوق ښځوته ورکړي الحمدلله على دين الاسلام، دهغه حقوق له جملې څخه چې ښځه په خاوندلري دلته دیو څو یادونه کوؤ، هغه خو بیله خبره ده چې په ټولونو کې ښځوحقوق پښولاندې کېږي او ورته نه ورکول کېږي .شته

- ✓ مهرورکول دعقد نکاح سره سړی مکلف دی چې ښځې ته دمهر حق ورکړي.
- ✓ نفقه:خاوند مکلف دی چې ښځې ته دنفقې او اوسېدوځای برابرکړي.
- ✓ په دین باندې یې پوهه کړي ځکه داور دجهنم ځخه دخلاصي لاره ده: « يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قُوا أَنْفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ عَلَيْهَا مَلَائِكَةٌ غِلَاظٌ شِدَادٌ لَا يَعْصُونَ اللَّهَ مَا أَمَرَهُمْ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ.»[1]

ژباړه: ای مؤمنانو ! خپل ځانونه او خپل اولاد او کورنۍ له هغه اورنه وژغورئ چې دهغه د سون مواد به انسانان او تیږې وي، چې پرهغه به غوسه ناکې سخت زړې پرښتې موءظفې وي چې هېڅکله به د الله له حکم څخه سر نه غړوي او هرامر چې ورته کېږي هغه په ځای راوړی.

- ✓ خپل خاوند په دې نیک ګمان کوي اوغیرت به ورباندې کوي.
- ✓ په ژوند تېرولوکې به ورسره ښګېنه کوي، وعاشروهن بالمعروف[2]
- ✓ خاوند به وهل ټکول نه کوي.
- ✓ مینه اومحبت به ورسره کي.
- ✓ دکور په کارونو اولاد به تربیه کې به سره مرسته کوي.[3]

دېته ورته ډېرحقوق یوپربل لري چې د هغې مراعات کول د کورنۍ دټنګښت لپاره ضروري دي داشول دیوې کورنۍ دجوړښت هم مهم اصول اواساسات.

[1] - دالتحريم سورت، ايت: ۶.

[2] - دالبقري سورت، ۲۲۸،ايت

[3] - الزواج الاسلامي، ج: ۱، ص: ۳۰۵.

دوهم مطلب د کورنۍ مقام او منزلت ساتنه:

که هرڅوک غواړي چې کورنۍ ديوې روغې کورنۍ په صفت پاتې شي هغه ځای او منزلت چې په واقعيت کې يوه کورنۍ لري هغه په ځای پاتې شي نواړينه ده چې په هغه اصول اولارښونو عمل درامد وشي کوم چې په دې هکله اسلامي شريعت کړې دی هغه په لاندې ډول دي.

لومړی اصل وحدة الاصل: هره کورنۍ بايد پوه اوسيږي چې زمونږ اصل موراوپلار يودی د هغې اصل په مراعات کولو بايد خپل يوالی حفظ ساتنه کړو چونکې اصل مويودی په دې هکله چې اصل مويو دی الله تعالی فرمايي: «يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُمْ مِنْ نَفْسٍ وَاحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالًا كَثِيرًا وَنِسَاءً وَاتَّقُوا اللَّهَ الَّذِي تَسَاءَلُونَ بِهِ وَالْأَرْحامَ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيبًا»[1]

ژباړه: ای خلکو له خپل هغه رب نه ووېرېږئ چې هغه تاسې له يو تن څخه پيدا کړئ او له هماغه تن څخه يې د هغه جوړه مينځ ته راوړه او له دې دواړو نه يې په نړۍ کښې ډېر نارينه او ښځې خواره کړل، له هغه خدای نه ووېرېږئ چې د هغه په وسيله تاسې يو له بل نه خپل حقوق غواړئ، او د خپلوۍ او پيوندونوله غوڅولو نه ډډه وکړئ، باور ولرئ چې الله پر تاسې څارونکی دی.

نومعنا داشوه چې د خپل وحدت او يوالی خيال مووساتی اختلاف اوشقاق مه کوی ځکه اصل مو يودی، چې کله اصل دچايو وي هغه لپاره هيڅ ډول شقاق اونفاق نه وي په کار.[2]

دوهم اصل وجود المودة والرحمة: د کورنۍ مقام او منزلت ساتلو لپاره دوهم اصل هغه دادی چې د کورنۍ دوکړو ترمنځ مؤدة اورحمت بايد موجود وي علماؤ وايي، هغه کورنۍ چې هغه کې محبت اوشفقت همکاري نه وي نو هغه دجنګ يوميدان دی په دې هکله الله عزوجل فرمايي: « وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ خَلَقَ لَكُمْ مِنْ أَنْفُسِكُمْ أَزْوَاجًا لِتَسْكُنُوا إِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُمْ مَوَدَّةً وَرحمَةً إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ .»[3]

ژباړه: او دهغه له نښانو څخه (بله) داده چې ستاسې لپاره همدا ستاسې له جنس نه يې ميرمنې پيدا کړې ترڅوچې تاسې له هغو سره ارام ترلاسه کړئ او ستاسې (ښځې او خاوند) په مينځ کښې يې مينه او خواخوږي پيداکړه . په باوری ډول پدې کښې د هغو خلکو لپاره ډيرې نښانې دي چې غور او فکر کوي .

---

[1] - سورت النساء، ايت: ۱.

[2] - فلسفة التربية الاسلامية، لعمرالنوی، الشيبانی، الناشر: المنشأة العام، للنشروالتوزيع والاعلان طرابلس، طبعة: پنځم چاپ ۱۹۸۵، ج: ۱، ص: ۳۱۲.

[3] - د الروم سورت، ايت: ۲۱.

دزواج اونکاح له موخوځخه یوهم همدا مودة اومحبت دی باید ده دې اصل خیال وساتل شي نوبیا د هغې کورنۍ مقام او منزلت ساتل کېږي، که د دې اصل خیال ونه ساتل شي نوکورنۍ فاشل کېږي او د جنګ په یومیدان بدلیږي.[1]

دریم اصل العدل والمساواة بین حقوق الزوجین: [2]کله چې هم په کور کې دیوشخص شځې ډېرې نو دا خو تقریباً دطبیعت نه کرځېدل چې دبنو ترمنځ شخړې اوجنجالو وي نوکه غواړي چې هغه شخړې اوجنجالونه لمنځه ولاړشي اوپراطمنان ژوند ځخه برخمن شي نواړینه ده چې عدل اومساوات باید مراعات شي.

څلورم اصل ټولنیز تکافل: بل هغه اصل چې د کورنۍ دثبات اوټینګښت لپاره اړین دي، هغه ټولنیزتکافل دی کفالت دیو بل حق پرځای کول اوهرحق دارته حق ورکول چې کله حقوق اوتکافل وشي نوځای او منزلت په ځای پاتیږي.

په دې هکله الله عزوجل فرمایي: «وَآتِ ذَا الْقُرْبَى حَقَّهُ وَالْمِسْكِينَ وَابْنَ السَّبِيلِ وَلَا تُبَذِّرْ تَبْذِيرًا»[3]

ژباړه: او ورکوه خاوند خپلوی ته حق دهغه او نادار(مسکین) ته او مسافر ته او اسراف مه کوه په اسراف کولوسره.

دلته الله عزوجل د هرحق دارته دحق ورکولو امرکړی دی، او په حقوق اداء کې باید دزیاتې ځخه کار وانخیستل شي.

همدا شان داتکافل اوحقوق په اسلام مبارک دین کې دنفقې او د میراث اصولو ځخه معلومېږي چې ځومره په منظم شکل ترتیب کړی دی اوهرحمه اللهق دارته حق په خپل سهم ورکیدای شي، داهغه اصول اواساسات دی چې د کورنۍ دساتنې اوځای لپاره اړینه اوحتمي دی چې هغه باید مراعات شي.

دریم مطلب: د کورنۍ ځانګړتیاو ی په اسلامي شریعت کې:

د اسلامي ټولنې کورنۍ یولړځانګړنې لري چې دهمدې ځانګړو پربنسټ ممتاز دی اوعالي او اوچت مقام لري نوهمدا ځانګړنې کورنۍ د اسلامي جامعې جوړښت لپاره دیوې اساسې غښتلې رول لري، نو له دې امله یوځانګړی مقام لري دهغه ځانګړنوځخه برخمنه ده کومې ځانګړتیا چې اسلام مبارک دین په عام هدایات اولارښونو کې بیانوي.

دهغه ځانګړنو ځخه ځېنې مهمې په لاندې ډول دي:

- ✓ **ځانګړنه ربانیة (الله پرستي):** په دې معنا سره چې دکوم نظام او اصول ځخه داکورنۍ برخمنه ده داخپل اصول او د ژوند احکام هغه چې په ورځني ژوند کې ورته انسان اړتیا لري د خپل خالق رباني نه اخلي ځکه

[1]- نظام الاسرة فی الاسلام، محمد عقله- ناشر: مکتبة الرسالة الحدیثة، عمان، دوهم چاپ: ۱۹۸۹م.

[2] - نظام الاسرة فی الاسلام، محمد عقله- ناشر: مکتبة الرسالة الحدیثة، عمان، دوهم چاپ: ۱۹۸۹م.

[3] - دالاسراء سورت، ایت: ۲۶.

همدا خالق دی او د خپل خالق نه لارښونې اخلي الله تعالی فرمايي: «اَلَا يَعْلَمُ مَنْ خَلَقَ١ وَ هُوَ اللَّطِيْفُ الْخَبِيْرُ»1

ژباړه: ايا هغه دې ونه پوهېږي چې هغه پېداکړی دئ ؟ پداسې حال کښې چې هغه باريك بين او باخبره دی .

- ✓ **ځانګړنه:** داده چې انسانيت نسل ساتنه په کې په هغه طريقه ده چې الله غواړي چې هغه توالد اوتناسل دی په شرعي اوکامل انساني طريقې سره چې هغه عبارت دی له عقد نکاحي څخه چې هغه په رضا سره کېږي، چې داصفت په نورو کورنيو کې نشته.
- ✓ ځانګړنه: داده چې مسلمانه کورنۍ ځان تابع بولي دهغه قوانين چې الله عزوجل اورسول الله ﷺ غواړي ياوربانديې امر کړي وي او يا هم ورڅخه منعه کړی وي.
- ✓ **ځانګړنه:** هغه داده چې په اسلاي کورنۍ کې دانسان مسلمان غرايز، غوښتنې، اوتمايلات په کې په اسلامي منهج سره پوره کېږي.
- ✓ **ځانګړنه:** مسلمانه کورنۍ خپل اولاد ځان لپاره سعادت صدقه جاريه ګڼي په همدې اساس ځانګړې ښونه کوي.[2]

څلورم مطلب:د شخړو رامنځته کېدو اسباب:

په دې مطلب کې به هغه اسباب ذکر کړو چې د هغې له امله په کورنيو کې شخړې رامنځ ته کېږي، په کورنيو کې د شخړو لپاره ډېراسباب کېدای شی چې د هغې له جملې څخه به دلته هغه عمده اولوی اسباب ذکرکړو.

لومړی سبب دشخړې نشوز دی: نشوز په لغت کې دځمکې هغه اوچت اولوړ ځای ته واي چې برابرې نه لوړشوی وي،[3] بيادنشوز صفت چون دحدنه تېرېدوته وايي که هغه ښځه وي او که سړی نواړينه ده چې دښځې نشوز جداتعريف کړو اونشوز دسړي بيل تعريف کړو.

۱– نشوزالزوجة: هومعصية الزوج فيما فرض الله عليها من طاعته مأخوذ من النشز وهو الارتفاع فكانها ارتفعت وتعالت عما فرض الله عليها من طاعتة.[4]

ژباړه: نشوز دښځې عبارت نافرماني دخاوند دهغه حقوق چې الله عزوجل لازم کړی په دې باندې دا طاعت کولو ته الله په دې مقرر کړي دي.

---

[1] - دالملک سورت، ايت: ۱۴.

[2] - نظام الاسرة فی الاسلام، ج: ۱، ص: ۸۸ – ۹۹.

[3] - لسان العرب، مادة نشز، ج: ۲، ص: ۸۰۱.

[4] - المغنی لابن قدامة، ج: ۱۰، ص: ۲۶۳.

حافظ ابن كثير(رحمه الله) بيا دې ورته داسې وايي: «المرأة الناشزة هى المرتفعة على زوجها التاركة لأمره المعروضة عنه المبغضة له.»[1]

ناشزه ښځه هغې ته وايي چې ځان لوړه ګڼي په خاوند او د هغې لره پرېښودنکی وي، اوترې اعراض سرغړونه کوي اوهغې سره بغض کوي، نومعنا داشوه چې ښځه سرغړونه کوي د الله عزوجل څخه په هغه کارونو کې چې دې ته پرې امرکړې دې داطاعت خاوند څخه نولومړی خاوند ته په کار دی چې دې نشوز علت اواسباب پیداکړي، هسې نه چې د کورنۍ هغه بنسټ اواساس ړنګ شي.

علماو د ښځې دنشوز لپاره علامات ذکر کړي دي چې سړی به څنګه پوهیږي چې ښځه نشوز په لوروانه ده نو هغه هم قولي نښاني اوهم اوفعلی نښې لري چې په ټولنه کې هرسړی په هغې پوهیږي.

فعلی نښې: دبهلګې په ډول چې کله ورځخه یوکار غوښتنه کوي نوپه هغه طریقه چې کار کول په کار دي نه يې کوي بلکې سرغړونه کوي چې ته ترې دیوکار غوښتنه کوي، بل کار کې ځان مشغوله کوي دکورځخه پرته داجازې وځي او دا سې نور[2].

قولي نښې: ستاخبرې ته تندځواب ورکوي تول اصطلاحات په بده تنده لهجه استفاده کوي دتلطف ژبه نه کاروي تل په قهر اوغوصه وي دښته ورته نور.[3]

نشوزالزوج: هوتباعده عن زوجته،أو تركه مضجعها،أوالتقصيرفي نفقتها، وكسوتها أو اعراضه بوجهه عنها.[4]

ژباړه: لرې کېدل د خپل ښځې نه اوپرېښودل دبسترې دي د خپلې ښځې او یا هم په نفقه اولباس کې کوتاهي کول اوعملا د هغې څخه مخ ګرځول ته نشوز دخاوند وایي.

دواړو لپاره یوجامع اومختصر تعریف هم شته: «امتناع المرأة عن زوجها وجفاء الرجل عن زوجته.»[5]

ښځه خپل خاوند نه منع کیدل او د سړي خپلې ښځې سره جفا کول.

دا لومړی سبب دی د شخړو رامنځته کېدو لپاره او په وروسته مطلب کې علاج اوخلاصي لاره ذکرشي.

دوهم سبب شقاق دی: دوهم سبب چې شخړه رامنځته کوي هغه شقاق دی شقاق یعنې څه؟

---

[1] - تفسيرالقران العظيم، ج: ١، ص: ٥٠٣.

[2] .نظام الاسرة فى الاسلام، ج: ١، ص: ٢٣١.

[3] - روضة الطالبين، ج: ٧، ص: ٢٦٩.

[4] - نظام الاسرة فى الاسلام، ج: ٢، ص: ١٢٠.

[5] - تكملة المجموع، للووى، ج: ١٦، ص: ٤٤٥.

الشقاق: «الخلاف بين الاثنين واصله من الشق وهوالجانب فكان كل واحد من الفريقين فی شق غيرشق صاحبه.»[1]

شقاق دهغه خلاف څخه عبارت دی چې د دوترمنځ وي، په اصل کې شق یوجانب او یوطرف ته وایي، امام رازي (رحمه الله) وایي شقاق لپاره دوه تاویله شته:

۱ – «ان کل واحدمنها یفعل مایشق علی صاحبه.»، هریود دوی نه هغه څه کوي چې هغه بدتمامېږي په طرف مقابل باندې.

۲ - «ان کل واحدمنهاما صار فی شق بالعداوة المباینة.»[2] هریو د دواړو څخه ولاړ وي په طرف ددښمني اوبدبیني کې، خوکله چې هم نشوز اصلاح نشي خبره شقاق ته ورسېږي او د شخړې پېښېدل تقریباً یقیني شي.

دریم سبب: تکبرکول دي: مخکې موذکر کړل چې دزوجیت کومه اړیکه چې هغه مودت اومحبت یو بل سره په همکاري تواضع بناء ده کله چې هم داعلاقه کې محبت همکاري نه وي یو بل باندې ځان اوچت ګڼل تکبر کول وي شخړه رامنځته کېږي.

پنځم مطلب د شخړو رامنځته کېدوصورتونه:

په دې مطلب کې به عمده هغه صورتونه ذکر کړو چې اکثر په هغې کې شخړې پېښېږي یودهغه حقوق څخه دښځې په خاوند نفقه ورکول وه، جامه او اوسېدو ځای برابرول نفقه سکنی اوجامه هغه حقوق دی چې په خاوند باندې دتوانمندي په اندازه لازم دی په هره اندازه کې چې دخاوند اقتصادي مستوی وي په همغه اندازه به داحقوق ورکوي، رسول اکرم ﷺ فرمایي: **عَنْ جَابِرٍ، فِي خُطْبَةِ حِجَةِ الْوَدَاعِ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «..... وَلَهُنَّ عَلَيْكُمْ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ».**[3]

د دې حدیث هم داموخه ده،چې ښځوپه تاسي دنفقې اوجاموحقوق دې په نیکه طریقه موافق دشریعت .

نویو دهغه صورتونو ځنې چې په نفقه کې شخړهغه دادي واقع کیدو دې هغه دادي مثلاخاوند وایي چې مانفقه اوجامه ورکړي اوښځه انکار کوي، همدا شان ښځه او خاوند څخه ده مالداره انسان نفقه اوجامه غواړي اوخاوند ورته منځنۍ نفقه اوجامه ورکوي دېته ورته صورتونو کې شخړې اوجنجالونه پېښېږي.

دوهم صورت دشخړې پېښېدو قسم(نوبت) کې: داهغه شخړه هغه وخت پېښېږي چې کله دیوشخص ګڼې ښځې وي نودې شخص باندې قسم (نوبت)لازم دي، قسم څه ته وای اړینه ده چې قسم وپېژنو.

---

[1] - لسان العرب، ج: ۲، ص: ۵۰.

[2] - التفسیرالکبیر، للامام رازي، ج: ۱۰، ص: ۹۰.

[3] - صحیح مسلم، کتاب الحج، دحدیث شمېره: ۱۲۱۸، ج: ص، ص: ۸۸۶.

القسم: قال ابن نجيم: «التسوية بين المنكوحات.»[1]، په ښځو کې برابري.

القسم: «هوتوزيع الزمان على زوجاته ان كن ثنتين فاكثر.»[2] دوخت تقسيم کول دي دښځوترمنځ که چېرې دوه يازياتې له دوه څخه وي.

نوهرکله چې يو څو ک له يوې څخه زياتې ښځې ولري، د هغو ی ترمنځ نوبت مراعات کول يواړين امر دی په دئ هکله د اسلامي شريعت نصوص د قران کريم اواحاديث څخه ډيردي چې نوبت په مراعت کولو امر او غوښتنه کوي چې د هغې ځنيوته دلته اشاره کؤو.

په قرانکريم الله عزوجل فرمايي: .... وَعَاشِرُوهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ....[3] وغاية العشرة بالمعروف: القسم[4].

ژباړه:دوي سره ښه ژوند کوي او دښه ژوند تيرولو حد دا دی چې دوي ترمنځ نوبت مراعت شي .

حديث: عَنِ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ كَانَتْ لَهُ امْرَأَتَانِ يَمِيلُ مَعَ إِحْدَاهُمَا عَلَى الْأُخْرَى جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَأَحَدُ شِقَّيْهِ سَاقِطٌ».[5]

ژباړه: دچالپاره چې دوه ښځې وي نويوی ته ميلان کوي يعنې يوه خوښوي په بل باندې راي به شي دقيامت پرورځ په داسې حال کې چې يوطرف به وچ فلج وي.

له دې حديث څخه په ډاګه معلومېږي چې قسم اړين دی نوبت مراعات کول حتمي دی نوکله که هم نوبت مراعات نشي نواړينه ده چې شخړه به پېښېږي بيانود دې سړي خيرنشته.

دريم صورت چې شخړه دښځې اوخاوند ترمنځ پېښېږي په رضاع اوحضانت کې.

رضاعت خومعلوم دی چې شېدې خورونکې ماشوم ته شېدې ورکولو څخه عبارت په دې کې دشخړې صورت داسې راځي چې ښځه دشېدو ورکولو څخه انکار وکړي اوهم اجره زيات وغواړي نودهغه صورتونه دی چې شخړې په کې پېښېږي.

---

[1] . البحرالرائق، ج: ۳، ص: ۲۳۳.

[2] - كشف القناع، ج: ۵، ص: ۱۹۸.

[3] - سورت النساء، ايت: ۱۹.

[4] - البحرالمحيط، ج: ۳، ص: ۲۳.

[5] - صحيح ابن حبان، بترتيب ابن لبان، مؤلف: محمد بن حبان اوبو حاتم، الدارمي، المتوفى، ۳۵۴، تحقيق: شعيب الارنوط، دحديث شمېره: ۴۲۰۷، الناشر: مؤسسة الرسالة – بيروت- دوهم چاپ: ج: ۱، ص: ۷، التخريج: صحيح الارواء للالبانى، ۲۰۱۷، واسناده صحيح، شعيب الارنووط، ج: ۳، ص: ۷۹.

په رضاعت کې دشخړې حل لاړې: که موردمیړه دنکاح په قید کې وي او بیا هم داجړې غوښتنه کوي اوجنجال را ولاړشي په دې صورت کې حکم دادی چې مور داجرت حق نه لري، په مدني قانون کې داسې صراحت لري: «مورچې دمیړه دنکاح په قید یادرجعې طلاق په عدت کې وي طفل ته دشېدو ورکولو داجورې حق نه لري، او که طلاق باین وي بیا داجرت حق لري.[1]

حضانة: دماشوم ساتلو اوتربیت کولو ته وایي، دماشوم دساتنې اوپالنې څخه په هغه موده کې عبارت دی، چې ماشوم دښځې ساتنې اوپالنې ته محتاج وي، په دې کې د شخړو صورتونه هم مختلف دي یودا چې حق وي خوځوک یې نه ورکوي.

کله هم داسې وي چې دچا حق نه وي هغه دعوه کوي. دېته ورته صورتونه کې شخړې واقع کېږي، په حضانت کې شخړې داسې وي چې کله دچا حق وي حضانت په غاړه نه اخلي او کله داسې وي چې دچاحق نه وي هغه غوښتنه کوي.

لومړي حق دمور دي دماشوم دساتنې اوپالنې که مورنه وي نوهیڅ شخړې ته اړتیا نه شته قانون په ترتیب سره هغه ښځه ذکر کړې ده چې کوم دحضانت حق اولویت لري، په لاندې شکل سر:

مور دمورمور- پلارمور- سکنی خور-مورنی خور- پلارنی خور....[2]

بل صورت دشخړې په میراث کې هغه داسې ده چې یوښځه دمیراث دحق څخه وستلی شي نو په دې صورت کې شخړه داسې پېښیږي چې دا(تخارج) ویستل دمیراث څخه صحیح دی او که نه نو د هغې صورتونه تفصیل دمیراث کتابونوته مراجعه وشي.

شپږم مطلب د سولې لاړې د شخړو حل لاړې چارې:

په دې مطلب کې دښځې او خاوند ترمنځ راپیښ شوې شخړو حل لاړې چارې دځېړنې لاندې نیول کېږي .

لومړی شخړه ځکه راپیښ شوی وه چې سبب دښځې نشوز (بدچلندی)وه نواړینه ده چې هغې لارو چارو څخه کار واخیستل شي ترڅو ښځه دنشوز څخه راوکرځول شي او د محبت ژوند پیل شي علماء کرام فرمایي چې کله هم خاوند په ښځه کې دنشوزنښانې ده ښکاره کېدل احساس کړي باید چې پیل وکړي دښځې په اصلاح په لاندې طریقو:

علماء کرامو د دې نشوز د علاج لپاره دقرانکریم څخه درې وسائل را اخیستی دي که هغه په ترتیب سره عملي شي امید دې چې هرڅه به سم شي:

---

[1] مدنی قانون ۲۳۰. ۲۳۱ مادې

[2] - مدني قانون، ج: ۱، ص: ۷۲، ماده، ۲۳۶، ۲۳۹.

۱ – الوعظ :نصیحت کول

۲ – الهجران :څه وخت لپاره بستره پریښودل

۳ – الضرب :که مشکل حل نه شو،نو یو څه اندازه وهل څخه کار اخیستل.

په دې وسائلو باندې قران کریم کې الله عزوجل داسې فرمایلي دي : «الرِّجَالُ قَوَّامُونَ عَلَى النِّسَاءِ بِمَا فَضَّلَ اللَّهُ بَعْضَهُمْ عَلَى بَعْضٍ وَبِمَا أَنْفَقُوا مِنْ أَمْوَالِهِمْ فَالصَّالِحَاتُ قَانِتَاتٌ حَافِظَاتٌ لِلْغَيْبِ بِمَا حَفِظَ اللَّهُ وَاللَّاتِي تَخَافُونَ نُشُوزَهُنَّ فَعِظُوهُنَّ وَاهْجُرُوهُنَّ فِي الْمَضَاجِعِ وَاضْرِبُوهُنَّ فَإِنْ أَطَعْنَكُمْ فَلَا تَبْغُوا عَلَيْهِنَّ سَبِيلًا إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيًّا كَبِيرًا»[1]

ژباړه: نارینه پر ښځو مسلط اداره چیان دي، له دې امله چې الله د هغو ځینو (نارینه و)ته پر ځینو نورو (ښځو) لوړتیا وربښلې ده، او له دې کبله چې نارینه خپل مالونه لګوي ؛ نو کومې ښځې چې صالحې دي هغوی د فرمان منې خوی لري او د نارینه ؤ په غیاب کښې د الله تر ساتنې او څارنې لاندې د هغو د حقوقو ساتنه کوي . او تاسې چې د کومو ښځو له سر غړونې څخه اندېښمن یاست، هغوی پوه کړئ د خوب ځایونه ورځخه جلا کړئ او ویې وهئ، نو که هغوی ستاسې فرمان برداري شي؛ نو هغو ته د لاس غځونې له پاره بیځایه پلمې مه جوړوئ، باور ولرئ چې له پاسه الله شته دی چې لوی او لوړ دی.

داهغه وسائل دي چې خاوند باید په تدریجي شکل وکاروي اوتدریجي ترځنګ باید ترتیب هم مراعت کړي ځکه داترتیب قران کریم ذکر کړی دی ځکه دقران کریم موخه تهذیب اوتادیب اواصلاح دښځې لپاره دی تردې چې قوام راشي اوسمه شي اوخاوند سره خپل ژوند دسرنه دمحبت په فضا پیل کړي.

تدریج اوترتیب داسې دي:

اوله وسیله :دوعظ څخه کار واخیستل شي که په وعظ باندې کار وشو امید دی چې کار وکړي که هغې کار ونه کړه بیا دوهمې وسیلې څخه چې هغه بستره پرېښودل دی، امید دی چې په دې کار کېږي ځکه دښځو په طبیعت کې داخبره پرته ده چې کله هم خاوند ورسره جدایي وکړي نوسخته زوریږي که نشوز عارضي وي امید دی چې سمه به شي، او که دی کار ورنه کړنوضرور ده چې دریمې وسلې ته انتقال وکړي چې هغه ضرب وهل دي، البته وهولو کې به خیال کوي: «على وفق الضوابط الشرعية.» وهل به هغه اندازه وي اسلامي شریعت دمقررات په چوکاټ کې وي .

او هغه کوم ترتیب اوتدریج چې قرانکریم ذکر کړې په دې هکله دفقهاءو عبارتونه په لاندې ډول دي:

[1] - دالنساء سورت، ایت: ۳۴.

قال ابن قدامة الحنبلي: «واذظهر فيها مايخاف نشوزها، وعظها فان اظهرت النشوز هجرها فان اردعها والا فله ان يضربها ضرباً لايكون مبرماً.»[1]

ژباړه: کله ښکاره شی په ښځه کې هغه څه چی خاوند ویرده دنشوز دښځې نه ، نو نصیحت دی ورته وکړي ، بیا که هم نشوزښکاره شو بستره تري جدا کړي ، که سمه شو خو ډیره ښه او که سمه نه شوه نو جائز دی ورته چی ویې وهې په داسی وهلو سره چې زخمې کوې به یې نه.

قال صاحب البدائع: «وللزوج ولاية التأديب على زوجته اذالم تطعها فيما يلزم طاعته، بان كانت ناشزة فله ان يؤدبها لكن على الترتيب، فيعظها اولاً على الرفق واللين فلعلها تقبل الموعظة وتترک النشوز الأَهجرها، فان تركت النشوز،والاضربها.»[2]

ژباړه: شته خاوند ته ولایت د ادب ورکولو په میرمن باندې په هغه امورو کې چې اطاعت لازم وې په دا شان چې بد خویه وې نو خاوند باید تأدیب ورکړي په دې ترتیب چی اول نصیحت ورته په نرمې سره کوې ، ممکن چې قبول یې کړي اوبد خویې پریدې او که پرې نه دې ، نو بیا دې بسترې نه ورته کډه وکړي ، که نشوز اوبدخوې پریښودله نو ډیره ښه ، کنه نو بیا دی وو هې .

همدا اسلوب تنها فقهاء نه دي ذکر کړي بلکې مفسرینو هم ذکر کړي دلته به یوائې دامام قرطبي (رحمه الله) قول ذکر کړو.

دا دفقهاء تظریات او ویناوې دي په دې هکله،اومفسرین هم په دې موضوع اقوال اونظریات لري، بلکې مفسرینو یوځه ډېرتفصیل کړی دی په دې موضوع کې،په دې شکل : (فعظوهن) ای بکتاب الله په دې معنا چې نصیحت ورته وکړي چې الله واجب کړي په تاباندې ښه ژوند اوښه تعامل کول او د ې باندې پوهول چې دخاوند مرتبه اومقام او منزلت لوړه ده له تاپه تاباندې اطاعت اړین دی.[3]

بلې خوا دې په دې هم وپوهوي چې دخاوند په نافرماني کې کناه ده او د ملائکو له خواځخه لعنت ورباندې وي.[4] او دا خبره دحدیث نه هم ثابته ده چې رسول علیه السلام فرمایي: **عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ «إِذَا بَاتَتِ الْمَرْأَةُ مُهَاجِرَةً فِرَاشَ زَوْجِهَا لَعَنَتْهَا الْمَلَائِكَةُ حَتَّى تَرْجِعَ»**[5]

---

[1] - المغني لابن قدامة چ: ۱۰، ص: ۲۵۹، بدائع الصنائع، ج:۳، ص: ۱۰۰۱.

[2]ـ بدائع ج ۲ ص ۲۳۲

[3] - القرطبي، ج: ۵، ص: ۱۷۱.

[4] - تفسیرالکبیر، ج: ۱۰، ص: ۹۰.

[5] - الصحيح البخاري-كتاب النكاح- باب اذا باتت المرأة مهاجرة فراش زوجها، دحديث شمبره، ۵۱۹۴، ج: ۷، ص: ۳۰ .

ژباړه:کله چې شپه تېره کړي ښځه په داسې حال کې چې پرېښې وي بستره دخاوند لعنت واي ورباندې ملائکې تردې چې واپس شي . یعنې هغه نشوز اوسرپیچې پریدي اوخپل عادي حال ته راوګرځي.

داخبره دې په چاپټه نه وي چې داوعظ مربوط دې حال دښځو پورې ځکه ښځې په ځوډوله دي ځېنې دتهدید ځخه فایده ا خلي اوځېنې بیا داخروي عذاب ځخه ډاریږي اوځېنې داسې دي چې ښې جامې اوځپلی ورباندې بند کړي اوځېنې بیا داسې دي چې هغوی باندې وعظ ښه اغیز کوي خلاصه دا چې د هرې ښځې حالت خپل خاوند ته معلومېږي خو چې خاوند هم خاوند وي، «فالرجل العاقل لايخفى عليه الوعظ الذي يؤثر في قلب امرأته.»[1]

نزاکت دادی چې داطریقه دې حتی الامکان په پټه طریقه اجراء کړي ترڅواغیزتوب یی زیات او په پرده کې پاتې شي، که دې وعظ اوموعظې ګټه وکړه امید دی چې وبه یې کړي نوډېره ښه ده خپل عادي دمحبت اومینی ځخه ډک ژوند به پیل کړی،او که سره د دې ټول تفصیل سره کار ونکړه نوبیا دوهمه وسیله دې وکاروي.

دوهمه وسیله الهجران فی المضاجع: بیادې بستره ترې ببله کړي په دې کې هم امام قرطبي (رحمه الله) وایي: ورسره یوځای نه ځملي اویادې په ملاسته کې شاواړوي اویادې ورسره جماع ینی کوروالی نه کوي.[2]
اوامام رازي (رحمه الله) وایي دې ترځنګ داهم کولی شي چې خبرې دې ورسره پرېږدي نوکله هم داټول کارونه وکړل اوس ګورو که دې سره سمه شوه، نومعلومه ده چې خپل خاوند سره مینه لري نوخپل ژوند ته به ادامه ورکړي، او که بیا هم سمه نه شوه نوپایله ډېره خطرناکه ده، **فکان ذلک دلیلا علی کمال نشوزها.**[3]

په هجریعنې پرېښود کې دڅوخبرو خیال ساتل په کار دي:

۱ – دابه دوعظ ځخه وروسته وي.

۲ – هجر به یوائې په بستره کې وي.

۳ – چې کله هم اصلاح راغله نوسم دلاسه به هجربه پرېږدي او وصل به وکړي او که داصلاح ځخه وروسته هم خاوند هجر ته دوام ورکړ نو خاوند ګنهګار دی او د قراني نصوصو خلاف کار وي، نوالله عزوجل فرمايي: «..... فَإِنْ أَطَعْنَكُمْ فَلَا تَبْغُوا عَلَيْهِنَّ سَبِيلًا..... »[4] ژباړه: که ستاسو یې اطاعت وکړ نوبله لاره مه ورباندی لټوی.

---

[1] - تفسیرالمنار لمحمد رشید رضا، المتوفی، ۱۳۵۴ هـ، الناشر: الهیئة المصریة العام للکتب سنة النشر: ۱۹۹۰، ج: ۵، ص: ۷۲.

[2] - الجامع الاحکام القران، ج: ۵، ص: ۱۷۱.

[3] - التفسیرالکبیر للامام الرازي، ج: ۱۰، ص: ۲۷۳.

[4] - دالنساء سورت، ایت: ۳۴.

ځکه داهجر او پرېښودل خود اصلاح لپاره مشروع شوې ده د دې لپاره نه چې دښځې انساني کرامت او عزت دپښولاندې کړي.[1]

که په دې هم سمه نه شوه نوبيا اخري وسېلې ځخه به کار اخلي، چې هغه وهل دي، داهغه اخري وسيله ده په دې درې وسائلو کې چې خاوند به يې کاره وي د دې لپاره چې ښځه دنشوز ځخه راوګرځي دې دريمې وسېلې ته به تدريجي ډول ځان رسوي او په دريم پړاو کې دیادونې وړ ده چې دا وهل داصول اوضوابطو لاندې دي چې داسې وهل به وي چې هډوکی به په کې کسر نه ويني زخم به نه جوړوي په مخ به نه وي ځکه دا دادب لپاره وهل دي.[2]

د دې ضوابط ځخه هغې خوا وهل به قطعي ډول منع دي په حديث او دعلماء اقوالو کې دوهلو ځخه منعه راغلې او دا وهل خوداصلاح اوفلاح او دا رمه ژوند دپيل لپاره دی او د دې لپاره دی چې ديو ډېربدحالت ځخه مخنيوي وشي چې هغه طلاق دی.

داخو هغه وسائل وه چې په دې سره دښځې دنشوز مخنيوی کېده اوتفصيل موځکه وربانديې وکړه چې اړتيا احساس کېده.

او اړينه ده چې خاوند د نشوز علاج اسبابو پاندې هم بحث وکړو، ځکه ډيرځل دخاوندځخه کارخراب وي،اوستونزې همدې جوړه وي اونشوزپه همدې کې وي.

علاج النشوز عندالزوج: خاوند دنشوز علاج(د لومړی بايد وګورو چې دسړي دنشوز لامل څه دې ځکه دسړي نشوز له دوه وجهو وي، يو دښځې له وجهې چې هغې کې کوم عيب وي، دعيوبو ظاهري يا باطني او يا هم نشوز لامل خپله په سړي کې وي.

که دسړي نشوز اواعراض له دې وجې وه چې راجع کېده ښځې ته په دې معنا چې ښځه کې عيب وه دبېلګې په ډول عمردزياتوالی، بداخلاقه، بدخلقه اوبدرنګه وه يا يوډول عيب په کې وه، نوپه دې صورت کې اسلامي شريعت اجازه ورکړې ده ښځې ته چې دځينو حقوقو ځخه تېره شي د دې لپاره چې دنکاح عقد په ځای پاتې شي اوخپل ژوند ته دوام ورکړي نوپه دې صورت کې دځينو حقوقو ځخه تېربدل او په بل عبارت سوله کول اسلامي شريعت روا ګرځولې ده،دی تصوير قرانکريم څومره دقيق انځورنه کړې .

---

[1] - الصلح فی ضوء الكتاب والسنة، ج: ۱، ص: ۵۰۴.

[2] - تفسيرالقرطبي، ج: ۵، ص: ۱۷۲، تفسيرابن كثير، ج: ۱، ص: ۵۰۴.

الله عزوجل فرمايي: « **وَإِنِ امْرَأَةٌ خَافَتْ مِنْ بَعْلِهَا نُشُوزًا أَوْ إِعْرَاضًا فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا أَنْ يُصْلِحَا بَيْنَهُمَا صُلْحًا وَالصُّلْحُ خَيْرٌوَأُحْضِرَتِ الْأَنْفُسُ الشُّحَّ وَإِنْ تُحْسِنُوا وَتَتَّقُوا فَإِنَّ اللَّهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرًا.**»[1]

ژباړه: کله چې کومه ښځه د خپل مېړه له ناوړه چلن یا مخ اړونې څخه په وېره کښې وي نو هېڅ باك نشته که مېړه او مېرمن (د څه حقوقو پر کمولو زیاتولو) په خپلو مینځو کښې روغه جوړه وکړي. روغه جوړه په هر حال ډېره ښه ده. نفس د زړه تنګۍ خوا ته ډېر ژر میلان کوي، خو که تاسې د احسان له لارې چلن وکړئ او له خدایه ووېرېږي، نو باور ولرئ چې الله ستاسې له دې ډول کړو وړو نه با خبره دي.

حافظ ابن کثیر (رحمه الله) فرمايي: چې په دې ایت کې خبرورکړی اوامر یې کړی دی چې په هغه حالت کې چې ښځه دخاوند څخه دا ډار لري چې له دې به وتښتي اواعراض به ترې وکړي نوجائز دی د دې لپاره چې له هغې څخه خپل ځېنې حقوق ساقط کړي اوترې ونه وغواړي لکه: نفقه، جامه، شپه تېرول او دا سې نور اوکناه نشته چې داکار دې ښځه وکړي اوخاوند ترې قبو ل کړي له دې امله الله عزوجل فرمايي: «والصلح خير »ای من الفراق.[2] ژباړه: سوله غوره ده د جدايې نه

همدا شان ګڼ مفسرین په دې اند دي چې بعضې مهر دې ورته پرېږدي اوخپل نوبت دې ورته پرېږيدي، «معنى الصلح ان يتصالحا ان تطيب له نفسا عن القسمة اوعن بعضها أوتهب له بعض مهرها او كله أوالنفقة.»[3] ژباړه : معنا دسولې داده ې جوړ جاړې به کوې ، په خوشحالۍ به دخپل نوبت څخه تېرېږې ، یا دبعضې نوبت نه ، یا دی بعضی مهر ورته وبښې ، او یاټول . یا نفقه. (یئی بعضې یاټوله دې ورته پرېږدي)

امام بخاري دام المؤمنين عائيشة (ﷺ) په روايت حديث ذكر كړی دی چې يوه ښځه خاوند ورسره ژوند نه غوښت اومحبت ورسره نه لره نواراده يې وكړه چې داطلاقه كړي اوبله وكړي نوهغې ښځې ورته وويل ماوساته طلاق مه راكوه بل واده ځان ته وكړه زماد نفقې غم مه كوه اوزما نوبت غم هم مه كوه دا داوړه زما له طرفه تاته حلال دي.[4]

امام الكرماني (رحمه الله) وايي چې كله ښځې داسې وويل: «اجعلک فی حل من امري ومن كل مالي عليک من واجب الزوجية وحقوقها مما منعها الزوج عنها مدافعة للظلم فنزلت (فلاجناح عليها ان يصلحا بينهما صلحا، والصلح خير).»[5]

---

[1] -دالنساء سورت، ایت: ۱۲۸.

[2] - تفسيرالقران العظيم لابن كثير، ج: ۱، ص: ۵۸۵.

[3] - تفسيرالنسفي مؤلف:النسفي ابوالبركات، عبدالله بن احمد بن محمودالنسفي، التحقيق: الشيخ مروان محمد الشعارر، نشركوونكى: دارالنفائس – بيروت. پنځم چاپ، ۲۰۰۵ هـ، ج: ۱، ص: ۲۵۴.

[4] - صحيح البخاري، كتاب النكاح، باب ان امراة خافت من بعلها نشوزاً اواعراضاً، دحديث شمېره، ۵۲۰۶، ج: ۷، ص: ۳۳.

[5] - الكرماني شارح البخاري، ج: ۱۱، ص: ۲۲.

داهغه صورت وه چې دخاوند نشوز لامل اوعلت ښځه کې وه نوپه دې طريقې دې نشوز څخه تېرشي اوخپل عادي ژوند دې پيل کړي اوښځې باندې دې نورې لارې نه لټوي، او که نشوز اواعراض دسړي له لوري وه لامل اوعلت خپل سړي کې وه نود هغې لپاره بيا هم دوه صورته دي:

لومړی صورت: دادی چې نشوز اواعراض ځکه کوي پرته دکوم دشرعي سبب څخه وهل ډبول کوي ښکنځل کوي.

دوهم صورت: دادی چې له دې ښځې څخه دګناه غوښتنه کوي.

دلومړي صورت علاج دادی چې ښځه دې ورسره سوله وکړي په دې معنی چې ځينې حقوق څخه ورتېره شي لکه مخکې موچې ذکر کړل، او په دې روغه او مصالحه يوائې يوه لاره لپاره دی چې هغه ده نکاح دا اړيکه پرځای پاتې شي چې په هرڅه سره راضي شول اوسوله وکړه په دې کې به خيروي ځکه د الله تعالی په دې قول کې: «والصلح خير.[1]» دهمدې ده ښځې اوخاوند په هکله راغلې دې .

دوهم صورت چې نشوز له سړې له طرفه وي اولامل اوسبب هم د دې له طرفه وي په دې معنا چې دښځې څخه ګناه طلب کوي او تړې غواړي چې هغه ګناه وکړي که ښځه هغه ګناه نه کوي نوپه دې صورت کې بيا داسړي نشوز کوي اوخپل ژوند تريخه وي نود هغې نشوز څخه دګرځيدو لارې يې دادي.

په دې صورت کې بايد دې سړي ته نصيحت وشی چې داسې کارونه ونه کړي او همدا شان له دې ګناه کارونو څخه وويرول شي په هغه عذابونو او وعيد چې داسې اشخاصو لپاره مقرر شوی دي، په ځانګړي ډول په داسې ځايونو کې چې ښځه مطيعه اوفرمان منونکې ده اوټول هغه حقوق چې دسړي ورباندې لري هغه پرځای کوي په داسې حالت کې هيڅ حق دنشوز نه لري، الله تعالی دښځې په هکله فرمايي: «..... فَإِنْ أَطَعْنَكُمْ فَلَا تَبْغُوا عَلَيْهِنَّ سَبِيلًا..... »[2] ژباړه: که ستاسو يې اطاعت وکړ (منونکی)شوه نوبله لار مه ورباندې لټوي.

حافظ ابن کثير(رحمه الله) د دې ايت په تفسيرکې داسې فرمايي: «والمراد من هذه الاية أی: اذ أطاعت المرأة زوجها فی جميع مايريده منها مما اباحه الله له منها، فلاسبيل له عليها بعد ذالك وليس له ضربها ولاهجرانها ولاايذائها»[3]

حافظ ابن کثير وايي: چې دايت اخري برخه د دې موضوع سره مناسبه ده الله عزوجل فرمايي: «ان الله كان علياً كبيرا.» هذا تهديد للرجال اذا بغوا على النساء من غيرسبب فان الله العلى الكبير وليهن وهو منتقم ممن ظلمهن وبغى عليهن.[4]

---

[1] - روضة الطالبين، ج: ۷، ص: ۳۷۰.

[2] - دالنساء سورت، ايت: ۳۴.

[3] - تفسيرالقران العظيم، ج: ۱، ص: ۵۰۴.

[4] - تفسيرالقران العظيم، ج: ۱، ص: ۵۰۴.

امام قرطبي رحمه الله له دې هم زيات وضاحت کوي

چې په دې ايت کې اشاره چې کورې ای خاوندانو که تاسو په دې فکر ياستی چې دابښځې ضعيفه اونرمې (په عامه اصطلاح بې کسه وسه دی) نوچې هرڅه کوو به يې، الله تعالی فرمايي: که تاسو توانمند ياستی نو د الله ﷻ قدرت له تاسوزيات دی نوهيڅوک دې په ناحقه به خپله ښځه لاس نه اوچته وي، ځکه الله تعالی ورته په مرصاد کې دی له دې وجه الله عزوجل خپل دلته په (العلی الکبير) صفت سره يادکړه.[1]

او دهمدې موضوع اړوند ټول هغه وعد او وعيد نه دې ته ورته ذکر کړای شي، نو دا به لامل د دې شي چې داظلم او زياتی به پريږدي اوخپل عادي ژوند ته به راوکرځي، که دصلاح اوفلاح ژوندته راوکرځيد نو ډېرښه خپل ژوند ته به دوام ورکړي، او که همدا شان ظلم ته يې دوام ورکړ، حاکم بايدوروباندې خبرشي تردې چې هغه ملکف وکرځوي په ادا دحقوقو، او د ې ته به يې مجبوره کړي چې حقوق پرځای کړي او د ظلم څخه لاس واخلي، او که بيا هم يې سرغړونه وکړه نوبيا به تغزيرورکړي په هکله علماء داسې واي «ولوکان يسئ خلقه ويوذيها ويضربها بلاسبب فی هذه الحالة ينهاه الحاکم فان عاد عزره.[2]»

ژباړه: که دا سړې بداخلاقه اوبدکذرانه ؤ،اوښځې ته يې ضرر اوتکليف رسوه، او وهله يې بدون دسبب اوموجبه، نو په داسې حالت کې حاکم يې بايد منعه کړي، او که بيا واپس شو دې حالت ته نوتعزيرې سزا دې ورکړي، تعزيري سزاهغه ډول دې ورکړي چې مومې کې حاکم مصلحت کوري.

تر ټولومهم داده چې دواړه ښځه اوخاوند ته په کار دي چې په شريک ژوند کې دتقوی، اخلاص، احسان، تواضع، عاجزي، يو بل منل او د يو بل حقوق اداء کولو څخه کار واخلي، ترڅو د زوجيت اونکاح هغه ټينګه اړيکه دمينې په فضاء کې لاټينګه پاتې شي، اونشوز اوهيڅ ډول بدبختي ته لاره پاتې نه شي، او د ژوند څخه خوند واخلي.

(داژوند زمورږدمحبت لپاره کم دی ـ حيران يم چې نفرت ته وزګاريږي خلګ څنګه)

که په دې ټول کار و نشو نوقرآن يې يو بل علاج هم ذکر کړې دې، هغې څخه بايد کار واخيستل شي چې حاکم دوخت په جريان کې شو، نو هغه به د دې ايت غوښتنې پربنسټ چې الله تعالی فرمايي: « **وَإِنْ خِفْتُمْ شِقَاقَ بَيْنِهِمَا فَابْعَثُوا حَكَمًا مِنْ أَهْلِهِ وَحَكَمًا مِنْ أَهْلِهَا إِنْ يُرِيدَا إِصْلَاحًا يُوَفِّقِ اللَّهُ بَيْنَهُمَا إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيمًا خَبِيرًا** ».3

[1] - الجامع لاحکام القران، ج: ۵، ص: ۱۷۳.

[2] - روضة الطالبين، ج: ۷، ص: ۳۷۰.

[3] - النساء سورت، ايت: ۳۵.

ژباړه: او که تاسې د مېړه او مېرمنې د اړیکو د خرابېدو په باب اندېښمن یاست؛ نو یو منځګړی د مېړه له خپلوانو څخه او یو د مېرمنې له خپلوانو څخه وټاکئ، که هغوی دواړه روغه جوړه کول وغواړي؛ نو الله به د هغو دواړو تر مینځ د توافق لاره برابره کړي، الله په هر څه پوه او با خبره دی.

چې کله هم دزوجین موضوع کې شقاق اواختلاف واقع شو اوټول هغولارو چې مخکې ذکرشوې کار ونکړنوپه اخري پړاو کې دې ددواړو کورنیو څخه یومخور په خبره پوه چې د حکمیت صفت ولري مقرر کړي، ترڅو دواړو ترمنځ حالات وڅاري چې کوم لوري ته روان دي.

نودواړه حکمان دحالاتو دکتلوڅخه وروسته پربکړه کولی شي چې مصلحت اوخیرپه څه کې ده په توفیق کې چې دواړه سره جوړکړي او که په تفریق کې چې دواړه سره بیل کړي: «فینظرا فی امرهما ویفعلا مافیه المصلحةمما یریانه من التفریق أوالتوفیق.....»[1]

ژباړه: ودئ ګوري ده دواړو حال او هغه کار دې وکړي کوم کې چې مصلحت اوخیر ګوري،یاجدا والې او یا هم یوځای والې .

امام رازي رحمه الله وایي: «فان خفتم« خطاب عام دی نوټول هرهغه څوک چې سوله اومنځکړیتوب کوي حالاتوته په کتو هغوی هم داکار کولی شي اوباید یې وکړي، «**فوجب أن یکون هذا أمراً لآحاد الأمة بهذا المعنی، فثبت أنه سواء وجد الامام أولم یوجد، فللصالحین أن یبعثوا حکما من أهله وحکما من أهلها للاصلاح**.[2]» ژباړه: نو وا جب ده چې دا امر دې ټولو افرادو امت ته په دې معنا برابر ده چې باچا داسی څوک مومې اوکه نا ، نو سوله کونکو لپاره ضرورې ده چې ولیږې یو پلاوې دخاوند دکوره او یوه پلاوې دښځې له طرفه لپاره دسولې کولو.

نوبناءً په دې ټول مکلف دي په دې کړنه باندې چې کله هم داسې حالات وګوري باید بې تفاوته پاتې نشي او دا دخیر لوی کار وکړي.

دوهمه خبره داده چې دادوه نفره چې لیږل کېږي یو خو به صفت د حکمیت ولري او د وهم صفت دادی چې یوبه دانجلی خپلوان وي او یوبه دهلک خپلوان وي، داخپلوان به ځکه وي چې قرانکریم همدې ته اشاره کړي په » من اهله اومن اهلها «سره اوبله داځکه به خپلوانو له ډلې څخه وي ځکه حالات ورته ښه معلوم دي. له همدې څخه فقهاء په شروط تعبیر کړې دې.

[1] - تفسیرالقران العظیم، ج: ۱، ص: ۵۰۴.

[2] - التفسیرالکبیر، ج: 5، ص: 156.

شروط الحكمين: د(منځګړو) شرطونه :

يشترط في الحكمين: أن يكونا رجلين عدلين خبيرين بما يطلب منهما في هذه المهمة، ويستحب أن يكونا من أهل الزوجين، حكماً من أهله وحكماً من أهلها بنص الآية، فإن لم يكونا من أهلهما بعث القاضي رجلين أجنبيين، ويستحسن أن يكونا من جيران الزوجين ممن لهما خبرة بحال الزوجين، وقدرة على الإصلاح بينهم[1].

ژباړه: په منځګړو کې داشرط دی سړي به وي عادلين به وي، په دې به پوه وي چې له دوي څخه په دې دنده کې څه غوښتل کېږي، او مستحب ده چې منځګړي به د خاوند اوښځې دکورنيو څخه وې په اساس داية قراني، او که دا خپلوان نه وؤ، بيابه هغه کاونډيان وي چې چې له دوي حال څخه ښه خبروي،او د سولې توانمندي به لري.

د حكمينو دنده: لومړی دنده خوښکاره معلومه ده چې اصلاح ذات البين چې سوله به کوي دوی تر منځ او هغه کومه شخړه چې بغض دښمني شخړه چې راغلې هغه به له منځه وړي، نوړينه ده چې حكمين اولاً اسباب دشخړې پيداکوي او په دواړه کې به متجاوز اوظالم معلومه وي، ځکه اکثره چې کوم اسباب اوعلتونه دخاوند اوښځې ترمنځ وي هغه ډېرى پټ وي ځکه دښځې اوخاوند ژوند دجامې او د بدن د يو بل لپاره په دې اړه الله عزوجل فرمای **{هنّ لباس لكم وأنتم لباس لهنّ}** [2]ژباړه: دوی جامې دي تاسو لپاره،اوتاسو جامې يي دوي لپاره.

نودواړه مكلف دی چې حقيقت باندې ځان پوه کړي چې دوی نكاح دوام غواړي او که فرقت اوجدايي چې کله دا اسباب اوعلتونه معلوم کړل اوس دوی ته وروسته پرېږو نه اسانه کېږي.[3]

که دوي معلومه کړله چې نشوز په سړي کې دی هغې ته نصيحت وکړي هغه وعد او وعيدونه دې ورته ذکرکړي کوم چې په دې هكله موجود دي، دقرانكريم اياتونه دې ورته ذكر کړي، په دې هكله الله فرمايي : «وعاشروهن بالمعروف.» دحافظ ابن كثيرچې د دې ايت کوم تفسير کړی دی هغه دې ورته ذكر کړي، هغه وايي چې: «طيبوا اقوالكم لهن وحسنوا افعالكم وهيآتكم بحسب قدرتكم كماتحب ذلک منها فافعل انت بها مثلها.»[4]

ژباړه: خبرې مو خوږې کړي دوې لپاره کړئې موسمې کړې هيئت او شكل مو هم سم کړې، په اندازه د خپل وس لكه څنګه چې ته له دوی داسې خوښه وي ته هم داسې وکړه، ځکه الله عزوجل فرمايي: «ولهن مثل الذي عليهن بالمعروف.»[5]

---

[1] الفقه الاسلامي وادلته ج ۹ ص ۴۹۶

2 سورةالبقرة اية ۱۸۷

3 - تفسيرالكبير، ج: ۹، ص: ۹۷.

4 .تفسيرالقران العظيم، ج: ۱، ص: ۴۷۵.

5 - دالبقرې سورت، ايت: ۲۲۸.

ژباړه: شته دې ښځو لره هغه حقوق په شان دهغه چې دسړي دي په دوی باندې په ښه طریقې سره.

یوحدیث دئ ورته هم په دې هکله ذکر کړي لکه رسول اکرم ﷺ فرمایي: **عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ قَالَ النَّبِيُّ -ﷺ- :« خَيْرُكُمْ خَيْرُكُمْ لأَهْلِهِ وَأَنَا خَيْرُكُمْ لأَهْلِى ».**[1]

ژباړه: تاسو کې غوره اوښټره هغه څوک دی چې غوره اوخیروي د خپل اهل لپاره اوزه غوره اوخیریم د خپل اهل لپاره، همدا شان خپلې تجربې دې هم ورسره ذکرکړي چې ښه ژوند دنیک بختور انسان صفت وي او د محبت اورحمه اللهمت او د عزت لپاره یوستر اصل دی، او د شقاق منفي پایلې دی ورته ذکر کړي او که معلومه کړه چې شقاق اونشوز دښځې له خواه وي، هغه ته دې نصیحت وکړي وعد او وعید دې ورته ذکر کړي داطاعت اوخبرې منلو غوښتنه ترې وکړي، په دې هکله چې کوم دټولو خلکو پروړاندې کوم معروف حدیث دی چې رسول الله ﷺ فرمایي: که چېرې ما امر دسجدې کولې د الله نه بغیر بل چاته کړې وی نوښځې ته به مې امر کړی وي چې خپل خاوند ته سجده کړې وای.

تردې سخت خبره خوبله نشته چې یوخاوند دومره حقوق لرې حتی چې دسجدې مستحق به وآې دسجدې کولو څخه خومعلومیږي چې خاوند ډیرلوې اوستر حقوق لرې، همدا شان دجنت زیري په هکله یادونه وکړي امید دي چې ښې پایلې به لاس ته راوړي او دا وعده الله عزوجل کړې ده چې فرمایي: «...ان یریدا اصلحا یوفق الله بینهما...»[2]

امام رازي (رحمه الله) وایي چې هیڅ یوغرض اومقصد نشي تمامید مګرپه توفیق د الله عزوجل سره نومعنا داده که چېرې حکمین نیت خالص کړي اواصلاح نیت وي نوفرمایي یوفق الله بین الزوجین.[3]

نوچې کله هم د حکمینو اخلاص نیت موجود وي او د هغی څخه داهم ذکرکړي امید دی چې سولې ته ورسیږي او که سره داخلاص او هلو ځلو سره بیا هم شریک ژوند نه غواړي ځکه ژوند نورتریخ شوی دی نوحکمین کولې شي دوهمه لاره د(تفریق) جدایې انتخاب کړي ځکه مشترک ژوند دمحبت اورحمت اوشفقت له فضا وتلی اوشقاق، بغض، حسد اوعداوت کې دنکاح ژوند تریخ اوستونزمن دی په دې هکله صاحب فی الظلال څه ښه وایي:

«لان الاسلام لایمسک الزواج بالسلاسل والحبال، ولابالقیود والاغلال انما یمسکهم بالمودة والرحمة، اوبالواجب والتحمل فاذا بلغ الحال ان لاتبلغ هذه الوسائل کلها علاج القلوب متنافرة فانه لایحکم علیها ان تقیم فی السجن من الکراهیة والنفرة اوفي رباط ظاهر وانفصام حقیقي.» [4]

---

[1] - صحیح ابن حبان مخرجا – باب ذکرالزجر عن ضرب النساء، حدیث شمېره: ۴۱۸۶، ج: ۹، ص: تخریج: قال الباني، صحیح لغیره دون سبب وروده اسناد صحیح تعلیق الارنوط: ج: ۲، ص: ۸۱، التعلیق الرغیب، ج:۳، ص: ۷۲.

[2] - دالنساء سورت، ایت: ۳۵.

[3] - تفسیرالکبیر، ج: ۹، ص: ۹۷.

[4] - فی ظلال القران، الشهید سیدقطب، نشرکوونکی: دارالشروق، القاهره- څلورم چاپ، ج: ۲، ص: ۷۷۱.

ژباړه: شهید سید قطب (رحمه الله) وایي: چې کله هم خبره دې مرحلې ته ورسیږي چې هیڅ هم کارنه کوي نودوی یعنې ښځه اوخاوند دزندان له زولنو څخه ازادول اوازاد او راحت ژوند ته نقلول اړین دي ځکه دجمهورو علماءو دا اند دی چې حکمین اختیار لري چې کومه خوا ته خیر اوصلاح ویني همغه پرېکړه دې وکړي که هغه سوله وي او که جدایي دوی یوائې په سولې نه دی مکلف، حافظ ابن کثیر فرمایي: «وقداجمع العلماء على ان الحكمين لهما الجمع والتفرقه.»[1] ژباړه: اجماع کړې علماو په دی خبره چی منځکړې دیوځاې کولو او جدایې دواړه اختیار شته.

خلاصه داشوه چې حکمین اختیار لري چې حکمین چې په کوم څه کې خیرویني اوخیرکوري هغه د ې وکړي ترڅو بحران ته د حل ټکی پیداکړي ځکه ځنګه چې سوله کې خیردی چې کله دی مخلصوحکمینو په تفریق کې خیرو لید نودې کې به خیر وي په دې هکله الله عزوجل فرمایي: « وَإِنْ يَتَفَرَّقَا يُغْنِ اللَّهُ كُلًّا مِنْ سَعَتِهِ وَكَانَ اللَّهُ وَاسِعًا حَكِيمًا»[2]

حافظ ابن کثیر (رحمه الله) دایت په تفسیر کې داسې وایي: «اخبرالله تعالى فيها أنهما اذا تفرقا فان الله يغنيه عنها ويغنيها عنه بان يعوضه الله من هوخير له منها ويعوعوضها بمن هو خيرا لها منه.»[3]

یعنې دتفسیر هدف اوموخه دادی چې دوی دی هیڅ ډول اندښنه نه کوي چې فرقه اوبېلوالي سره به ډېرو ستونزوسره به مخ شي ځکه الله عزوجل مسبب الاسباب دی دواړو ته به ښې بدلې ورکړي، ځکه لأن الفراق خير من سوء المعاشرة، دبد اوناکاره ژوند څخه فراق اوبېلوالی بهتر دی.

او که په دې سره هوکړې ته ونه ورسېدل نودنکاح ټرون ته دې په لاندوطریقو سره د پای ټکی کیږدی: ۱ – طلاق، ۲ – خلع، ۳ – تفریق.

طلاق: دصحیح زوجیت داړیکې منحل کولو څخه عبارت دی چې په اوس یا په راتلونکي کې دمیړه او د ښځې ترمنځ په داسې الفاظو سره چې په صریحه توګه ورڅخه طلاق افاده شي.[4] په عامو حالاتو کې چې طلاق ورکړې رجعه واقع کېږي مګرپه لاندو صورتونو کې باین واقع کېږي. ۱ – دخول څخه وړاندې.

۲ – طلاق دیوځیز په عوض کې.

۳ – هغه طلاق چې په قانون کې دباین په لفظ ذکرشوی.[5]

---

[1] - تفسیرالقران العظیم لابن کثیر، ج: ۱، ص: ۵۰۵.

[2] - دالنساء سورت، ایت: ۱۳۰.

[3] - تفسیرالقران العظیم، ج: ۱، ص: ۵۷۷.

[4] - مدني قانون، لومړی ټوک، ۱۳۵ ماده.

[5] - مدنی قانون، لومړی ټوک، ۱۴۶ ماده.

خلع: دازدواج دهغه عقد منحلولو څخه عبارت دی چې په دمال په بدل کې وي چې ښځه يې ميړه ته ورکوي، خلع په صريح لفظ ياپه بل هر هغه لفظ چې دخلعې مفهوم ورکوي صورت نيسي، کوم مال چې په مهر کې ورکېدای شي خلع بدل هم واقع کيدای شي، خلعه دباين طلاق حکم لري دمحکمې د حکم پورې موقوفه نه ده.[1]

تفريق يابېلېدل: مدني قانون په دې هکله داسې تصريح لري ښځه هغه وخت کولی شي چې دبيل والي غوښتنه وکړي چې ميړه يې په داسې ناروغۍ اخته وي چې بېرته روغېدل يې ممکن نه وي، ياد هغې دمعالجې لپاره اوږده موده لازمه وي، په داسې توګه چې يوځای اوسېدل ورسره بې له کلي زيان څخه ناممکن وي.[2]

له دې مادې څخه هم استدلال کېدای شي چې دسړي نشوز داسې حال ته ورسيږي نوکُلي زيان دی اوخلاصی تړې ممکن نه دی نوښځه به دبېل والي غوښتنه کولی شي بلکې تردې صريح نص د قانون شتون لري همدې مدني قانون کې په ۱۸۳ ماده کې داسې ذکر دي: «که ښځه ميړه ديوځای اوسېدو څخه دداسې زيان دعوه وکړي چې يوځای اوسېدلو دوام به داسې حالت کې دزوجينو دامثالو ترمنځ ناممکن کې کولی شي چې دمحکمې څخه دجداوالي غوښتنه وکړي. که دعوه دمورزيان ثابت شي او د زوجينوتر منځ اصلاح صورت ونه نيسي محکمه به په بېلوالي حکم کوي، جدايي ديوباين طلاق حکم لري.»[3]

په دې هکله دفقهي نظرهم بايد ځان سره ولرو، چې تفريق يعنی جدا والی کو م طلاق سره راځي . په دې تړاو به (الفقه الاسلامي وادلته) څخه فيصله را نقل کړو، هغه واي: **الطلاق الذي يوقعه القاضي للشقاق طلاق بائن؛ لأن الضرر لا يزول إلا به؛ لأنه إذا كان الطلاق رجعياً تمكن الزوج من مراجعة المرأة في العدة، والعودة إلى الضرر.**[4]ژباړه: کوم طلاق چې قاضي دشقاق له وجهې ورکوي هغه به طلاق باين وي، ځکه کوم ضررچې دې هغه په طلاق باين سره له منځه ځي، او په رجعي طلاق کې خو خاوند درجوع حق لري نو رجوع سره ضرر ته واپس کيدل دي، نوځکه باين طلاق به وي.

په دې هېله چې د کورنۍ شخړو څخه خلاص او په امن امان کې اوسيږي ترټولو مهم لاره داده چې ښځه اوخاوند علم ولري ديو بل حقوق وپېژني او په ځای کړي، اواقتصادي ستونزې نه وي، او په لومړيو کې انتخاب کې تېزۍ اوجلتي څخه کار نه وي اخيستی، الله تعالی دې ټولو کورنيو ته دخوشحاليو ډک ژوند په برخه کړي . اللهم آمين يارب العالمين.

دوهم فصل په دي ځای دلوې الله په کومک اوتوفيق سره پاې ته ورسيده .

---

[1] - مدني قانون، لومړی ټوک، ماده، ۱۵۶ – ۱۵۸.

[2] - مدني قانون، لومړی ټوک، ماده، ۱۷۶.

[3] - مدني قانون، لومړی ټوک، ماده، ۱۸۳ – او ۱۸۴ مادې.

[4] . الفقه الاسلامي وادلته ج ۹ ص ۴۹۶

دریم فصل

معاصرې سوداګریزې معاملې او په هغې کې د راپیدا شویو شخړو د حل لارې چارې په دې فصل کې درې مبحثونه دي:

لومړی مبحث د معاصرو سوداګریزو معاملو پېژندنه او ډولونه

لومړی مطلب سوداګرۍ پېژندنه

۱ - التجارة: «هی التصرف فی المال للربح.»[1]، ژباړه: دکټې لپاره په مال کې تصرف کولو ته سوداګرۍ وایي.

۲ – التجارة: «هی تقلیب المال ای بالبیع والشراء لغرض الربح.»[2]، ژباړه: دکټې لاس ته راوړلو په خاطر دمال اړولو او را اړولو داخستلو اوخرڅولو په طریقې سره سوداګرۍ په نوم یادیږي.

۳ – سوداګرۍ: دکټو دترلاسه کول او دا ړتیا دپوره کولو په خاطر راکړه ورکړې ته سوداګرۍ وایي.[3]

اسلام مبارک دین چې یوعام شامل دین دی د ژوند ټولو قضیو کې بنسټیزې لارښونې لري دسوداګرۍ په هکله هم ځانګړي اصول اوکړنلارې لري چې د هغې له دلې څخه په لاندې ډول یادونه کوو: دمشروعیت دلیلونه، محظورات هغه څه چې په سوداګرۍ کې منعه دي، دسوداګرۍ اداب.

دسوداګرۍ دمشروعیت: دسوداګرۍ په روا والي باندې کټ دلیلونه ستون لري: قرانکریم، احادیث، اجماع.

۱ - قرانکریم: « **يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ إِلَّا أَنْ تَكُونَ تِجَارَةً عَنْ تَرَاضٍ مِنْكُمْ وَلَا تَقْتُلُوا أَنْفُسَكُمْ إِنَّ اللَّهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا.**»[4]

ژباړه: ای مؤمنانو! په خپلو مینځو کښې یو د بل مالونه په ناروا توګه مه خورئ، مګر خورئ یې چې راکړه ورکړه ددواړو خواو په خوښۍ سره (په روا توګه) وي او خپل ځانونه مه وژنئ باور ولرئ چې الله پر تاسې مهربان دی.

---

[1] - کشف اصطلاحات الفنون والعلوم: مؤلف محمدبن علی الحنفي التهاوي، المتوفی ۱۱۵۸ هـ، تحقیق: دکتور علی هروج، الناشر: مکتبة لبنان ناشرون-بیروت، لومړی چاپ ۱۹۹۰، ج: ۱، ص: ۳۸۱.

[2] - الوسوعة الفقهیة الکویتة، ج: ۱۰، ص: ۱۵۱.

[3] - نړیوال تجارتي حقوق: لیکوال: پوهنوال دکتور مصطفی نیازی، دننګرهار پوهنتون دحقوقو دپوهنځی ښوونکی، خپرونديه اداره: یارخپروندیه ټولنه، چاپ کال ۱۳۹۷ هـ ش، چاپ وار دریم، ج:۱، ص: ۱۷.

[4] - دالسناء سورت، ایت: ۲۹.

۲ - « فَاِذَا قُضِيَتِ الصَّلٰوةُ فَانْتَشِرُوْا فِی الْاَرْضِ وَ ابْتَغُوْا مِنْ فَضْلِ اللّٰهِ وَ اذْكُرُوا اللّٰهَ كَثِيْرًا لَّعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ.»[1]

ژباړه: بیا کله چې لمونځ ترسره شي نو په ځمکه کښې خواره شئ او د الله فضل ولټوئ. او د الله ډیر ډیر یادوونکي اوسئ، ښایي چې تاسې ته فلاح په برخه شي.

دواړه اياتونه علماء کرامو دسوداګرۍ دروا والي لپاره ذکر کړي دي، (وابتغوا من فضل الله) تفسیرمنیرد ایت تفسیر داسې کړی دی: «أی اذا ادیتم الصلاة وفرغتم منها فیؤذن لکم الانتشار والتفرق للتجارة والتصرف فیما تحتاجون الیه.....»[2]

ژباړه: کله مو چې ادا کړه لمونځ او ور څخه فارغ شوي، نو دخوریدو اجازه در کړاې شویده، او دا خوریدل تجا رت لپاره او تصرف په هغه څه کې ضرورت ورته لري .

احادیث: دسوداګرۍ دروا والي اوفضلیت په هکله ډېرحدیثو نه شته چې دلته یوائې له یوه څخه یادونه کوو:

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلى الله عَلَيه وسَلم قَالَ: «التَّاجِرُ الصَّدُوقُ الأَمِينُ مَعَ النَّبِيِّينَ وَالصِّدِّيقِينَ وَالشُّهَدَاءِ.»[3]
ژباړه: ریښتونې امین سودا ګر به نبیانو صدیقینو اوشهداؤ سره وي

اجماع: «اجمع المسلمون على جواز التجارة فی الجملة وتقتضیه الحکمة.»[4]

ژباړه: په ټوله کې مسلمانانو اتفاق کړی دی دسوداګرۍ په روا والي باندې او د حکمت غوښتنه هم ده.

دسوداګرۍ په روا والي باندې داهغه دلیلونه دي چې سوداګرۍ یو روا بلکې یوغوره کاربللی دی د حلال درزق دکټلو لپاره.

محظورات: هغه شیان چې په سوداګرۍ کې منع اوحرام دي عبارت دي:

۱ - دخیانت او د وکې ټول ډولونه، ۲ – دیوشي پلورل په قسم سره، ۳ – احتکار، ۴ – دَوْ وهل.[5]

دخیانت او د وکې څخه په ډیرو احادیث کې سخته منعه راغلې ده چې د هغې له جملې څخه یوحدیث درته رانقلو

---

[1] - دالجمعة سورت، ایت: ۱۰.

[2] - تفسیرالمنیر، ج: ۲۸، ص: ۱۹۸.

[3] - الترمذي، ج: ۳، ص: ۵۰۶، التخریج: اسنادضعیف دی، فیض القدیر، ج: ۳، ص: ۲۷۸.

[4] - المغني، ج: ۳، ص: ۵۶۰، الموسوعة الکویتة، ج: ۱۰، ص: ۱۵۱.

[5] - الموسوعة الکوتیة، ج: ۱۰، ص: ۱۵۰-۱۵۳.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ مَرَّ عَلَى صُبْرَةِ طَعَامٍ، فَأَدْخَلَ أَصَابِعَهُ فِيهَا، فَإِذَا فِيهِ بَلَلٌ، فَقَالَ: «مَا هَذَا يَا صَاحِبَ الطَّعَامِ؟ »، قَالَ: أَصَابَتْهُ سَمَاءٌ يَا رَسُولَ اللَّهِ، قَالَ: «فَهَلَّا جَعَلْتَهُ فَوْقَ الطَّعَامِ، حَتَّى يَرَاهُ النَّاسُ، مَنْ غَشَّنَا فَلَيْسَ مِنَّا»[1]

ژباړه : ابوهريره ﷺ واي چې نبي عليه السلام په يو ډيره کې دخوراکي توکو تيريده، نولاس پکې داخل که نولوندوالې وليده نووفرمايل چې داڅه دي ای طعام والا، هغه وويل چې اې د الله رسول باران ورباندې شوې دې، نونبي عليه السلام ورته وويل چې ولې د ډيري په سره نه اچوه چې خلکو ته معلوم شوې واې اوليدلې واې، بياورته وفرمايل چې څوک مورسره دوکه کوي زمورنه نه دې، په دې حديث کې په ښکاره او قاطع يت سره له دوکې څخه منعه راغله.

همدا شان په اخيستلو اوخرڅولو کې دقسم کولو څخه سخته منعه او وعيدونه راغلي په دي تړاو هم کې شمير احاديث شته چې د هغې له جملې څخه يو حديث دلته را اخلو . **قَالَ رَسُولُ اللهِ ؟ ثَلَاثَةٌ لَا يُكَلِّمُهُمُ اللهُ وَلَا يَنْظُرُ إِلَيْهِمْ وَلَا يُزَكِّيهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ رَجُلٌ عَلَى فَضْلِ مَاءٍ بِطَرِيقٍ يَمْنَعُ مِنْهُ ابْنَ السَّبِيلِ وَرَجُلٌ بَايَعَ رَجُلًا لَا يُبَايِعُهُ إِلَّا لِلدُّنْيَا فَإِنْ أَعْطَاهُ مَا يُرِيدُ وَفَى لَهُ وَإِلَّا لَمْ يَفِ لَهُ وَرَجُلٌ سَاوَمَ رَجُلًا بِسِلْعَةٍ (سِلْعَةً) بَعْدَ الْعَصْرِ فَحَلَفَ بِاللهِ لَقَدْ أَعْطَى (أُعْطِيَ) بِهَا كَذَا وَكَذَا فَأَخَذَهَا»»** [2] په دې اوږد حديث کې دهغه کس هم بدي يادونه شوې ده چې هغه په خپله بيعه کې قسم خوري .نوشرعي نصوصو ته په کتو په راکړه ورکړه کې بايد دقسم خوړلوڅخه بايد ډه ډه وشي .

داحتکارڅخه هم په ډيرو احاديث کې منعه راغلې ده چې د هغې له جملې څخه دلته ديو حديث په رانقلولو بسنه کوو، **قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنِ احْتَكَرَ فَهُوَ خَاطِئٌ»**3

ژباړه : څوک چې احتکارکوي هغه ګناهګار دې

دَوْ وهل (د بل سړي په بيعه بيعه کول) له دا شان بيعې څخه هم په ډيرو احاديث کې منعه راغلې ده، چې د هغې له جملې څخه دلته ديو حديث په رانقلولو بسنه کوو **عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: «نَهى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَبِيعَ حَاضِرٌ لِبَادٍ، وَلاَ تَنَاجَشُوا، وَلاَ يَبِيعُ الرَّجُلُ عَلَى بَيْعِ أَخِيهِ، وَلاَ يَخْطُبُ عَلَى خِطْبَةِ أَخِيهِ، وَلاَ تَسْأَلُ المَرْأَةُ طَلاَقَ أُخْتِهَا لِتَكْفَأَ مَا فِي إِنَائِهَا»**[4]. ژباړه: منعه کړې رسول عليه السلام چې ښاروالا دباندې والا لپاره څه وپلوري، اوبازار تيزي ونه کړي او يو شخص د بل شخص په بيعه باندې دَوْ ونه وهي،او د خپل ورور په مرکه مرکه ونه کړي،اوښځه دي خپلې خوردطلاق غوښتنه نه کوي چې هغه سړې ځانته فارغ کړي .

---

[1] _ صحيح ابن حبان بترتيب ابن بلبان دحديث رقم 4905ج 11 ص 270 ، دحديث تخريج : قال الألباني رحمه الله ، صحيح ، - التعليق الكامل للشيخ الألباني ، وقال شعيب الأرنؤوط إسناده صحيح على شرط مسلم

[2] . الصحيح البخاري ، بَابُ الْيَمِينِ بَعْدَ الْعَصْرِ، دحديث رقم ٢٦٧٢ ، ج ١ ص ٣٥٧

[3] . صحيح مسلم باب نهى عن الاحتكار فى الاطعمة، دحديث نمبر ١٢٩ ، ج ٣ ص ١٢٢٧

[4] . الصحيح البخاري ، بَابُ لاَ يَبِيعُ عَلَى بَيْعِ أَخِيهِ ، ج ٣ ص ٦٧ رقم الحديث 2140

داشان دبيعې په چوکاټ کې ډيرممنوعات شته چې دبيعې په بحثونوکې دفقهي په کتابونو کې ليدلې شي، دلته په همدې اندازه بسنه کوو.

آداب دتجارت:

- په خرڅولو اواخيستلوکې اساني کول.
- په هغه بازارنو کې خرڅول اواخيستل دې نه کوي چې هلته حرام شيان خرڅيږي.
- التصدق من مال التجارة:دتجارت مال څخه صدقه کول.
- په ريښتونولې اوامانت کې کوښښ کول.
- التبكير بالتجارة: يعنې سهار وختې کار پسې وتل.[1]

۱.په خرڅولو اواخيستلوکې اساني کول: په دې هکله حديث مبارک هم شته چې: **عَنْ جَابِرِبْنِ عَبْدِ الله، أَنَّ رَسُولَ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «رحمه الله رَجُلًا سَمْحًا إِذَا بَاعَ وَإِذَا اشْتَرَى وَإِذَا اقْتَضَى»**.(2)

ژباړه: الله عزوجل دې رحم وکړي په هغه سړي چې اساني کوي په خرڅولو او اخيستلوکې.

۲ – په هغه بازارنو کې خرڅول اواخيستل نه کول چې هلته حرام شيان خرڅيږي، ځکه په کوموبازارونوکې چې چې ناروا اوحرام توکې بلورل کېږي هلته راکړه ورکړه دشبهې څخه حداقل خالي نه وي، نو په کوموځايونوکې چې داشان معاملات کېږي د هغې څخه ځان ساتل ضروري دي، او که ځان ترې ونه ساتې نو لږې نه ده چې يوه ورځ به پکې اخته شي، له داسې کړنو څخه په احاديث کې منع راغلې ده « **قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «الحَلاَلُ بَيِّنٌ، وَالحَرَامُ بَيِّنٌ، وَبَيْنَهُمَا أُمُورٌ مُشْتَبِهَةٌ، فَمَنْ تَرَكَ مَا شُبِّهَ عَلَيْهِ مِنَ الإِثْمِ، كَانَ لِمَا اسْتَبَانَ أَتْرَكَ، وَمَنِ اجْتَرَأَ عَلَى مَا يَشُكُّ فِيهِ مِنَ الإِثْمِ، أَوْشَكَ أَنْ يُوَاقِعَ مَا اسْتَبَانَ، وَالمَعَاصِي حِمَى اللَّهِ مَنْ يَرْتَعْ حَوْلَ الحِمَى يُوشِكُ أَنْ يُوَاقِعَهُ»** [3]

۳ – التصدق من مال التجارة:دتجارت مال څخه صدقه کول، صدقه ورکول ځکه ضروري دي چې په دى هکله احاديث راغلي دې « **"قال عليه السلام يا معشر التجار إن الشيطان والإثم يحضران البيع، فشوبوا[4] بيعكم بالصدقة"**[5] ژباړه : اى دتاجرانو ټوليه يقينا شيطان اوګناه بيعې ته راځي نو يو ځاى کړي بيعې سره مو صدقه خيرات،

---

[1] الموسوعة الكوتية ، ج ۱۰ ص ۱۵۵.۱۵۴

2 - البخاري، بَابُ السُّهُولَةِ وَالسَّمَاحَةِ فِي الشِّرَاءِ وَالبَيْعِ، دحيث رقم 2076 ،ج 3 ص ۵۷

[3] .صحيح البخاري ، بَابٌ: الحَلاَلُ بَيِّنٌ، وَالحَرَامُ بَيِّنٌ، وَبَيْنَهُمَا مُشَبَّهَاتٌ ، رقم الحديث ۲۰۵۱ ج ۳ ص ۵۳

[4] فَشُوبُوه: الشَّوْبُ : الخلط شَابَ الشيءَشَوْباً : خَلَطَه وشُبْتُه!أَشُوبُه : خَلَطْتُه فَهُوَ مَشُوبٌ، تاج العروس، ج 3 ص 160

[5] كنزالعمال ج ۴ ص ۴۷ رقم الحديث ۴۰ ۹۴، تخريج: قال أبو عيسى وهذا حديث صحيح ، الترمذي ج3 ص 514
قال الشيخ الألباني : صحيح ، صحيح أبي داود» ج ۲ ص ۳۲۱

په خیرات ځکه امر شوی دي **قال الخطابي : إنما أمرهم فيه بالصدقة، وأراد : صدقة غير معينةٍ في تضاعيف الأيام، لتكون كفارة لما يجري بينهم من اللغو والحلف.**[1] چې کفاره شي دبې ځایه خبرو اوقسمونونه.

۴ – په ریښتونولي اوامانت کې کوښښ کول: ځکه به سوداګر ریښتونې اوامین وي چې ریښتون ولي امانت داري غوښتنه هم اسلامي شریعت کړیده، او د رښتونولي اوامانت داري صفات ځکه مهم دي دنیایي ګټې ترڅنګه داخت لپاره هم ستره لاس ته راوړنه ده.

په دې هکله رسول علیه السلام فرمایی« "التاجر الأمين الصدوق المسلم، مع الشهداء يوم القيامة"[2]

۵. التبکیر بالتجارة: یعنې سهار وختي کار پسې وتل سهاروختي کاروبارپسې وتل مستحب اوښه کاردې په دې هکله احادیث هم شته د هغې له جملې څخه یو دلته رانقلو« **قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «اللَّهُمَّ بَارِكْ لِأُمَّتِي فِي بُكُورِهَا»**[3]

ژباړه : یا الله برکت واچوی زما امت له په سباوون (کهیز)کې .

دوهــم مطــلــب کــورنۍ ســوداګــرۍ:

په دې مطلب کې د کورنۍ سوداګري پېژندنه او ډولونه دځېرنې لاندې نیسو.

کورنۍ سوداګرۍ: دشیانو اوخدماتو اخیستل اوخرڅول دهېواد دسرحدنو په داخل کې صورت نیسي کورنۍ سوداګرۍ بلل کېږي .

یاپه بل عبارت کورنۍ سوداګرۍ هغه ته ویل کېږي چې دیوهېواد وګړي خپل ترمنځ ترسره کوي لکه، دتکاب اوکابل ترمنځ دتوکو اوخدماتو تبادلې ته کورنۍ سوداګرۍ وایي.[4]

په غټه کې کورنۍ سوداګرۍ په دوه ډوله دی: ۱ – عمده توکو پلورنکی، ۲ – پرچون پلورنکی.

---

[1] . جامع الأصول في أحاديث الرسول، الفصل الاول فی الصدق والامانة ، ج ۱ ص ۴۳۲

[2] . كنز العمال _ ج ۴ ص ۷ ، دحدیث تحریج: وقال الترمذي: حسن، لا نعرفه إلا من هذا الوجه. حديث رقم 1209)، وضعفه الألباني في ((غاية المرام)) (167).

[3] صحصح ابن حبان رقم الحديث ۴۷۵۴ ج ۱۱ ص ۲۶ تخریج: قال صاحب الترغيب والترهيب في كثير من أسانيدها مقال ، وبعضها حسن ، (الترغيب والترهيب 2 / 529، او الباني صیب وایي : صحيح - «صحيح أبي داود» (2345)

4 - ناصري عبدالحی، تجارت حقوق، دچاپ کال، ۱۳۹۲، دچاپ حق، دتخنیکي اومسلکي زده کړو له معنیت سره خوندي دي، چ: ۱، ص: ۱۷ – ۱۹.

عمده پلورنکې سوداګرۍ: دسوداګرۍ له هغه ډول څخه عبارت دی چې اخیستونکی داجناسو زیاته پیمانه اجناس اخلي په پرچون پلورنکو باندې یې خرڅوي، بیا وروسته هغه په مستهلکینو باندې مستقیماً په پرچون پلورنکو باندې پلوري.[1]

پرچون پلورنکې سوداګرۍ: له ټولو هغو فعالیتونو څخه عبارت دی چې اجناس اویاخدمات په وروستي پړاو کې په مستهلکینو باندې پلوري.

په عامه کې دواړو ته کاروباروایي: کاروبار دمشغولتیا په معنی ده خوالبته په علمي لحاظ کاروبار له هغه انساني فعالیتونو څخه عبارت دی چې په قانوني ډول په دوامداره توګه دګټې ترلاسه کولو په خاطر داجناسو اوخدماتو دتولید اوتوزیع سره سراوکار لري.[2]

کوموموعاملاتوته ته سوداګري معاملات ویلی شو؟

دافغانستان دسوداګرۍ د قانون لاندې معاملې تجارتي ګڼلې دي:

- د هرډول منقول مالونو دبرابرولو تعهد، اوهرډول اعمالانو اوانشاءآتو په ذمه اخیستل اوقبلولو.
- دفابریکې تأسیس، دمطبعې دستګاه، عکاسي، نشرات، کتاب پلورل.
